تاج اللغات جامع

پښتو

مرتبہ

مشتاق مجروح یوسفزئی

تاج کمپنی لمیٹڈ
کراچی راولپنڈی
پشاور شارجہ

بسم الله الرحمن الرحيم

عرض ناشر

د خپلې مورنۍ ژبې سره مينه يو فطري څيز دے هر بنده دا غواړي چې په خپله ژبه کښې لږکل او لوستل وکړي بل د ټولو نه غټه خبره دا ده چې په خپله ژبه کښې د نورو ژبو په نسبت علم ډير زر زده کيدے شي. له دې وجې نه د دې اداري د وخت د سره دا کوشش پاتې شوے دے چې خپلو پښتو وروڼو ته په خپله ژبه کښې علم ور ورسوي. په دغه لړ کښې مونږ د دې اداري له خوا ډير اهم او غټ غټ دينې کتابونه چاپ کړي دي چې يوکښې د احاديثو د مشهورو کتابونو لکه ترمذي شريف، مشکوٰة شريف، سنن ابن ماجه پښتو ترجمې، په تفاسيرو کښې د معارف القرآن پښتو ترجمه، آسان تفسير، هدايه، اسلامي فقه او نور ډير کتابونه شامل دي. مونږ د خپلو پښتو وروڼو ډير شکر گزاره يو چې هغوي دغه کتابونه خوښ کړل. د هغوي دغه خوښه، ډاډگيرنه او د علم تنده مونږ دې خبرې ته هڅوي چې مونږ خپل دغه کار او مشن جاري وساتو او چې څومره زمونږ نه کيدے شي دومره علمي کتابونه پښتو ژبې ته منتقل کړو چې د پښتنو د علم تنده ماته کړو انشاء الله تعالىٰ. هم په دغه سلسله کښې دا اداره دا خل خپلو پښتو وروڼو ته د پښتو يوه ډکشنري د

"تاج اللغات پښتو"

په نوم وړانديز کوي. امید دے چې زمونږ د نورو مطبوعاتو په شان به دا کوشش هم زمونږ محترم لوستونکي خوښ کړي.

ډکشنري مرتب کول يو ګران او محنت طلب کار دے، دا د ډير کراؤ، زيار او

پام لرلي متقاضي وي. مونږ په دې ډکشنري کښې تر خپله وسه زيار ايستلے دے چې زيات نه زيات لغات راواخلو خو بيا هم انسان عاجز دے که څه تکې (الفاظ) ز مونږ نه پاتې شوي وي نو د هغې د قدرمنو لوستونکو نه بخښنه غواړو. که د املا څه تيروتنې يا سهوې شوې وي کومه چې د بشريت تقاضا ده نو د هغې دپاره هم معذرت خواه يو او گرانو لوستونکو نه خواست کوو چې که د املا څه غلطي د دوئ په نظر راغلي نو مونږ نه دې په ګوته کړي چې په راتلونکي ايډيشن کښې مونږ د هغې تصحيح وکړي شو.

ضياء الدين

تاج کتب خانه قصه خواني پيښور

ا : الف، د پښتـــو ژبـــې د حروف تهجي وړومبے حرف چې د ابـجـدو په حساب ئ قیمت یو (۱) دے .

آب : اوبـهٔ، خـولـه، اوښکې، عرق. عزت ، حیا، قدر،

ابا : پـلار، پلار ته د خطاب کولو په وخت وئیلے شي.

ابابیل : اصـل معنيٰ ئ وړله، تولے او سیل ده او یو خاص مرغی توتکرے، توتکے معنيٰ ئ غلط العام ده.

اباد : جور، ودان، هغه کال چې بارانونه پکښې ډیر وي.

ابـادي : د سـړو شـمیر، کـلـے، بـانـډه. سـوکـالـي، بښیرازي.

اباسیند : د سیندونو پلار، اباسین ، د پښتنو په علاقه کښې د یو لوے سیند نامه.

ابـائي : پـلار نیکـهٔ سـره متعـلـق، د پـلرونو او نیکونو سره متعلق.

ابـهـاشي : اوبـهٔ نوستل، د اوبـهٔ خـور په معنيٰ مستعمل دے.

ابتداء : شـروع، آغاز، اول سر، بنیاد.

ابتـر : اوتـــر، پـریشـان. میـرات، بې خـویه . غریب، خوار . ناقص، خراب.

ابتلا : آزمائش، ازمیښت.

ابتـه : حـبـطـه، فـضـول، بې خـاینه، گـنـده، خراب، لرلے، پلیت.

ابجد : جـمـل، د عربی د حـــروف تهـجـي بـنـکـاره کـونکي لفظونه، ابجد، هوز، حـطـي، کـلـمـن، سـعـفص، قـرشت ثخذ، ضظغ او هر یو عدد خپل خپل قیمت لري.

آب حیات : د ژوند اوبهٔ، هـغـه اوبـهٔ چې د هغې متعلق مشهوره ده چې په څښلو ئ ابدي ژوند حاصلیږي.

ابد : نهٔ ختمیدونکے وخت، تل تر تله، همیشه،

ابر : وریځ، وریځه.

ابرار : نیکان، پاک، پاکیزه، پاک خلق.

ابره : د استر متضاد، د غبرګي کپړې پورتنۍ مخ، غلاف. یقین، اعتماد، اعتبار.

ابړی : ډیر نرم څیز، اوبو کښې پوست شوے څیز، ډیر خوږین،

آب زمزم : د زمزمو اوبه، په مکه مکرمه کښې یوه خاص چینه ده چې د حضرت اسمٰعیل علیه السلام دپاره څرګنده شوې وه.

ابشار : هغه ځای چې د غرۀ یا بل وچت ځای نه اوبۀ ښکته راپریوځي. جړوبے، پارچاوے.

ابلاغ : پیغام رسونه.

ابلق : تور او سپین. چغر

ابلن : ابړن، اوبۀ لرونکے، نم لرونکے.

ابنائے : د اوبو هغه ځای چې دوه وچې سره جدا کوي.

ابواب : بابونه، دروازې،

آب و تاب : شان و شوکت.

آب و دانه : روزي، رزق، خوراک څښاک.

آب و هوا : موسم، د یو ځای طبعي حالت.

ابهام : هغه بیان یا تحریر چې وضاحت پکښې نۀ وي. غیر واضحه.

ابۀ خور : زمکه یا باغ اوبۀ کول، پتې سیراب کول.

آبي : د اوبو سره متعلق. آوي. د للمي متضاد، شین رنګ.

ابیات : شعرونه، د بیت جمع . کورونه، خونې.

ابیاري : اوبۀ خور کول، فصلونو ونو بوټو ته اوبۀ ورکونه.

ابیانه : د اوبو ټیکس. د اوبۀ خور په بدل کښې چې د حکومت له خوا کوم ټیکس

اخستے شي.

ابی : مور. مور ته د خطاب کلمه. هرې مشرې ښځې ته د درناوي کلمه.

اپلټي : کنځل، بدرد وئیل، پوچې خبرې، سپکه خلۀ خوخول.

اپوټه : الته، اړولے، پرمخ.

اپیم : افیم، افیون، یو نشه آور مواد چې د خشخاشو د ډوډې نه حاصلیږي.

اپیمي : په افیمو اموخته شوے، اپیم خور، تریاکي.

اتانیز : د نیمې روپۍ سکه. پنځوس پیسې.

اتبار : د اعتبار مفغن شکل. د خالي او کل تر منځه ورځ. اتوار.

اتحاد : یو کیدنه. اتفاق.

اتره : هغه لوے د خاورو جوړ ښانګ چې هغې کښې د ګانی نه ګرم شربت اچوي او چکی پکښې تړې جوړوي.

اتري : د خبرې تابع مهمل لکه خبرې اتري.

اتش : هور، اور.

اتشګیر : هغه ځیزونه چې ډیر زر اور اخلي.

اتشین : اور سره متعلق. د اور سره نسبت لرونکي.

اتصال : یو ځاے کیدل، سره لګیدل، وصلیدل. رسیدل.

اتفاقاً : تصادفاً، ناڅاپه.

اتفاقي : ناڅاپي، ناګهاني.

اتن : د پښتنو قومي ګډا. شور، زوږ، غوغا.

اتوار : د خالي نه پس راتلونکي ورځ. اتبار.

اتوب : د اوړو جوړ شوے یو نرم خوراک. لیتی، بې مزې خوراک.

اتهٔ : له اوو نه زیات او د نهو نه یو کم.

اتیا : اویا او لس. له نوي نه لس کم. (۸۰)

اټ : وړوکے دکان. د اټې

اسم تصغیر.

اتاری : برج، مورچې لرونکے برج. حفاظت گاه.

اتال : معطل، خنډیدلے، ایسار.

اتالول : ایسارول، معطلول. خوړند ساتل، له کاره ویستل.

اتاله : یرغل، حمله، پریشاني. په څټله مال خرڅول. دلی، توپ. د کور سامان، بیکاره څیزونه.

اتالیدل : ایساریدل، پاتې کیدل، معطل کیدل.

اتِ ست : وګورئ اته ستِه. خپلو کښې په څهٔ خبره اتفاق. رعایت. صلاح.

اتکل : چل، هنر، ګمان، خیال، تخمینه، اندازه.

اتکلول : اندازه لګول، ګومان کول، خیال کول.

اتکلیدل : اندازه لګیدل، تخمینه لګیدل.

اتکی : د ما وروستی او د مکر وړومبی اتهٔ ورځې چې یوه خاص هوا پکښې لګي.

اته : اتیرن شوي تارونه، د تارونو ګونجی. میده اوړهٔ، آټا.

اته ستِه : اتِ ستِ، برابریدهٔ.

اتي : د تارونو ګونجی، چې د انګریزي 8 شکل ئ اختیار کړے وي.

اتیرن : هغه آله چې د سپنسو اتې پرې جوړیږي. څرښه.

اتي وال : د اتی خاوند، دکاندار.

اتی : وړوکے دکان، هټی.

اثاثه : د کور سامان، کالي، اسباب.

اثار : د اثر جمع. نخښې.

اثبات : ثابتونه، دلیل راوړنه، سپیناوے.

اثر : نخښه، نښانه، نتیجه. رساله، کتاب.

الري : فائده من، اثر لرونکے. باتریا، پاگل، لیونے، دیوانه.

اجابت : قبلول، قبولیت. لوے بول.

اجاره : د جائداد فصل وغیره دیو خاص وخت دپاره د څهٔ رقم په عوض کښې د اخستلو ورکولو نیکه.

اجار : وران، برباد، ویجار. غیر اباد.

اجازت : منظوري، اذن، اجازه.

اجازه : منظوري، د تعویذ یا دم وغیره اوده.

اجتماع : غونډه، کنه، یو ځای کیدنه.

اجتناب : ډډه کونه، ځان ساتنه، ځان بچ کونه.

اجتهاد : کوشش کول، لتون کول، سعي کول.

اجداد : د جد جمع. نیکهٔ او د نیکهٔ نه پورته پیړی.

اجر : عوض، بدل، ثواب.

اجرت : مزدوري، قیمت.

اجرتي : مزدور، هغه سړے چې په پیسو قتلونه کوي.

اجړ : مشرقي پښتونخوا کښې وسیدونکے یو قوم چې ځاروي ساتي.

اجل : د بل زمکه خوړونکے، برخه خور. د مرګ نیټه.

اجمال : د تفصیل متضاد، خلاصه، اختصار.

اجناس : څیزونه، شیان، اشیاء.

اچاپت : دکاندار نه په قرض د سودا راوړلو حساب.

اچار : په سرکه، د شړشمو تیلو یا شوملو کښې محفوظه کړې شوي سبزي یا میوه.

اچول : ګوزارول، ایښول، بهر ته راوښکل، دننه کول، ماده باندې نر خیژول.

اچې : د غوا ګانو یو قسم

چې په قدوړه او د پيو ورکولو مړنی وي.

احاطه : راګيرونه. د جيل بيله بيله حصه. غولے، صحن.

احباب : د حبيب جمع، دوستان، اشنايان، ياران. رفيقان.

احتجاج : په سختی سره د څهٔ خبرې يا کار نه انکار کول او د هغې خلاف اواز وچتول.

احتراز : ځان ساتنه، څنګ کونه، ډډه کول.

احترام : تعظيم، عزت کول،

احتساب : حساب اخستل، جاج اخستل.

احتلام : په خوب کښې منې خارجيدنه، غسل فرض کيدل.

احتمال : امکان، اميد، ګومان، شک.

احتياج : ارتيا، حاجت، ضرورت.

احتياط : خيال، فکر، پام.

احد : يو، بې شريکه. د خداے پاک نوم.

احساس : په پنځو حواسو کښې له يو يا زياتو نه کار اخستلو په ذريعه څهٔ څيز معلومول.

احسان : ښيګړه، نيکي.

احقر : د حقير اسم تفضيل ډير زيات سپک، د انکسار له وجې د ځان ډپاره استعماليږي.

احکام : قانون، دستور، آئين، روش.

احمد : ډير زيات حمد کونکے. د رسول کريم صلي الله عليه وسلم نوم مبارک.

احمر : سور، سور رنګ.

احمق : ناپوهه، بې وقوف، نادان.

احوال : حال، حالت، د حال جمع.

احول : کانے، کاړينګ،

چغر.

اخ : د څهٔ افسوسناکې او دردناکې پېښې په وخت بې اختیاره د خلې نه راوتونکې کلمه.

اخبار : د اسلامي شرعې اصطلاح کښې د رسول اکرم صلي الله علیه وسلم احادیث. هغه پرچې چې پکښې د مختلفو څایونو خبرونه لیکلے شي. ورځپانه. د خبر جمع.

اختتام : خاتمه، پای، انجام. اخر.

اختر : د شوال په وړومبی او د ذي الحجه په لسمه ورځ د مسلمانانو د خوشحالی جشن چې وړومبے وړوکے او دویم لوے اختر نومیږي. ستوړے.

اختراع : له خانه نوے څیز پیدا کول، ایجاد کونه، دروغ جوړونه.

اختصار : خلاصه کونه، لنډونه.

اختصاص : خصوصیت. څنې علمونو کښې خصوصي مهارت.

اختلاط : یو ځای کونه، ګډونه.

اختلاف : مخالف کیدنه، د اتفاق متضاد.

اختلال : خرابوالے، خلل پیدا کیدنه.

اختته : مصروف، لګیا، اړم، مبتلا. خصي، هغه نر څاروے چې تکولے شوے وي.

اختیار : وس، طاقت، قابو، خوښه، واک.

اختیاري : د خوښې، د مرضې، د خپلې طبعې.

اخذ : اخستنه، نتیجه ایستل، نیول.

اخر : په نتیجه کښې پاتې، وروستو، حد، ژی. قیامت، اخرت.

اخراج : ویستنه، لرې کونه، خارجول.

اخـراجول : خـارجـول، ویستل،

آخرت : قیامت، هغه دنیا، هغه عالم چې پس له مرګه به یـکښې جزا او سزا ورکولے شي.

اخـري : وروستـے، اخر سره متعلق.

اخستل : پـورتـه کول، پـه لاس کښـې وچتـول. پـــه قیـمـت تـر لاسه کول. غوړه کـول، خـوښـول. خرنیل، په قینچی لرې کول.

اخښلـے پـخـلـے : اوړه اخښنه او روټی پخونه.

اخښنه بخښنه : د بیلیدو پـه وخـت یـو بـل ته ورکړي راکړي بخښل.

اخطار : ویرول، تهدید، په غوږ وهنه.

اخلاص : د زړهٔ صـفـائي، بې غرضه دوستي،

اخـلاصـي : سپیـن زړے، اخلاص من.

اخلاق : د خـلق جمع، بڼهٔ خویونه او عادتونه.

اخوا : د هـغـه خوا مخفف، په هغه طرف.

اخوا دیخوا : اپله دې پله، هغه خوا دغه خوا.

اخـــوت : وروروڼـــي، وروري.

اخور : د خـاروز د ګیـاه د خـوراک دپـاره جوړ شوے ځای.

اخون : د حـومـات استـاذ، معلم، شاعر.

ادا : نار، قیـچ، مکیز،

اداب : د ادب جمع.

ادارت : د اخبـار یـا رسالې ایډیټري.

اداره : دفتر. کـار کـونکے ټولے، څانګه، شعبه.

اداریه : د اخبـار یـا رسالې سـرمقاله چې د ایډیټر له خوا لیکلے شي.

اداکار : د ډرامې یا فلم کار کونکے. ایکټر.

ادب : حیا، پرده. تربیت، پالنه. تهذیب، سلیقه. نظم و نثر. د مشرانو د درجې خیال ساتل.

ادبیات : د ادب علم، لیکلي شوي کتابونه. د ادبي جمع.

ادراک : پوهه، قابلیت، فهم، درک لګونه.

ادغام : دیو حنس دوه توري په خپلو کښې یو ځای کونه.

ادل بدل : بې نظمه، بې قاعدې، ګډوډ. د ځیروبو یو تر بله تبادله، ورکړه راکړه. د نرانو تر منځه جنسي تبادله.

ادم : بنیادم. د ادم خوے.

ادمیت : انسانیت، سړیتوب.

ادنیٰ : د اعلیٰ متضاد، لږ، کم، بې قیمته، د کمې درجې والا.

ادو بدو : پرسیدلے، ټینډ، ډډبل، د زهرو په وجه پرسیدلے.

ادوم : د زنګون نه تر مغاني پورې برخه. پتون. ورون.

ادیب : استاذ. د ادب خالق. ادب تخلیق کونکے.

ادیره : قبرستان، مقبره،

ادینه : د زیارت ورځ. د جمعې ورځ.

ادې : د پلار یا د مور مور، نیا. بوډی ښځې ته د خطاب تورے.

ادیله : نیمه پیسه. د تیرې زمانې یوه معمولي سکه.

اډانه : تکیه، اعتماد. چت یا دیوال ته د اړم لګولو دپاره استعمالیدونکې ستن.

اډرقے : اړېمے، د خوړلو څښلو نه پس د کومې نه په خلې راوتونکے اواز.

اډه : د لارو موټرو د ودریدو ځای. د ترکان د رندې لاندې د کار تخته د دمې ځای. د بدکاری

خامے. ډډه، اړخ.

اډي : هغه غونډاري چې په مړی کښې پیدا کیږي.

اډی : د زمکې یوه حصه. هغه زمکه چې کروندې کړی د بچو په نامه خلاصه کړي

اذان : د مانځنې دپاره د راباللو اواز. بانګ،

اذن : اجازت، اجازه، رضا، د دم درود اجازه.

اذیت : تکلیف، کړاو.

اراده : د انتخاب اختیار او فیصلې کولو قوت او صلاحیت او د هغې استعمال.

ارام : د حرکت نه سکون ته منتقلي. د حرکت متضاد. قلاړے.

ارائش : ډول، سینګار، بنائسته کونه.

ارباب : د رب جمع، پالونکے. د مومندو او خلیلو داؤدزو او کاسیانو د خانانو لقب.

اربشه : اوربشه. د اوړي مشهوره غله.

اربوز : د خاور پوزه خلۀ، د بنیادم خهره.

ارت : پلن، پراخ،

ارتداد : له اسلامه اوړیدنه، د مسلمان کیدو نه پس بیا کافر کیدل.

ارتعاش : رپیدل، له غصې یا کمزوری نه د لاس او پښو رپیدل.

ارتقا : درجه په درجه ترقي کول، په بره ختل.

ارتکاب : په یوه اراده عمل کول. ګناه یا جرم کول.

ارتول : پراخه کول، پلنول، وسعت ورکول، وسیع کول

ارتینه : بنخه، عورته،

ارتیدل : پراخیدل، پلنیدل، وسعت اخستل،

ارټ : د کوهې نه د اوبو راویستلو دپاره جوړه څرخی

چې لوټکي پکښې لګيدلي وي او عام طور سره د خاروژ په ذريعه ګرځول شي.

اردو : د پاکستان سرکاري ژبه. لښکر، فوځ.

ارزان : کم قيمته. د ګران متضاد.

ارزاني : د قيمتونو کمے، د ګرانۍ ضد

ارزو : خواهش، ارمان، تمنا

ارزومن : ارزو لرونکے، خواهش لرونکے.

ارډمے : اورقے. د خوراک نه پس د خلې نه راوتونکے اواز.

ارسال : استول. لېږل.

ارشاد : حکم، هدايت، لار ښوونه.

ارغشے : خراشکے، اخرشے، بلغم.

ارغند : د ګوتو د بندونو هډوکي

ارغوان : د سور رنګ يو ګل.

ارغی : کُنه، سوپره، مقعد.

ارګجه : ګډوډ، مخلوط، د يو مرکب عطر نوم.

ارګودے : د يوې لوبې نامه چې پکښې يوه پښه په لاس ونيسي او په بله پښه په توپونو خي.

ارلګ : چورلټ، بيخي له مونډه. له بيخه، ارلغ.

ارمان : د خواهش د ښه پوره کيدو په نتيجه کښې د محرومۍ احساس،

ارمړ : د پښتنو د يوې قبيلې نوم.

ارمغان : سوغات، تحفه.

ارمولے : د ماشومانو يوه بيماري. اورمولے.

ارمونے : حرامونے، حرامي. د زنا نه پيدا شوے.

ارواح : د روح جمع، اروا، روحونه.

اروارې : تورې دانې لرونکے يو بوټے چې د غنمو

په فصل کښې کيږي.

اړومړو : خامخا، ضرور.

اړه : د ترکانانو د لرګي پريکولو غاښ لرونکې آله، څړه.

اړهر : يو قسم بوټے چې د غنمو جوارو ګير چاپيره په غاړو کرلے شي او د خشاک دپاره استعماليږي. جينجر، جينجن.

اړيان : بيوسه، خوار، غريب، محتاج. حيران. هک پک.

اړيږ : د اړټ د بياستو تر منځه لرګے.

اړيوه : هليله، يوه ميوه چې په دارو کښې پکاريږي.

اړيومے : رومبې، د بنيادم له نامهٔ لاندې ويښتهٔ. فرض

اړام : سپين ستر کے، بيباکه، شيطان.

اړپی : سينګار بکس د کالو د ايښولو صندوقچه. يوه دروازه لرونکے کور.

اړټ : په منډې کښې د مسال د مزدورۍ اړټ يا دې. دستور، د منډې کار

اړتاؤ : پريوتے، نسکور، غورخيدلے.

اړتاوک : بې فکره، کاواک.

اړتو پرتو : هغه دغه، بې مطلبه، بې معنې، تال متول.

اړتي : د اړټ کار کونکے، په اجرت، کميشن، فيس وغيره د خلقو او سوداګرو مالونه خرڅونکے.

اړخ : خوا، طرف، پلو، ډډه، د ترخ او ډوډۍ تر منځه خامے. احتياط، خان لرې ساتنه.

اړخيز : طرفونه لرونکے، اړخدار

اړخی : د غرهٔ لمن کښې په ترخ رمکه، د غرهٔ پټے.

اړکے : ژغونے، د اندرپايې پاتکے، اړيکے، د پوړۍ پايه. اړم، د رباب غوږ

ے

اړول : لاندې نه باندې يا باندې نه لاندې کول، په بل مخ کول، تاوه ول، د يوې لارې نه په بله ګرځول، يوې کول، الټه کول، اپوټه کول.

اړونج : ستن، تمبه، اساس، بنياد، ويخ، پيچيدګي.

اړيکتی : د پهلوانۍ په اصطلاح کښې يو داؤ چې پکښې د حريف د پښو تر منځه پښه ايښوے شي او حريف راغورځولے شي.

اړوب : ليتې، اتوب، نرمه خټه. چيکړ.

اړوپړ : نښتے، لکه د پړې يو بل سره نښتے.

اړوپيخ : تاؤ راتاؤ، اړوپړ.

اړم : لګيا، مشغول، اخته، مصروف. هغه وسپنه يا لرګے چې د دروازې شاته د مضبوطۍ دپاره ايښوے شي.

اړامول : په جنګ کول، لګيا کول، مصروفول، اندولول، **اړامیدل** : لګيا کيدل، اخته کيدل، مشغوليدل، جنګيدل،

اړه : خواست، غوښتنه، ضرورت، حاجت، د ستانه دارو يا کسب ګرو د فصل په سر عوضانه.

اړي : د تګ پسه وخت د څاروي اړوپيخ، د تلو پسه وخت ورانے کول سم نه تلل.

اړيمار : اړيژن، اړي کونکے، بار کښې کوږ لرګے.

اړيکے : ترون، رشته، ملګرتيا، هغه لرګے چې د ارت په چکر کښې لوټکے يا دروازې ايساروي.

اړی : پيارمه، پجاړی.

اړے ګړے : بد امني، افراتفري، بد نظمي، شور و غوغا، ګډ بډ، هله ګوله.

ازاد : د غلام ضد، پخپله توکيدلے. خودرو، اصيل، د خپل اختيار خاوند، خلاص، صفا، بې تکلفه.

ازادول : ازادي ورکول، له قيده خوشے کول خلاصول، پريښودل.

ازادي : خلاصے، رهائي، د قيد و بند يا د بل چا د واک نه وتنه، بې تکلفي.

ازار : رنځ، کړاؤ، تکليف، ضرر. مرورتوب، خفګان. وبال، بڼيره.

ازاربند : پرتوغابن. باګه.

ازارول : تکليف ورکول، عذابول، کړپ

ازانګه : انګازه، راتمبيدلے اواز.

ازدحام : ګډه ګوڼه، هجوم.

ازدواج : وادۀ کونه، جوړه کيدنه.

ازرده : غمژن، خفه، غمزده.

ازغکے : يو ازغن بوټے چې ډير تريخ وي او خې دارو ګانو کښې پکاريږي.

ازغن : ازغي لرونکے، د ازغو نه ډک،

ازغے : د بوټي يا وني په تنه، پانه يا څانګه راختلې د ستنې په شان تيرۀ حصه. د مهې لښه.

ازل : د ماضي هميشګي چې ابتدائي حد ئ نۀ وي.

ازمايل : تجربه کول، ازمينت کول.

ازموده : تجربه کړے شوے، ازمايلے.

ازمينت: ازمائش، تجربه، امتحان.

اس : کلک سومونه، ايال او وړده لکي لرونکے مشهور خناور چې په جنګونو کښې پکاريږي. د سورلی، تانګو او ګاډيو دپاره استعماليږي.

اساس : بنياد، ردە، بنسټ.

اساطير : قيصې، زړې افساني

اسالیب : د اسلوب جمع، طريقې، طرزونه،

اسامي : نام، نومونه، خلق، دهقان، کاشتکار، سړے،

اخستونکے، ګاک، خریدار، عهده، نوکري، مالدار، امیر.

اسان : د ګران مشکل او سخت متضاد، سوکه.

اسانتیا : اسانوالے، سهولت، اساني.

اسانول: سوکه کول،

اسانیدل : سوکه کیدل، اسان کول،

اسائش : ارام، سوکالي،

اسباب : د سبب جمع، وجوهات، د ضرورت سامان، خاص طور د کټ بستري سره متعلق، عضو تناسل

اسباق : د سبق جمع، د کتاب هغه حصي چې هره ورځ ئ لوستونکے په لوستلو وراندې کې.

اسپتال : هسپتال، هغه ځاے چې په کښې د رنځورانو علاج کیږي.

اسپند : توره دانه، سپند، سپلنے. یو بوټے چې د نظر مانولو دپاره په اور اچولے شي.

اسپینه : وسپنه، آهن، په دهاتونو کښې د ټولو نه زیات استعمالیدونکے سخت دهات.

اسپه : یو مرض چې د پوزې نه پکښې وینه راځي. یو مرض چې پکښې په بدن دانه راخیژي. حیض. د اس مرنځ.

استاځے : پیغام راوړونکے، پیغام رسان، قاصد.

استاد : ښنیونکے، معلم، هغه سړے چې بل چا ته څه علم یا کسب ښیي.

استاذ : وګورئ استاد.

استانه : د استان سره متعلق، د وسیدو ځاے، د پیر د کښیناستو ځاے. پیر، فقیر.

استبداد : ظلم، جبر، غاصبانه عمل، مطلق العنانی.

استثنیٰ : د یوې عامې قاعدې یا د قانون د نفاذ نه څوک بري کول، بیلول.

استحصال: طلب د حصول، اخستنه، حاصلونه، په زور اخستل.

استحقاق : طلب د حق، حق غوښتنه.

استحکام : مضبوطیا، پوخ والے،

استخاره : د خیر طلب کول، فال اچونه، په شرعي اصطلاح کښې دیو کار د کیدو او نه کیدو په باب کښې په خاصه طریقه غیبي اشاره غوښتل.

استخراج : راوتنه، خارجونه، بیلیدنه، تفریق کونه.

استخلاص : د خلاصولو کوشش کونه، خلاصیدنه، نجات موندنه.

استدراک : پوهیدنه، موندنه.

استدعا : غوښتنه کونه. بلنه.

استدلال : دلیل، ثبوت، دلیل راوړل.

استر : د کپړې د مخ متضاد، د غږ کې کپړې لاندې طرف.

استراحت : سکون، ارام، راحت.

استري : د وسپنې یوه آله چې گرمه کړې شي او په جامو ئ گرځوي او د جامو گونجې پرې هواروي.

استسقاء : اوبهٔ غوښتنه، باران غوښتنه، یو مرض چې پکښې مریض په اوبو څښلو نهٔ مړیږي. د باران د غوښتلو مونځ.

استطاعت : وس، شته منې، دولت، حیثیت.

استعاره : په سوال غوښتنه، یو لفظ د خپل اصلي مفهوم په ځاے په بله معنې کښې داسې استعمالول چې د اصلي او مرادي معنو تر منځه د تشبیه وغیره تعلق وي.

استعانت : مدد او کمک غوښتنه، مرسته غوښتنه، امداد غوښتل.

استعجاب : حیرانیدل، په تعجب کښې پریوتل.

استعداد : قابلیت، توان، صلاحیت، قدرت، وس.

استعفیٰ : د معافی طلب کول، په یو منصب د کار نه کولو اراده ظاهرول.

استعمار : ودانی غوښتنه. پردے ملک په خپل لاس کښې راوستل، د بل ملک په وسائلو قبضه کول.

استعمال : په کار راوستل، چلونه.

استغاثه : مدد غوښتنه، امداد غوښتنه، فریاد کونه، د چا خلاف په عدالت کښې دعویٰ کول.

استغفار : بخښنه غوښتنه، توبه کونه.

استغراق : په څه فکر یا حال کښې ډوبیدنه، محویت، محوه کیدل.

استغنا : بې نیازي، بې پروائي، دولت مندي.

استفاده : فائده حاصلول، فائده، نفع، گټه.

استفتا : فتویٰ غوښتنه، مسئله پوښتنه.

استفسار : پوښتنه، ټپوس کونه، معلومونه.

استفهام : خان پوهونه، سوال پوښتنه، سوالیه علامت.

استقامت : ودریدنه، ټینگوالے، قیام.

استقبال : د چا مخې ته وتل، راتلونکې زمانه، هر کلے.

استقلال : خپلواکي، د یو ملک د بل ملک نه ازادیدل.

استکار : کاریگر، ماهر، دستکار، کسب گر، هنرمند

استمرار : همیشه توب.

استنباط : را ایستل، اخذ

کول، حاصلونه.

استنجا : د ضروري حاجاتو نه پس اودس کونه.

استوار : ټینګ، مضبوط، کلک، محکم.

استوکن : وسیدونکے، استوکے.

استوګه : دیره نیول، وسیدل، بودوباش اختیارول، میشته کیدل.

استوګے : وسیدونکے، استوګه کونکے.

استهزا : پشاړې، ټوقې، ملنډې،

اسد : زمرے، مزرے، د اسمان په ۱ولسو برجونو کښې یو بر ي شکل ئ د زمري په شان وي. د شمسي کال د یوې میاشتې نوم.

اسرار : د بسر جمع، رازونه.

اسراف : بدخرڅي، عبث لګښت، فضول خرچي

اسره : طمع، توقع، دریغ، صرفه.

اسقاط : سخات، هغه صدقه چې د مړي د جنازې نه پس ورکیدې شي. د حمل زیان، حمل ضائع کول.

اسک : پچه، قرعه، هسک،

اسلاف : پخوانې، ورومبنې، د پیړی مشران.

اسلام : هغه دین چې حضرت محمد صلي الله علیه وسلم او نورو نبیانو د الله له طرفه راوړے دے. د خدائے پاک غوره کړے دین. محمدي دین،

اسلحه : وسله، د جنګ سامان، توره، ټوپک، تماچه، توپه وغیره.

اسلوب : طرز، طریقه، انځور،

اسم : نوم، د کس ځائے یا ځیز نوم.

اسمان : سما، د زمکې د پاسه بشکاریدونکے د شین رنګ چت. شاعرانه

اصطلاح کښې بخت.

اسناد : سندونه، تصدیقونه، دلیلونه.

اسو : د بکرمي کال شپږمه میاشت، اسوج چې د عیسوي کال ستمبر او اکتوبر کښې راځي.

اسوده : هوسا، مور پت، په ارام، په ښه حالت کښې، خوشحاله.

اسویلے : آه، د زړه د رنځ د حسرت د اظهار اوار، خلۀ پرانستل او هوا خارجول.

اسهال : دستونه، نس لاسته،

اسیا : ژرنده،

اسیر : قیدي، بندیوان، بندي،

اش : بنوروا، کیر. لیتی، د اوربشو یا دالو اوبۀ. انګولے

اشا : د ویري یو فرضي څیز، اسیب.

اشارت : د سر سترګو لاس یا ګوتې په ذریعه د خپل مقصد څرګندونه. اشاره، کنایه،

اشاره : وګورئ اشارت، په مانځۀ کښې د تشهد وئیلو په وخت ګوته وچتونه، لمسون،

اشاریت : د فن او ادب یوه اصطلاح، ایما، رمز،

اشاریه : د کتابونو هغه ضمیمه چې پکښې د کتابونو، لیکوکیو، خایونو وغیره فهرست ورکړے شوے وي.

اشاړی : ررداله. یوه میوه وچه حرمانی،

اشاعت : شائع کول، ولس کښې څۀ خبره خورول. کتاب یا رساله چاپ کول،

اشباه : شبه، شک.

اشتباه : ګمان، شک. شبه،

اشتباهي : غیر یقیني، شکي.

اشتر : د اس د تانګ تسمه.

اشتراک : ګډون کونه، شرکت، د اخبار یا رسالې

خریدار کیدل.

اشتراکیت : هغه سیاسي او معاشي نظام چې مقصد یې د کارل مارکس، اینګلز او لینن د فلسفو د لاندې یوه غیر طبقاتي معاشره او د کمیونسټ پارټۍ اقتدار راوستل دي.

اشتعال : بلونه، د اور لمبه زیاتول، په جوش او غصه کښې راوستل. اودۀ جذبات راپاروول.

اشتغال : مشغولیدنه، لګیا کیدنه.

اشتقاق : دیوې کلمې نه بله کلمه راوښکل.

اشتمال : شاملول، د زمکو د ورړو ورړو توټو یو ځای کونه، د محکمه مال اصطلاح.

اشتها : خواهش، رغبت، لوړه.

اشتهار : څرګندونه، شهرت، هغه لیکلے کاغذ چې د هغې په ذریعه د څۀ څیز مشهورتیا کولے شي.

اشتي : صلح، دوستي، صلح جوئي.

اشخاص : د شخص جمع، شخص د تن، فرد، کس مذکر او مؤنث دواړو دپاره وئیلے شي.

اشر : بلندره، بګړه، بسکره، تینګه، د یو کار دپاره جمع کیدنه، په شریکه کار کول.

اشراف : نیکان د شریف جمع.

اشرفي : د سرو زرو یوه سکه چې تقریباً شپږ ماشي به وه.

اشر کندے : اشر باندے. په اشر کښې شریک تن، اشر باندے.

اشعار : منظوم کلام، شعرونه، د شعر جمع.

اشک : هغه اخښلي اوړۀ چې د وریځو د دیګ خلۀ پرې بندولے شي.

اشنا : د بيکانه متضاد، پيژندګلو، دوست، يار، هغه نر يا ښځه چې بل نر يا ښځې سره جنسي محبت کوي.

اشنائي : پيژندګلي، يارانه، دوستانه.

آشيانه : جالـه، ځالـه، د وسپلو ځاى.

اصحاب : د صاحب جمع الجمع. ملګري. د رسول الله صلي الله عليه وسلم په زمانه کښې مسلمانان شوي او د ايمان په حالت کښې وفات شوي کسان.

اصرار : تکرار، ټينګار، تاکيد.

اصراف : صرف کول، خرڅ کونه.

اصطبل : طويله، طبيله، د اسونو د ساتلو ځاى.

اصطلاح : د يوې علمي يا فني ډلې لـه خوا يو لفظ د هغـه اصـل مفهوم نه بغير په لږو معنو کښې استعمالونه.

اصل : بيخ، بنياد، نوغے، جړه. نسب، منبع، سوچه.

اصلاح : صحيح کونـه، سمونه، نقص لرې کونه.

اصلي : سوچه، د نقلي ضد.

اصليت : حقيقت، خالص توب.

اصناف : قسمونه، د صنف جمع.

اصنام : د کـاني بتان، د صنم جمع. معشوقې شاعرانه اصطلاح.

اصـوات : اوازونـــه، د صوت جمع.

اصـول : د اصـل جـمـع، قـاعـدې، قـانون، آئين، لار، طريقې.

اصيل : د مـرې او سرکش متضـاد، اموخته شوے، د ښې نسـب سـره تعلـق لرونکے، سوچه، دروند، شريف.

اضـافت : زيـاتـونه، پورې کـونـه، نسبـت کونه، يو څيز بل سره ټينګلونه.

اضافه : زیاتے، ترقي،
اضحيٰ : د لوے اختر قرباني،
اضداد : د ضد جمع، متضاد څیزونه.
اضطراب : پریشاني، تراره، بې ارامي. ناقلاري.
اضطرار : بې قراري، بې اختیاري،
اضلاع : د ضلع جمع. طرفونه، څنو ملکونو کښې د یو جغرافیائي وحدت نوم.
اطاعت : فرمان برداري. پیروي.
اطراف : طرفونه، اړخونه، لري څایونه، د طرف جمع.
اطفال: واړه، ماشومان، ناپوهه، د طفل جمع.
اطلاع : خبر، اعلان، خبردارے.
اطلاق : د یوې معنې په یو لفظ یا کار برابریدنه، د یو قانون په یو عمل برابریدنه.
اطمینان : تسلي، دلاسه، صبر، ډاډ.
اطوار : روشونه، طور، طریقي. د طور جمع
اطهر : ډیر زیات پاک، ډیر صفا، پاکیزه.
اظلم : ډیر ظالم، انتهائي ظالم.
اظهار : ښکاره کونه، بیان ورکونه، زباني بیان، ظاهرونه.
اعاده : دوباره کونه، سر دوباره کول.
اعانت : حمایت، مدد، امداد، کومک.
اعتبار : ویسا، یقین، باور، قیام، ثبات، لحاظ.
اعتدال : میانه روي، نۀ کمي نۀ بیشي. برابري.
اعتذار : عذر غوښتنه، بخښنه غوښتنه.
اعتراض : کوتنه نیونه، شک کونه، نکته چیني کونه، عیب راوښکنه.
اعتراف : ذمه واري مننه، اقرار کونه، تسلیمول،
اعتقاد : عقیده ساتنه، یقین

لرنه، باور کونه

اعتکاف : د روژې د مباشتې په اخري لسو ورځو کښې د عبادت دپاره د خلقو نه بیل په جماعت کښې کښیناستل.

اعتماد : ډاډ، ویسا، یقین، اعتبار.

اعتنا : پام کونه، توجه کونه.

اعجاز : عاجز کونه، معجزه، کرامت، کرشمه،

اعجمي : غیر عرب، چارا، د عجم سره منسوب.

اعداد : شمیر، شمار، هندسې، عددونه، د عدد جمع.

اعراب : هغه نالی چې د زیمناکو زمکو نه د زیم لرې کولو په غرض کنستلې شوې وي. ایراب.

اعراب : د حرفونو حرکات، زیر، زبر، پیش وغیره.

اعزاز : عزت، مرتبه، رتبه.

اعشاریه : هغه نقطه یا د "ء" نښه چې د صحیح هندسې نه پس د کسر بنکاره کولو دپاره لګي

اعصاب : پلي، ریشې د عصب جمع.

اعضاء : اندامونه، غړي، د عضو جمع.

اعظم : ډیر لوے، د الله پاک یو نوم.

اعلامیه : د څهٔ واقعې په باره کښې اطلاع خوریدنه. نشر شوے اعلان.

اعلان : څرګندونه، ظاهروته، په جار خبر ورکونه.

اعلیٰ : ډیر وچت، زیات بنهٔ ،د ادنیٰ متضاد،

اعمال : کړه، کارونه، د عمل جمع

اعمیٰ : رړوند، نابینا

اعیان : مشران، عتبان، بزرګان.

آغا : بادار، څښتن، خاوند، بناغلے، محترم، پلار نه د خطاب اواز،

آغاز : شروع، ابتدا،

اغراض : حاجونه، غرضونه، مقصدونه.

اغراق : مبالغه کونه، دوزي وېشتل.

اغستل : اغوستل، بدن په جامو یا بل څه پټول.

اغلاط : تیروتنې، خطاوې، غلطي،

اغلام : هلکانو سره بد فعلي کونه، بچه بازي، هلک بازي،

اغلب : غالب تر، قوي،

اغماض : سترګې پټول، بې پروائي کول.

اغوا : لمسونه، د لارې نه ایستنه، پټونه،

اغوستل : بدن په څه کپړه وغیره پټول.

اغوستن : د اغوستلو جامې یا بل کوم څیز.

اغیار : پردے، رقیب، دشمن. د غیر جمع.

اغیر : بد هضمي، د خیټې خرابي.

اغیرل : بد هضمه کول، کرکه کول،

اغیزه : اثر، تاثیر.

افات : مصیبتونه، بلاګانې، تکلیفونه، د افت جمع.

افاده : فائده رسونه، خرګندونه، بنکاره کونه،

افادیت : فائده رسونه، فیض رسونه.

افاقه : له بیهوشی یا رنځ نه بنه کیدل.

افاقي : عالمي، وسیع د افاق سره متعلق.

افت : مصیبت، تکلیف، د خدای قهر،

افتاب : نمر، لمر،

افتتاح : پرانسته، لاس پورې کول.

افتخار : فخر کونه، نازیدنه.

افترا : تور پورې کول، تهمت لګول.

افتراق : بیلتون راوستل، جدائي راوستل.

افراد : وګړي، خلق، کسان، د فرد جمع.

افراط : د حده وتل، زیات والے، د تفریط متضاد.

افرین : شاباش،

افزائش : ډیر والے، زیات والے، کثرت.

افزون : ډیر، زیات،

افسانوي : غیر حقیقي، د افساني سره متعلق.

افسانه : قیصی، د حقیقت ضد، ادبي اصطلاح کښې وړه قیصی.

افسر : تاج، مشر، سردار، قرقره.

افسرده : خفه، پریشان، سوړ، مړاوے.

افسوس : د غم، ارمان او حسرت کلمه.

افسون : دم، سحر، جادو، منتر.

افشان : د مقیش یا ګوتې وړې وړې ذرې چې بنځې ئې د بنانست دپاره په تندي لګوي او په ویښتو ئې دوړوي.

افضل : ډیر غوره، بهتر، فضیلت لرونکے.

افطاري : د روژې ماتولو خیزونه، روژه ماتونه.

افعال : کارونه، د فعل جمع.

افغان : پښتون.

افق : کناره، غاړه، هغه ځاے چې اسمان او زمکه یو بل سره لګیدلے ښکاري.

افکار : فکرونه، خیالات، د فکر جمع.

افلاس : مفلسي، غریبي

افلاک : اسمانونه، د فلک جمع.

افواج : فوځونه، لښکري، د فوج جمع.

افیم : تریاق، اپیم، افیون، د خشخاشو د ډوډې د پیو نه حاصلیدونکې نشه آور مواد.

افیمي : افیم خور، هغه څوک چې افیم ځوري.

اقارب : خپلوان، رشته

داران.

اقامت : استوګنه، ټیکاؤ، قیام، سکون.

اقبالي : د اقبال سره متعلق، د جرم یا ګناه اعتراف کونکی.

اقتباس : انتخاب، د چا د نظم یا نثر عبارت نقل کونه.

اقتدار : وس، واک، اختیار، قدرت، طاقت، حکومت.

اقتدا : متابعت کول، وروستو تلنه، پیروي کول.

اقتصاد : ونډه، میانه روي.

اقتصادیات : هغه علم چې په هغې کښې د ملک د مادي پیداوار او د هغې مناسب خرڅ په باب کښې تعلیم ورکولے شي. معاشیات.

اقدار : معیارونه، اندازي، د قدر جمع.

اقدام : ارتکاب، وړاندې تلنه، شروع، اراده، قصد

اقدس : ډیر پاک نهایت پاک.

اقرار : منلنه، په ژبه ونیسه. وعده، شرط.

اقرب : خپل، عزیزان، رشته دار.

اقربا : خپلوان، رشته داران.

اقساط : قسطونه، ټوکړې، حصې، کشتونه، د قسط جمع.

اقسام : قسمونه، د قسم جمع.

اقل : ډیر لږ، ډیر کم.

اقلیت : کمے، لږوالے. د اکثریت متضاد.

اقلیم : ملک، ولایت، د زمکې پنځو حصو کښې هر یو ته اقلیم وائي.

اقوال : خبرې، مقولې د قول جمع.

اقوام : قومونه، فرقې، ګروهونه د قوم جمع.

اکابر : غټان، مشران، د اکبر جمع.

اکاله : یو خل قلبه کونه، زمکه یو خل اړول.

اکبر : ډیر لوے. د الله پاک نوم.

اکتساب : زده کونه، کسب کونه، خواري کونه، لاس ته راوړنه.

اکتفا : کافي کیدنه، بسنه، بس، بس والے.

اکثر : زښت ډیر، زیات.

اکثریت : د اکثر سره متعلق، زیاتوالے.

اکرام : انعام، میلمستیا، عزت ورکول، احترام.

اکر بکر : کړۀ وړۀ، د مخ کاسه، خدوخال.

اکسیر : کیمیا، هغه دارو چې د یو مرض حکیمي علاج وي.

اکو بکو : اوتي بوتي، بکواس.

اکور : غوز، چرمغز، یوه میوه، اغز.

اکاړي : هغه بیاسته یا پرے چې اس یا بل کوم ځناور پرې له وړومبی پښې نه ترلے شي.

اګاه : خبردار، واقف، پوهه.

اګاهو : وړاندې، مخکښې، وړومبے.

اګاهي : واقفتیا، پوهه. له یوي واقعي نه مخکښې په ما فوق الفطرت طریقه خبریدنه.

اګر : د انساني بدن د شا هغه حصه چې بهر ته راوتے وي. کناتے. کهٔ چې، کهٔ.

اګره : د وریژو مستو یا شوملو بې مزې پخکړے.

اګري نګري : اړے ګړے، عوبل، هغه حالات چې د قانون احترام پکښې نه وي.

اګی : هنا، اویه، انډه، د چرګو تخم، هویه.

آل : اولاد، تبر، خاندان.

الا : په جمع سره د الله نوم اختتل، د خوشحالی په موقع یوه نعره.

الا بلا : بیکاره او بې ښې خیزونه. روا ناروا، ورانې

ویجاړي.

الاجي : هغه آله چې پوندانه پرې د مالوچو نه بیلولے شي.

الاستي : غـائـب، پـټ، ناګهانه، ناڅاپي.

الٰهي : اے زما خـدایـه، الله سره منسوب.

الٰهیات : د الله پـاک بـاره کښې علم او فلسفه.

البته : ضـرور، بیشکـه، مګر، لیکن، دیر ښه.

التباس : د یو شان والي له وجې په شک کښې پریوتل.

التـجـا : زاري، مـنـت، خواست.

التزام : د څه کار د کولو یا نـه کـولـو وعـده، پـه غاړه اخستل،

التفات : پـام، تـوجـه، مهرباني.

التماس: التجا، خواست، غوښتل.

التـوا : بـلـې مـوقـعـې تـه پـریښـودل، ځنډونه، ملتوي کول.

التهه : اپـوتـه، پـرمخے، اړولے، برخلاف، د سم، نیغ او ښې ضد.

التـی : قـے، کـوز کـتـنـه، باکی، چالونه،

الحاد : مـلحد کیدنه، له دینه اوړیدل،

الـحـاق : شـامـلـیـدل، جوختیدل، شریکیدل.

الـحـمـد : د قـرآن شـریف وړومبـے سـورت، تـولـې ستاینې الله لره دي.

الخ : د الیٰ احـره مـخفف، یعنې د دې تر اخر پورې.

الزام : تهمت، تور، ملامتیا، پره.

السلام علیکم : پـه تاسو دې سلامتیا وي.

الغاؤ تلغاؤ : اړے کړے، شورماشور، بغاوت.

الغرض : غرض دا چې.

الغیاث : د امـداد دپـاره د راغـوښتـلـو اواز، اصلي معنیٰ

امداد.

الف : د ابـجـدو وړومبے تورے، د حرف "ا" تلفظ.

الفاذ : هغه چـخچي يا پاني چـې د دروازو او کـړکـو او روشـن دانونو وغيره د جوړولو د مضبوطولو دپاره د ديوال او لرکـي تـر منـځه تـک وهلے شي.

الـفـاظ : تـکـي، تـوري، لفظونه، د لفظ جمع.

الـفـت : مـيـنـه، مـحـبـت، دوستي.

الـقـا : غـورځـونـه، اچـونـه، الهام، غيبي اشاره.

الـقـاب : لـقـبـونـه، د لقب جمع.

الـقـاري : بې انتها خواهش، ژبې.

الـقـصـه : غـرض دا چې، قصه کوتاه، لنډه دا چې.

الله : د خـدائے پـاک نـوم، اسم ذات.

الماری : د کتابونو، کپړو يا لوښو ايښولو لوے صندوق چې درازونه يا خانې لري.

الـمـيـه : دردنـاکـه واقعـه، غمژنه واقعه، داسې نظم يا نثر چې انجام ئې دردناک وي.

الو : يـوه سـبـزي، پـتـاتـه، جمع الوګان.

الوان : سـور رنګ، د سور رنګ يوه کپړه، د لون جمع.

الـو بخارا : هـغـه تروه ميوه چې د خوړلو نه علاوه پخکړي او وريژو کښې استعماليږي.

الويچ : يو قسم کچالو.

الـوتـل : ورزيـدل، پـه هوا کښـې د وزرونـو پـــه زور کړځيدل.

الـوچـه : د مـنـدتـې او الو بـخارې په شان يوه ميوه او د هغې ونه.

الوداع : رخـصـت، په محه ښه.

الوده : لـړلے، تپلے، ګنده، پـلـيـت، داغ لرونکے، ککړ، ګناه ګار.

الوزول : په هوا کښې ګرځول، پورته کول، په آتشي وسله وژل.

الوول : ول ول، تاؤ راتاؤ، کلکوتي، ګرګوتي، ګارګوتي

اله : آله، اوزار، برګ.

اله : هله، شابه، ژر که،

اله ګوله : شوروشر، جنګ جګړه، بدانتظامي، اړې ګړې،

الهام : د الله پاک له خوا د انسان د هدایت دپاره نازل شوے کلام.

الي دودو : هغه سړے چې هر وخت په منډه وي، جلتي کونکے.

الیښادے : هغه سړے چې په ودونو کښې سندرې وئیل ئې پیشه وي.

الي خلي : وګورئ هلي خلي

ام : د ګرمو او شګلنو سیمو یوه مشهوره خوږه میوه چې په ګرمی کښې رارسي.

امادګي : خوښه، رضا، غاړه کیښودنه.

اماده : جوړ، تیار، رضا، راضي.

امارت : امیري، مشري.

اماره : حکم کونکے، نفس اماره.

اما کما : لږې نږدې، یو ځاے بل ځاے، د لږې لږې، د امازي او کمالزي مخفف.

امالہ : د ګرامر هغه قاعده چې د هغې لاندې زور د زیر په شان لوستے شي لکه د رکاب په ځاے رکیب.

امام : پیشوا، رهنما، مونځ ورکونکے.

امامت : مشري، سرداري، د امام عهده، رهنمائي، قیادت.

امان : پناه، حفاظت، ارام،

امانت : په اعتبار ورکړے ځیز، چا سره په حفاظت کښې ورکړے شوے ځیز.

امانې : ټول، سالم، پوره،

پټ، خوندي،

امبار : انبار، ډیرے، ډیر، ذخیره، د غلې ګودام.

امبارکي : مبارکي، د چا په خوشحالي هغه ته د خوشحالي ظاهرونه.

امبالي : کجاوه، هغه ډولی چې په اوښ یا هاتي باندې ورلے شي.

امبر چمبر : یو بل کښې ننوتي، مشت و ګریوان، یو بل سره ښخ.

امبور : د ترکان، لوهار او نورو کسب ګرو هغه کالے چې د څه څیز مثلاً میخ وغیره د ایستو دپاره پکاریږي.

امت : د یو رسول منونکے جماعت، ټولے،

امتحان : ارمائنه، ارمانیل،

امتداد : وړدیدنه، عزیدنه، د جیومیټری په اصطلاح کښې وړدوالے، پلن والے او ژوروالے.

امتیاز : بیلتون، فرق، تمیز، جدائي.

امچوره : د کچه ام وچې کړې ترازې چې د اوړه کیدو نه پس په مصالحه کښې استعمالیږي.

آمد : ګټه، آمدني، د شاعرۍ یوه اصطلاح، زړه کښې پیدا شوې خبره.

امداد : مدد، مرسته، کومک.

امدن : امدني، ګټه، فائده، حاصل.

امدورفت : تلنه راتلنه، تعلق، راشه درشه.

آمر : حاکم، حکم کونکے،

إمر : حکم، کار.

امرا : د امیر جمع، غټان، لویان، دولتمند.

امراض : بیماري، ناروغي، د مرض جمع.

امرسه : د وریژو د اوړو نه جوړ خوږ ککوړے.

امرود : امروت، یوه میوه.

امروزه : روزمره، د یوې

ورځې په دوران کښې

امریت : ټول واکتوب، د امر حکومت، امرانه نظام.

امزرے : منزرے، ازمرے،

امسا : د لاس لرګے، کونتی، لکړه، عصا.

امساک : ایسارونه، د انزال ایسارونه،

امکان : د واقع کیدو یا ممکن کیدو صلاحیت،

امل : آرزو، امید،

املا : د چا د وینا د لیک دود مطابق لیکنه، د امتحان په ډول د بل وئیلے عبارت لیکل.

املاک : د ملک جمع، مال، اسباب، جاګیر.

املوک : د یوې ونې او د هغې د میوې نامه.

املي : یوه تروه میوه.

امن : صلح، اطمینان، ارام، امان. د جنګ ضد.

امن و امان : د جنګ متضاد.

امنوات : مرګونه، د موت جمع.

اموال : مالونه، د مال جمع.

امواج : موجونه، چپې، د موج جمع.

اموخته : عادت شوے، بلد شوے، عادي.

امور : کارونه، احکام، د امر جمع.

امي : نالوستے، ان پړ،

امید : توقع، آرزو، اسره، امل.

امیدوار : امید لرونکے،

امیدواره : امید لرونکې، هغه بڼځه یا ماده ځناور چې په کیډه ئ بچے وي. حامله.

امیر : حاکم، حکم کونکے، دولتمند، د قافلې مشر،

امین : امانت ګر، امانت دار.

آمین : هم داسې دې وشي. مننه، قبلونه،

اميزش : کډون، ملاوټ.
اميل : امبيل، هار، د غاړې کالے.
انا : اصل معنې "زهٔ". هرې مشرې ښځې ته د احترام کلمه.
انار : يوه دانې داره ميوه چې پوټکے يې ترش وي
انار دانه : مساله چې د انګورو او انار ګوړوله دانو جوړيږي
اناړي : ناشولته، نا پوهه، نا تجربه کار
انانيت : خان منلنه، خود پسندي، غرور.
انبار : امبار، ډيرے، ذخيره.
انبساط : خوشحالي، غوړيدنه.
انبوه : هجوم، ګڼه ګوڼه.
انبياء : نبيان، د نبي جمع.
انتباه : خبردارول، اطلاع ورکول
انتخاب : خوښونه، غوره کول،
انتروشے : پرنجے، انتوشے، ترنجے.
انتساب : نسبت لرنه، تعلق، نسبت.
انتشار : تردد، خوريدنه، پريشاني، د شهوت په نتيجه کښې د آلهٔ تناسل لکيدنه.
انتظار : کتون، کتنه، اسره، په اميد وسيدنه، لار کتنه.
انتظام : بندوبست، ترتيب، تنظيم کول.
انتقاد : کره کتنه، تنقيد، اعتراض.
انتقال : مړ کيدنه، د جائداد منتقل کيدل، نقل و حرکت.
انتقام : بدل، پور، وار، کسات، بدله.
انتها : اخر ، انجام، حد، خاتمه.
انتها پسندي : د انتها پسند عمل او نظريه.
انتهائي : نهايت، اخري.
انجام : دنبال، اخر ، انتها،

انجان : نـهٔ پـوهيدونکے، جاهل،

انجروت : نـاويـات، بيش بها، قيمتي.

انـجـل بـنـجـل : الـوول، کډوډ، تاؤ راتاؤ.

انجم : ستوري.

انـجـماد : مـنـجمد کيدنه، کنګل کيدل.

انجمن : ټـولـنه، مجلس، محفل.

انجه : هنجه، پنجه،

انجيل : هغه اسماني کتاب چې پـه حضرت عيسیٰ عليه السلام نازل شوے وۀ.

انځر : يـوه تور بخنه خوږه ميوه.

انځري : د مرۍ د غدود د پرسوب بيماري.

انـځور : تـصـويـر، نقش، نښه، مرهم پټی.

انچ : د فټ دولسمه حصه.

انـحراف : لـه يـو قول يـا عـمـل څـنې بيرته کړخيدل، انکار کونه.

انحصار : د يوې خبرې په بـلـه موقوف کيدل، دارومدار ساتل،

انـحـطـاط : پـريـوتـنـه، راغورځيدل، زوال.

اند : اندازه، تخمينه.

انداز : حـد، مـقـدار، طرز، طريقه، شان، ادا، ناز و نخره،

اندازه : قـيـاس، فـيـصـلـه، کچ، ناپ تول، د ناکافي علم په بنا کړے فيصله.

اندام : د بـدن يـوه حـصـه، عضو.

انـدرپـايـه : پـارځنګ، پوړۍ، زينه.

اندرغپ : بې هوشه، پټ، هـغـه سـړے چې کوتې تـه ننوخي او خان پسې ورپورې کړي.

اندرون : دنـنـه، پـه منځ کښې، زړۀ، بـاطن، د بيرون متضاد.

اندره : څرخ، باټ، د چرو

چاقوانو تیرولو آله.

انـدوخته : سـمبال شوے، سنبال، کتله، جمع واري

اندوهگین :دلگیر، غمگین، غمژن،

انـدیښمن : غـمژن، فکر من، دلگیر،

انـدیښنـه : ویره، خطره، غم، پریشاني،

انـډر : مسـت خـاروے، ناخصي خاروے، سانډ.

انډره : د پسـۀ پـه ګیډه کښې لویه کولمه.

انډک : کناتے، ارخ،

انـډک سونډک : هغه سیلی او بادونه چې د ژمي په اخر کښې چلیږی، سونډک مونډک.

انډوخر : فساد، ورانے، بد تمیزي، یوه لوبه

انډول : اویـزان، خورند، بښتے،

انـډه : هـغـه اګی چې د جنـکولو په نتیجه کښې ن سر او چک دواړه مات شوي وي

انـډیوال : انـډی کښې شریک، ملګرے، یوې بې نکاح ښځې سره وسیدونکے

انډیرے : پوزے، پوزکے.

انډی : بنـوروا، پـخکرے، کتوی، اینګولے، ترکاري.

انـډی ګونډی : اخلے پخلے، انډی کتوی.

انډے : غـوندے، د اوښ یا خـر یـا بل څاروي د بار یو خوا، ورے، نیم بار. د بار یوه حصه.

انـډے انډے : تـوتـې تـوتـې، انـدام انـدام، ډبـر ستړے.

انزال : منې حارجیدنه، منې وتنه، خلاصیدنه

انساب : نسـوب، نسلونه، د نسب جمع.

انسـان : بـنیادم، سړے، خپلو کښې مینه کونکے.

انسـت : یو شنه بوټے چې

لـرگـے او پـانې ئ د زيـړي د مرض دپاره استعماليږي.

انسداد : بـنـدونه، بنديز، منع کونه، ختمونه.

انشا : لـه خـانـه راايستـل، له خـانـــه پـيـدا کـول، عـبـارت، تحرير،

انصار : مـددګاران، په مدينه منوره کښې د رسول الله صلي الله عـلـيـه وسـلـم مـددګـاران اصحاب.

انـصـاف : عـدل، د حق فيصله، نيمول.

انـعام : بـخـشـش، سوغات، بدله، صله،

انعکاس : عـکـس، په بل مخ اوړيدنه،

انفرادي : يـواځـې، خان له، فردا فردا.

انفرادیت : د انـفـرادي سره متعلق.

انـفـصال : جـدائـي، بيلتون، بيليدنه.

انفعال : شـرمـيـدنه، ندامت، ملامتيا.

انـقـلاب : اوښتل، د حـالـت بدليدل، د زمانې ګردش،

انکار : د اقرار ضـد. يوه خبره نه منل.

انـکـسـار : خـاکـسـاري، عاجزي، کسر نفسي.

انـکـشـاف : ظـاهـريـدنـه، بنکاره کيدنه، معلوميدنه.

انګا بنګا : لـړې لړې، ډير لـــړې، اخـوا ديـخـوا، ګـډوډ، فضول خبرې.

انګار : سـکـروټه، سروټکه، تک سور شوے.

انګازه : هـغـه اواز چې نـهٔ راتمبيږي. اوازه. شهرت،

انګته : نښته، ورانے، چير، ټونګه اچونه، لاس وراچونه.

انګړ : غولے صحن، انګن،

انګړه دنګړه : لم ليټ، ټال متول، اخوا ديخوا، انه بانه.

انګن : انګړ، غولے، صحن.

انګور : زيلې کونکے مشهور بوټے چې خوږه ميوه کوي.

انګيټي : د تـانـبې يا د ټيم نه جـوړ د اور بـلـولـو دپـاره يـو خـاص لـوښے. د اور بـلـولو خاے.

انـنـاس : يـوه مشهوره ميوه چې د خـټـکـي نه وړه وړده او

خوړه وي او د پاسه پرې ازغي وي

انواع : قسمونه، ډولونه، د نوع جمع

انه : يوه پخوانی سکه چې د څلورو پيسو برابر به وه.

انه بانه : علر، بهانه،

انهماک : مشغولیدنه، مصروفیت.

انیز : انه، د روپی شپاړسمه برخه.

انیدل : هنیدل، کمزورے کیدل، د خر یا د اس د مستی اواز.

اۆ : هغه اوار چې غوایان پرې شړلے شي. د کار کولو په غرض د اماده کولو کلمه، هۆ.

او : د عطف حرف ، بیا،

اواخر : انجام ،انتها، د اخر جمع.

اواره : روغه جوړه، صلح صفائی.

اواره کرد : بیکاره کړخیدونکے، لوفر.

اواز : غږ، صوت، په خناورو کښې د ژبې په ذریعه د خپلو جذباتو یا خیالاتو څرګندولو قوت چې په غوږونو اوریدے شي.

اوازه : شهرت، ناموري، غلغله، افواه.

اوباش : خوشے کړخیدونکے، بدمعاش، بد چلن، اواره ګرد.

اوبدل : کپړه جوړول، د کلې کار کول.

اوپره : پرسیدلے، بوګه، چې کلک نۀ وي.

اوتر : مست، ناتریا، وارخطا، پاګل.

اوتے بوتے : کډې وډې، کاواګې، بې مطلبه خبرې.

اوجړې : لرې کولمې، لرې سوپرې، د څاروۆ د معدې یوه برخه.

اودس : د مانځۀ دپاره په مخصوصه طریقه ځان پاکول. وضو.

اودس مات : ډکې متیازې، لوے بول، د اودس ذ حالت نه د بې اودسی حالت ته راتلل.

اودل : اوبدل، کپړه تیارول، د بنځو د سر کمښی کول.

اودۀ : خوښولے ، بیدۀ، ساده،

بې پروا، چې ويښ نۀ وي.

اودي : سرحي تـه مائل تور رنګ،

اور : د پخواني علم مطابق يو بنيادي عنصر چې د سوځيدو پـه نتيجه کښې ځ رنا او ګرمي پيدا کيږي. هور.

اوراد : وردونه، وظيفې.

اوراق : پـاڼې، صـفـحې، د ورق جمع.

اور اورګے : جګـړه، هغه چـنـجـيـر چې د شپې په الوتو کښې رنا کوي. اوربلګ،

اوربشه : يـوه مشهوره غله چې پـه اوړي کښې کيږي د خوراک نه علاوه تري شراب هم جوړولے شي. جو.

اوربشينـه : د اوربشـو نـه جوړه،

اوربل : د پيغلو جونو د تندي ويښتۀ، پيکے.

اوربوز : وګوړۀ وربوز.

اور لړونے : هغه لرګے چې اور پرې لړلے شي.

اورمولے : د وړو ماشومانو يوه ناروغي چې پکښې په وړو دستونه لګي.

اورميږ : ګردن، څټ،

اورنے : هغه کپړه چې ماشوم پکښې نغاړي او تړي.

اوروړ : پـــه وچـــت اواز لـوسـتـل، د غـوږ په ذريعه چاته رسول،

اوريدل : اورېدل، د غوږ پـه ذريعـه د اواز مـحسوسيدل، د سامعې د حس استعمال کيدل، منل، قبلول.

اوری : د غـابنـونـو د ژامنو ګير چاپيره غوښه.

اورے : ورے، ورغومے، يو بوټے چې په عربي کښې ورته خردل وائي. نرى دانې کوي.

اورل : منل، زغمل، اخستل، بيلول، چون کول.

اورۀ : دوړه، ورۀ، اټا.

اوريدل : اوښتل، تيريدل، په تـکـليف کښې مبتلا کيدل، د لاس او پښې بې ځايه کيدل. دين پريښودل،

اوريدل : مـيـده کيدل، اورۀ کيدل، اورۀ جوړيدل.

اوريدل راوريدل : وجود لـه يـو خـوا بـل خـوا حرکت ورکـــول، اخـــوا ديـــخـــوا

ګرځيدل، اواره ګرځيدل.

اوزار : د استکار د کار کالي، د کار آلي.

اوزان : وزنونه، د وزن جمع.

اوږد : وږد، لوے، د لنډ متضاد.

اوږه : هوږه.

اوږه : د څټ او مټ تر منځه د ولي حصه.

اوړی : د غاړې يو کالے، پيمانه، هغه لوښے چې غله پرې پيمانه کولے شي.

اوس : په دې وخت، په دې ساعت، د دير نژدې تير شوي کار دپاره.

اوسط : درميانه، مينځومانه، په منځ کښې.

اوسنے : د اوس وخت، موجوده. دستي.

اوسيدل : ژوند تيرول، ديره کيدل، ميشته کيدل.

اوښ : د ايشيا او افريقې يو لوړ قامتے ځناور چې په شا يو يا دوه کبونه لري. او د سورلی او باربرداری دپاره پکاريږي.

اوښکه : د سترګو نه بهيدونکې مائع، وګورئ اوښه.

اوښه : لـه ستـرګـو خارجيدونکې مائع ځاځکے چې د ژړا يا د خوشحالی په وخت راوځي.

اوښے : وګورئ اخښے.

اوصاف : د وصف جمع، صفتونه.

اوقات : وختونه، د وقت جمع، مالي يا معاشي حيثيت.

اوقاف : د خيراتي مقصد دپاره خاص شوي څيزونه يا جائدادونه او د هغې د انتظام محکمه، د وقف جمع.

اوقه : قے، چال، کوز کاڼه، التي.

اوګره : وريژې يا بټې په اوبو کښې يشونه، د وريژو يا بټو اتوب،

اول : د خالي ورځ، وړومبے، شروع، ابتدا.

اولاد : زاوزاد، بـال بـچ، نسل، پښت، الواد.

اولجه : مال غنيمت، لوټ، تالان،

اولس : د قام خلق، قامي خلق، عوام.

اولنے : وړومبے، وړومبنے، اولمړے.
اولیاء : بزرګان، ولیان، پاک خلق، د الله پاک دوستان.
اولین : وړومبے، وړومبنے، لومړے.
اوم : کچه، ناپخته، خام، ناتجربه کار، ناپوه.
اومتیا : اوموالے، کچه والے، خام والے.
اومه خکۀ : هغه هلک چې ډیره بریت ئې لا نه وي راغلي. ژنے.
اونګه : چتړ، بغړی، لنګړی، د دارو جوړولو یا مسالې میده کولو دپاره د لرګي یا وسپنې نه جوړ شوے لوښے.
اووکس : د شپارسو او اتلسو په منځ کښې هندسه.
اووۀ : یو او شپږ، د اتو نه یو کم.
اوه : هغه تیاکه چې د ځناور په پښه کښې راخیژي.
اوهام : وهمونه، د وهم جمع.
اوي : آبي، د للمي متضاد،
اویا : لس او شپیتۀ، لس کم اتیا ۷۰.
اویه : هاء، اګی، انډۀ.
اویجه : زمکه، وطن، سرزمین.
اویزان : خوړند، اویزاند، نښتے.
اوی : پړۀ، هغه ځاے چې یکښې کلال لوښې پخوي.
آه : د افسوس او حسرت کلمه.
اها : د تعجب او خوشحالی کلمه، واه واه.
اهتمام : انتظام، بندوبست، بندبنا.
اهل : مالک، صیب، تبر، خاندان، صفت، لائق، هنرمند، شریف.
اهل بیت : د کور خلق د رسول الله صلي الله علیه وسلم اولاد.
اهل حدیث : د مسلمانانو یوه فرقه چې د فقهې د امامانو تقلید نۀ کوي.
اهل کار : کارنده، کارکن، منشي، مرزا.
اهلیت : قابلیت، لیاقت، تمیز.

اهلیه : بنځه، تیر، ارتینه، ماندینه، قبیله، کور، کورواله، نکاح شوې بنځه.

اهم : ګران، مشکل، ضروري،

اهمیت : د اهم سره متعلق.

اهنګ : قصد، اراده، تکل، غاړه، اواز، عږ، نغمه، سُر، وزن، طرز، طریقه.

اهنګر : پښ، لوهار،

اهو : هوسی، لکه شویه، لکه شوې.

ائمه : د امام جمع، امامان.

آئین : دستور، قانون، رسم و رواج، آئینه، شیشه دین، عقیده.

آئینه : د مخ کتلو شیشه، ایندارہ، هنداره.

ایا: حرف استفهام، د سوال کلمه.

ایات : د آیت جمع، علامات، نښې، د قرآن او نورو اسماني کتابونو جملې.

ایاغ : جام، کنډول، پیاله، د شرابو جام.

ایام : ورځې، حالتونه، موسمونه، وختونه، د یوم جمع.

ایت : د قرآن شریف پوره جمله.

ایثار : قربانی، په خپل ضرورت د بل ضرورت ته ترجیح ورکول.

ایجاب : قبلونه، منله، منظورونه.

ایجاد : نوے څیز جوړول، نوے څیز پیدا کول.

ایجاز : اختصار، مختصر کول.

ایجرا : هجرا، نامرد، نربنځے. کمزورے، سست.

ایرن : خړ، ایره رنګے، د ایرو په شان.

ایره : له سوخیدلي څیز نه پاتې شوے ګرد.

ایری : د بنځو د خبرو جنګ، د زنانوڅ د خبرو جګړه

ایری باری : د خبرو جنګ، یو تر بله د خلې جنګ، ناکاره خلهٔ خوخول، بدرد ونیل

ایرا : وارخطا، اوتو.

ایسار : اتبال، وروستو پاتې،

بندي، گير، نيولے،
ايسارتيا : ماتلي، بندي توب، اټالتيا، تم والے.
ايساروول : گيروول، اټالول، پاټي کول، بندي کول،
ايساريدل : گيريدل، اټاليدل، پاټي کيدل، بندي کيدل، بنديدل.
ايصال : رسونه، يو ځاے کونه، وصولونه.
ايطا : د شعر په مصرعو کښې د قافيې تکرار چې بنۀ نۀ شي ګڼلے.
ايفا : پوره کونه، د وعدې پوره کول.
ايل : قبيله، ټبر، خاندان،
ايله : خلاص، ازاد، خوشے.
هيله، دومره، بس، لږ،
ايله ايله : لږ لږ، په مزه مزه، په قلار قلار.
ايله بيله : فقط، محض، په خواري زاري، بس دومره قدري.
ايله حواله : داسې کوششونه او تدبيرونه چې د کاميابيدو امکان ئې ډير کم وي.
ايلي : هيلي، مرغابي، د اوبو يو مارغۀ.
ايما : غمزه، کنايه، اشاره.
ايمان : عقيده، اعتقاد، مذهب،
ايماندار : ايمان لرونکے.
ايماني : د ايمان سره تعلق لرونکے، حقه، ربنتيا، سمه.
اينټي پينټي : چل ول، انې بانې، ټکي برکي.
اينجه : د بوډې يا زړې غوا غوښه، کيجه غوښه.
اينډوانه : هندوانه، شين پوټ او عام طور سره سور رنګ لرونکې غټه ميوه.
اينه : وګورئ آئينه.
اينه : ځيګر، ينه.
ايوان : شاهي دربار،
ايهام : د علم عروض يو صنعت چې شاعر په خپل کلام کښې داسې ټکے استعمالوي چې دوه معنې ترې راوځي.
ايراب : هغه لښتے چې د زيم لرې کولو دپاره په ريمناکو زمکو کښې جوړ شوے وي.
ايستل : وباسل، وکښل،

وښکل.

ایغ : د نیغ مترادف، د نیغ نه مخکښې راتلونکے بې معنې تکے.

ایغ نیغ : د پاک زړهٔ خاوند، صفا خبره کونکے، شوخ، سم دم، سر زورے.

ایکړ : د زمکې د کچ یوه پیمانه چې د دوؤ جریبو برابر وي.

ایلچي : استاځے. قاصد.

اے : حرف ندا، لکه اے هلکه، اے جینی. حرف استفهام هم دے لکه اے تاسو ته معلومه ده.

ب : (بې) د پښتو د حروف تهجي دويم توری چې د ابجدو په حساب ئ قیمت دوه (۲) دے.

بـــاب : دروازه، ، رواج، دستور، قسم، سلسله،

بابت : باره، معامله، سبب، غرض، بدله، اجوت،

بـابـو : لـوستے سـړے، کلرک، افسر،

بـابي : د ورنـدار دپـاره د خطاب کلمه.

بـابيرنګ : بـابرنګ، د ګيډې د چينجو د علاج دپاره پکاريدونکے بوټے.

بـابيژنه : سـره لړي، واريزه تبه، ملیریا.

بـاټريا : مـذوب، مجذوب، لـيـونے، کـم عـقـل، پـاګـل، ليونتيا ړے.

باټور : عـقاب، د يو ښکاري مارغۀ نامه. مړے،

باټي : پـلـتـه، پـلـيته، د پرهر هـغـه ټينګه زوه چې د باتی په شـــان د پـــرهـر د خـلـې نـه راوځـي. د مـالـوچو نـه جوړه نـــرى پـونى چې ډيوه کښې استعمالیږي.

باټ : د چاقو چرې تیرولو کانے. برجو، څرخ،

بـاټلے : بـالـتے، هغه لوښے چې اوبـۀ يـا شـودۀ پـکښې ډکوي. ټاټکے، باټے،

بـاټي : غـټـې خبرې، لافې، ډوزې.

باټيقولا : باټر، باټو، لاپو، لافزن.

بـاج : عـبـث، فضول، خراج، قلنګ، مالیه،

باجره : د غلې يو قسم،

بـاجري : نـري نـري کانې، سنګيړ،

باجړ : پـه شيبو شيبو باران، تـالان، لـوټمـار، افراتفري، اګري نګري.

بـاجګزار : هغه سړے چې ټيکس يا باج ورکوي.

بـاجـه : د سـاز يـوه آلـه،

هارمونیم.

باچا : بادشاه، خپل ستانه دارو خلقو ته د احترام نوم.

باحس : حساس، د احساس خاوند،

باخبر : خبردار، واقف، معلومات لرونکے.

باختر : مشرق، نمرخاتهٔ، ختیځ، شرق.

باخه : شمشتی. میچی، بابنه یو بنکاري مارغه.

باد : درد، د پښو درد، یو مرض، هوا، ایشمه، پوسکی، تیز،

بادار : څښتن، مالک، خاوند، سردار.

بادام : دیخو ملکونو وچ پوستکے لرونکے یوه میوه

بادامه : تیزه تنده سیلی، برفاني طوفان،

بادبان : هغه کپړه چې په جهاز یا کشتی کښې د رفتار لپاره لو یا د هغې د رُخ بدلولو په عرض لګیدلې وي.

بادخورک : یو مارغهٔ چې ګونګټی خوري.

بادرنګ : یوه خیلې لرونکې سبزي چې د سلاد په طور استعمالیږي.

بادرو : بکرمي کال کښې د پشکال نه پس راتلونکې میاشت. کشمالو، یو خوشبویه بوټے.

بادشاه : دیو قوم د ټولو نه لوے مشر، حاکم، باچا،

بادشاهت : د بادشاه کیدو حالت. باچاني.

بادګوله : د ګیډې سخت درد، قولنج،

بادوباران : سیلی باران، د شرق باران، طوفاني باران. چې جم جګړ او سیلی ورسره ملګري وي.

باده : شراب، مے.

بادي : د باد سره منسوب. هغه څیز چې په ګیډه کښې باد پیدا کوي.

بادیان : خوارهٔ ویلنے، کارهٔ

ویلنې.

بادګول : یو خاص قسم غښتلے شوے پسرے چې پکښې ګلونه جوړ شوي وي.

بادو : بې همته، سست، بې مغزه، دوزې ویشتونکے، دروغژن.

بادې : لویه خبره، لافه.

بادیوه : کانکوک، ګودی، باجاوه.

بار : ورے، بوج، د بارکښ په شا ترلے پیتے، د میوه داري وني پیداوار، وار، حمل،

باران : ورېنکے، وریا، وور، باروم، بارش.

بارانې : ورندے، هغه کال چې بارانونه پکښې ډیر وریږي، لمده، هغه زمکه چې کرئ په بارانۍ کیږي. د آبي متضاد.

بارانی : برساتی، باران کوټ،

بارخو : اننګې، رخسار، غمبورے.

باردار : وګورئ بادار. حمل لرونکے، بار وړونکے خناور،

بارکښ : بار وړونکے، پنډي، محنت کش، مزدور. صابره، د لویې سینې خاوند.

بارګاه : دربار، محل، ستانه، پاک ځای، شاهي خیمه،

باروت : بارود، د ګوګړو، بنورې او سکرو یو اور اخستونکے مرکب چې په توپو، توپکو، غربینونو وغیره کښې استعمالیږي.

بارود : وګورئ باروت.

باره : سلسله، لړ، تعلق، د تیږو دیوال، لوے بند، دلی شوې تیږې، خندق، پشتې، طرز، قاعده، ځل، وار، کرت.

باري : هغه خناور چې پیتې وړلو سره عادت وي. بار وړونکے.

باریک : نرے، نازک، ګران، مشکل، ډیر نرے یا

وړوکے،

بارې : بیا، اخر، یو خل، ولې، مګر، خو.

باری : د بانې د خاندان یو بنکاري مارغه. کرکی، دریچه. د پیاز پوټکے، د پیاز پرده.

بار : د توپو یا توپکو په یو مخ چلول، وار، شپول، کیږ، چاردیوالي، د پټي نه تاؤ شوي غنې، سیلاب، چله، د غنو دیوال.

باره : هغه خوراک چې د پیرو خاروؤ مخکښې ئ د لوشلو په وخت کښې کیږدي چې ورانے نه کوي. وندې، بارے،

بارې : مزدور، نوکر، خدمتګار، کاریګر.

بارېمار : هغه څارونکے چې په باړه ودریږي. باړه اخستونکے، رشوت خور،

بارېماره : بدکاره ښځه. هغه ښځا یا میښه چې همیشه په بارې ودریږي او عام طور سره بُوره وي.

بارېنځغ : بانډیچغ، د ماشومانو د زنګولو دپاره د لرګي نه په دائره کښې جوړ ټال،

باړی : پتے، د کلي خوا ته د کر زمکه، باړو.

باز : مشهور بنکاري مارغه چې نر ته ئ جره وئیلے شي.

بازار : په دکانونو مشتمل هغه ځای چې خرید و فروخت پکښې کیږي. مارکیټ، منډی، نرخ، اعتبار.

بازاري : د بازار سره تعلق لرونکے، لوفر،

بازپرس : جواب طلبي، پوښتنه، تپوس،

بازو : د کټ د څلورو خواؤ ته لګیدونکو لرګیو کښې هر یو، اړخ، طرف، سکه ورور، دوست، د مرثیه خوان جوړیدار، مټ د څنګلي نه تر اوږې پورې لاس.

بازي : لوبه، تماشه، دوکه، چل، د شرط ترلو روپۍ، وار، داؤ، د راضي تابع مهمل.

بازياب : دوباره موندلے،

بازيگر : لوبغاړے، مداري، جادوګر، بې اصوله، چالاک، دوکه باز. په دويم ځل، دوباره وګورئ باردیګر.

باسمتي : يو ښه قسمه وريژې

باسي : سخا، زوړ، بوئ ناک، بيګانے، د بل وخت پاتي شوے د خوراک څيز.

باشنده : وسيدونکے، استوګنے،

باطل : بې فائدې، غلط، دروغ، بې هوده، عبث، فضول، د حق متضاد.

باطن : اندرون، لړمون، ګوګل، پټ، پناه، د ظاهر او څرګند متضاد.

باطني : د باطن سره متعلق، د زړۀ سره تعلق لرونکے، اندروني.

باعث : سبب، وجه، له لاسه، له کبله، بنياد، ځيله، حقيقت، اصل.

باغ : د ميوو او ګلونو بوټي لرونکې زمکه چې عام طور تري ديوال يا ټاټو وي.

باغات : د باغ جمع، باغونه

باغبان : د باغ حصمانه کونکے، باغوان، هغه سړے چې باغ کرل او لګول ئ پيشه وي.

باغي : نافرمانه، ياغي، حکم نۀ منونکے، بغاوت کونکے،

باغيچه : وړوکے باغ، باغچه.

باقاعده : په تسلسل، په ترتيب، منظم، د قاعدې او دستور مطابق.

باقي : د الله پاک صفاتي نوم. بقايا، پاتې، بچ شوے څيز، هميشه، تل، رياضي کښې د تقسيم د سوال اخري بې تقسيمه پاتې شوې

هندسه.

باقيات : پاتې شوي، پاتې شوي څيزونه.

باقيمانده : پاتې شوے، باقي.

باک : ويره، پروا، خوف، ډار، فکر، تکلف، تاوان، نقصان.

باکي : التپي، قے، کوز کتنه، چالونه.

باکه : پرتوغابش، بکه، لافه، لويه خبره، واکه.

بالا : پورته، وچت، بره.

بالاخر : اخر کار، اخر کښې، وروستو.

بالائي : برنے، پورتنے، باسنے، پيروے، ملائي. رشوت، د تنخواه نه علاوه آمدني.

بال بچ : اولاد، وارۀ زارۀ، پښت.

بالتے : وکوري باتلے.

بالخصوص : خصوصاً، خاص طور سره.

بالښت : سرويږدے، تکيه، کلهوزے،

بالعموم : عام طور سره، عموماً.

بالغ : بلوغ ته رسيدلے،

بالغيدل : بلوغت ته رسيدل، خوانيدل،

بالفرض : کنه فرض کړې شي، فرضاً

بالکل : کليتا، په کلي ډول، ټول، قطعي، مکمل، چورلټ.

بالکے : مريد، بالکه چې، شاګرد، کم عمره خادم،

بالمقابل : په مقابل کښې،

بالن : بالن، خشاک، د سوخولو لرګي.

بالو : بدبختي، کم نصيبي، ميلو، يږ. هغه چينجے چې جامې خوري،

بالواسطه : د واسطې سره، چې براه راست نه وي.

بالين : بالښت، سرويږدے، تکيه.

بام : بلى، د چت برنى

حصه.

بامبو : پښتو، د هندوانو مذهبي مشر.

بامبوړه : د اور لمبه، غرغنده،

بامبن : د هندوانو د اعلیٰ ترین نسل فرد.

بامبیر : درېه لانجه، کنه کونه، شورماشور، بې ترتیبه سامان.

بانجان : یوه سبزي، باتینګړ، باتینګن، تور باتینګړ

باندینے : په قلبه کښې د بنې طرف غوټے. پورتنے، برنے، پاسنے، د بل وطن.

باندې : د پاسه، پر، په.

باندار : وران کوهے، ټولے، جرګه، مجلس.

باندې : د یو کلي نه بهر هم د هغې کلي د خلقو ملکیت کښې د زمکې د کرونده ګرو اباد کورونه، وړو کے کلے. اویزان، اټال، خورند، د څۀ وخت دپاره عارضي استوګه.

بانډیڅي: د باندې وسیدونکے، باندیچي.

بانګ : هغه آله چې ګنې پرې د ګندیر ډباره سپینوي.

بانګ : اواز، غږ، نارہ، د مانځۀ دپاره بلنه.

بانګي : اذان کونکے، ملا، چرګ،

بانګی : د بانس د دوۀ ډنډو د لرګي د بازوګانو تر منځه د بوریو یا بون نه جوړه هغه آله چې مزدوران پکښې سامان چلوي. د چابړي فروشانو هغه چابړے چې هغوي ئې په اوږه ګرځوي.

بانه : بهانه، پلمه، د دروغو عذر

بانې : بیاد ایښودونکے، شروع کونکے،

بان : بون، د مونجو یا میزرو نه غښتے نوے پرے، بان.

بانس : سخت او مضبوط لرګے لرونکې یوه ونه چې

اکثر په خیمو جوړولو کښې پکاروله شي.

بانۍ : د ستر کو د خیرمو په غاړه په یوه قطار ولاړ یو یا دیر ویښتۀ.

باوجود : سره د دې، بیا هم، په دې هم، د دې د پاسه.

باور : یقین، اعتماد، تسلي، ویسا، اعتبار.

باورچي : پخونکے، اشپز، خانساماں،

باورچي خانه : د اخلي پخلي ځاے،

باوړي : اعتباري، قابل اعتماد، معتمد،

باوړی : هغه کوهے چې پوړی ورته کوزې شوي وي، باولي.

باولي : د باز د بچي په ښکار د عادتولو دپاره پر کټ کړے مارغۀ.

باوړي : د ښځو د کار ټوکری، عام طور سره هغه ټوکری چې پکښې د ریشلو دپاره مالوچ اینبوے شي.

باویسر : بواسیر، یوه بیماري.

باویړے : د ښۀ کیدونکي رنځ بیرته راتلنه، مرض دوباره راتلل.

باه : شهوت، جماع، مردانه طاقت.

باهر : بهر، بنکاره، څرګند، خارج.

باهم : په خپلو کښې، یو تر بله.

باهو : د ښخو یو کالے چې مړوند نه د لیچې تر منځه وړد وي، کنګن، باوو.

باید : پکار ده، لازمه ده، ضروري ده، خامخا، ضرور.

بائلات : د کتابات متضاد، بائلنه، تاوان، زیان، ماتې خوړنه، پر کیدنه.

بائلل : ناکامیابیدل، ماتې خوړل، تاوان کول، د کټل ضد.

بهر : د زمري یو قسم چې په

څټ ئ کن ویښتۀ وي. هغه سړے چې د سر ویښتۀ ئ ډیر کن وي. قهرژن،

ببرو : بدرنګ سړے، د تریو تندي خاوند، د خورندو شوندو او ببرو وروخو خاوند.

ببو : د مور یا پلار خور، بنخونک،

ببوړے : د لاس پسکے، باد پکے، ماهي خورک یوه مرغی چې د سینه پـه غـاړه کـان نیسي.

ببی : مشري خور، ترور یا بلي مشري بنځي ته د احترام کلمه.

بت : د یشیدلو وریژو اوبۀ یا سرسړے، د نشاستې نه جوړ هغه ګړوبے چې سوتي کپړو تـه ئ پـه دې غـرض ور کوي چې تهه ئ ماته نۀ شي.

بُت : له لرګي، کانې، وسپنې یـا بـل داسې څیز نـه جوړ د انسان یا حیوان شکل، تصویر، شاعری کښې د محبوب دپاره استعمالیږي.

بُت پرست : د بتانو عبادت کونکے، مشرک.

بت تراش : بتان جوړونکے، بت ساز.

بتر : بـدتر، خـراب، ډیـر خراب، بې خونده.

بتک : پـه سـفر کښې ځان سـره د اوبـو وړولـو لـوښے، بتکے، یو قسم صراحي.

بت کده : د بتانو د اینبودو ځای.

بتکے : بتک، د اوبو ساتلو لوښے.

بُتکے : وړوکے دیوال چې د پناهي دپاره وهلے شوے وي. وړوکے دیـوال چې د ارټ د کانجن سر پرې پروت وي.

بتوه : سـارمـے، پـتې کښې پوخ شوے ساګ.

بته : هـغـه مـارغـۀ چـې لویه غږانګه لري او کورونو کښې ساتلے شي.

بتي : د جـولاګـانو د تنستې

بت، هغه نوم اوږهٔ چې جولاګان ئې تنستې له وړکوي.

بتا : کانا، په یوه سترګه ړوند، چې یوه سترګه کښې ئې ګل وي.

بتل : لویه خاورینه پیالی، لوے جام، لنګری، هغه خاورین جام چې بنګ پکښې ځښلے شي. خاورینه کاسه.

بتنګ : تانګو، د ناشپاتی د خاندان یوه میوه.

بتن : تنی، تکمه،

بټوه : بخښکی، د پیسو ساتلو کڅوړه،

بټه : بې مصالحې وریژې.

بټې : هغه اوربشې چې صفا شوې او ټکیدلې وي. صفا سوتره.

بټیاری : د بټیاري مؤنث بټ کونکې ښځه.

بټیارے : بټ کونکے، نیټې کونکے،

بټیر : د شمالي یخې خطې یو مارغهٔ چې د ژمي په سر کښې د پښتنو علاقو ته راوزي.

بټی : د خښتو، ورجینا تماکو پخولو یا د شرابو ایستلو ځای،

بجد : مصر، اصرار کونکے، ضد کونکے.

بجلي : یو مقناطیسي قوت چې د الیکټران او پروټان د حرکت په نتیجه کښې پیدا کیږي. برق، بریښنا.

بخن : حریص، لالچي،

بچ : اولاد، زوزاد، د بوټو تیښونه، له خطرې ساتلے، د بیماری نه روغ، محفوظ،

بچاؤ : بچ ساتنه، حفاظت، پناه، سلامتي.

بچاونه : د کټ څادر، بستره، فرش،

بچت : بچ شوے مال، کفایت شعاري.

بچړے : بچے، اولاد، خوے.

بچ کچ : بال بچ، اولاد.

زوزاد. پاتې، پاتې شوني،
بچندر : پرکتې، هغه ماشوم چې کونډه یا پریښودے شوې ښځه ئ د خان سره د نوي میړهٔ کور ته راولي.
بچنګ : د بچي تصغیر. بچونکے، بچو.
بچو : خوي، لور یا کشر ته د مینې کلمه،
بچورے : د انسان یا حیوان بچے، د ډیرې مینې له کبله ماشوم ته وئیلے شي.
بچوکے : د پښې د سر څوکه، د سر د ویښتو ترلو کپړه. د چابک د سر څونډے.
بچه باز : اغلام باز، هلکانو سره بدفعلي کونکے، هلکان ساتونکے.
بچیرې : بیانه، د اسپې بچي،
بچیرے : بیان، د اسپې بچے.
بچی : د بچي مؤنث.
بچے : د کم عمر انسان یا حیوان، چوچک، د بوټو قلمونه، بې تجربې سړے،
بخرکے : بخړے، سپنکے، وړوکے انګار. پوټسکے، ذره، پیچانے، پیسانے، ډیر لږ.
بخړے : وګورئ بخرکے.
بحال : په حال، په خپل خاے او مقام. په نوکرۍ واپس راغلے، زوړ حال ته بیرته راغلے.
بحث : د دوۍ تنو ترمنځه زباني یا تحریري دلیل بازي، جګړه، زباني جګړه.
بحر : سمندر، دریاب، د شعر د وزن مخصوصه پیمانه،
بحران : فیصله کن وخت، د مرض هغه کیفیت چې مریض د مرګ او ژوند تر منځه نښتے وي.
بحروبر :سمندر او وچه، لونده او وچه.
بحریه : سمندري فوځ.
بحیره : وړوکے سمندر.

بخار : د کرمی له وجې راختلې دانې، تبه، تپ، براس، غصه، تاؤ،

بخاری : انګیټی، چندلی، تودلی.

بخت : نصیب، قسمت، برخه، طالع.

بختور : د بنهٔ بخت خاوند، خوش نصیب، بختیار، نیک بخته.

بختي : بختور، بختناک.

بخره : برخه، حصه، وراثت، نصیب، قسمت، د زمکې یوه حصه چې رقبه ئ مختلفو علاقو کښې بیله بیله وي.

بخشش : انعام، ورکړه، بخښنه، معاف کونه،

بخښل : معاف کول، یو څیز چاته ورکول.

بُخل : کنجوسي، شومتیا، بخیلي.

بخمل : یوه مشهوره ریښمینه کپړه، مخمل، نرم و نازکه

بخن : د څنو رنګونو په اخر کښې د راتللو په صورت کښې معنیٰ کښې کمے پیدا کونکې لاحقه لکه تور نه تور بخن، سور نه سوربخن.

بخیل : شوم، د بخل نه کار اخستونکے، کنجوس، څیلي، ضدي، هغه ماشوم چې څیل نیسي او هر وخت ژاړي.

بخي : ګیندہ، په لاس یا په مشین کړے نیغ ګډ.

بد : سرکوزے، خنزیر، سرکوزے، بد څناور. د بنهٔ متضاد، ناکاره، خراب، فسادي، شریر، جګړمار،

بد بو : خراب بوئ، سخا بوئ.

بدبویه : چې خراب بوئ کوي،

بدتمیز : تمیز نهٔ لرونکے، وران، بې حیا،

بدحال : په خراب حال کښې،

بدکار : د بدو کارونو

کونکے، خطاکار،

بدکاري : بدفعلي، زناکاري، بدچلني.

بدنام : رسوا، شرمیدلے، په خراب نوم یاد.

بدر : سپوږمی، د خوارلسمې سپوږمی. مدینې منورې سره نژدې یو ځای.

بدرد : کنځل، ستغې سپورې، سپکه وینا.

بدرګه : د سپ یانو ټولے، ملاتړ، ملګرتیا، په مرسته کښې تګ، مړې پسې د وړومبې ورځې خیرات.

بدرنګ : بد شکله، بد صورته.

بُدري : تیندک، دغره، تکره، زیان، نقصان، تکلیف، ضرر، غلطي، خطر، بلا،

بدر : سپیدار.

بدستور : د دستور مطابق، زوړ په زوړ، زړه په زړه په خپل ځای.

بدعت : نوے کار، په دین کښې نوے کار چې سنت نه ثابت نه وي.

بدل : انتقام، پور، عوض، تاوان، غچ، مختلف، بیل، د اصل متضاد، د خپله ځایه لرې شوے.

بدلول : د یو خیز په ځای بل خیز ورکول یا اخستل، څوک د یو حال نه بل حال ته اړول.

بدلون : تبدیلي، انقلاب، وګورئ بدلول.

بدله : د پښتو د اولسي شاعرۍ هغه مخصوص صنف چې د مثنوي په رنګ کښې لیکلے شوے وي او عام طور سره پکښې قصه بیانیږي، د سندرو ویونکو په اصطلاح کښې غزل مسلسل کښې لیکلې قصه. د بدل مؤنث.

بدلي : تبادله، تبدیلي، د یو ملازم د یو ځای نه بل ځای ته کول.

بدلیدل : د یو خیز په ځای

بل څيز ورکيدل، غوره کيدل، له يو حال نه بل ته تيريدل،

بدليوهٔ : خنزير، بدخويه، بدمزاج، ظالم.

بدن : صورت، وجود، جسم، خان.

بدنام : تورن، چې تور پرې لګيدلے وي، رسوا، تهمتي.

بدو : خانه بدوش، د عربو صحرا نشين، بې وقوف، جاهل، باندېځي.

بده : د بد مؤنث، خرابه.

بدي : بد، ګناه، وران کاري، دښمني،

بديع : عجيبه، ناويانه، انداز، د يو علم نوم چې پکښې د کلام معنوي او لفظي خوبي بيان شوي وي.

بډا : شتهٔ من، سرمايه دار، دولتمن، مالدار.

بډائي : کبر، غرور، لويي، فخر، دولت مندي، شته مني.

بډوډے : پښتورګے، ګرده.

بلهٔ : بګه، د پرتوک پاسنی حصه، په پرتوک کښې د پرتوغاښ اچولو ځاے. د ځنې کلمو سره راځي لکه ډډه بلهٔ.

بلهٔ بيره : غټه بيره، سوابيره. د غټې بيرې يو قسم.

بلې : بدې اخستونکے، بدې مار، رشوتي، رشوت خور،

بلې : رشوت، ناجائزه پيسې.

بڈله : لطيفه، ټوقه، مذاق، وشته، د خوش طبعي خبره.

بر : فنالج، ګوزن، ميوه، حاصل، سور، عرض، پلنوالے. دا تورے د برکت سره هم راځي لکه بر برکت.

برابر : مساوي، يو شان، پوره، سر په سر.

برابري : مساوات، جوړښت، اتفاق، سمون. سموالے، يو شان والے.

برات : د شوقدر مياشت.
حصه، برخه، د قرآن کريم يو سورت.

برادري : ورورولـي. قاموليٰ، عزيزولي.

بُراده : د لرګي يا وسپني چُوره يا بُوره.

براعظم : د جغرافيي په اصطلاح کښې د خشکـی لويـه حصـه چې پکښې څو ملکونه وي. اصلي معنيٰ لويه وچه.

براق : هغـه سپين اس چې رسول الله صلي الله عليه وسلم پـرې معراج ته تشريف وړے وۀ. اصل معنيٰ سپين پڑقيدونکے څيز،

برامته : د قرضې يا تاوان په بـدل کښې يـرغـمال کښې اخستے څيز يا کس.

برامد : هغه تجارتي څيزونه چې لـه بـوۀ مـلـکه بهر ليږلے شـي. هغه زمکه چې د سيند د غورخيدلو په سبب راوخي.

برامده : بـرنـډه، مـنـډۀ، دالان.

برانډه : کـريـغـه، چغه، کريکه، کړيکه، د خر اواز.

برايه : تيـره شپـه، بيـګانی شپه،

برباد : د ابـاد ضد، تباه، وران، ويجاړ، ضائع. عبث، خراب

بربادي : تباهـي، خـرابي، زيـان، تـاوان، نـقصان، فضول خرڅه، تاواني.

بربريت : وحشـت، ظلم، زورزباتے.

بربري : د بزو يو قسم چې ډير پـی کـوي، د غواګانو يو قسم چې ډير پی کوي.

بربړو : مست او بړيدونکے اوښ چې ويښتـۀ پـرې لوي لوي وي.

بربنډ : لـوڅ، لغړ، برمنډ، له ضـروري سـامـانه محروم، بې حيا، بې شرمه،

بـربـورګی : بـربـوکی،

بوربور کی، بوبوزه.

بوته : په اور کښې د وريتو شوو تورپو، باتينګرو پخکړے چې عام طور سره پکښې ماسته اچولې شي.

بوټي : د فوځ، پوليس يا بل کوم ملازمت په رجسټر کښې نوم ليکنه. هغه څيز چې د خاے ډکولو دپاره استعمال شوے وي، ناپکاره، بيکاره.

برج : ټاری، اټاری، مورچه، ټاپو، برجل، د کوټې دپاسه هغه چاردیواري چې د جنګ دوران کښې د مورچې کار کوي.

بُرج : د تقويم د علم له رويه د اسمان هغه دولسمه حصه چې نمر پکښې يو مياشت وي.

برجسته : چست، سم، بې ساخته،

برجغ : ډک، ډک پک، کښيمندلے، تر څوکو څوکو ډک. تر خلې پورې ډک.

برجل : درشل، کور، چوکاټ،

برجو : پسان، برجي، د چاقوانو چرو تيرولو کانے، باټ،

برجي : حدبندي، برید، د ختو يا کانو بوتکے.

برچکے : پيوے، د تارونو هغه بنډ چې جينکی پرې ويښتۀ سمبالوي.

برچه : نيزه، بلـه، بلم، د وسپنې يوه اوږده وسله چې تيرۀ څوکه لري.

برځيرن : اوپره، برځيره، د سر دپاسه، سرسري، خطا، غلط شوے ،معمولي.

برځيره : څرګند، بنکاره، جوت.

برحق : په حقه، حق بجانب.

برخاست : ختمېدنه، بنديدنه، د کار نه لرې کونه، پاسيدنه، وچتيدنه.

برخلاف : په خلاف،

مخالف، په ضد، دښمن، په مخالفت کښې.

برخوردار : خوږ، بچے، فرمان بردار، اصل معني میوه خوړونکے.

برخه : حصه، برخه، د زمکې یوه ټوټه چې عام طور سره شپږ جریبه وي. قسمت، نصیب.

برداشت : زغم، ضبط، تحمل، وچتونه،

بُردبار : صابر، زغم کونکے، برداشت کونکے.

بُرده : مرنے، وینځه، غلام، کنیز، زرخرید،

برزخ : برید، پوله، حد. اصطلاحاً د جنت او دوزخ تر منځه مقام، د مرګ او حشر ترمنځه موده.

برسات : پشکال، د بارانه موسم. د کوڅې پټ کړے چت،

برساتی : بارانی، باران کوټ، د موم جامې کوټ چې په باران کښې اغوستے شي.

برسنډه : د نیلوفر د ګل جړپ چې د پخکړي له پاره استعمالولے شي.

بُرش : له وینټو یا داسې نورو څیزونو نه جوړه د صفایی یوه آله چې د وړین څیزونو د صفایی دپاره استعمالیږي، د مصورانو دپاره د وینټو جوړ قلم.

برص : برګے، د یو مرض نوم چې پکښې په بدن سپین داغونه راپیدا شي.

برطرف : یو خواته، له ملازمت نه وښکلے شوے، شړلے شوے، معزول، موقوف.

برعکس : اپوټه، خلاف، الټه، اړولے.

برغ : غبرګ، برغد، دوه تهیزه، غټ پټ.

برغنډ : کنډاؤ، شګاف، غټ زخم، ټوکړه، د لرګې هغه تنه چې څانے په څانے پریکړي شوے او بیله بیله

وي. بوتی بوتی،

برغنډے : برغنډه، وړوکے پتے، د کب د غوښې یوه ټکړه.

برغو : توری، شپیلی، سرنا، بیګل، نفیر.

برغول : غبرګول، برغدول، دوباره کول، تکرارول، تهه په تهه کول،

برغولے : د لوښې پټولو دپاره سرپوښ، برغیلے، سرپوښ،

برغونے : عبرګونے جوړه پیدا شوو بچو کښې هر یو. برغ برغ پیدا شوے.

برغه : وصف، خوبي، ګټه، نتیجه، مطلب، غرض، ارام، دمه، بنهٔ والے، نیکي، فیض، نفع، آمدن، سود.

برف : واوړه، یخ.

برق : بجلي، رنا، د تندر بریښنا،

برقرار : په خپل خاے، باقي، نهٔ خوځیدونکے.

برقع : یو قسم پروے چې د ستر کو مخکښې پکښې جالی لګیدلې وي.

برکت : پریوانې، فراوانې، ډیروالے، نعمت، د خدای فضل، بنه نتیجه، د تللو په وخت د وړومبی تلې دپاره وئیلے کیدونکے لفظ.

برکتي : د عزت خاوند، عزت مند، نیک بخت، طالع مند، خوشحاله، د اولاد خاوند

برک : دوه رنګے، ټو رنګے. تور او سپین، مبروص، منافق، دوکه باز، چلباز، دوه زړے، غصه شوے، قهریدلے.

برګ : د ځنې فصلونو لکه شفتل ریشکې وغیره د زرغونیدو یو وار.

برګرندے : برګرندے، علیک سلیک، روغ جوړ، جوړ تازه، ستړي مشي. بره ګړه. ګړه بړه. د خیر خیریت پوښته.

برګه : د چت ډاکه، هغه وړو کې لرګې چې په چت اینبوې شي. لاړې، لهړې.

برګې : د یو مرض نوم. مبروص، پیس وهلے، د پیس په ناروغی اخته، دوه مخے، دوه ژبے، منافق. د کورنو غورځو او پیو مرکب چې خلق ئې د طاقت دپاره خښي.

برم : زور، طاقت، وس، قوت، شان و شوکت، اوس صرف له برمه پریوتل ژوندے دے.

برمانو : یو خنګلي حیوان چې د انسان په شان وي، بن مانس، خنګلي بنیادم، خنګلي او وحشي انسان، شهوت پرسته، شهوتي او مست سړے.

برمته : د چا نه په زور څه نیول، یرغمل، یرغمال، غصب کول، په ناجائزه په زور ایسارول، اغوا کول.

برمحل : په ځاے، په موقع، په وخت.

برملا : په جار، په ډاکه، بنکاره، څرګند.

برمه : یوه آله چې څیزونه پرې سوري کیږي.

برناحق : په ناحقه، بغیر له څهٔ سببه، خامخا، بې وجې، وچ په وچه.

برنه : نیغ کتونکے، غصه، پاریدلے، لټ، سست،

برندے : چورلندے، دوک، برلندے.

برنډه : برآمده، دالان، منډاؤ،

برنے : بره سره نسبت لرونکے، پاسنے، پورتنے،

برو : د اوړې تود باد، جمع بروګانې.

بروځه : یو خودرو وابنهٔ چې اکثر په جماعتونو کښې اچولے شي. څپلی تړې جوړولے شي، د جامو وینځلو او نورو کارونو دپاره هم استعمالیږي.

بروړه : د وړې په شان یو

ورو کے چینجے.

بروه : چغه، کریکه، فریاد، زګیړه، زبیر ګړے،

برهم : په غصه کښې، ناراض، قهر ویدلے، قهرژن، پریشان، ګډوډ، ضائع، پوچ.

بري : د بحري ضد، د وچې، صحرائي، خنکلي،

بري : ازاد، بې ګناه، بې قصوره، خلاص.

بریا : په لاس راغلے، موندلے شوے. د ډیري ستومانی د لاسه د پښو خوږیدل، د دودې یا ملا درد.

بریالے : وچت، اعلیٰ، بر شوے، کامیاب، فتحیاب، غالب،

بریان : سوے، وریت شوے، الوے،

بریالي : خشکه وچې وریژې.

برید : حد، پوله، حمله،

بریت : د انسان د برنی شوندې دپاسه ویښتۀ.

بریتو : هغه څوک چې غټ بریتونه لري.

بریښ : درد، سانکه، درد، جلا، خلا، پرق، چمک،

بریښنا : پرق، رنا، چمک، بجلي.

برے : د بر کیدو حالت، کامیابي، فتح، غلبه.

بړ : یو قسم ونه چې غټې پانې او ګن سیورے لري. د چرګانو مرزانو یا نورو مرغانو د جنګولو شوق.

بړاس : د اوبو یا بل مائع څیز د حرارت په نتیجه کښې د ګیس اختیار کړے شکل، بخار.

بړبړ : په وچت اواز خبرې کونکے، فضول خبرې کونکے، بکواسي، بې مطلبه غږیدونکے.

بړبنګ : اوتر، کاواکه، وارخطا، بې وقوف، هغه سړے چې خلۀ ئ په واک کښې نۀ وي.

بربوکی : د پیریانو ډولی، کردباد، د باد چکر، خوپنی، حباب، د اوبو تناکه.

برچا : په زوره خندا، برقا.

برچ برچ : په زوره زوره.

برستن : تولتک، تلتک، نالی، نیالی. بیکاره سوړ او ناراسته بنیادم.

برق برق : د خندا اواز، خټ خټ، کړس کړس.

برقندے : پرقندے، خلان، خلاند، پرق وهونکے، خلیدونکے.

بروا : هغه سړے چې د ډمو په ګټه ژوند تیروي. د ډمو دلال، د عصمت فروشو جینکو او ګډیدونکو جینکو د کار نګران، بې غیرته.

بروس : مرور، غصه، کبرژن، خواشینے، چې مخ ئې پرسولے وي.

بره ګره : روغ جوړ، د حال احوال تپوس کول، برګرندے، بره ګره.

بړینکا : زر ژړیدونکے، بیکاره، سست، کړمیژن. کوږ ستر ګے، چغر، بینګا.

بړینځے : ملګرے، مل، دلیت، تکړه، مړنے.

بړی : وړی، د میو یا مهو د دالو او مسالو یا کله کله د دالو او قیمې نه جوړ کړي غونډاري یا وړې پکوړې چې د وچیدو نه پس د پخکرې په طور یا پخکرې کښې پکاریږي.

بزاز : بجاز، بجازي، کپړه خرڅونکے، بزازي، د رخت خرڅولو دکاندار.

بزدل : ډرن، ترسن، د کمزورې زړهٔ خاوند، بې زړهٔ، ویریدونکے، .

بزرګ : ولي، عارف، د برخې خاوند، نیک سړے، د ډیر عمر سړے، مشر، د زیات عمر خاوند،

بزغی : غلونکے، غولنګه، غولنه، یوه وړه دانه چې اکثر په ستر ګه یا څټ راخیژي او

زوه کوي.

بزکشي : په افغانستان کښې د يوې لوبې نوم چې پکښې سوارۀ له يوۀ بله د حلال کړي چيلي د اخستلو کوشش کوي.

بزګري : دهقاني، د کروندې کار، کاشتکاري، د کرکيلې کسب.

بزم : مجلس، محفل، غونډه، خبرې اترې، جرګه مرکه، د خوشحالي مجلس.

بزه : هغه چينجې چې کپړې خوري،

بژه : شليدلے، څيرے، سوړے.

بيروه : لومبړه، تروړی، بيروی.

بس : کافي، پوره، تمام، بشپړ، فقط، دومره، ايله، علے، چپ، ختم.

بساط : ټيکرے، د چوسر يا شطرنج يا جواری کولو ډپاره غوړولے څادر، فرش، د کور اسباب، پنکه، سرمايه.

بستر : بستره، اسباب، بيشتره.

بسته : ترلے شوے، عام طور سره د انګورو د هغه وړې ډپاره استعماليږي چې ډيرې دانې ئ خپلو کښې ډيرې نژدې وي. د سيند يا ولې په غاړه د کر وچته زمکه. د کتابونو ترلو او سمالولو کپړه يا کڅوړه،

بسمه : ذره، ټکړه، ټوټه، بکسکے، بکس، پوټسکے، حڅوڅکے.

بسيار : ډير، کافي، بيسيار، زيات.

بسيط : فراخه، غوړيدلے، کشاده، د مرکب متضاد.

بش : تير، شاتير، هغه غټ او قوي لرګے چې په کوټو اچولے کيږي او لهړي پرې پراتۀ وي.

بشارت : زيرے، خوش خبري.

بشاش : تازه، خوشحاله، خوښ.
بشپړ : تمام، پوره، مکمل، ټول، کافي.
بشر : انسان، بنیادم، بنده، آدم زاد، مخ، بشره.
بشره : څېره، مخ، شکل، حلیه، صورت.
بشریت : د بشر کیدو حالت، د انسان کیدو حالت.
بشیر : بشارت ورکونکے، زیرے ورکونکے.
بصارت : بینائي، دید، نظر، د لیدلو قوت.
بصر : سترګې، چشم،
بصیر : ستر ګور، د نظر خاوند، د الله پاک صفاتي نوم، ماهر، پوهه، هوښیار.
بطلان : باطلیدنه، دروغ.
بطن : نس، ګیډه، دننه، خیټه، رحم،
بطه : بته، بطخه، بطکه،
بُعد : لرې والے، دوري، فاصله، د نژدې ضد.
بعض : څهٔ، څني.
بعضي : وګورئ بعض.
بعید : لرې، وریا، فاصله،
بغاوت : د باغي کیدو حالت، له حکمه غاړه غړول، نافرماني کول،
بغټ : هغه غوټې چې د غاړې دواړو خواؤ کښې پیدا کیږي.
بغرګ : غبرګ، برغد، په یو لنګانهٔ کښې شوي دوه ماشومان، په یو څاے دوه، دوه تهه، د یو څیز یا څناور جوړه.
بغري : د شولو، بټو وغیره د تکولو د وسپنې یا کاني جوړه لنګري، د کاني چټو، بدکاره بڼځه. د کنځلو دپاره استعمال کیدونکے تورے.
بغسه : ګورکښ، مړي خوړونکے، یو ورځ کے څناور،
بُغض : نفرت، کینه، دښمني.
بغل : ترخ، تخرګ، اړخ،

خنگ،

بغمه : د اسونو يوه بيماري چې پکښې ئ له جسمه خولې روانې شي. د غاړې هغه دانې چې هر وخت تري اوبه څاڅي. سا تربته کيدل،

بغير : سوا، علاوه، سوائي، بې له دې،

بقا : باقي پاتې کيدنه، پائښت، هميشګي، هميشه والے، زيات عمر دپاره پاتې کيدل، د فنا متضاد.

بقايا : باقي، پاتې شوې، عام طور سره هغه رقم چې لا ادا شوے نۀ وي.

بقر : غوښے، غوسکے، غوا.

بقري : بکرې، چغه، په زوره ژړا،

بقيه : پاتې شوې، پاتې برخه.

بکارت : د بنځې هغه حالت چې لا نر نۀ وي پيژندلے، پيغلتوب، بچرتوب،

بکاين : بکيانه، د يوې وني نوم، بکايانه، شنډۍ،

بک بک : بکواس، بې مطلبه خبرې، عبث خبرې، د صراحي يا کوزې نه د اوبو راڅرولو اواز.

بکتر : بختر، وړه زغره.

بکرم : د سنو يا سپنسو تۀوکه کپړه چې ارته وبدلې شوې وي او د خنو جامو په استرونو کښې پکاريږي.

بکره : پيغله، بکر. ډولچه، بَوقه، بوکه، سلواغه، بوقره، بوکره.

بکری : يو سپين خليدونکے کانے، د ميچنې لاندينے پل، له پسوزې يا ميزې نه جوړه تۀوکرۍ چې خاوره پکښې وړلے شي. چيپر، هغه وچه ژاوله چې خنو ونو سره نښتې وي.

بکس : صندوق، پيټی. په لږ مقدار کښې، پوټے، ذره، پوټسکے، لکوټی.

بکسوه : ستن، فينک،

پینگ، د وسپني هغه میخکے چې د یو څیز د تړلو یا نښلولو دپاره په کښې کړی اچولې شوې وي.

بکواس : عبث او فضول خبرې، بک بک، بې مطلبه خبرې، خوشې خبرې.

بکیره : جګړه، جنجال، لانجه، فتنه.

بکار : تبے، تپه، ترکه، داغ، غوړو یا تیلو کښې پیاز یا هورړه سره کونه او د هغې په ذریعه پخکړے داغونه.

بکتی : چاربیتي، د چاربیتي هغه شکل چې د مصرعو شمیر پکښې د چاربیتې نه کم وزن ئ نسبتا ورو او موضوع ئ له چاربیتو مختلف وي. د بکتیو مصنف هم لکه د ټپو نامعلومه وي. خو ځنو شاعرانو د خپلو کسرونو سره هم بکتی وئیلې دي.

بکنال : هغه ورړه نرۍ شپیلی چې زرګران ئ ډیوې ته د زرو ویلې کولو دپاره وهي

بکور : بکیل، تبتیدلے، پټ، بې غیرته.

بکورا : کچه پنیر، پوخه، خیدک،

بکوړه : قروت، کروت، کرت.

بکه : لال، ګنډه، ازار بند، پرتوغاښ، باکه.

بکیل : بکیلے، په جنک کښې تبتیدلے، بکوړه، فوخ نه تبتیدلے.

بکی : ټانګه، ګاډے، د زړې زمانې خاص قسم ټانګه.

بل : د نور واحد، رقیب، دښمن، د خاوند دپاره د احترام ټکے.

بل : لمبه کونکے، لګیدلے،

بلا : بکلولی، ویرونکے څیز، مصیبت، تکلیف، د کمال خاوند. ډیر، زیات، بلها، په شمیر یا وزن کښې زیات.

بلابتر : ګډوډ څیزونه، د

متفرق نوعیت څیزونه.

پلاد : بنارونه، ملکونه د بلد جمع.

پلاربه : په ګیډه بڅړے لرونکي، حامله، تنده، امیدواره، باردار، بنیرازه.

پُلاره : رابلنه، د مړزانو په بنکار کښې استعمالیدونکي یوه طریقه چې ساتلي شوي مړزان په خپل اواز نور مړزان رابلي. د ساتلو شوؤ مړزانو پنجرې چې په یوه ډانګه کښې خوړندې وي،

پلاغت : د کلام بې عیبه او معنې داره ادائیګي.

پلاکش : محنت کونکے، تکړه، تکلیف، غم او مصیبت نه نهٔ ویریدونکے، تکلیف زغمونکے.

پلاکی : وړه بلا. شریره، ورانه جینی.

پلاګے : وران هلک، شریر، د بنځې او نر جنسي آله، د هر هغه څیز نوم چې اصل نوم ئ له ویونکي هیر شوے وي.

پلبل : یوه مشهوره بنکلي مرغی چې زړهٔ رابنکونکے اواز لري. بلبله، عندلیب.

پلبله : وګورئ بلبل، د بلبل مؤنث. معشوقه، د پښتنو په خنو علاقو کښې د یوې ګلپا نامه، یو قسم اتن.

پلخے : د بلخ سره منسوب، خور لم لرونکے ګلم، ناراسته، لټ، بیکاره.

پلد : اشنا، واقف، پیژندلے، شناختي، عادت

پلدیه : بنارولي، د پاکستان او هندوستان د قانون سره سم هغه نمائنده تنظیم چې د بنار د صفایی صحت او نورو متعلقه کارونو انتظام کوي.

پلغاک : زور، چغار، شور، فریاد، ناړې سوري.

پلغم : د پخواني طب مطابق په څلورو مزاجونو کښې د یو مزاج نوم. د غاړې تینګه

سلیښنا که ماده چې د توخي په ذریعه بهر ته راوخي. خراشکے، خروشکے، خرپ، خوپ، خراچکے.

بلغمي : د شنو چایو غونډه پیالي چې کنډۀ نۀ لري.

بلکي : د عربي د حرف "بل" او د فارسي د "که" مرکب چې معنيٰ ئې هم د عربي د "بل" ده. خو، مګر، لیکن، په ځاے د دې، سره د دې، د دې په مقابله کښې.

بلل : چاته په نوم اواز کول، دعوت ورکول، غوښتل، غږ کول.

بلند : لوړ، وچت، جګ، بړه.

بلندره : په شزیکه د چا په کور حمله کونه او د هغې دپاره د ملګرو رابلنه. اشر.

بلندي : د بلند کیدو حالت، لورتیا، هسکوالے، وچتوالے.

بلنه : میلمه کونه، دعوت ورکونه، غوښتنه.

بلوته : ډیوټ، د ډیوې اینبودو ځاے.

بلور : بنیښه، آئینه، ځلانده، صفا.

بلورے : شیشولے، مړدکے، د ماشومانو د لوبو مړدکے.

بلوسه : حمله، چپړچار، مداخلت، ځان پارونه.

بلوغ : رسیدنه، د ځوانی او پیغلتوب عمر ته رسیدل. بلوغت.

بلول : د بل نه مصدر، عموماً د اور سره د لګولو، تیزولو او لمبه کولو په معنو راځي.

بلوه : فساد، جنګ جګړه، بلوا، بغاوت.

بله : بلم، وړه نیزه، برچه، شل،

بلها : بلا، ډیر زیات په ګن شمار کښې، په زیات وزن کښې.

بليغ : بلاغت لرونکے.

بليدل : د بل نه مصدر،

عموماً د اور سره د لګيدلو او تيزيدلو او لمبه کيدلو په معنيٰ راځي.

بلي : بام، د بام غاړه، بنيره.

بم : يو ډډ ډبے چې پکښې اور لګونکے، ډز کونکے زهرژن يا لوګے کونکے مواد ايښے وي او ايښوے، ښخولے او غورځولے شي يا له بره ارتاوولے شي. د باجې يا بل کوم ساز درونـد اواز، د دوکړې جوړه کښې هغه دوکړه چې غټ اواز کوي.

بمبار : بمونه غورځونکے، بمباري کونکے. غالب، زبردست، د نشې د انتها په حالت کښې.

بمباري : بمونه ورول، بمونه غورځونه.

بمبره : ډمډاره، غمبسه، ډمبره مچی.

بمبل : د جوارو د وړې غلاف، د جوارو ټانټه کښې بې دانو توکه، د جوارو په سر کښې راوتلې بمبلې،

بمبو : د وسپنې نه جوړه هغه آلـه چې د بورو نـه پـرې د نمونې خيز راوښکلے شي.

بمبه : د اوبـو نـلکه، هغه آله چې مائعات پرې راوښکلے شي.

بن : د ابن مخفف، خوے، پسر،

بن : د خاوند بنځه، د خاوند ماندينه.

بنا : بنياد، اساس، جړ، سبب، وجه، عمارت، اعاز، شروع، پيل، بندوبست.

بنارس : يوه ريښمي کپړه چې د تيلې تارونه پکښې اودلـي شـوي او پـه هغو ګلکاري شوي وي.

بنارسي : په ناويانو د اچولو دپاره د بنارس نه جوړ ځادر.

بناسپتي : نباتات، د ځنګل پانې وابنۀ وغيره، نباتاتي مصنوعي غوړي، وناسپتي.

بناوټ : ټکي، جعلساري،

فریب، چل، دروغ، جوړښت، تکلف.

بنت : جینی، لور، بچی.

بنجاري : هغه سړے چې کپړه یا منیاري په کوڅو کښې خرڅوي. هغه سوداګر چې سامان په سر ګرځوي.

بنجر : شار، غیرآباد، هغه زمکه چې د کر لائقه نه وي.

بنځي : د بنې لور، بنزی.

بنځے : د بن ځوے، د بنې ځوے.

بند : د ګوتو جوړ، اندام، اوبو یا سیلاب ته د منع کولو له عرضه جوړه پوله، قید، بندي، هغه تارونه چې دم کړي شوے وي. چپ غلے، خاموش، ممنوع، تم، ایسار، طریقه، ترکیب، تجویز، د نظم یوه حصه، تمبه، قبض، یو قسم ډبل روټی،

بندبنا : بندوبست، انتظام، سازش،

بندر : ګودر، بندرګاه، د سمندرونو او دریابونو په غاړه د کشتو د بار اچولو او ودریدو ځاے. پوله، سرحد، تک، پناه.

بندرګاه : بندر، د اوبو د جهاز د لنګر غورځولو ځاے.

بندږ : بندن، تړ، معاهده، قول، وعده، اقرار، عهد، تړون، تجویز، بندوبست.

بندش : بندبن، بندیدل، بندښت،

بندګي : عبادت، متابعت، مریي توب، غلامي.

بندول : تم کول، بندي کول، منع کول، ایسارول، قیدول.

بنده : مریے، غلام، خدمت ګار، انسان، بنیادم.

بندي : اسیر، قیدي، غلام، ترلے، ګیر، محبوس، بندیوان.

بندي خانه : جیل، قید خانه، زندان.

بندیوان : قیدي، اسیر، بندي، ګیر، محبوس.

بندیدل : قیدیدل، ایساریدل، قبض کیدل.

بندیز : ممانعت، قید، رکاوټ، بندش، پابندي، د نارینوؤ یو مرض، قبض، بند.

بندار: د لویې خلې لرونکے شار کوهے.

بندباره : د کب شپ په غرض د ملګرو راغونډیدنه، د چا د وژلو دپاره میلمستیا او غونډه، پکنک، سیل، میله.

بندل : ډیر څیزونه چې په یو ځاے شلم ترلې شوي وي. خاص طور سره په کپړه کښې ترلي شوي ډیر څیزونه، بسته.

بنست : بنیاد، کنست، اساس، آر، تاداؤ، بیخ، ریښه.

بنفشه : بنوشه، چپیاکه، چتکی، یو مشهور بوټے چې واؤرینو غرونو یا د سیند په غاړه پیدا کیږي ګلونه ئې په دارو کښې پکارولے شي.

بنګ : هغه بوټے چې له پانو ئې چرس جوړیږي.

بنګړه : نڅا، ګډا، د څټکو د ګډا یو قسم،

بنګړي واله : هغه بنځه چې بنګړي خرڅوي.

بنګړے : هغه کړی چې زنانه ئې د دوو دپاره په لاسونو کښې اچوي.

بنګله : هغه کور چې یو چتیز وي او ورسره برنډه وي. ښائسته کور.

بنګي : د بنګو عملي، بنګ څښونکے، د بنګو نشه کونکے. هغه چورے، خاکروب یا جارو کښ چې مسلمان نۀ وي.

بنیاد : اساس، بنسټ، جړ، جړه، اصل، ویخ، بیخ،

بنیادم : سړے، انسان، آدم، د آدم اولاد، د عربی له بني آدم څخه مخفف.

بنیادي : بنیاد سره تعلق لرونکے، اصلي، اساسي،

بنیره : بلی، د چت ژی، چجه، پارچال، سرماتے.

سرمندیل،

بـن : د لاون یـــا پیتـی د تینګولو دپاره د اوږو لیتی. د کنو ونو جومپک.

بـنکه : د بـنې اسم تصغیر، پر، بنه، د مرغانو پخه.

بـن مانو : خـنګلي سړے، وحشي، خنګلي بنیادم، برمانو، یو قسم لنګور، شهوتي سړے.

بـنـول : جـوړول، اوبـدل، کټ یا کرسی په بون یا نورو تـارونـو اودل. تـعـمیر کول، مرمت کول، بون کیول،

بـنه : د مـرغـانـو پـه بدن د ویښتـو په خاے توکیدلي دیر سپک څیزونه،

بنیا : وړۀ خـرڅـونکے هندو بـنیـاګـر، وړوکے دکاندار، د هـنـدو صـفتي نوم، کنجوس، شوم،

بـنـیدل : مـــچـی پـاریـدل، غـمبـسي کـتیـدل، مـچی یـا غـمبـسي قهـریـدل، د مچانو وغیره بنهار ته وائي.

بو : د مـاشـومـانو د ویرولو اواز.

بُو : وړمـه، خـوشبـوئي یـا بدبوئي،

بواسیر : یو قسم مرض چې په مقعد کښې دانې راوخیژي او وینه تري څې هغې ته خوني بـواسیـر وائـي. او چې درد، بخار یا خارښت کوي هغې ته بادي بواسیر وئیلے شي.

بـوبلا : د بـو او بـلا مرکب چې دواړه ټکي یوه معنیٰ لري او معنوي تکرار ئ د معنې د شدت دپاره دے.

بـوبی : د مشـري خـور یـا مشـري بـنـځې دپاره د احترام تـورے، بـبـی. تـنـدرسته بـنـځه، غټه بـنـځه.

بوتار : وربوز، د خناور مخ، د نـفـرت او کـرکې پـه ډول باندې مخ ته هم وئیلے شي.

بـوتـاوه : کـوتـاوه، بُتاوه، کتاوه.

بوتکے : خلموتے، د خلمي

توب تـه نـژدې، خـوانې تـه نـژدې. د پـنـاهـې وړوکـے ديـوال، هـغـه وړوکـے ديوال چې د ارتې د کانجن سر پرې پروت وي.

بوتل : کم عقل، بې عقله، بې مغزه، د شيشې يا پلاستک نه جوړ د مائعاتو د ساتلو ديپاره يو خاص لوښے.

بوتلل : بيول، بوول، خان سره روانول.

بوته : هـغـه مال چې په زور ورلے شوے وي. د لوټ مال، عـام طور سره هغه غوا، ميښې ګډې بيزې چې په زور بوتللے شـي. هـغـه خاورينه پيالی چې زرګران پکښې زر ويلے کوي.

بوتي : ګوتې، د ماشوم د پيدا کيدو نـه پـس هـغـۀ تـه ور کيدونکے وړومبے خوراک.

بُوتيدل : غصه کيدل، خفه کيدل، مروريدل.

بوتی : د غـوښې ټکړه، د غـوښې چم، سره غوښه، هغه غوښه چې هډوکے نۀ لري.

بوټے : هـر هغه شينکے چې د زمکې نه راټوکيږي تر څو چې ئ تنه پيدا شوے نۀ وي. خش و خاشاک.

بوج : بار، پيټے، وزن.

بوجکی : وړه بوجی، وړه کټوړه، بوجنګړی.

بُوجه : د هرمـائـع لرونکي ظرف د خلې بندولو ديپاره د کـارک ، کپړې يـا کـاغذ نه جوړ شيز.

بوجی : بـوری، ګونـی، ګونی.

بوچړه : خـاشاک، خځله، د سوخولو وچه ګياه،

بـوچے : بـوچ، بـې شرمـه، بيباکه، بې حيا،

بـوخت : اخـتـه، مشـغول، لګيا، مصروف، نښتے.

بـوخته : هـغـه زمکه چې سـرے پـکښې بـوختيږي يـا بـنـخـيږي. هـغـه غوښه چې د پـخـلـي ديـپـاره پـه مـاسـتو او

مصالحو کښې ترسکونه کړې شوې وي. لانجه، ګرانه کشاله، پیچیده خبره.

بُود : ګټه، حاصل، نفع، فائده، عام طور سره ناجائز. لیوه شوې بوساړه.

بُودول : ترلاسه کول، فائده اخستل، حاصلول، تر ګوتو کول عام طور سره په ناجائزه باندې.

بوده : کم عقل، د تنستې هغه تار چې په سور یعنې عرض کښې لګیدلے وي.

بُودیدل : حاصلیدل، تر لاسه کیدل، عام طور سره ناجائزه طریقه باندې.

بودا : زوړ، ضعیف، زیات عمر لرونکے.

بودی : د بودا مؤنث، مشره بنځه، زړه بنځه. هغه شین رنګے ملخ چې نری ملا لري او وږدې پښې ئې وي.

بور : پرانګ، سوربخن رنګ لرونکے توت.

بُور : د خیرلو په نتیجه کښې راوتونکې براده، وړې وړې ذرې.

بورا : په ګلونو ګرځیدونکے تور ګونګټ چې خلۀ ئې عام طور زیړه وي. رقیب، تور مخے سړے.

بورجل : د ناستې ځاے، مقام.

بورچنۍ : هغه بنځه چې اکې یو ځوے ئې مړ وي. هغه بنځه چې د تې ماشوم ئې مړ وي.

بورړے : خلموتے، خوانی ته نژدې.

بُوړه : چینې، تري، د لرګي د خیرلو په نتیجه کښې راغلے سفوف، د اوړو نه وتلې هغه حصه چې د ځناورو خوراک کښې استعمالیږي.

بُوړه : هغه بنځه چې بچے ئې مړ وي. هغه ځاروے چې بچے ئې مړ وي.

بُوریدل : اولاد مړ کیدل، د

بنخي بچي مړ کيدل.

بوړے : هغه لوبنے چې خلهٔ ئ ماته وي. هغه سړے چې مخامخ غابنونه ئ وتې وي.

بوزغلے : د بوټو ذخيره، پنيري.

بوزه : د روژې ضد، کوژه، د وخت په تيريدو سره د څهٔ خيز سخا کيدنه،

بوزی : تربوزک، د مخ نه لوپټه يا خادر تاوونه، مخ په لوپټه کښې پټونه. تام بوزی،

بوړنول : ډارول، ويرول،

بوس : د غنمو، اوربشو د دروزې او پلالې يا نورو داسې وښو چوره چې د غوبل نه وروستو پاتې شي. پرور، بې خونده، بې مزې، بې کاره، مرور، بوخ، پرسيدلے.

بوسارہ : د بوسو هغه امبار چې په يوه خاص طريقه جوړ شوے او بيا ليو شوے وي. وهلے شوے، بنهٔ سزا کړے شوے. غټ او بيړ سړے يا بنځه، هر پرسيدلے او له معمولـه غټ څيز، دروغ خبره.

بوستان : د خوشبو خاے، د ګلونو باغ، ګلستان.

بوسه : بنکلونه، چپی، پپه، کوکی.

بوسيده : سخا، زوړ، وروست.

بوغره : وړوکے کور، کوډلـه، خاوره. حدبندي،

بوکره : بوکه، بورکه، بورقه، ډولچه، ډولکه د کلکې څرمنې هغه لوبنے چې د کوهي نه پرې اوبهٔ را ايستلے شي.

بوکول : تيتول، پرمخ کول، داسې تيتول چې د بدن لاندې حصه ئ بهر راوخي.

بوکيدل : تيتيدل، په بوکه کيدل، پرمخ کيدل، داسې تيتيدل چې د وجود لاندينی برخه بهر راوخي.

بوګرمار : د چا زمکه په تحفه کښې خوړونکے، بوګرے خوړونکے، بوګرے کونکے، هغه سړے چې د بوګرې جارو ګاني خرڅوي.

بوګرے : مجونی، هغه زمکه چې مالک ئ دهقان ته ورکوي او څهٔ حاصل تري نهٔ غواړي. خود کاشت زمکه، وړوکے څرمند.

بوګړی : هغه وازده چې دل یا شله تري وښکلے شي. وړه سپړه، کنه،

بول : ژبه، قول، وینا، لوظ، وعده، نیته، شهرت، داژ. بولې، متیازې. د سندرې سر، بند، هغې کلمو ته وائي چې یو راک پرې ادا کیږي. کله چې د څلور سره یو ځای راشي نو معنيٰ ئ پښې وي لکه څلور بول.

بوله : پښې ارته، خوږه کاسه، پښه ماتې، کم عقل، ناپوهه، بې خبره، ناکاره، ناجانه.

بولي : د نیلام یا په بله داسې موقع غږ. د وادهٔ نه پس د ناوې د پلار له خوا د ناوې میلمستیا.

بوم : سست، لټ، نارکه، ناکره، لناجوتي غوښے. ګونګے، ګونګ، یو مارغهٔ.

بونجے : بونګے، پوز پریکړے، هغه څوک چې پوزه ئ پرې شوې وي یا جزام خوړلے وي. مړاوے، مرځپن،

بونډے : بونډے سونډے، لکی پریکړے، پیړه بریت خرڅیلے، بونډ سونډ.

بونسټ : بنسټ، بنیاد، بیخ، اساس.

بونګه : د مال یا بنده د خلاصي قیمت، یرغمال.

بون : د مونجو، میزرې یا لوخې نه غښتلے شوے پرے.

بوڼل : کټ کښې پرے غځول، کټ په بون پټول،

کټ کښې بوټ کیول.

بوني : د دکان د پرانستلو نه پس وړومبی سودا، د سودا خرڅولو ابتدا.

بویول : د شامې د حس استعمالول، د شامې د حس په ذریعه د مختلفو خیزونو د بویولو او بڼهٔ او بد تر منځه فرق کول، پته لګول، درک لګول، سراغ لګول، زړه خبره معلومول، موضوع روښانه کول.

بویه : د شک او اخلاقي قید دواړو دپاره استعمالیدونکے حرف، ګوره چې، شاید، باید، ګوندې، پکار ده، مناسب، بنائي،

به : غوره، ښه،

به : د مستقبل د زمانې، ماضي شکیه، ماضي استمراري او جواب شرط جوړولو کښې استعمال کیدونکے حرف لکه "زهٔ به لاړ شم"، "هغه به راغلے وي."

بها : قیمت، بیعه، اربښت، قدر، ګرانښت.

بهادر : بادر، نهٔ ویریدونکے، میړنے، دلیر، توریالے، غیرتي، خوانمرد.

بهار : د ګلونو موسم، سپرلے، پسرلے، په شرقي کلاسیکي موسیقی کښې د یو راګ نوم.

بهانه : بانه، حیله، پلمه، چل، عذر

بهبود : فائده، بهتري، ښیګړه، رفاه.

بهتان : د دروغو الزام، تهمت، تور.

بهتر : نسبتاً ښهٔ، ډیر ښهٔ.

بهترین : له ټولو بهتر، ډیر زیات ښهٔ.

بهر : ورڅنې، د باندې، بار، باهر.

بهرحال : په هرحال کښې، خامخا، هر حال چې وي، بهرکیف، اړومړو.

بهرنے : بارنے، د ورچني، بيرونے، باندينے.

بهروپيا : رنگ او شکل بدلونکے، دوکه باز، ټک، مکار.

بهره : برخه، قسمت، نصيب، حصه.

بهشت : جنت،

بهشتي : جنتي، مشکي، سقه، بيشتي.

بهيدانه : د بهي دانه، بيدانه، د بهي تخم، د بهي زړے، هغه تورې تورې داني چې د بهي په منځ کښې وي. د انګورو يو قسم،

بهير : د چاونې خلق، د فوځ هغه حصه چې سامان وړي، د لښکر نه جنګيدونکي حصه،

بهيدل : جاري کيدل، روانيدل، د اوبو يا نورو مائعاتو حرکت کول، په ځناورو يا انسانانو دستونه لګيدل، احتلام کيدل

بي : زخمي، ژوبل، ځوړ، د ماشومانو په ژبه.

بي بي : بنځه، ميرمن، بيګم. د محترمې بنځې د درناوي نوم، هغه بنځه چې بې وادۀ ئ سر سپين کړے وي.

بيا : دوباره، بل ځل له، پس له دې.

بياتي : بياتي، قينچي، قيچي، کينچي.

بياج : سود، کټه، د جنس په تبادله کښې هم هغه جنس اخستل، هغه غله چې په پيسو يا د آئنده ورکولو په وعده اخستې شوې وي.

بياسته : رسي، پرے، غټ او مضبوط پرے،

بياض : سپين والے، صفا والے، د ياداشت يا د حساب ليکلو کتاب، ديوان، د اشعارو کتاب، چاپ شوې فرمه کښې د حاشيې سپين ځاے.

بيامونډل : لاس ته راتلل، بيامونتل، پيدا کيدل، مونډل.

بيان : وينا، خبرې، تقرير،

وعظ، د قانون په اصطلاح کښې د عدالت هغه خبرې چې مقدمې سره ئ تعلق وي.

بیانګ : د چمیارانو د لرګي نه جوړ هغه اوزار چې څرمني پرې پلنولے شي.

بیانول : بیان تیرول، بیان کول.

بیانه : د پیشګي قیمت حصه، بیعانه، ټپې، ټاپی سائی، سی.

بیچک : بل، د پلورلي مال هغه رسید چې پوره تفصیل او قیمت پکښې لیکلے وي.

بیرته : برخیره، پرانستے، خلاص، واپس، لوټ.

بیړندے : بیړه کونکے، تادي کونکے، تلوار کوندے، تیز، چالاک.

بیړه : تادي، تلوار، جلتي،

بیز : پسه، چیلے، څیرلے،

بیزو : سوپی، شادو، د بیر ماده.

بیس بسیار : ډیر زیات، پریوان.

بیعنامه : د زمکې، جائداد یا نورو څیزونو د خرڅون دستاویز، قباله، قواله.

بیعه : قیمت، سر، بیه.

بیکار : د زور کار، جبرې کار، بې مزده کار، بې اجرته کار

بیکاري : په بیکار کار کونکے، په بیړه بیړه کار کونکے، هغه سړے چې په خپله کار نه کوي او خپل کار هم په بل کوي. د بیګار. جبرې، په زور، بې مزده، بې اجرته، بې دیاړی.

بیګر : مرغ زرین، غرنے چرګ، سارانے چرګ، صحرانے چرګ.

بیل : جدا، جلا، یواخے.

بیلول : جدا کول، جلا کول.

بیلیدل : جدا کیدل، جلا کیدل

بيم : د پارو ګانو د سُر يوه آله چې اکثر پرې ماران ګلبوي.

بيمار : ناروغه، ناجوړه، رنځور.

بيمارول : ناجوړه کول، ناروغول، رنځورول.

بيماريدل : ناجوړه کيدل، ناروغه کيدل، رنځوريدل.

بيماري : مرض، رنځ، ناجوړتيا، ناروغتيا.

بيمه : په يوه خاص موده کښې د ځان يا مال د تاوان يا ژوبلې په صورت کښې د يو مقرر رقم د ادائيګي د انتظام معاهده چې عام طور سره د حکومت په ضمانت چليدونکې کمپنيو سره کيږي.

بينا : هغه سړے چې نظر ئ لګي، د الله پاک يو صفت، د نابينا متضاد.

بينائي : د سترګو نظر، د سترګو رڼا، هوښياري، هوښيارتوب. بصارت.

بينې : د دروازې د دواړو ورونو د مضبوط بندولو دپاره هغه لرګے چې ورته تک وهلے شي.

بې : د "ب" حرف، د "ب" د حرف نوم. بغير. غير، پرته.

بې ژبان : ځناور، حيوان مطلق،

بې شکه : چې شک پکښې نۀ وي. بې ګومانه، بغير له شکه.

بې شمارہ : له شمار نه زيات، بې حسابه، له شميره وتي.

بې غيرته : چې غيرت پکښې نۀ وي. بې پته، دوس، بې ننګه،

بې فائدې : چې فائده پکښې نۀ وي.

بيکاره : وزګار، فارغه، بې روزګاره، لټ، سست، نامرده.

بيکسه : يواځے، تنها،

بې لوظه : بې وعدې، وعده خلاف، بې قوله.

بيوفا : د وفادار ضد، قول او

وعده نه ترسره کونکے.

بیوقوف : بے شعوره، ناپوهه، ساده، کم عقل.

بیهوشه : چې په هوش کښې نه وي، چې په خان نه پوهیږي.

بیاق : ختمونه، برابرونه، خلاصونه.

بیباک : بې ویرې، بې ترسه، بې ډبه، بې پروا.

بې بې : مور، ادې، مشرې خور یا بڼځې ته د خطاب لورے.

بیپار : لین دین، لین دین، سوداګري، تجارت،

بیپاري : سوداګر، تاجر، بیپار کونکے.

بیت : جاسوس، شیطاني، مخبري، ځارنه، د دوؤ مصرعو مجموعه، شعر چې یو مضمون لري. کور، ځاے، مکان، خونه.

بیت الخلا : ټټۍ، پاخانه، د اودس ماتے ځاے.

بیتک : د کور سره جوخت د میلمنو دپاره جوړه کوټه یا کمره، حجره، دیره.

بیچون : د خدای پاک یو صفتي نوم، چې مثال نه لري.

بیخرته : ډیر زیات، په وزن، مقدار یا شمیر کښې ډیر زیات.

بیخې : له بیخه، بالکل، قطعي، له مونده.

بیدار : ویښ، د اودۀ او غافل متضاد، چالاک، هوښیار، تکړه، باخبر.

بیدارول : ویښول، له خوبه پاځول، هوښیارول، پوهول، خبردارول.

بیداري : ویښتوب، ویښه، بیدارواله، چالاکي، تکړه والے.

بیداریدل : ویښیدل، له خوبه راپورته کیدل، هوښیاریدل، پوهیدل، خبردارېدل.

بیدیا : وچه میره، بیابان.

دشت، صحرا، بیرون، بهر، ورچني.

بیرته : خلاص، برخیره، پرانستے، لري، په فاصله، بعید.

بیرغ : جنډه، عَلم، نشان، توغ.

بیرون : بهر، بار، ورچني، څرګنډ، بنکاره، بربنډ، ویستلے.

بیړه : د خوراک په سلسله کښې نوکر، خادم، خدمتګار.

بیړه : یوه ونه او د هغې میوه.

بیړا : بودلے، ناپوهه، کم عقل، شوده، ساده.

بیړندے : بیړه کونکے، تادي کونکے، تیز، چابک، تند، چالاک،

بیړی : لویه کشتی، بحري جهاز، انګوټ.

بیزار : بیل، ویزار، نا امیده، ناراض، خفه، زړهٔ سترے.

بیزارول : ویزارول، بیلول،

بیزاره : ویزاره، نا امیده، لاچار، مجبور.

بیسن : بیسن، د چنو اوړهٔ.

بیشتي : بهشتي، مشکي، په مشک کښې اوبهٔ راوړونکے.

بیکا : تیره شپه، برائي، راتلونکي شپه، د دواړو دپاره استعمالیږي.

بیګانه : پردے، غیر، اجنبي، بې مینې، هغه سړے چې محبت پکښې نهٔ وي.

بیګاني : د بیګا سره متعلق، د تیرې شپې.

بیګم : بنځه، خاتون، ملکه، د مسلمانانو د ځنو بنځو د نومونو لاحقه.

بیګمي : د غټو وریژو یو قسم.

بیل : د کښو د کګانی یا ارت هغه وړد لرګے چې څناور ورپورې ترلے شوے وي. یوم، د زمکې کنستلو یوه آله چې بیلچه ئ اسم تصغیر دے.

بیلات : د کتبات متضاد، باطل.

بیل بیل : جدا جدا، کوښې کوښې.

بیلتون : بیلوالے، جدائي، فراق، هجران.

بیلچه : هغه آله چې زمکه پرې کنستے شي. د بیل اسم تصغیر.

بیلدار : د بیل او بیلچی نه کار اخستونکے.

بیلول : بیل بیل کول، جدا جدا کول.

بیله : د سیند په منځ کښې وچه زمکه، وچکی، تاپو.

بیلیدل : جدا کیدل، خان له کیدل، کوښې کیدل، بیل بیل کیدل.

بینجو : د ګټار غوندې د موسیقی یوه آله.

بینډی : بنډی، بینګلی، یوه سبزي.

بینک : بنکر، بنک، د حکومت د قانون لاندې رجسټر شوے د رقم د تبادلې خاے.

بینوا : بې اسرې، نامراده، ناکام.

بیوړه : غیر مناسب، بې جوړه، نامناسب.

پ : (پـــي) د پښتـو دريـم حرف، د ابجدو په حساب ئ قيـمت د "ب" برابر يعني دوه (۲) دے.

پابند : گرفتار، پاى بند، تابع، مجبور، پابندي كونكے.

پـابـنـدي : گـرفـتـاري، مجبوري، بـنـديـز، قـدغن، بـنـديـلـونـه، ايسارونـه، پښې ترنه، التزام، په خان لازمونه.

پاپا : بابا، پلار، داجي، والد (د ماشومانو په ژبه)

پاپړ : د ميو يا مهو له اوړو نه جوړه يوه نرى چپاتى چې د تـلـولـو نـه پس ډيره كړيندى شي.

پاپلي : پـاپـلي، پاپى، پلى، د مـاشـومـانـو پـه وړومـي خُل د گرخولو دپاره وئيلے كيدونكے تورے.

پاپلين : يوه سوتي كپړه.

پاتاؤ : لـوے نهر يا لويه وله، لويه بياله، ستره وله.

پاتي : پاتې، پس مانده، پاتې شوے، بـقـايـا، نـاكام، ايسار، اټال، معطل،

پاټ : لـوښے، د ماشومانو يا بيمارانو دپاره د متيازو لوښے.

پاټک : د لرگو وسپنې او سيخـونـو نـه جـوړه دروازه، پـيـړه، كيړ، جندر، د حكومتي مـحـصـول دپـاره د ودرولـو خاے،

پـاټـلي : د اور د گـاډي د چـلـولـو دپـاره د وسپنې هغه رابـنـكـلـي د دوه خطونو لار چې سـرونـه ئ نـهٔ يو خاے كيږي. پټرى، پټلى.

پاټي : پټار، پټاره، پندير،

پاټے : پـتـاخه، پټاره، پټاخ، په لـيـنـده كښې د كاني ايښودو خاے. جلب، لگام، واكې،

پـاجـامه : پـائـجـامه، تـنـگ پـرتـوک، عـام طور سره د شپې اغوستے شي.

پاچړ : سـخا، خسا، خيرن، ناولے.

پـاځـول : وچـتـول، ودرول،

ولاړول، جګول، بیدارول، له خوبه ویښول، لیکلے شے لوستل.

پاڅه : له پاڅیدل نه امر، چې د تعجب د کلمې په طور استعمالیږي.

پاڅیدل : وچتیدل، ودریدل، ولاړیدل، جګیدل، له خوبه ویښیدل، بیداریدل، قبضه پریښودل، الوتل.

پاخانه : تښتی، د اودس ماتے خاے، بیت الخلا،

پاخهٔ : د اومهٔ ضد، پوخ شوے څیز، تجربه کار خلق، هوښیاران، رسیدلي، کلک، مضبوط، د پوخ مفیره حالت، له خښتو جوړ شوي.

پاده : ګواره، ګویر، پوده، ګورم، د څناورو ګله.

پار : د وار تابع مهمل. چابي، کونجي، کنجي، کلي، چمتا، نوسے، د وخت اندازه، شومه، حصه، برخه، د ورځې او شپې د اتو برخو نه یوه برخه، دري ګینټې، وس، طاقت، توان، اختیار، اقتدار

پارچاؤ : د ژرندې د ناوې سره نژدې ناوه چې د ژرندې د ودریدو نه پس پرې اوبه روانې وي. پارچاوے.

پارچاوے : د اوبو د اړولو هغه لار چې د هغې په جاري کولو د ژرندې په ناوه کښې د اوبو تلل بند شي.

پارچور : تانکر، تانکر، هغه ګیاه وغیره چې څاروي ئې پریږدي. د څارورو پس خورده.

پارچه : توتې، توکړه، ټکړه، کپړه، رخت.

پارڅنګ : اندرپایه، درم پایه، سیړی، د لرګي پوړی، پوړڅنګ، پارکے.

پارسا : متقي، صالح، نیک، پرهیزګار،

پارسنګ : پارسنګ، کناوې، هغه وزن چې د تلې د برابرولو دپاره په تله کښې

ایښودے یا دنډی پورې ترلے شي. هغه وزن چې تله کښې د بې ایمانی او د کاهک د غلولو دپاره ایښودے یا ورسره ترلے شي.

پاروکی : ډمنځ، منګز، ګومنز، یوه غاښونه لرونکې آله چې ویښتهٔ وړی یا پشم پرې بیلولے او صفا کولے شي.

پاروں : وچتول، چیرل، لمسول، پورته کول، قهرول، جنګ جګړې ته تیارول، ساتل، پرورش کول، حفاظت کول.

پاره : توکړه، ټکړه، پارچه، شلیدلے، خیرے، بڑه، بهره، خوکی. یو نقرئي عنصر چې په عامه درجهٔ حرارت کښې مائع وي، ایتمي شمیر ۷۹ اتیا دے.

پارینه : زوړ، پخوانے، قدیم، لرغونے.

پاریدل : قهریدل، جنګ ته تیاریدل، عصه کیدل، ژوندے وسیدل، بچ کیدل، پرورش کیدل.

پار : کوډې، منتر، جادو، سحر. د لرګي یو وړده او پلنه تخته چې د ګرګي یا غوندې نه په مشین یا اره بیله کړې شي او بیا تري تختي جوړوي.

پارسوب : پرسوب، په حجم کښې زیاتیدلے، د هوا د ډکیدو په وجه د حجم زیاتیدلے، د مرض په وجه په بدن کښې پرسوب پیدا کیدلے.

پارکے : قطعه، شعر، بیت، توټه، فال، بخت، طالع.

پارو : هغه آله چې د میزې خپلې پرې جوړولے شي. پارو ګر، د مارانو وودهٔ کونکے، دم، وودے، منافق، بدچلن، چلباز،

پاروګر : پوړیکر، مارګیر، جادوګر، پارو،

پاړه : د دوړ کیلو په منځ کښې د اړولو نه پاتې شوې د پټې حصه، په کار کښې

نیمگړتیا،

پازیب : پینزیب، پایزیب، د پښو یو کالے.

پاس : پورتـه، وچت، بره، جگ، هسک، زیات.

پاسبان : پاسوان، خوکیدار، پیره دار، دربان، ساتونکے، حفاظت کونکے.

پاستهٔ : د پوست جمع، نرم،

پاسداري : لحاظ ساتنه، خیال ساتنه،

پاسنے : برنے، د بره، لوړ، د وچتې علاقې وسیدونکے،

پاسه : اصلي او سوچه سرهٔ زر چې له هیڅ قسمه ګډون پکښې نهٔ وي شوے. کره، روغ، رښتونے،

پاسه : پورته، وچت،

پاشل : نوستل، شیندل، دورول، شنل، دانه دانه کول، خورول، غورځول، تار په تار کول، خفه کول.

پاغنده : د نندف وهلے شوے مالوچ، غیبه چې عام طور سره ئ شکل غونډ وي. هر یو نرم او سپین څیز.

پاک : د پلیت ضد، صفا، سوتره، خالص، بې عیبه، بې ګناه، نیک، خوش اخلاقه، نمانځې، مکمل، بشپړ،

پاکباز : نیک، پرهیزګار، متقي، پاکدامن.

پاکړه : پلان، د اوبن کته،

پاک ساک : کم عقل، نادان، ساده، معصوم، بې ګناه، صفا، سوتره، وینځلے.

پاکول : صفا کول، سوتره کول، خیرے لرې کول، وینځل، پلیتي لرې کول، خبره سپینول، حساب کتاب بیباقول، اچه کول.

پاکي : پاکیزګي، پاک والے، صفائي، سوتره والے. د نایانو چارهٔ،

پاکیزګي : وګورئ پاکي.

پاکیدل : صفا کیدل، نمانځې کیدل، سوتره کیدل، وینځلے کیدل، د حساب

کتاب بیاقیدل، کناهونه توئیدل، پلیتي لري کیدل.

پاګل : لیونے، سودائي، ناپوهه، کم عقل، نادان، دیوانه.

پاګل خانه : د لیونو د علاج او ساتلو ځای.

پاګن : پکن، د فصلي کال یولسمه میاشت چې عام طور سره د فروري، مارچ سره مطابق وي.

پالان : کتـه، پالان، ساروان، ساربان.

پالتو : فالتو، دیر، اضافي.

پالش : د پیزار، فرنیچر او ورونو وغیره پرقولو او بنائسته کولو رنګ، ځلا، پرق، روشنائي، رونوالے، چاپلوسي، خوشامندګر.

پالشي : پالش ورکونکے، چاپلوس، خوشامند ګر، چالاک.

پالک : چرګ سابـه، وړدي او پلنـي پاني لرونکے ساک.

پالکورے : له میزري جوړه هغه تیلی چې زمیدار پکښې رمبے او لور وغیره وړي. هغه کوتـه چې د زمیداری اسباب پکښې پروت وي.

پالکی : یو خاص قسم ډولی، چوپان. یو قسم چینجے، منا، مناګی.

پالل : پرورش کول، لویول، تربیه کول، پالنه کول، دوستي کول، حق ادا کول، په عاجزی او خاکساری سره د چا خدمت کول.

پالنګ : چپرکټ، کټ.

پالوان : پهلوان، کبډمار، د کشتی ماهر، طاقتور، مضبوط، غټ، بهادر، تکړه.

پالوده : فالوده، د پخې او چک کړے شوې ناشستې مینـجې چې د واوړې شربت سره په یو ځای خوړے شي.

پاله : پال، سسپار، سسپال، په یوې کښې د زمکې ځیرلو

د وسپنې آله.

پالیز : د هندوانو، خټکو، خربوزو یا بادرنګو باغ.

پام : فهم، خیال، فکر، هوش، احتیاط. د اتن سره یو ځای سندره وئیل، د وږدو پاڼو لرونکې د کوپرې یا کجورې شان یوه ونه.

پامال : پائمال، د پښو د لاندې مښلے شوے. چټنې، چخنے.

پامته دار : حاجت من، محتاج.

پاملرنه : فکر، خیال، تدبیر، توجه، احتیاط، څارنه، ساتنه، اتیات،

پان : پاند، پلنې پاڼې لرونکې یوه ونه او د هغې پاڼې چې ګټه او چونه پرې لګوي او تمباکو، چالیا او سپین لاچې پکښې ونغاړي، د تاش له څلورو رنګونو څخه هغه سور رنګ چې په پاڼو ئ د پان د پاڼې تصویر وي. تپان، پاند، پیکه ګنے چې د څاروو د خوراک دپاره استعمالیږي.

پانجشنبه : پنجشنبه، پانشنبه، له جمعې نه مخکښې او د چارشنبې نه پس ورځ،

پاند : وګورئ پان.

پاندې : پندی، پیتوارے، پیتې یا پندونه چلونکے.

پانزیب : پینزیب، د پښو یو کالے.

پانسي : تیزندي، زندی، سولی، په ځورنده وژنه، غرغره، دار.

پانوس : د فانوس عامیانه قرأت، وګورئ فانوس.

پانه : فانه، چینی، چنی، د لرګي یا وسپنې هغه ټکړه چې د لرګي څیرلو په وخت پرې د لرګي درز ارتولے شي. هغه سکنجه چې ملزم پرې د جرم په اقرار آماده کولے شي. شپیته، هغه لرګے چې د دروازو په چوکاټونو د کټونو په چوړونو کښې د مضبوطیا

دپاره ورکولے شي.

پان : نيم سير وزن. منا، مناکي، د وسپني اوبهٔ، آب، د پتي پوله، سريښ، سليښ، ګوند، هغه پترے چې د غم يا بيماري په حالت کښې ئ شوندې نيسي، پوتکے، پوت، پټ،

پانکی : پاتکے، د اندرپاپي دستکے، اړيکے،

پانه : په وني، په بوتي يا ګل زرغونه شوي پڅه چې د هغې په ذريعه دغه نباتات خوراک حاصلوي. د جارجر په خلهٔ دپاسه نرے پترے. د تاش پته، د کتاب مخ،

پانی : په زمکه راښکلي هغه دائره چې ماشومان پکښې غوزان يا مړدکي ږدي او د تيک په ذريعه چې کوم غوز يا مړدکے وباسي نو هغه وکتي.

پاؤ : څلورمه حصه، څلور چيتاکي، څلور اني، پنځلس منټه، شپږ جريبه زمکه.

پاورقه : حاشيه، شرحه، د صفحې اخرينې برخه، فټ نوټ.

پاوکے : د پاؤ اسم تصغير، د خيرات يا نذر د پاره د سړي په سر پاؤ غله راټولونه.

پاولے : جولا، په کډې کپړه جوړونکے.

پاونده : کوچر، غوبه، خاروي پيښونکے، پونده، کوچے، کډه په سر، خانه بدوش.

پاویزه : د پاؤ پيو پيمائي لوښے،

پاوے : د پاؤ د وزن کاڼے.

پاهه : پته، د زخم پتي چې ملهم پرې لګيدلې وي.

پائی : جلب، پيزوان، تيزندي، پانسي، يوه پخوانۍ سکه، د زړې پيسې دريمه، د اني دولسمه.

پایاب : سيند، ولې او تالاؤ وغيره کښې دومره اوبهٔ چې

پښه تل سره لکي. پایاؤ، پایاوه، چړ، کودر.

پایان : انجام، انتها، بنکته برخه،

پایاو : وګوری پایاب. پیاوړے، میړنے، تیزرو، زوراور.

پایه : درجه، مرتبه، رتبه، عزت، قدر. د دُری په ذریعه حرکت ورکونکي د غونډ شکل هغه آله چې عام طور سره ګاډیو وغیره کښې استعمالیږي.

پای : انجام، اخر.

پای تخت : پایه تخت، د باچا د ګدی ځای.

پائنځه : پینځه، پوچه،

پائیدار : مضبوط، ټینګ، کلک، محکم، پوخ،

پائیدان : پیدان، د پښې ایښولو ځای، موټر، ټانګې یا بلې کومې سورلی ته د ورختلو دپاره د پښې ایښولو ځای.

پائیدل : ژوندے پاتې کیدل، ژوند کول، له مرګه بچ کیدل.

پائیکو : پیکو، د مینچو د جوړولو یو مشین، د شولو صفا کولو آله،

پائینځه : پینځه، پیځه.

پائیندہ : پائیدونکے، پائیدار، مضبوط، قائم، محکم. پاتې کیدونکے.

پپ : هغه مخروطي شکل لرونکے د ناوې په شان آله چې د کاندار پرې په لفافو کښې سودا اچوي.

پپړ : پلن، څپړ، څپړ، تپړ، هغه شے چې بې ډوله وړد وي،

پپو : ترور، د پلار خور.

پپه : پپې، پپی، چپی، کوکی، د ماشوم بنکلونه، مچکه، مچه. روتی، نمړی.

پت : پم، د خاربنت یو رنځ. ناموس، عزت، عظمت، وقار، آبرو، وفا، د دوستی

پالنه، دود، دستور.

پتاسه : پتاسه، دشلمه، تشلمه، خوړه او کرپېدونکې د بورېو کې په شان یوه مټاني چې په مختلفو رنګونو کښې جوړېږي.

پتاوه : پاتابه، جرابه، غړے، پنډوغړے. د پنډو ترلو دپاره له وژغنو جوړه کړې پتی، پیتاوه،

پترکے : د زخم خیږ، پترے، د وسپنې وړوکے پترے، توتنکے، توتنے،

پترلاک : د لاکو یو قسم.

پتری : د کنو او نورو داسې بوټو وچې پاڼې چې د سوخولو او د څاروو د خوراک په کار راځي.

پترے : د پوزې یو کالے، میخکے، د سرو سپینو وړې وړې پاڼې چې مختلفو کالو کښې استعمالیږي.

پتلون : د مغربي ملکونو د وسیدونکو پرتوګ، پینټ.

پتمن : غیرتي، پتي، د پت خاوند، عزت من، ابرومند،

پتنګ : اورپښتے، پتن، الوتونکے یو وړوکے چینجے، عاشق، مئین. بادیوه، کانکوک، ګوډی،

پتنوس : ترے، د چایو، شربت یا بل داسې کار د سامان د وړلو دپاره استعمالیدونکې مجمه. فتنوس، فطنوس.

پته : فتنه، کینه، دشمني، بغض، جګړه، شیطاني، عداوت، مخالفت، فساد، غوبل، شور.

پتن : پتنګ، اورپښتے،

پتون : وړون، د پښې هغه حصه چې د زنګانۍ له ستر ګې تر مڅانو پورې وي.

پته : درک، څای، ادرس، هدف، څلے، نښه، معلوم. لهه، لیهه، خړه، متهه خړه، متینه خاوره، هغه خته چې د سیلاب نه وروستو پاتې شي.

پتي : شراکت، کاروبار

کښې برخه، د څنو څیزونو پانې مثلاً د چایو پانې.

پتیره : د خمبیره متضاد. هغه اخبتلي اوږه چې د تخمیر عمل پکښې نه وي واقع شوے.

پتیله : د ارتې خلې دیکچے.

پتي : پانې، د چایو پتي، د تاش پتي.

پټ : پوټ، پوتکے، پوستکے، څرمن، د ونې وچ پوستکے،

پټ : پناه، په نظر نه راتلونکے، د ښکاره ضد، د لوڅ متضاد،

پټاخ : پټاره، په لیندۍ کښې د کانې ایښولو د څرمنې جوړه پتې،

پټاخدار : پټاخه لرونکے، د پخوانې زمانې د دارو او پټاخو ټوپک، پټاقدار، پټاخیدار.

پټاخه : د آتش بازی یو څیز، د کاغذ پیشه، پټاقه،

شوخه مسته جینی، چالاکه ښځه یا جینی.

پټاری : تونکی، تونی، تونک.

پټاس : د پوټاش یو مرکب، باروت، د کارتوس دارو، پوټاشیم پرمنګنیټ، سرۀ دارو چې په زخمونو لګولے شي او یا پرې زخمونه وینځلے شي.

پټاکے : پټاخ، پاټے، د لیندې پاټے.

پټ پټالے : پټ پټونے، د ماشومانو یوه لوبه.

پټ پنا : پټ او یو خواته. پوشیده، راز، سازش.

پټ پنهم : خفیه، پټ پنا، د نظر نه په ډډه.

پټخ : کلک، پټوخ، مړاوے، د زوال له عمله تیریدونکے. زوړ، باسي.

پټخه : سرمایه، پنګه، پانګه، هغه سرمایه چې پټه ساتلې شوې وي، موړي،

خرگی، پشکالی کونکته، بخملي.

پترول : له زمکې راوتونکې یو خاص قسم تیل چې د صفا کولو نه پس د مختلفو انجنونو د چلولو دپاره پکاریږي. کشت.

پټکه : درکه، کاوړه، دوړه دباړ، پټله.

پټکے : زنانوال څادر، د اغوستلو څادر، لونګی، پګړی، دستار،

پټمخے : کونډې مال، د غنمو هغه دانې چې د غوبل نه پس په وړې کښې پاتې شوې وي. کونډے.

پټن : وګورئ پټنګ.غم، ماتم، ژړا، ویر.

پټو : څادر، پیړ وړین څادر،

پټوار : د زمکو د کچ میچ علم، د پټواري پیشه. جریب کښ، جریب ګرندے،

پټوار خانه : د پټواري د ناستې ځاے،

پټواري : د حکومت له طرفه د زمکو حساب کتاب ساتونکے، جریب کښ،

پټوالے : ناخرګند، پوشیده، د څرګندولو متضاد.

پټوخے : پټخے، پټخے، د کب په بدن وړې وړې غونډې نښې.

پټوسکے : لږ، ډیر کم، پوټسکے، پیسانے، بکسکے، بکس.

پټول : د بدن د ځنو حصو هغه عمل چې زخم یا دانه کښې نو پیدا شي، لکه اوبهٔ پټول. کوټه، دالان یا بل کوم ځاے باندې لرګې اچول، چاته جامه ور اغوستل.د بل چا مال په دوکه د هغهٔ له ملکیته وښکل، غلا کول، د څه څیز دپاسه داسې پرده اچول چې هغه ترې نهٔ ښکاري.

پټونے : څادر، پټو، وړین څادر، شال، پړونے .پټون،

هغه ځای چې ښکاري تري
ډز کوي.

پټه : د چرې، تورې او
توپک د کڅوړې تسمه،
پټاخ، د نایانو د چرې تیرولو
څرمن، د سپې د غاړې پټی،

پټه : د پټ مؤنث، پوشیده.
مخفي، پنهان.

پټیدار : لکیر دار، رنګینه،
پټي پټي، پټې لرونکی.

پټیدل : د څرګندیدل
متضاد، یو خوا ته کیدل، د څه
څیز دپاسه داسې څه اچولے
کیدل چې هغه تري نه
ښکاري. د بدن د څنو حصو
هغه عمل چې زخم یا دانه
کښې نو پیدا کیږي.

پټیره : شاه تیر، بش، بینش،
چالي، کړی، تیر، ویشه،
تمبې، درې، بوټے، وګے.

پټی : د پرهر دپاسه تړلې د
کپړې ټوټه، پاڼ، پونه، د الف
بې پټی، د ماشومانو سر
تړونے، تخته، د ملا تړلو پټه،
د کپړې وړده ریبنه، نوار،
پټار، د مړزو نیول جال، د
پښې تړلو تسمه، څناورو ته
غاړه کښې اچونکې پټه.

پټے : د کر کروندې قابل د
زمکې ټکړه. زرعي جانداد.

پجه : په سیند کښې د جمع
شوو ګرګو ځایے،

پخ : زخم، پرهر، شکاف.

پچاړی : وروستو، شاته،
هغه رسی یا پرے چې د اس
وروستو پښو ته اچولے شي
پیچواړی، پچواړی.

پچموزه : ملنډه، مسخره،
پیشاړه، ټوقه، وشته، ټټوبه،

پچنه : پچ، د حجامت چاړۀ
یا مشین، د حجامت له وجې
په مخ زخم جوړیدنه، چرې
سره زخمي کیدنه.

پچواړ : د خیرې وروستے
سر او دنبال، د بارانۀ د باد او
سیلی په زور دننه راتلونکې
څاڅکي. پاچړ.

پچولے : ډیر وړوکے،

پیچونے ،پیچونے.

پچه : د کلپو، چیلو، اوښانو، سویو، او اوسیو وغیره فضله چې یو خاص شکل لري. د بنیادم کلک او وچ بول.

پچی : توکری، د میزري نه جوړه د ارتې خلې شکری. د بادرنګو، خټکو، هندوانو او نورو سبزو وغیره کچری.

پخ : د تیرۀ ضد، هغه څیز چې تیرۀ نۀ وي. سست، بیکاره.

پخول : د تیرول متضاد، د غوڅولو نه ایستل، د چاقو، چرې د زیات کار له کبله خلۀ اړول، له پریکولو ایستل.

پخیدل : د تیرۀ اوزار تیزوالے کمیدل، لتیدل، سستیدل،

پخ : ګنجے، پختنوب، پمن والے، ګنجے توب. د اوښانو یوه بیماري. پم.

پختګي : د پخته کیدو حالت، کلکوالے، پوخوالے، مضبوطوالے، هوښیاري، تجربه کاري.

پخته : پوخ، کلک، مضبوط.

پخساک : پسخاک، کراک، کراو، زړۀ چاودون، خوراک.

پخکړے : نګولے، اینګولے، لمده بل، لاون، سالن، پورونے، ترکاري، پخه کړي شوي ترکاري،

پخلا : د مرور متضاد، رضا، دلاسه، خوښ، خوشحاله،

پخلے : د پخول مصدر نه اسم، اخلے پخلے، انډې کونډې، تاکید، پشتي، کلکوالے،

پخن : په سر کښې پخې لرونکے، پشم دار، بنې یا پخې لرونکے.

پخنے : هغه ماشوم چې پخې پخې خبرې کوي، پوخ، مشروت.

پخوا : تیره شوې زمانه، هغه

واقعه چې د حال له زمانې نه مخکښې تیره شوې وي. اګاهو، اول، وړومبے. د اوس متضاد.

پخوانے : د اوسنې متضاد، لرغونے، نرغونے، ځندنے، وړومبے، د پخوا سره نسبت لرونکے.

پخول : د پوخ نه متعدي مصدر، اخلے پخلے کول. په اور کښېښودل او خوړنول، د خبرې کلکول او تینګول، ژبه کول، وعده کول، په څه کار کښې ماهر کول،

پخوندے : د څارورو د پښو ترلو کړۍ، پخندے، یو قسم پسول،

پخه : د پوخ مؤنث، په اور حرارت یا وخت تیاره شوې، سوے لوے، پخه شوې، عمر خوړلې بنځه. بوډی، زړه.

پخیدل : د بدن د څنو حصو د بیماری په وجه سور رنګ اختیارول، د اوم څیز په اور یا حرارت یا د وخت په نتیجه کښې تکمیل ته رسیدل، د خوړلو د څیز د خوراک دپاره تیاریدل، په عمر کښې زوړوالي ته رسیدل، د میوې یا فصل شوکولو یا لو ته جوړیدل، ختېکیدل، کتېیدل،

پلار : ابا، پلار، عام طور سره میاندې خپلو کښې ځامنو ته د خپل خاوند په باره کښې طنزاً وائي.

پلید : بنکاره، ظاهر، نمایان.

پو : بنکه، بنه، وزر، کونځر، پخه. دپاسه، په، باندې،

پړ : د خالي متضاد، ډک، پوره، برجق.

پړاتۀ : د پروت جمع، غزیدلي، ځملاستلي، اودۀ، ایښوے شوي، سست، بیکاره،

پړاته : هغه روغنی روټی چې عام طور سره په تبخې یا کړیچې کښې په غوړو کښې

پخولے شي.

پراچه : سوداګر، پرانچه، کرایه کښې، چې په کرایه مالونه په خرو یا خچرو وړي. هغه هندو چې مسلمان شوے وي او بیا هم دکان کوي. بې لحاظه، بې مخه، چالاک.

پراخ : فراخ، ارت، پلن، وسیع، ډیر زیات،

پراخي : فراخي، د پراخ کیدو حالت، زیات والے، کشادګي،

پراګندګي : پریشاني، انتشار، تشویش.

پراګنده : منتشر، پریشان.

پرانستل : خلاصول، سپرډل، څرګندول،

پرپرکے : یو قسم وزر لرونکے چینجے چې اکثر په ګنو کښې پیدا کیږي او فصل ته نقصان رسوي. د ماشومانو دپاره د وسپنې نه جوړ چکر وهونکے پریدار د لوبو څیز، د هوائي جهاز، موټر وغیره هغه پرزه چې د خپل چکر په ذریعه مشین په حرکت کښې راولي.

پرپیچ : له پیچونو نه ډک، تاؤ راتاؤ، پیچدار، ول ول، کوږ ووږ.

پرپیره : خریرے، پوخکی، دینګری، مرخیرې، دورنے، دیرنګ، ګوبلکه، ګوجے.

پرتوغابښ : پرتوګابښ، ناړه، باکه، بګه، ازاربند، ګنده، د پرتوک د تړلو هغه جالي دار مزے چې بده کښې اچولے شي.

پرته : عبث، فضول، اپلته، چټیات.

پرځول : په زمکه را خلاصول، غورځول، نسکورول، شکست ورکول.

پرځوني : کشتي، د یو بل د راپرځولو لوبه.

پرځیدل : په زمکه راخلاصیدل، نسکوریدل، پرتاویدل.

پرچ : رکیبی، نالبکے، لالبکے، د چاپو د پیالی سره ورړو کے شان لوښے چې پیالی پکښې پرته وي.

پرچم : بیرغ، جنډه، توغ، عَلم.

پرچون : د توک متضاد، خورده، په یوځای د خرڅولو په مقابله کښې په لږه لږه د خرڅولو کار او پیشه.

پرچه : د کاغذ ټوټه، اخبار، رساله، پرزه، ټکړه، پارچه، خط، چیټی، رقعه، تحریر، د امتحان سوالنامه، د مقدمې په حقله د پولیس اندراج،

پرخاش : دښمني، جنګ، مخالفت، مقابله، جګړه، ورانۍ، کینه، فساد.

پرخت : په اینګولي کښې ماته شوې روټۍ،

پرخه : شبنم، د شپې چې کوم څاڅکي د اسمان نه راپریوځي. نرۍ باران.

پرداخت : غور، فکر، توجه، پروا.

پرده : پړده، ستر، حجاب، حیا، پټ راز، پناهي، د غوږ جلی، د سترګو جلی، د دوۍ حصو نازک حائل، د کړکیو او دروازو د پټولو کپړه، پردهٔ بکارت، د کوټې دپاسه تاؤ دیوال د موسیقی سُر یا اواز. نغمه،

پرده پوشي : پرده ساتنه، پړده اچونه، راز نهٔ بنکاره کونه. پرده داري.

پرده پوش : پرده پوش، پرده ساتونکے، پرده اچونکے، پرده داري کونکے،

پردیس : بیګانه ملک، پردے وطن،

پردیسنه : د پردیسي مؤنث د پردي ملک، د بل وطن.

پردیسي : د غیر ملک، د پردي وطن، د بیګانه ملک،

پرزه : ټوټه، ټکړه، حصه، د فیشن سامان، رقعه، د کاغذ

تکره.

پُرس : تپوس، پوښتنه، تحقیق، پرسان.

پرسان : وګورئ پُرس.

پرست : د پرستش (عبادت، محبت) په معنو کښې د بل اسم سره لاحقه لکه خدا پرست، وطن پرست وغیره.

پرستار : عبادت کونکے، پرستش کونکے، عاشق، مئین،

پرستان : د ښاپیرو وطن، یو خیالي او افسانوي ملک.

پرستش : اطاعت، بندګي، عبادت، تعظیم.

پرستي : د پرست د لاحقې یو بل شکل چې د خپل ځان نه مخکښې لفظ سره د عبادت او محبت کولو د کار مفهوم ورکوي لکه خدا پرستي، وطن پرستي وغیره.

پرسش : پوښتنه، تپوس، تحقیق،

پُرسي : د پُرس د کار او د مشغولا د معنې لرونکې لاحقه لکه بیمار پرسي.

پرشیدل : پرشار کول، پرشارے کول، انتروشے کول، اینګے کول، پرنجیدل.

پرښه : غټ کانے، تره، غټه تیره، سنګه، ښوئیدونکے کانے.

پرغټ : نرغوټ، برغوټ، پیش پرانګ، کټه پیش.

پرغز : وارخطائي، بې هوشي، غوټه، د میرګي غوټه، غصه، قهر،

پرکار : دیو پښې لرونکے د وسپنې، لرګي یا پلاستیک هغه آله چې دائري پرې رابنکلے شي. هم د دې غرض دپاره د ترکاښانو یوه آله، څرخ، چکر، قطب نما، قبله نما.

پُرکار : غټ، تکړه، د ساده متضاد.

پرکال : له خوبه جوتې

وهونکے، له خوبه جوتې خورونکے، خوب ته نزدې.

پرکټ : وګورئ پرکټې.

پرکټ : مات وزرے مارغۀ، هغه مارغۀ چې وزرې ئ پریکړې شوي وي، متازه، بیکاره، بې وسه، حاجت مند،

پرکټې : هغه خوے چې کونډه ښځه ئ دویم وادۀ نه پس د خاوند کور ته ځان سره بوځي او ساتي.

پرکټی : د پرکټي مؤنث.

پرک : د بوزغلي په ځاے له تخمه حاصل شوي پیاز، یا نور داسې بوټي جمع پرګان. بوس، هوا سره الوتونکے د ځنو غلو پوستکي.

پرګنه : جاګیر، د ضلعې یوه حصه، خاندان، کورمه،

پرګه : خاندان، نسل، خیل، خپل خپلوان، کورمه، قبیله.

پرګے : د ځیرې د ونې پلے، پیرګے. چرګے، برګے.

پرلت : د ناستې هغه طریقه چې یوه پښه د بلې پښې دپاسه داسې واچولے شي چې د یوې پښې پنجه د بلې پښې په زنګانۀ راشي.

پرله پسې : یو بل پسې. متواتر، مسلسل، په یو مخ، لګاتار

پرمختګ : پرمخ تیا، وړاندې تګ، پیش رفت.

پرمهره : هغه خیرے چې باز یا نور ښکاري مارغان ئ سحر کښې د خلې نه غورځوي. د مارغانو ښې چې ښکاري مارغان ئ سحر کښې د یوې دانې په شکل کښې راوباسي.

پرنالە : د کور له چته د اوبو بهیدلو لارە، ناوە،

پرنجل : انتروشے کول، پرنجے کول.

پرنجیدل : په پرنجو لګیا کیدل، اینګې لګیدل، انتروشي لګیدل.

پرنجے : انتروشے، اینګے، انتوشے، پوش، پرنج،

پرند : کنکل، منجمد، پرم، پرن.

پروا : فکر، لحاظ، خاطر، خیال، اند، ویره، باک.

پرواز : الوت، الوتنه،

پروانه : لیکلے اجازت، لیکلے حکم، شاهي فرمان. اور پښتے، پتنګ، پتن.

پروت : له پریوتل نه صفت. اینبوے شوے، پریوتے، بي احتیاطه ګزار کړے شوے، په اراده یا بي ارادي په یو خاے کښي محفوظ کړے شوے.

پروردګار : پالونکے، خداے پاک.

پرورش : پالنه، روزنه، سنبالښت، خصمانه، تربیت کونه،

پروړه : پلاله، د غوبل شور شولو بوس، درویشنه، پروړ، پروټ.

پروژه : پراجیکټ، منصوبه، پروګرام، نیت، قصد.

پروسیږکال : تیر کال، هغه کال چې د سږ کال نه مخکښې او له مخې کال نه وروسته وي.

پروسکال : وګورئ پروسږکال.

پروسکلن : د تیر کال.

پروسکنے : د تیر شوي کال.

پروسه : مرحله، پروس، عمل.

پرون : تیره ورځ، د شپې دپاره د صفت په طور راځي لکه پرون شپه.

پړه : ترازه، تنګره، توټه، ټکړه، غاښے، د غړۍ څوکه، څرخ، پلو، طرف، مخه، دله، طرفداري، ننګه، جنګ جګړه، د خفګان ښکاره کونه.

پړه جنبه : طرفداري، دله بازي، حمایت.

پړه دار : پړه کونکے، مل،

ملګرے، طرفدار، حمایتي.

پرهار : زخم، پرهر، پرار،

پرهیزګار : متقي، نیک، تقويٰ دار، بزرګ.

پرهیزګاري : نیکي، تقويٰ، عبادت، د بدو او ناکاره کارونو نه ډډه او پرهیز.

پري : پر، د پاسه، باندې، ورباندې، ذریعه، واسطه.

پري : د پریکیدل مصدر نه اسم صفت، پریکړے شوے، غوځ. قطع.

پریاسل : پرخول، ارتاوول، نسکورول، ښکته ګوزارول، لاندې اچول.

پریدار : پیره دار، څوکیدار، څارونکے، ساتونکے، پیره ورکونکے، پرې لرونکے،

پریږ : غټ، پنډ، څورب، چاغ، شلنډ.

پریږی : تمبوله، کندو، ډوله د غنمو یا نورې غلې د ساتلو دپاره د پوزې نه جوړ پنډیرے.

پریستل : پرې ایستل، څملول،

پریشان : خفه، غمګین، دلګیر، ابتر، سرګردان، بې چرته، غریب، خوار، کریاب، بې وزله، تار په تار، ګډوډ، تیت پرک، خوروروړ، ګنګس،

پریښودل : پریښول، خلاصول، خوشے کول، ازادول، لاس ترینه اخستل، وروستو پاتې کول، شاته پریښودل، طلاقول.

پریکړه : شلولے، غوځ کړے شوے، فیصله شوے، بیل شوے، غوټ پریکړے،

پریکول : خیرې کول، غوځول، ادا کول، فیصله کول، ختمول، کنسټل،

پریکون : خبره خلاصونه، فیصله کونه، لنډون، د هلک او جینۍ لـه ښوا د وادۀ ورکولو او کیدلو فیصله،

بیلتون، جدائي، بیلوالے، فیصله، پریکړه، مخالفت، غوخونه.

پریکیدل : غوځیدل، قطع کیدل، شلیدل، ځیرے کیدل، ختمیدل، کنستل.

پریمان : پریوان، بیس بیسیار، ډیر زیات، بنیرازه، د مور په ګیډه کښې له بچي چارچاپیره پرده.

پریمالي : سوکالي، ابادي، بنیرازي، ډیر والے، زیاتوالے، فراواني.

پریوان : پیروان، هغه کښوړه چې د مور په ګیډه کښې پکښې بچے نغښتے وي او وضع حمل نه پس هغه بهر راشي.

پریوالي : فراواني، ډیر والے، زیات والے، کثرت،

پریوتل : غورځیدل، نسکوریدل، راکوزاریدل، ارتاویدل، ناڅاپه حمله کول، یرغل کول، توئیدل، رژیدل، رنګیدل، نړیدل، ناکامیدل، پاتې کیدل، رنځوریدل، ناروغه کیدل.

پړ : د جواری خاے، تیکرے،

پړ : دوړ متضاد، مغلوب، ګرم،

پړان پیش : غټ ځنګلي پیش، ګوتړک، کټه پیش، کړپش، پناپیش، پیشو پرانګ.

پړانګ : تکي تکي څرمن لرونکے یو ځیرونکے ځنګلي ځناور.

پړانه وړانه : حق ناحق، ګرمه ناګرمه، پړه وړه. جواري، قمار، شرط.

پړاو : منزل، مقام، تیکانه، قیام ګاه،

پړپړے : دست، پړپړه، پرت پرت، پرتار.

پړپنج : پړپنجه، نۀ ختمیدونکي جګړه، نۀ حل کیدونکي تنازعه.

پرپوس : پپوس، سړے، شش، بیکاره سړے، پرسیدلے، بزدل، ویریدونکے.

پرتال : په دویم ځل د صحیح یا غلط معلومولو طریقه، چیکنګ، چیکن.

پرتاؤ : واټن، فاصله،

پرتل : د نښتر یو قسم.

پرسمن : ډډ، پرسیدلے، خوږین، ډډو، نرم، پوست، بې وجې، نابوره، لټ، ناراست، سور.

پرسو : ادوبدو، ادوکدو، ډډبد، اوک پوک، پرسیدلے، د غټ دپاره د تحقیر لفظ.

پرسول : ډډول، له باده ډکول، غصه کول، قهرول، بلاربول، حامله کول، بڼهٔ وهل ټکول، پرقول، پرق ورکول، څپیره ورکول.

پرسومبه : پرسمن، ډډ، بوګه، چې ډیر غټ وي او د کار نهٔ وي. بیکاره، بې غیرته.

پرسیدل : د ګوزار یا د زخم په نتیجه کښې د بدن د یو ځای وچیدل، ډډیدل، تنډیدل، قهریدل، غصه کیدل، حامله کیدل، د حیواناتو د کیډې یو مرض جوړیدل. وهلے کیدل، پرقیدل،

پرق : پرک، چپوته، پرخ. بریښ، خلق، د رنا څرېکه، لږ وخت، خلا، بریښنا.

پرقول : خلقول، پرکول، بریښول، په لاسونو اواز ایستل، نینې ورتول، وزرې وهل،

پرقیدل : بریښیدل، خلقیدل، پرکیدل.

پرک : تهه، خل، وار، کرت، پیړه. پرکه، لټ، دام. د نایانو د چرې تیرولو څرمن. د خلقو ټولے چې لس شل تنه وي، د کډو وړه رمه، ویره، اضطراب، د تلې چاپېرے، حمایت، طرف، یوه جنبه. د مرغلرو لړ،

پرمخ : نسکور، سر د لاندې، اپوټه.

پرمخے : برغولے، د کټوی سرپوښ، د کټوی خاورین سر. نسکور، سر د لاندې، اپوټه.

پرونے : د زنانه څادر، پټکے، داون، دانو، چکاله، تیکرے.

پړه : د وړه متضاد، ملامته، کرمه.

پړۀ : د پړ جمع، ملامته، کرم، شکست خوړلې، مات شوې.

پړي : د پړ خاوند، جوارګر، شرطي، پړ چلونکے، هغه سړے چې هر کار کښې خندا اچوي.

پړي واله : پنډي، مزدور، هغه مزدور چې په شا پیتے وړي. د رسو او پړو وغیره خرڅونکے،

پړیخ : پلن، چیت، پریت، چیتک،

پړی : د کټو، خښتو، کانو یا خاورې په ترتیب سره جوړه شوې دلی یا انبار چې مختلف ځایونو کښې مختلف وړدوالے، پلنوالے او بلندي لري. د غلې د بورو انبار.

پړی : پوړی، پونی، کڅوړی، کڅوړه، ګوتی، د کاغذ نه جوړه لفافه چې پکښې سودا وغیره ورکیدے شي.

پړے : له میزري، سپنسو، وښو، لوښې، پلاسټک، منجو، سنو یا داسې نورو څیزونو نه غښتلے شوے مزے. بلدیژه، رسی، بیاسته.

پڑمردہ : مړژوانده، خفه، مړسپن، جینجړ، مړغیژن،

پڑہ : پڑاوه، د کلال بټی،

پس : معمولي، کمزورے اواز، نرے اواز،

پس : بیا، نو، وروستو.

پسات : فساد، شر،

پساتي : فسادي، بدسړے، وران، شري، فساد جوړونکے.

پساري : پنساري، د دوائي دپاره د جاړو بوټو خرڅونکے،
پسپا : په ماتي.
پسپائي : د پسپا کيدو حالت، شکست، په جنګ کښې وروستو کيدنه.
پس پس : چا سره په غوږ کښې پټې خبرې کول.
پس پسے : پس پس، غوږ لوڅي، د شونډو په سر پټې پټې خبرې، په غوږ کښې پټې پټې خبرې، پسيدنه،
پست : ښکته، لاندې، ټيټ، ذليل، کمينه، پريوتے.
پستنه : واپس، واپسي، پسوکي، پوڅکي.
پسته : وروستو، بيا، بل وار، بل ځل.
پسته : د مغربي ايشيا په ملکونو کښې کيدونکې د بادام په شان يوه وړه ونه او د هغې ميوه.
پستي : ذلت، لاندې والے، ښکته والے، ذليل توب.
پسخند : پيشاړه، ملنډه، پچموزه، ټوقه.
پسر : خوے، فرزند.
پسرلے : سپرلے، بهار، د ګلونو موسم، خوړمنے، د ژمي او د اوړي تر منځه د کال هغه څلورمه حصه چې پکښې ونې بوټي وغيره زرغونيږي.
پسمانده : وارث، ميراث خور، ميرات خور، د مړي اولاد، وروستو پاتي، د ترقي نه شاته پاتي، بچت، باقي پاتي شوے.
پس منظر : د منظر شاته موجود خو په نظر نه راتلونکے، د يوې واقعې اصلي محرک او علت چې څرګند نه ښکاري.
پسند : خوښ، غوره.
پسنديده : خوښ، عزيز، مرغوب، محبوب.
پسور : سور، عرض، پلنوالے، وخت، موده.

پسول : کانه، کالے،
پسۀ : څیرلے، چیلے،
پسې : وریسې، وروستو، اخري.
پُشت : خاندان، نسل، خیل، پیړی. د چرګې په کیډه کښې د اګی ځای، د چرګې په یو مخ اچولې اګی.
پشتاره : بار، ډیر مقدار، بوج، ډیرے، انبار، دلی.
پشته : ټیکر، بند، ډانګه، د سیلابي اوبو د مخ نیوي دپاره د خښتو جوړه ډیری. هغه کپړه یا چمړه چې جلد ساز ئې د کتاب شاته لګوي. متوا، وقایه. ډډه، د غرۀ یا غونډی ډډه،
پشتي : ټیک، پیشتي، زور دیوال ته د مضبوطیا په غرض وهلے شوے وړوکے دیوال یا ډبه.
پشکال : د فصلي کال څلورمه میاشت، ساون، د اوړي د بارانونو موسم.
پشکالے : هغه میوه یا فصل چې پشکال کښې رارسي یا کرلے شي. هغه سور رنګے چینجے چې په پشکال کښې پیدا کیږي او کبان پرې نیولے شي.
پشکے : لوے بول، چې لکه د اوبو نري وي.
پشم : وړی، پرخه، نرے باران، ډیر نازک او نرم وینبتۀ. د شرمګاه وینبتۀ.
پشمینه : ریښمینه، پشمي لوټه چې د پاسه پرې نرے نرے پشم یا غوږے یا بور وي.
پشې : متیازي، (د ماشومانو تورے)
پیش : لوهار، آهنګر،
پښت : خاندان، پشت، نسل، پیړی، خیل، تبر، اصل، ریښه.
پښتانۀ : د پښتون جمع.
پښتنوالۀ : د پښتنو دود دستور، غیرت، وفاداري، د پښتنو ضابطه اخلاق.

پښتنه : د پښتون مؤنث.
پښتو : د پښتو ژبه. ننګ، غیرت، د پښتنو دود دستور.
پښتورګی : کرده، بدوګی، بلوډی، هغه اندام چې تشې متیازې تري پوکنی ته ځي.
پښتون : د پښتانهٔ د نسله، د پښتون قام یو غړی، پښتون قام، غیرتي، د ښو اخلاقو خاوند، د ننګ او پت خاوند.
پښتونخوا: د پښتنو سیمه، د پښتنو د وسیدو ځای.
پښتونولي : پښتونواله، د پښتنو دود دستور.
پښتیدل : پښتنه کول، پوښتنه کول، تپوس کول، تحقیق کول، سوال کول،
پښتی : ارخ، ډډه. هغه هډوکی چې د سینې پنجره یې جوړه کړې ده.
پښتویه : د "په" او "ښویه" مرکب د قرآن کریم روانه لوستنه، ګرامر، صرف و نحو.
پښنه : ښپه، د بدن هغه حصه چې ګرځیدل پرې کیږي، د هر څیز د تکیې یا اډې لګولو حصه لکه د میز پښه، د قبیلې یا خاندان یوه څانګه.
پښه ارته : پښې ارتې، د پښتنو هغه دستور چې پکښې د چنغلې د کور له خوا د چنغول کور ته تحفه ځي.
پښه نیولے : ماتل، ایسار، ساړے، په تلو تلو کښې رفتار کمونکے.
پښه ییل : ییلې پښې، پښې لوڅے، بې پیزاره، پښې ابله، په پښو پیزار نه لرونکے.
پښې ابله : وګورئ پښې ییل.
پښیمان : په شوې کار افسوس کونکے، پښیمانه، شرمنده، ملامته، افسوس او پښیماني کونکے.
پکار : په ښه راتلونکے، پسندیده. غوره، فائده من، ګټه ور.

پکړ : په جیب کښې پیسه نۀ لرونکے، خوار،

پکښې : دننه، په منځ کښې، کنه ورکونکے.

پکل : تلے اچول، لپه اچول، پینل، ورغوے اچول، تلے وهل.

پکوړه : پیکوړه، د ویسنو، پیازو او مرچکي وغیره نه جوړ یو ترسکون غونډ شان یا بل شکل لرونکے څیز چې په تیلو یا غوړو کښې تلولے شي.

پک : لویه پکړی، پکه، منجیله، د منکي یا پنډ وړلو دپاره منجیلکی.

پکړی : غټ پټکے، دستار، پک، غیرت، همت، عزت.

پگن : د هندي کال یوولسمه میاشت د فروری او مارچ میاشو کښې راځي.

پل : قدم، گام، د پښې نښه، منډه، د ژرندې یا میچنې غونډ برنے کاڼے. د کُلال څرخ، د ستر کو رپ، یوه گړی، کم وخت، لږه شیبه.

پُل : د سیند یا نهر دپاسه جوړه شوې لار.

پلاچه : د خاروي د څټ غوښه،

پلار : وگورئ ابا، پدر،

پلاز : د بادشاهانو د ناستې ځاے، د ناوې او ځلمي دپاره د وادۀ په ورځ خاص جوړ شوے خاے.

پلاس : یو خاص قسم امبور.

پلاله : پروړه، دروزه، وابنۀ، د شولو دروزه.

پلاؤ : پولاؤ، گرمه مساله کښې پخې شوې وریژې چې غوښه، چرگ یا بل مارغۀ، مټر، دال یا داسې نور څیزونه پکښې هم گډولے شي.

پلته : پلیته، د دیوې وټ چې د مالوچو نه جوړ وي. په کاغذ یا پلاستک کښې د څیزونو راجمع کړے شوے شمیر لکه د ستنو پلته، د تیلو

پلته، د ګولو پلته.

پلټل : اړول رااړول، لټول، تحقیق کول، تلاش کول، کتل، مطالعه کول.

پلستر : پلاستر، پلاستر، د سیمنټو یا چونې لیو، په مات ځای ترلې شوې یوه خاص قسم پټی چې چونه پکښې شامله وي.

پلستري : د عمارتونو د پلستر کار کونکے.

پلشته : د پلشت مؤنث، بدچلنه بنځه، ګشتی، بد عمله بنځه، پلیته، رنډی، بدکاره، بدفعله، کچنی.

پلک : د لوهارانو د استعمال دپاره د وسپنې غټ څټک.

پلکے : لاسکے، لاستے، دسته.

پلمه : عذر، بانه، بهانه، دوکه، مکر، حیله، فریب، تکې.

پلن : ارت بیرت، چې پسور ئ لوے وي. بر لوونکے، غټ پټ، څورب، هوار، هموار.

پلندر : پرنډر، بخنے پلار، میرنے پلار.

پلنول : ارتول، خورول، ویړول، اوارول، په زمکه راغورځول، وهل او ټکول، دربله کول.

پلنیدل : ویړیدل، ارتیدل، اواریدل، په زمکه غورځیدل، څربیدل، تیاریدل، مټه کیدل، شله کیدل.

پلو : پیځکه، پیځکے، پیځه، طرف، لورے، څنګ، ارخ، طرفداري، ننګه، لنګه.

پلوشه : یوه ازغي لرونکي ونه. ژرګه، بلنځه.

پلور : بیه، قیمت، ارزښت، سر، بهاء، ادل بدل، ورکړه راکړه.

پلورل : خرڅول.

پلوشه : هغه نرۍ کربنه چې د رنا له رفتاره پیدا کیږي او پکښې نرۍ نرۍ ذرې په

کډيدو بنکاري. څړيکه، څيره، تجلي، ورانګه، شغله.

پله : طرف، خوا، موقع، وار، خل.

پله : وژه، د انسان او حيوان د بدن اعصاب.

پليت : پليد، ګنده، خراب، مردار، سخا، ناولے، بيلماخه. د پاک متضاد.

پليتول : ګنده کول، د مانځه نه ايستل، مردارول، ناپاکول،

پليتي : ناپاکي، ګندګي، ناولتيا، بداخلاقي، بدمعاشي، ورانکاري.

پليتيدل : ناپاکيدل، مردارېدل، ناولے کيدل، ګنده کيدل، بيلماخه کيدل،

پلي : د لوبيا، متر، ميو او داسي نورو څيزونو د ګوتې په ناپ هغه وړه شان حصه چې دانې پکښې وي. پلے. د څه لوښي نه په مقدار کښې د پيو يا د تيلو راچولو آله.

پلے : پياده، په خپلو پښو، د سوارۀ متضاد.

پم : يو متعدي جلدي مرض، خارښت، خارش.

پمبه : خټوخکے، چغانے، توتۀ، ذره. پومبه، پنبه.

پمپ : د اوبو راوښکلو يا ويستلو مشين. د باد ورکولو آله، پچکاري، د هوا پمپ، ټيوب ويل، مشيني کوهے، بمبه.

پمن : پم وهلے، خارښتي، نيستمن، غريب، خوار، بدبخت، ناجوړه،

پمنکے : پمنے، پماني، يوه ترخه سبزي.

پمنيدل : خارښت لګيدل، پم لګيدل، پمن کيدل. خواريدل.

پنا : فنا، غائب، غيب، له نظره پټ، په ډډه، حفاظت، مرسته، پرده.

پناهي : بيتر، پرده، چک، لنډے ديوال چې د کور ستر

پرده پري راشي.

پنج : دوکه، ټکي، پينځه.

پنجالي : ژغ، جغ، د جغ لاندينی حصه. دريچه، دريځه، جنګله، هغه پنجره شان چې په مکانونو کښې د دول او پناهی دپاره لګولے شي.

پنج بنا : د اسلام پينځه ارکان، کلمه طيبه، مونځ، روژه، حج، زکوة.

پنجره : د مرغانو يا ځناورو د ساتلو دپاره بندي خانه، له وسپنې يا بل داسې مضبوط څيز جوړ محفوظ ځای، تاله، ژرنده.

پنجشنبه : پانشنبه، د زيارت ورځ، د چارشنبې او جمعې تر منځه ورځ.

پنج غاښے : هغه ځناور چې عمر ئ پينځه کاله وي. د لرګي نه جوړ هغه زراعتي آله چې پينځه غاښونه لري او په پټې کښې پرې پولې جوړولے شي.

پنجګے : د مچي مار د کوندې سره لګيدلے هغه لرګے يا کاک چې مچي مار ته پرې د کب د چک پته لګي

پنجګانه : پينځه واړه،

پنجوټره : پنجک، هغه پينځه فيصده کميشن چې نمبردارانو ته د وصول شوې مالې نه ورکيدے شي.

پنجه : منګل، منګول، د پينځو کوترو په مناسبت سره هر هغه څيز چې پينځه غاښې لري.

پنځوس : له يو پنځوس نه يو کم او له نهه ځلويښت نه يو زيات. (۵۰)

پنځه : خټه، طبيعت، فطرت.

پنځهٔ : پنج، د څلورو نه يو زيات.

پنچايت : د مشرانو جرګه، د ټالثانو ټولے.

پند : نصيحت، وعظ، ښه

خبره.

پنداز : ګومان، خیال، تکبر، غرور.

پنډ : بار، بوج، هغه درونده وزن چې انسان یا ځناور ئې په شا یا په سر وړي.

پنډ : هغه وسپنه چې قصابان پرې چارۀ د غوړوالي نه پاکوي.

پنډار : کنه کونه، ډیر خلق، بانډار، اژدهام، د ځو تنو مجلس.

پنډال : هغه ځای چې څۀ غونډه یا جلسه پکښې کیږي، دونکاچه.

پنډ بکر : پونډ بکری، اورتک، بکوره، بکره، سپینه ګټه، چقماق، ډبره.

پنډت : بامبن، بامبر، برهمن، د هندوانو مذهبي عالم.

پنډوس : غنډوس، غونډسکه، ګیند، بال.

پنډول : ټولول، غونډول، یه یو ځای راجمع کول، څربول، چاغول، غټول، حجم زیاتول، مضبوطول، ټینګول.

پندي : مزدور، پاندي، قلي، جوالي، مالي، هغه سړے چې په پیسو پیټي وړي.

پنډیدل : راغونډیدل، راټولیدل. څربیدل، غټیدل، پرسیدل، ډډیدل.

پنډیرے : پوزے، پوزکے، انډیرے.

پندی : پرکي، د زنګون او ښینګري په مینځ کښې د پښې حصه.

پنساري : وګورئ پساري.

پنسل : دلرګي او سکې نه جوړ دلیکلو قلم.

پنسن : پنشن، هغه میاشتنے رقم چې د نوکرۍ د مقرره وخت پوره کولو نه پس ئې حکومت سرکاري ملازم ته ورکوي.

پنسني : وظیفه خور، هغه

خوک چې پنسن اخلي.

پنکه : سرمایه، ذخیره، پانکه.

پنهان : پټ، چې بنکاره نه وي.

پنهم : پنهان، پټ.

پنیرک : پنډیرک یو قسم خودرو ساک.

پنی : یو قسم وابنۀ چې جارو ګانې ترې جوړولے شي. نسلکه چې چرس پرې څښلے شي.

پناپش : پیشو پرانګ، غټ پیش، پرانګ پیش.

پنه : ترمکیا، چرکاؤ، اوبهٔ شیندنه. یو قسم پیزار، کوښه، مکاوله، مچنه، رکی.

پو : د فصلي کال د یخنی میاشت چې د مګر نه وروسته او د ما نه مخکښې وي.

پوار : سخا، میلا، خیرن، ناولے، خیچن، بې هنره، بې سلیقې، شدل، ساده.

پوټ : پوستکے، پټ، پټوکے، پټخے، پوست، څرمن.

پوټسکے : پوټے، لږ مقدار کښې.

پوټکے : پوټ، پوټخے، پټخے.

پوټي پوټي : ټوټي ټوټي عام طور سره د ورانو پیو د پاره استعمالیږي.

پوټے : لږ شان، پیڅاڼے، ټیکه، ډکره، د غوښې ټوټه، ذره شان.

پوټے پوټے : ریزه ریزه، بسمې بسمې، ټوک ټوک، پوټي پوټي.

پوځ : فوج، فوځ، عسکر، لښکر.

پوچ : سپک خلے، بد خلے، بې ادبه، بې عزته، سپک، بې فائدې، عبث، چټې.

پوچ ګو : پوچ ګویه، پوچ خلے، سپکې او عبثې خبرې کونکے.

پوچ کوئي : کنځل، سپکه وینا، عبث خبري.

پوچیدل : غل کیدل، د کارتوس نهٔ خلاصیدل.

پوخکی : نرمی، پستکی، د غوږ لاندینی نرمه حصه، بوخکی،

پوخه : خام پنیر، پرنلو، پوچه، د شاتو د مچو کبین. د هډوکي دننه مغز یا چکی چې اکثر د خوړلو دپاره ایستلے کیږي.

پوخ : د اوم او کچه متضاد، پوه، تجربه کار، هوښیار، زیرک، تر کماله رسیدلے، د خوراک قابل وخت ته رسیدلے فصل یا میوه، کلک، ټینګ، مضبوط، غوره، چون، مشروت، پوخنے، پخنے، د بدن د څنو حصو د سرو کیدلو یوه بیماري لکه پخه خلهٔ، پخي ستر کي، پخه ژبه.

پوخلي : توره تپوخلي، توره غاړه، شنه تپوخلي.

پودر : د کُس بچے، د کُسی خوے، یو کنځل.

پودینه : یو تیز خوشبودار بوټے چې د چټنی جوړولو دپاره استعمالیږي. ویلنے، ایلنے.

پودر : باریک میده کړے څیز، سفوف، په مخ د لګولو یو مخصوص سفوف، یو خطرناکه نشه.

پور : قرض، قصاص، بدل، نقصان، تاوان، زیان.

پُور : د ګنو رس چې کوړه تري جوړولے شي.

پورتنے : پورته سره نسبت لرونکے، د لاندینې متضاد، د بره، د پاس، پاسنے، د غرهٔ یا پښتونخوا وسیدونکے.

پورته : پاس، بره، وچت، لوړ، جګ، په هوا کښې، په فضا کښې، په مرتبه کښې وچت، په درجه کښې لوړ،

پورول : قرض اخستل، پور ورکول، قرضول، غونډل،

جمع کول، زبادول، زباتول.

پُوره : کامل، تمام، ثابت، کرد، سالم، مکمل، اجل، مقرره، قضا، ختم، مړ او پټ، دولتمند، ډیر چالاک، ډیر فریبي.

پوره : د سپوره متضاد،

پوري : نژدې، خواته، د سیند یا نهر بله غاړه، بند، کمره، قرض شوي، لګیدلے.

پوریستل : د سیند، نهر، خور یا بل ځای نه بلې غاړې ته رسول، بلې غاړې ته اړول، پوري باسل.

پوري کول : پوریاسل، پوریستل، لګول، کیښودل، ږدل، بندول، شروع کول، بلول، تپل، مبنل، د اینګولي یا بل کوم څیز سره روتی خوړل.

پوري کیدل : بلې غاړې ته پوري وتل، لګیدل، ورته کیدل، د دروازې وغیره بندیدل، تپله کیدل.

پوري وتل : عبور کیدل، د سیند یا نهر وغیره بلې غاړې ته رسیدل، په مشکله کامیابی ته رسیدل.

پوړ : بنیاد، بیخ، ویخ، ردہ، اساس، بنسټ، د کنې پوک، لوے او پلن پوړے، کڅه، نیم پخته، ځلموتے، ژنے، ځوانی ته نژدې. چې لا پوخ شوے نه وي.

پوړه : بیلچه، کړی، راشپیل، پاکوونے، بیم، د تان یا اصطبل صفا کولو پوړی یا بیلچه.

پوړی : پړوی، اندرپایه، پارخنګ، پارچنګ، زینه، هغه بیلچه چې پرے پکښې وي دوه کسان وربانديې کار کوي، چاري، کراه، پنګه، مانجه. ینجه.

پوزکے : اندیرے، ورو کے پوزے.

پوزه : د ستر کو په منځ کښې د مخ هغه اندام چې سا

پرې اخستے شي او بوئ پرې محسوسولے شي. شونډه، ورسک، د غړۍ يا غونډۍ راوتې څوکه.

پوزے : انډيرے.

پوست : د کلک متضاد، نرم، نازک، ملائم. څرمن، پوستکے، چمړه، د خشخاشو غوټې، ډوډه.

پوستين : د ګډورولے څرمنې جوړ واسکټ، نيم تنے.

پوسکاون : پوسکى اچونکے، پوسکن، بيکاره، سست، لټ، بې همته.

پوسکى : باد، پسکه، تښ، له ګيډې خارجيدونکې بې اوازه هوا.

پوسکى : نرمه، د غوړ لاندينې برخه.

پوشاک : لباس، جامه، کالي، نمري، پوښاک.

پوشيده : پټ، مخفي، پرده کښې، چې څرګند نه وي.

پوښتول : لوے تير، بش، شاتير، ويشه.

پوکل : هوا ورکول، باد ورکول، په خلۍ غږول.

پوکے : پف، پوکاره، د خلې غونډه هوا.

پوګ : پک، اګ، پوتل، د رس لرونکو څيزونو هغه حصه چې د ژوولو يا استعمالولو نه پس پاتې شي، ډډ، پوخه، خالي، تش، بيکاره.

پوله : حد بندي، برید، بند، څيره، تک، سرحد، د پتې موره.

پولى : وچ وابنۍ، بوسارۍ، ګيډى، د ريشقې قوده، د بنځو د ګومنزې سره وتلې ويښتۍ.

پولى : د شولو يا جوارو دانه چې په بټ کښې وريته شوې وي. تناکه، پوناکه، د سوځيدو په وجه پرسيدنه او پرک پرک چودنه.

پومبه : کسربوسکه، کربسکه، یو بوټے او د هغې ګل چې تري کپره جوړیږي.

پوندانه : د پومبې تخم، پومبه دانه، چګټ.

پونده : د پښې وروستی حصه چې غوښه ئ سخته وي، هغه حصه چې د پښې د پوندې لاندې وي.

پونډ : د برطانیې د شلو شلنګونو لرونکې یوه طلایي سکه او نوټ.

پونه : نرې باران، بنورمک، پشمک، شبنم.

پونی : پسوخی، لیخی، لخی، د وړی هغه ګونجی چې د وریشلو دپاره په لاس باندې راتاؤ شوې وي.

پوه : هوښیار، پوړ، د پوهې خاوند.

پوه : د فصلي کال نهمه میاشت چې په ژمي کښې د مګر نه پس او د مانه وړاندې راځي. د پنځلسم دسمبر نه تر دیارلسمه جنوری وي.

پوهان : د پوه جمع، لوړ استاذ، پروفیسر، پوهاند.

پوهنتون : یونیورسټي، جامعه.

پوهنه : پوهه، پویه، هوښتیارتیا.

پوهول : علم ورکول، مطلب ته رسول، لار ښوول.

پوهه : علم، هوښیارتیا،

پوهیدل : علم موندل، خبر موندل، مطلب ته رسیدل.

پویه : منډه، د اس یو مخصوص چال، پوهه.

په : دپاره، باندې، دپاره، حرف قسم، د حالت د بیانولو کلمه لکه په خندا، په ګډا، په تللو، په شروع په اخر وغیره. د متعلق فعل عام علامت.

پهار : د ورځې یا شپې خلورمه حصه، د شوارو ز اتمه برخه، دري ګینټې. پهر.

پهره : پیره، څوکی، څوکیداري، ساتنه، حفاظت،

پهره دار : خوکیدار، پهره ورکونکے، محافظ، پیره دار.

پهـره داري : د پهـره دار پیشه، د پهري ورکولو حالت.

پهلوان : پالوان، طاقتور، تکړه، مضبوط، زورور.

پهه : پاهه، ترمه، پتی.

پی : شودهٔ، شیدهٔ.

پیاپے : مسلسل، په یو مخ، پرله پسې، مکرر.

پیاځه : د باجري یا د جوارو روټی.

پیاده : په خپلو پښو، د خنو محکمو چپراسي، د محکمه مال چپراسي.

پیارمه : چیړه، څیره، ریتاړه، لتوړه، رنجـه، خـرخورے، چنیا. د کټ لنګه، لنګه،

پیاز : د عـام استعمال یوه بوئ داره سبزي چې د پخیدو نه پس د پیازي رنګ غوټو کښې بدله شي.

پیازکے : د پیاز په رنګ یو وابنهٔ.

پیازه : سپیـازه، زیان، سره کیدنه، هغه بنځه یا ماده ځناور چې د وخت نه مخکښې بچے وغورځوي. ضائع، عبث، د یو داسې څیز بنکاره کیدل چې دانسته پټ ساتلے شوے وي.

پیازي : د پوخ پیاز په شان رنګ لرونکے.

پیاسه : د تورو مـچو هغه کښین چې شهد پکښې نهٔ وي. وړے، خالي کګ.

پیالـه : د څښـلو لوښے، د شرابو څښلو پیمانه.

پیالی : وکورئ پیاله.

پیام : سوال ځواب، جواب، پیغام، خبر،

پیانو : یـوه لویـه انګریزي بـاجـه چې پـه دواړه لاسـه غږیږي.

پیاوړے : زورور، تـکړه، قوي، طاقتور، بهادر، بادر.

پیپر : بـوډا بـوق، بوډا، چې مخ ئ کونجي وي.

پیپل : پـلـنـي او غـټي پانې

لرونکي يوه ونه چې هندوان ئې ډير احترام کوي.

پيپه : ډرم، د تيلو ډباره پکاريدونکي د لرګي، ټين يا پلاستک نه جوړ لوښے.

پيت : چت، چپړ، ټيټ، پلن، اوار، د جګ متضاد.

پيتاؤ : پيتاوے، د نمر کرمي، هغه خاے چې په ژمي کښې خلق پکښې نمر ته ناست وي.

پيتل : زيړ، د تانبې او جستو نه جوړ يو زيړ رنګے دهات.

پيټي : د غاښونو خيري، د شوملو غړکه، د شوملو غړکي منګ،

پيټے : پټاخدار توپک، باتي دار، د پخوانی زمانې يو توپک چې باتو ته به ئې اور ورته کيدهٔ نو ډز به ئې کولو.

پيټ : يو مخصوص قسم طبعي سکارهٔ چې د کاربن اندازه ئې پنځوس فيصده نه تر شپيتهٔ پورې ده. بوج، په ملا پروت بار.

پيټو : لعنتي، ملعون، يوه بنيره.

پيچکے : پيکے، د تندي ويښتهٔ.

پيچلک : لکه منے، ډونډاکے، د لکی څلے، دنباله، هغه څوک چې د چا شاته د مريد يا نوکر په شان روان وي.

پيچواړی : هغه رسی چې اس پرې په وروستو پښو ترلے شي. پيچوانی، په ګوډی کښې د تولې برابرولو ډباره اچولي تارونه.

پيخالے : پوتے، بکسکے، لږ شان، ډير کم.

پيخکه : پيخکے، پيسکے، څنډه، د لوپټې يا څادر ګوټ.

پيچي : پيچ دار ميخ، تاؤ راتاؤ شوے،

پير : بزرګ، لار ښوونکے، زوړ، سپين ږيرے. بوډا،

مشر.

پيري : زور والے، زړولي، بودا توب. د پير کار.

پيس : برص، د برګي مرض،

پيش : د وړو جينکو شرمګاه. نرغوټ، پش، د پيشو نر.

پيشاړه : ټوقه، ملنده، مسخره، پچموزه.

پيشتاکي : يو خاص قسم چرکه چې په قد وړه وي پيشتکي، مندري، قدوقامت کښې وړه،

پيشتکي : د پيشتکي مذکر، پوړي، انډرپايه، پارځنګ،

پيشو : بليګي، بليکي، د پيش ماده،

پيشوګي : پيشي، وړه نتکي، يا وړه نته، يو قسم چينجې چې خاربنت لګوي، پيشي، د وړې جينې دپاره د مينې تورې. وړه پيشو.

پيشونکړے : وړوکے پيش، د پيشو بچے.

پيشه : خړپکه، په مغزو اور بليدنه، مازغه خوټکيدنه.

پيشي : سخت زهر لرونکے يو قسم وړوکے مار، لنډی، لويشتی، لټکه، ګوسنه. د ماشومانو آله تناسل.

پيکه : بلمنګه، کم خواړۀ لرونکے، هغه رنګ چې شوخ نۀ وي. کچه، شرمنده.

پيل : اتي، فيل،

پينځلس : له څوارلسو نه يو زيات، د شپاړسو نه يو کم (۱۵)

پينځۀ : له شپږو يو کم او له څلورو نه يو زيات.

پي : د پښتو په حروف تهجي کښې د "پ" د حرف تلفظ،

پيښې : کرته، قميص، خت، د ارتو لستونو قميص.

پيټه : يو غټ او غوند کدو چې حلوا ترې جوړيږي، د

خناورو لرې کولمې وغیره،
پیټه کدو : پیټه غونډ کدو، د شودو کدو، پیټه.
پیټی : کمربند، هغه کمربند چې سپایان پرې ملا تړي، د فوځ او پولیس د ملازمینو د وردی هغه ټوکړے چې دوئ پرې ملا تړي او په ولو ئ کړخوي. د لرګي یا ګتې جوړه صندوقچه. د کارتوسو ګړدنی.
پیټے : بوج، بار، پند
پیچ : ول، تاؤ، د ګیډې درد، مروړ، پیچش، نس خوړے، هغه رخدار میخ چې په سر کښې ئ د تاوولو خاے جوړ وي. د مشین پرزه، چابي، کنجي، نوسے، پلے، د مینجو جوړولو پیکو.
پیچس : پیچش، د ګیډې مروړ، په لوے اودس ماتې کښې د رمې تللو مرض.
پیچکس : د پیچونو تاوولو او ټینګولو آله.
پیچل : تاوول، غښتل، پیچ ورکول.
پیچومے : ستغ، چرائي، ګران، مشکل،
پیچي : پیچ لرونکې څیز، پیچدار، تاؤ راتاؤ، تنګ، د میخونو یو قسم.
پیچیدګي : د پیچیده کیدو حالت،خند، مشکل، ګرانوالے.
پیچیده : ګران، مشکل، سخت.
پیدا : ښکاره، څرګند، جوت، زیږیدلے، بیامونډنه،
پیدا ګیر : مال پیدا کونه، ټک، په فریب مال پیدا کونکے.
پیداوار : د پټې یا باغ حاصلات، آمدن، حاصل، ګټه، نتیجه.
پیداوښت : پیدائش، مخلوق، مخلوقات، زیږیدلي څیزونه.
پیدائش : پیدا کیدنه،

زیږیدنه.

پیدل : پلے، پیاده، په خپلو پښو. پیاده لښکر.

پیر : چورلک، دور، چکر، نیولے،

پیرزو : سود، پرزو، پیرزوینه، نیکه خوښه، نیک خواهش.

پیرزوینه : پیرزو کیدنه، سود، تسلي، مینه، د زړه نیک خواهش.

پیرل : بونډل، اوډل، بنډل، په بون کښ جوړول، په بیه اخستل، پیرودل.

پیرو : پیروکار، پیروي کونکے، مرید، تقلید کونکے، پس رو.

پیروي : اطاعت، تقلید، پس روي، پیروکاري.

پیره : پهره، څوکی، ساتنه، ګردش، چکر، وار، ځل، نمبر، د سوداګری د مال یو خوا بل خوا وړنه،

پیریان : د پیري جمع.

پیریانے : پیریانو نیولے، هغه څوک چې پیریان پرې ناست وي. اوتر.

پیرے : پرے، جن، په نظر نۀ راتلونکے مخلوق.

پیر : مضبوط، غټ، پټه، د لښکری لرګے، د غنمو سپین بوس، په ګانی کښې د ګنې ورکولو کار.

پیرمار : پیر کونکے، په ګانی کښې د ګنې ورکولو کار کونکے.

پیړه : زغاله، څوغاله، د اخښلي شوو اوړو یو خاص مقدار چې روټی ترې پخولے شي. پیړه کچالو، پرسیدلے،

پیزار : څپلی، کوښی، بوټان، په پښو کښې د اچولو څیز.

پیزوان : د پوزې یو کالے، د خناورو په پوزه کښې اچولے کیدونکے پرے، ډنډر، پیزواندے، د پنجې دار پیزار هغه تسمه چې د دوۍ کوټو

منځ کښې راځي

پیزوالي : هغه ځناور چې پیزوان پکښې اچولے شي. مطیع.

پیزی : هجه. دځه، په ټکو، په جوړ، په زور زیر.

پیژندګلوي : پیژندنه، پیژندون، واقفیت، شناخت، تعارف، بلدتیا.

پیژلدل : علم لرل، خبر لرل، شاخت لرل، واقفیت لرل.

پیسه : یوه روپه پاکستانی سکه چې د روپی څلور شپیتمه حصه وه

پیش : پیښ، وړاندې، دوځار، مخامخ، ضمه، هغه اعراب "ُ" په علامت څرګندیږي او د نیم واؤ اواز ورکوي

پیش رفت : وړاندې تلنه، ترقي، وده.

پیش رو : مخکښې تلونکے، راهنما، رهبر، په هر کښې د خپل حد نه تیزي کونکے، د دښمن د پسپا کولو په ذریعه د جنګ میدان کښې وړاندې تګ،

پیش قوزه : پیشکوزه، چاړۀ، خنجر، ستوه.

پیشکش : ډالی، سوغات، تحفه، نذرانه،

پیشکي : پیشکي، سائي، بیانه، بیعانه، له وړاندې ورکړے شوے اجرت یا مزدوري.

پیشکوئي : مخکښې وینا، د حادثې یا واقعې د پیښیدو نه اګاهو د هغې په باره کښې اظهار کونه،

پیش منے : پیشلمے، پرشمے، د سبا د اذان نه مخکښې وخت، چې د رمضان په میاشت کښې مسلمانان هغه وخت پاڅي او خوراک کوي، سحري،

پیش نهاد : درخواست.

پیشوا : رهنما، لار ښونکے،

پیشواز : جامن، خلکي،

تیلک، هغه ګډوره چې ګډیدونکي ئې د ګډا په وخت اچوي. یو قسم زنانوال قمیص.

پیشه : کسب، چار، هنر، روزګار، عادت، خوئ،

پیښ: یو اعراب، پیش، ضمه، مخکښې، وړاندې شوے، پیش.

پیښه : ملنډه، نقل، ټوقه،

پیښیدل : حاضریدل، واقع کیدل، مخې ته راتلل، مخې ته کیدل، څهٔ واقعه پیدا کیدل، ناڅاپه په یو ځاے یا په چا تیریدل،

پیغام : پیام، خبر.

پیغامبر : پیغمبر، پیغام رسونکے، قاصد، نبي، رسول.

پیغلتوب : د پیغله کیدو حالت.

پیغله : ناوادهٔ شوې جینې،بالغه.

پیغمبر : وګورئ پیغامبر.

پیغمبري : رسالت، د پیغمبر کیدو حالت.

پیغور : طعنه، تانه، ملامته، بدې ردې،

پیکار : جنګ، جګړه.

پیکان : توبرے، غشے.

پیکر : شکل، جسم،

پیکو : پائیکو، د شولو مشین، د مینجو مشین.

پیکے : پیچکے، څټوکے، د تندي ویښتهٔ چې ډول ډپاره ساتلي شوي وي.

پیل : اغاز، ابتدا، شروع،

پیلامه : نښه، نښاني، علامه.

پیمان : وعده، عهد، قول، اقرار، لوظ.

پیمانه : د غلې دانې د پیمانه کولو لوښے، پیمانه کونه، مسطر، د ناپ تول آله، ډک، برجغ، برجق، خلې تر خلې.

پیمائش : کچ، ناپ.

پیمائشي : د پیمائش جوګه، کچ کونکے، ناپ کونکے.

پیمخے : ښائسته، ښکلے،

دولي، حسين،

پينځه : وربخله، د پرتاکۀ هغه حصه چې پښې تري بهر بنکاري.

پينډه : ګنډه، جمع، په يوۀ تالي راغونډ ناست کسان.

پيوست : جخت، متصل، خو، ته، پورې، سره، يو ځاې.

پيوند : جوړ، بند، توټه، دوه جوړونه يا توکي پخپلو کښې يوځاې کونه، ټانکه،

پيوندي : پيوند شوي، ټانکه شوي، مات هډوکي سره پيوندونه، جوړ لګولے شوے.

پيهم : متواتر، مسلسل، پرله پسې.

پے : د زمکې يو خاص مقدار. پريکړه، قطع، لږې ژورې اوبۀ چې پکښې پښې په زمکه لګي.

پے پے : دلې دلې.

ت : (تـې) د پښتو څلورم حرف چې د ابجد په حساب څلور سوه (۴۰۰) شمیر لري.

تاب : کرمي، تاؤ، طاقت، وس، توان، غصه، قهر،

تابان : رون، خلاند، څلنده، خلان.

تابدار : تاؤ لرونکے، کوږ ور، تـاؤ راتـاؤ تـاؤ شوے، روښان، خلان، خلاند، تابان

تـابع : ایل، مطیع، فرمان بردار، ماتحت، نوکر

تـابعدار : منونکے، فرمان بردار، مطیع،

تابعي : هغه مسلمان چې د رسول کریم صلي الله علیه وسلم صحابي نۍ لیدلے وي او تر مرګه مسلمان پاتې شوے وي.

تابناک : روښانه، رون.

تابنده : روښانه، تابناک، خلیدونکے.

تابوت : د لرګي هغه صندوق چې مړے پکښې دفن کولو دپاره ایښولے شي.

تـابیا : انتظام، بندوبست، تیارے، خان جوړونه، تکل.

تـاترین : ډیره ژوره کنده، ډیـره ښکته، تحت الثرې، دوزخ.

تـاثر : اثـر مـنـنـه، اثر قبلونه، اغیزه مننه.

تـاثیر : اثـر، اغیـزه، پدل، علامه، نښه، خاصیت.

تاج : د بادشاه یا ملکې د سر مخصوصه ټوپۍ،

تـاجدار : تـاج لـرونکے، بادشاه.

تـاجر : سوداګر، بیپاري، بیوپاري، تجارت کونکے.

تـاجور : بـادشـاه، صـاحب تاج، د تاج مالک.

تـاخ : طـاق، طـاقچه، توکے، په دیوال کښې دننه د ډیوې یا نور سامان د ایښولو ځاے.

تـاخت : مـنـډه، حـمـلـه، خفاسته، برید، یرغل،

تاخير : ډيل، سستي، ماتلي.
تادي : جلدي، جلتي، بيړه، تلوار.
تاديب : ادب ښودنه، تنبيه، زورنه، سزا.
تار : د سپينو يا بل کوم څيز نه جوړ شوے مزے يا نرې رسۍ چې د مختلفو کارونو مثلاً تيلي فون، بجلي، شپول او د موسيقي د الاتو وغيره دپاره پکارېږي. تيلي ګراف، تيلي ګرام. د نشې د ختلو حالت، ناجائزه تعلق.
تاراج : تباهي، حمله، لوټ، شوک، تالان، غارتګري.
تار په تار : خوارۀ وارۀ، تتر بتر، تس نس، دانه دانه، تيت، ګډوډ.
تار تار : شليدلے، څيرې ويړې، بيل بيل، خوروور.
تارکول : هغه تور تيل چې د سړکونو د پخولو په وخت د باجرۍ دپاسه اچولے شي.
تارو : تور تنخرے، تاروګے، د تنخرې د کورنۍ يو خوږ اواز لرونکے مارغۀ.
تاريخ : تاريک، نيټه، د عدالت د پيشي ورځ، د يو قوم په سياسي واقعاتو مشتمل داستان او د هغې علم.
تاريک : تاريخ، نيټه، تيارۀ، تورۀ، تورتم، دوند، تيره غونې، ترغونې.
تاريکي : تيارۀ، تاريکه.
تاراک : شبخون، لوټمار، چپاؤ، يرغل، کړاک، کړاو، رنځ، غم، مصيبت، چور، تالان، لوټ.
تازګي : شين والے، طراوت، تازه والے، څربښت، خوږب والے.
تازه : شين، غوړيدلے، ښيرازه، تنکے، د مړاوې، زوړ او باسي متضاد.
تازي : د عربستان باشنده، د عربستان ژبه، عربستان سره تعلق لرونکے.
تازيانه : متروکه، چابک،

بینت. تنبیه، دبکه، هدایت، خبردارے.

تاسف : افسوس، ارمان، خواشیني، حسرت، پښیماني، زړهٔ سواندي، .

تاسو : تاسي، تاسے، د تا جمع.

تاسیس : اساس، بنسټ، بنیاد، موسسه، پرانسته، ایجادونه.

تاغیر : متغیر، بدل، مبدل، هغه څوک چې د رنځ، یا غم په وجه ئ رنګ بدل شوے وي.

تاکید : تقاضا، کوشش، تینګار، پخلے.

تال : لوے بنانک، د مصنوعي مالکي تالاؤ، د موسیقی وزن، چال، رفتار،

تالا : تباه، لوټے شوے. تالهٔ، ژرنده، قلپ، قفل، وګورئ تاله.

تالاب : تالاؤ، حوض، د اوبو ډنډ.

تالا ترعه : لوټے شوے، تالا والا، تس نس.

تالاش : تلاش، لټون، لټونه، غوښتنه، ډونډ، تکل، کتنه، بیړه، چالاکي.

تالان : شوکه، لوټ، چور، ګډبډتیا.

تالا والا : لوټ شوے، چور شوے، تاراج شوے، تالا شوے، تباه شوے، تالا ترغه،

تالنده : د اسمان تنها، تنا، غړا، غرنده، ګډګډوز، تندر، رعد،

تاله : قفل، قلپ، جرنده، ژرنده. لوټ شوے، چور شوے.

تالیف : یو ځای کونه، کتاب لیکنه، تصنیف، دوستي کونه، په لفافه کښې بندونه،

تامکش : هغه پلنه غټه څمڅی چې دیګمار پرې د دیګ نه وریژې راخلي.

تامل : غور کونه، فکر کونه، سنجونه، سوچ، وقفه، دمه،

صبر، برداشت، تذبذب.

تان : د خامتا خادر چې دولس ګزه وي. د کپړې یو مقدار چې د شلو نه تر پنځوسو ګزو پورې وي. د خاروو ترلو خای.

تانده : تانده، تازه، تنکی، بنیرازه، تروتازه، سمسور، اډن، پیور خاروی.

تانده : تانده، بنیرازه، سمسوره، امیندواره بنځه، روانې اوبه، تازه لنګه شوې غوا میښه.

تانګ : هغه پتی چې د خناورو د ملا نه تاؤ شوې وي او زین یا کتنه وغیره پرې مضبوط شوې وي.

تانګه : تانګه، تمتم، بګی، د دوو پایو یو ډیر مشهور سپک ګاډی چې اس یا اسپه ئې راکاږي.

تانیث : د تذکیر متضاد، بنځینه جنس،

تانه : د پولیس لویه څوکی، د اولس د نظم و نسق انتظامي اداره. تنسته، تنه، د بودې ضد.

تاؤ : تورواله، تودوخې، ګرمي، تپ، حرارت، تودوخه، سوزش، تیز والی، چټکتیا، ګرندې نوب، زور، شدت، غصه، قهر، ول، پیچ، د ګیډې درد، کوږوالی، بریښ، سوخت،

تاوان : زیان، نقصان، ضرر، تروتې، جرمانه، پور، قصور، جرم، د نقصان تلافي.

تاؤ راتاؤ : کوږ راکوږ، نغښتې، منجیله شوې.

تاوول : تاوهل، چورلول، غښتل، غصه کول، ګرمول، تودول.

تاویدل : چورلیدل، چکر خورل، تاؤ خورل، غښتلے کیدل، څرخیدل.

تاویل : تعبیر، شرح، تفسیر، معنې کونه، د خوب تعبیر، شرعي بهانه،

تاهم : بیا هم، خو، خو بیا هم، په دې هم، سره د دې.
تائید : تقویت، مدد، طرفداري، ملګرتیا، رعایت.
تایب : توبه کونکے، توبه ګاریدونکے، توبه ایستونکے،
تباخ : طباخ، بنانک، تال، تبخ، تلبر، تالبر، تبخے، تیغنه، تبی.
تبادله : بدلي، تبدیلي، بدلیدنه، عوض ورکونه، بدلون، ادل بدل.
تباه : برباد، خراب، ویجاړ.
تباهي : بربادي، ویراني، تباه کاري.
تبخے : تیغنه، توبی، تبی، تباخ. پلن هلوکے چې عام طور سره د لاسو پښو په آخر کښې وي.
تبدیل : بدل، بدل شوے.
تبر : د لرګي لاسکے لرونکے د وسپنې آله چې د ځان د حفاظت او د لرګو د ماتولو دپاره پکارولے شي. د بنځو په قمیص کښې د ډوډي یا د ترخ جیب، تبرغالے.
تبرک : خورده، خوړده، د برکت څیز، برکتي، د بزرګانو یا د دښو خلقو د یادګیرنې څیز.
تبریک : تبارکي، مبارکي، بنادمني، چاته د برکت دعا کونه.
تبزه : د کاني تخته، د کاني نه جوړ شوے تبخے، تبز.
تبژن : لږ شان ګرم، نیم ګرم، تبې نیولے،
تبسم : مسیدل، مسکے کیدل، مسیدهٔ.
تبصره : یو موضوع روښانه کول، یادونه، نوټ، بینا کونه.
تبق : تبک، طبق، تبخ، د څاروو یوه بیماري چې په خلهٔ او پښو ئ راځي.
تبلیغ : خلقو ته شرعي حکم بیانونه، پیغام رسونه، خبر رسونه، وعظ، نصیحت، د خدای رسول صلي الله علیه وسلم د لارې خبرونه،

پروپیګنډه.

تبه : یوه بیماري چې د بدن درجه حرارت پکښې د ۹۸ فارن هیټ نه زیات شي او ټول بدن کښې درد محسوسیږي، بدن ګرم شي

تبی : د کانې تخته، کانې، تیږه، تیغه، هغه آله چې په انغرې پرې دوډی پخولے شي.

تبے : ترکاری ته د غوړو سرهٔ کونه، ترکه، داغ، بګار.

تپ : ګرمي، تاؤ، برداس، تبه، لیو، هوارے.

تپانے : څپیاکه،غوشوے، تپنے، سوبارے، هغه لرګے چې جامې پرې وینځلے شي.

تپچه : د مرزانو نیولو دپاره استعمالیدونکې یوه دستي آله چې غږولے شي او په اواز ئ مرزان راځي.

تپل : پوري کول، بندول، لیو او تب ورکول، په غاړه کول، پیوند اچول.

تپلے : تپلے، چې مخ ئ هوار نهٔ وي، تپسي تپي مخ لرونکے، هغه کس چې مخ ئ د غټو ننکو په وجه ټکي ټکي شوے وي.

تپنے : سوبارے، تپانے، د جامو وینځلو لرګے، څوبارے.

تپوس : تفحص، پوښتنه، د سوال جواب غوښتنه، بیمار پرسي، حال احوال معلومونه.

تپه : ډله، ټولے، قبیله، طائفه، د ملک یوه حصه، علاقه، سیمه، غونډی، شاګی، خټ، ډبه، پشته، ډپه، د تیاري کلمې سره یو ځاے راځي لکه تپه تیارهٔ.

تپیره : کچه خښتې جوړونکے، تپیرے.

تپے : داغ، خال، خاپ، ټکے، خول.

تت : کم رون، کم روښانه، کمه رنا لرونکے. جوخت، پیوست، جخت، پرله پوري،

تینګ، هغه څیز چې روښانه نه وي، خړ، تړتړے، خفه، غمژن، بې طبعي، مړاوے، خجل، ړوند.

تتبع : تحقیق، څېړنه، وروسته تلنه، تقلید، پیروي، نقل.

تتمه : بقایا، بچ شوې، ضمیمه، د کتاب هغه وروستی برخه چې ورسره زیاته شوې وي.

تتوره : چاپېراخه، څېړه، تپره، تماچه.

تجارت : بیوپار، سودا ګري، تاجري، لین دین،

تجاوز : د حد نه اوړیدل، زیاتے، تیرے،

تجاهل : ځان ناجانه کول، ځان ناپوهه کول، قصداً سترګې پټول،

تجدید : جدید کول، له سره شروع کول، نوے کول، زوړ شے په نوي طرز پیش کول.

تجربه : ازمائش، ازمائښت، ازمیښت، یوه مسئله په عمل ثابتونه، عملي زده کړه.

تجرد : د جړه کیدو حالت، د مجرد کیدو حالت،

تجرید : یواځې کول، بیلول، لوڅول، برېنډول، روح د مادي فکرونو نه پاک ساتل، توره له تیکي ایستل، د ونې خصې کول، د مجرد کیدو حالت،

تجزیه : د یو مرکب څیز بیلونه، د یو موضوع په بیلو بیلو برخو بحث کول، جزو جزو کول.

تجسس : لټون، تلاش، تحقیق، جاسوسي کونه، جستجو، پلټنه، لټونه.

تجلا : رڼا، تجلي، خلا، جلوه.

تجمل : جمال، ښائست، شان و شوکت، زیب و زینت.

تجنیس : د یو جنس سره یو ځاے کونه، هم جنس کونه، د علم بدیع په اصطلاح

کښې هغه صنعت چې هم شکله کلمې په بیلو بیلو معنو سره استعمالولے شي.

تجوري : کلـه، غـله، هغه صندوق چې شتـهٔ من خلق پکښې خپلې پیسې سمبالوي.

تجوید : نیکې کول، بنهٔ کار کول، هغه علم چې د قرآن مجید په تلاوت کښې د مخرج نه د حرفونو د ادائیګی طرز بنیي.

تجویز : رائ، تدبیر، انتظام، بندوبست، له یو نه زیاتو تدبیرونو کښې یو ته ترجیح ورکول.

تجهیز : تیارونه، برابرونه، سمبالونه، مړے د بنخولو د پاره تیارول.

تحت : لاندې حصه، اختیار، قبضه، کوزه، لاندې، بنکته.

تحدید : محدودول، حد جاري کول، سزاوار کول.

تحریر : لیک، خط، لیکنه، **تحریص** : حرص ورکونه، وچتونه، ترغیب، دوکه، اغوا.

تحریف : ګرځونه، اړونه، بل شان کونه، بدلونه، د یو توري په ځاے بل توري ایښونه.

تحریک: حرکت ورکول، خوځول، هڅه، کوشش، لمسون، څهٔ خبره شروع کول، ډله جوړول.

تحریم : حرامول، مردار ګڼل، عزت کول، د نیت ترلو په وخت لاسونه وچتونه او الله اکبر وئیل.

تحسین : شاباشے، ستائنه، صفت کول، بنهٔ ګڼل،

تحصیل : حاصلول، لاس ته راوستل، ټولونه، کچهرۍ، د ضلعې وړه انتظامي حصه.

تحفظ : ساتنه، ژغورنه، حفاظت، بچاؤ، یادونه، زده کونه.

تحفه : سوغات، بخشش، پیشکې، ډالی. عجیبه یا نادر

خیز، انعام.

تحقیر : ذلت، سپکاوے، بې عزتي، سپک کنل، سپک والے.

تحقیق : حقیقت معلومول، څیړنه، لټونه، پلټنه،

تحلیل : حل کونه، حل کیدنه، یوه موضوع برخو کښې ویشل.

تحمل : صبر، زغم، برداشت.

تحول : انقلاب، بدلون، اوړیدنه.

تحویل : حواله کول، سپارل، د یو څیز د یو خاے نه بل خاے ته اړونه یا چا نه حواله کونه. قبضه، قدرت،

تحیات : د تحیة جمع، دعاګانې، سلامونه، پیش کشي.

تحیر : حیرت، حیرانتیا، حیراني.

تخت : د بادشاه د ناستې خاے، له لرګي جوړ د ناستې مسند.

تخته : د هر څیز پلنه وړده او هواره ټوټه، دړه، هر پلن او هموار څیز، پور، ډک، چوکی، پیړی، د مړي د لامبولو د نرګي وړده او پلنه ټوټه، جخت یا پیوست څیزونه، کیاري، د زمکې وړه ټوټه، بورډ.

تخته پوش : د مانځهٔ دپاره د لرګي جوړ چیت میز، په تخت د اچولو څادر.

تختی : د لرګي مستطیله تخته چې ماشومان پرې لیکل زده کوي.

تخرګ : ترخ، بغل، خوا، څنګ.

تخریب : زیان رسول، خرابول.

تخریبي : د تخریب سره متعلق.

تخصیص : تاکنه، تعین کول، خصوصیت، مخصوص کول.

تخفیف : کمول، لږول، رابښکته کول، د نوکرانو کمول.

تخلص : هغه وړوکے نوم چې شاعران ئې عام طور سره د خپل اصلي نوم په ځاے په شاعرۍ کښې استعمالوي.

کسر. تریدنه، ترهیدنه.

تخلیق : پیدا کول، زیږول،

تخلیه : تشول، خالي کول، پواځي والے، خلوت.

تخم : زرے، دانه، اصل، نسل، نژاد، خټه، ها، اګی، اویه، هویه. د خلې ځګ، د کټوی یا دیګ ځګ.

تخمین : ګومان، اندازه، قیاس، چاج.

تخمیناً: په اندازه، په تخمینه، تقریباً.

تخمینه : اندازه، قیاس، چاج، بجټ، میزانیه.

تخنول : تخنول، ختنول، تحریکول، شوق وروستل، تحرک د پښو تلي یا نورو داسې اندامونو له په دې مقصد ګوتې وروړل چې بنده وخندوي.

تخنیدل : د تخنول لازمي حالت. د خندا حالت پیدا کیدل، ختنیدل، تخنیدل،

تخویف : ویرول، درکه کول.

تخیلي : خیالي، تصوري، د تخیل سره متعلق.

تخییل : تخیل، تصور، خیال، ګومان.

تدابیر : د تدبیر جمع، تدبیرونه.

تدارک : انسداد، منع کول، تیارول، اماده کول، تابیا، تابیه، تدبیر، بندوبست، د کومې اشتباه یا غلطی راګرځول، پته لګول، درک کول، موندل،

تداوي : دارو، علاج، دوائي کول، علاج کول،

تدبر : تدبیر کول، فکر کول، هوښیارتیا.

تدبیر : سوچ، خیال، فکر، غور، انتظام، بندوبست.

تدریج : په مزه مزه، درجه په درجه، ورو ورو، پوړی په پوړی.

تدریجاً : په تدریج، په مزه مزه، په ورو ورو.

تدریس : درس ورکول، لولول، سبق، تعلیم.

تدفین : دفن کول، ښخول.

تدوین : راټولول، تالیفول، مرتب کول، دیوان جوړول،

تذبذب : شک، شبه، حیراني، تردد کیدل، دوجاله توب،

تذکره : ذکر، بیان، یاداشت، یادونه، تبصره، د لویو شخصیتونو په احوالو مشتمل کتاب.

تذلیل : بې عزته کول، سپکول، ټیټول، ذلت، رسوا کول، ذلیل کول.

تر : د ربط حرف چې د فاصلې انتها ښکاره کوي.

پورې.

تراب : خاوره، خټه.

تراټ : ترپ، خیز، توپ، وچتیدنه راخلاصیدنه. تیز زغل، تیزه منډه، زغاښت، ترټه، تړاټ، د غلې اچولو انډیرے، خمبه،

تراجم : د ترجمه جمع، ترجمې.

تراځۍ : وګوری تارخۀ. د تریخ جمع.

تراره : ویره، ډار، خوف، ناقراري، ناقلاري،

ترازو : تله، کنډه، ترکړی، د وزن کولو آله، میزان.

تراژه : ټنکره، پره، دړه، قاش، د خټکي یا هندوانې ټنکره.

تراش : تورپل، تراشل، طرز، طریقه، ایجاد، جوړښت، سینګار.

تراشل : تورپل، ژوبلول، زخمي کول، خورګ ورپل.

تراکیب : د ترکیب جمع،

رایو خاے کول، تدبیرونه،
ترانه : سندره، نغمه،
تراویح : تراوي، هغه مونځ چې سنیان یې د روژې په میاشت کښې د ماسخوتن له مانځه سره ادا کوي.
تراوي : وګورئ تراویح.
تربت : تربته، خفه، پریشانه، تنګ، زهیر.
تربت : خاوره، قبر، مزار، ګور.
تر بسه بسه : ډیر زیات، تر وسه وسه.
تربګني : تربورولي. تربوروالے، دشمني.
تربور : د ترهٔ خوے، د کاکا خوے، د اکا خوے، دشمن.
تربوزک : تامبوزک، تمبزک، هغه څادر یا پتکے چې خلهٔ او پوزه پرې پټولے شي.
تربیت : پالنه، پرورش، روزنه.
تربیه : تربیت، پالنه، د ادب او د اخلاقو د ښودنې چاره.
ترپال : کلک، پیر او غټ د جیم یا موم جامې څادر چې د باران یا نمر نه د بچ کیدو دپاره پکارولے شي. تراپر،
ترپکه : ارغنجکه، توپ، غورډانګه، غورزنګ، ترټکه، ترانجکه، بې ترتیبه توپ، تیزه مندیه، پښې په زور سره په زمکه وهل.
ترتیب : تنظیم، سمبالے، برابرے، د څیزونو په خپل خاے ایښودنه.
ترتیل : په خوش اوازی سره صفا صفا لوستل.
ترتیل : رتیل، شرل، سپکول، کوږې کول، د خان نه شلول، شړتول.
ترجمان : مترجم، هغه څوک چې د یوې ژبې مطلب یا معنې په بله ژبه کښې بیانوي، هغه څوک چې د دوۍ کسانو ترمنځه چې د یو بل په ژبه نهٔ پوهیږي د خبر

رسان فرائض سر ته رسوي.
ترجمه : له يوې ژبې نه بلې ژبې ته اړول، ژباړه.
ترجيع : په ستوني کښې د اواز کړخونه، بيرته اخستنه.
ترځ : څنک، څنګزن، په يو طرف کول، سخته خبره، څنک، ډډه، بې ارامي.
ترحم : زړهٔ سوے، رحم او زړهٔ سوخيدنه، رحم لرنه.
ترخ : تخرک، بغل.
ترخځ : هغه ټوټه چې د قميص په تخرک کښې اچولے کيږي.
تردد : نازړهٔ والے، تزلزل، دوجالي، تذبذب، تګ راتګ، ګڼه ګوڼه، محنت، کوشش، زيار، د دستونو ناروغي.
تردید : رد کول، منسوخ کول، د يوې خبرې د صداقت خلاف څهٔ رائ ښکاره کول.
تره : د کبل ځيلې، کبله، بروه، مرغه، يو قسم وابنهٔ، زغل، منډه، دؤ، تراټ، تکليف، ستونزه، ربړ، د باران نوی شيبه، نوے باران.
تړمی : د مابنام لړه چې لا تيارهٔ پوره نهٔ وي خوړه شوې. هغهٔ شپه چې سپوږمی پکښې نهٔ وي.
ترس : ويره، بيره، ډار، رحم، مهربانې، زړهٔ سوے، زړهٔ خوږے، خوا خوږي.
ترسا : مسيحي، عيسائي، نصراني، آتش پرست.
ترسان : ويره کونکے، ويريدونکے.
ترسناک : ترس کونکے، رحم کونکے.
ترسنده : ويريدونکے، ټرس کونکے، زړهٔ سوونکے.
ترش : تريو، تروش، تاک، پوک، بوټ، بروس.
ترشي : د ترش کيدو حالت، اچار، تراوهٔ څيزونه، سرکه، تريو والے.
ترښځ : د ترکانانو يو اوزار چې لرګے پرې تورلے او

ماتولے سي

ترصیع: د نظم یا نثر کلمات په وزن و قافیه مرتب کوبه. مرصع کول

ترغولې: د ماښام حړه، تروږمي. په کومه خاے کښې چې لږه شان تیاره خوره شي.

ترغیب: رغبت ورکونه، لمسونه، پارونه،

ترقي: وده، سرنېدل، ختل، رفعت، پرمخ تګ، وړاندې تګ، پرمختیا، لوړوالے، انکشاف، لوړې درجې ته رسیدل

ترک: سنړ د سله. هغه تله چې د ګډ سدار ریکښې ګن شمیر حروره په یو وخت تللے شي لویه تله

ترکاري: سبزي، تلکاري.

ترکاڼ: پښتو. د لرګي کار کوونکے، استکار، ترکن، د یوې مرغۍ نوم، ټکټکے، ټکټکانے.

ترکش: د غشو ایښو شخول، ترکښ.

ترکه: د میراثي مال ویش، په میراثي مال کښې د هر یو برخه لرونکي برخه معلومونه.

ترکیب: ساخت، جوړونه، طریقه، چل، فریب.

ترله: د ترۀ لور.

ترمامیټر: د درجه حرارت د معلومولو یوه آله.

ترمباز: چرمباز، د غوبل هغه غونے چې په قطار کښې د ټولو نه دننه تړلے وي. د ناوې غونے

ترمکیا: بسه، چړ کاؤ، پونه کونه، ترمکا.

ترمیم: اصلاح کول، بیا سمول، یا جوړول، بیا تیارول، ردوبدل کول.

ترناؤ: ترنا، تری، ناوه، هغه لویه ناوه چې د لښتې یا ولې نه پرې بلې غاړې ته اوبۀ اړولے شي. وله، ویاله، د اوبو لښتے.

ترنجبین: ترنګبین، د خاص قسمه ازغو یوه خوږه

شیره په طب کښې د توخې او د سینې د درد دپاره استعمالولے شي.

ترنگر : لوے کور، کرلښه، کرلاښۀ، وړوکے کمبو، د میزرو نه جوړ شوے کمبو، ترنگن.

ترنگن : ترنگر، جوال، وګورئ ترنگر.

ترنم : په خوږ اواز وئیل، پوزه کښې خبرې کول،

تروتازه : شاداب، شین، ډیر تازه، ډیر خوشحال.

تروټه : چټې، ناوان شوے، ذلیل،

ترور : د پلار یا د مور خور، مشرې ښځې ته د احترام کلمه.

تروړه : وړه بوجې، هغه بوری چې پوره ډکه نه وي.

تروړی : لومبړه، ګیدړه، تروری.

ترویج : رواج ورکول، دود کول.

تروي : شوملې، شړومبې، شلومبې، شنیبې.

ترویټ : د نجوم علم، فال معلومول، فال ګڼې، پال ګڼې.

تره : ترازه، تنګره، پره. د بادرنګ د کورنۍ یوه سبزي چې وړده وي. ناوه، پرنالـه، غوندې، په شان،

تره غوني : د مابنام تیارۀ، د مابنام خړه، تروږمی،

ترۀ : کاکا، د پلار ورور، چاچا، هر مشر سړي ته د احترام تورے.

ترهور : تردد، ډیر زیات ناقرار، ویریدلے، وارخطا، هک پک، حیران، ړوند، بې ستر ګو.

ترهه : تره، ډار، ویره، ترس، خوف، اندیښنه.

ترهیدل : تریدل، ویریدل، ډاریدل، وارخطا کیدل.

تري : شکره، نوره، د پخوانی زمانې یوه ډیره میده سپینه بوره. نم داره رمکه،

شبنم، تازگي.

تریاق : د زهرو اثر ختم کونکے یو قسم دارو، زهرمهره، اپیم، تریاک.

تریخ : د خوږ ضد. د مرچکي په شان خوند لرونکے. غصه ناک، سخت مزاجه، خشکي، گران، سخت، مشکل، بې خونده، خراب، غیرتي، همتي، مړنے.

تریخے : زهره، زاره، د انسان او حیوان په گیډه کښې دننه یو اندام. ننگ، غیرت.

تریناک : ترهد، ترند، وحشي، روږ بار، ساتلے بار، بنکاري باز، اموخته باز.

تریښگړی : تریښگلی چوتکی، تینگړی،

تریو : ترش، تروش، ناک، غصه ناک، قهریدلے

تړي : تړي نه، خني، له هغه څخه.

تړ : غوټه، غنډه، گنډه، د اوبو بند، لویه گټه، تیره، تحویر، قرارداد، اتفاق، تړون.

تړتړو : د مړی غوټه، گړگړو، گوړگوړو

تړتړے : تنږے، تورے، چارے، هغه څوک چې ژبه ی نښلي

تړتقه : تړتکه، د ناقراری او درد لـه کبلـه تپوپ، د حلال کړي څاروي تپوپ، تړتک.

تړکه : داغ، د سرو کړو عورو بگار، دباؤ، ډرکه، گوابش

تړل : د دوړ یا زیاتو څیزونو تر مخـه تعلق پیدا کول، غوټه کول، بندول، پابندول، بـند کـول، جوړول، د تار، مړی یا پرې په ذریعه سره نښلول

تړم : لږ سان گرم، نیم گرم، ډوډۍ

تړمول : لږ تودول، تودول، نه تاؤ ورکول.

تړون : تړنه، غوټه ورکول.

قاعده، رسم، دود، دستور، قرارداد، رابطه، تعلق، بندیز، تړه، باغه، اتحاد کونه، اتفاق کول.

تړه : لار، لاره، سخته زمکه، اراده، مقصد، وعده، لوظ، د تیري خوکي غونډۍ، لویه غټه کلکه تیږه، دود، دستور. رواج

تزکیه : پاکوالے، پاکونه

تـزلـزل : رپـا، رپیدل، ږیږدیدل، لړیدل،

تزویر : چل، چل ول، فریب، ټکي، دوکه.

تزیین : ښکلے کول، ښائسته کول، سینګارول. مزین کول.

تـمـے : تندي اخستے، د اوبو څښلو خواهش مند،

تساهل : سستي، غفلت.

تسبـه : تسپـه، تسبیح، د لرګي، شیشي، مالي وغیره په جوړه هغه دانه چي مزي کښي ورو داسي دانو سره پیلي شوي وي.

تسبیح : تسبي، د تسو امیل، د الله پاک بادول، ورد، وظیفه.

تسخیر : په قابو کښي راوستل، تابع کول. ګیروول، مسخر کول.

تسکوره : سکوره، د لرګي او د وسپي وږد مخ لرونکي هغه آله چي د رمکي کسټلو دپاره پکاریږي.

تسکین : تسلي، سود، اطمینان، قرار

تسل : داد، اطمینان.

تسلسل : سلسله، یو بل پسي کیدنه، پرله پسي کیدل، متواتر.

تسلط : مسلط کیدل، په قابو کښي راوستل، بریالے کیدل،

تسله : تسل، تسلي، داډ، اطمینان.

تسلي : سود، داډ، تسله، داډ ګیرنه، اطمینان، تسل.

تسلیم : منه، قبلونه، غاړه

ایښونه، تابع کیدل، سلامي کیدنه، سپارنه، حواله کونه

تسمه : د خرمني وړده نری ربښنه، د خرمني پټی. کمر بند، ملاتړ، پټه.

تسمیه : سوم ایښونه، بسم الله وینه.

تس نس : تیت پرک، کمزوری، خوارۀ وارۀ، زړ حلاص شوے، تمام شوے

تش : حالي، ډډ، کوک، بې معنره، فقط، ایله، یواځې، محض، صرف، فرض رکعتونو کښې د دوۀ وړومبو رکعتونو نه پس ته رکعت یا رکعتونه. د هغې د انزال نه پس د آلت حالت.

تشاکل : یو شان کیدنه.

تشبیب : د قصیدې تمهید چې شاعران پکښې عام طور سره د عشقیه تاثر مضامین پیش کوي.

تشبیه : مشابه کول، د دوۀ څیزونو یو بل سره مشابهت.

تش لور : بالکل خالي. بیحي تش. حالي لاس. ناکاه، پاتي، محروم، بې برخې.

تشخص: امتیاز. شخصیت، انفرادیت

تشخیص : د ناروغی وجه معلومونه، تاکل، تعینول، اندازه نکول، بیلونه، فرق کونه.

تشدد : سختي. زیاتے، جبر، سخته رویه.

تشدید : زور اچونه، انتشار پیدا کونه، د شد علامت ورکونه.

تشریح : شرح کونه، بیانونه، وضاحت.

تشریع : شریعت ورکونه، قانون ورکونه، لاره ښونه، په سمه لار اچونه.

تشریف : عزت ورکونه، شرف ورکونه، بزرګي ورکونه، لویي ورکونه، درونلوالے.

تشفي : تسلي، سکون، دل جمعي.

تشکیک : په شک کښې اچونه، اندیښنه، شبه.

تشکیل : جوړښت، تاسیس، جوړنه.

تشلمه : کچلمه، دشلمه، یوه شیرینې چې چایو سره خوړلے شي.

تشناب : غسل خانه، چارچوبی، چرچوبی، چمچوبی.

تشنج : د وجود اعصاب بې حسه کیدنه، د لاسو پښو کړیدنه، پټنس.

تشنه : تږے، اوبو ته لیواله، د اوبو څښلو خواهش مند.

تشول : خالي کول، ډډول، کوکول، خلاصول.

تشویش : پریشاني، فکر، سوچ، سودا، اندیښنه.

تشویق : لمسونه، هڅونه، ترغیبونه، شوق پیدا کونه.

تشه : خالي، ډډه، د زمکې دپاسه د هوا کره، فضا.

تشهد : کلمه شهادت لوستنه، دویم او څلورم رکعت کښې په ناستې کلمه شهادت وئینه.

تشهیر : شهرت ورکونه، مشهورونه، شرمونه، مسخره کونه، رسوا کونه، په غلط کار د خلقو په منځ کښې رسوا کونه، مخ تورونه او په خړه سورونه.

تشیدل : خالي کیدل، ډډیدل، کوکیدل، انزال کیدل، د ګیډې خالي کیدل.

تشے : د انسان او حیوان د پُښتو نه لاندې او د دوډې دپاسه خالي ځاے.

تښتول : په منډه کول، خغلول، په زور بوتلل، اغوا کول، لرې کول، پرول، شکست ورکول.

تښتیدل : په منډه کیدل، خغلیدل. د بنځې خپل کور پریښودل او چا پسې تلل، پریدل، د څه خبرې نه په څنګ کیدل، شکست

خوړل.

تصادم : ډغره، ټکره، په خپلو کښې جنګيدنه، کرچ، د دوو کسو جنګيدنه.

تصانيف : د تصنيف جمع وګورئ تصنيف.

تصحيح : صحيح کونه، سمونه، اصلاح کونه، غلطي لرې کونه،

تصدق : صدقه، قرباني، خيرات.

تصديق : د تکذيب متضاد، رښتيا ګڼنه، تائيدونه، صداقت، تائيد، شهادت، شاهدي.

تصرف : قبض، اختيار، تبديلي راوستنه، ګوتې وهنه، خرڅ، صرف.

تصريح : شرح، تشريح، تفصيل، صفا صفا څرګندونه.

تصريف : صرف کونه، خرڅ کونه، اړونه. ګرځونه، د صرف علم.

تصفير : وړوکوالے، کوتاهي، هغه اسم چې وړوکے ظاهروي.

تصفيه : صفائي، صفا کونه، چاڼونه، فيصله، بيباقي، ثالثي، د معاملاتو حل کونه.

تصنع : جعل، تکلف، ظاهري نمائش، ځان ښودنه، دوکه، فريب، جعلسازي.

تصنيف : طبع زاد کتاب ليکنه، ټولګي ټولګي کونه،

تصور : خيال، سوچ، انديښنه، ګومان.

تصوف : لـه نفساني خواهشونو پاکيدنه، الهي اخلاق اختيارونه، هغه علم چې د هغې په ذريعه د زړه تزکيه کيږي او د انسان او خدائے تر منځه تعلق پيدا کيږي.

تصوير : انځور، عکس، نقش، بُت، صورت، څهره، څيره، خاکه، شکل.

تضاد : ورانوالے، ضد، د نظم او نثر هغه صنعت چې

مخالف لفظونه پکښې یو خاې راشي.

تضحیک : په چا پورې خندنه، توهین، ذلت، رسوائي

تضرع : زاري، عاجزي او عنر کونه.

تضلیل : ګمراهونه، په چا د ګمراهی حکم کونه.

تضمین : ضمانت کونه، ذمه وهنه، ذمه واري، د چا په شعرونو باندې داسې بندونه جوړونه چې د هر بند وروستی او له وروستی نه محکښې مصرع دواړه د اصل شاعر او نورې مصرعې د بندونو د جوړونکي شاعر وي.

تطابق : مطابقت، برابریدنه، متفق کیدنه، د نثر نظم یو صنعت چې د شعر لفظونه پکښې داسې راشي چې یو بل سره مناسبت لري.

تطبیق : مطابقت، موافقت، عملي حامه وراغوستنه، اجرا کونه.

تطهیر : پاکونه، صفا کونه، وینځنه،

تعارض : تیرے کونه، ریاتے کونه، سره نښتنه، برید کونه.

تعارف : واقفیت، پیژندګلو، اشنا کیدنه، یو بل سره پیژندنه، معرفي.

تعاقب : چا پسې اپه کونه، شکست خورلے لښکر یا فرد په منډه را اړونه

تعالیٰ : د الله د نامې نه پس راتلونکي کلمه چې معني ئې بلنده، عالي مرتبه، له ټولو صفتونو وچته ده.

تعامل : رسم و رواج، دود دستور، رواج، یو په بل اثر کونه.

تعاون : مرسته، ملګرتیا، مدد، کومک.

تعبیر : عبارت کښې راوستنه، تفسیر، ساویل، د خوب معنيٰ ښینه.

تعجب : حیرانتیا، حیراني،

حیرانکی.

تعجیل : تسوار، تادي، جلدي، جلتي.

تعداد : شمیر، سمار، ګنتي.

تعدي : زور ظلم، جبر، زیاتے، د حد نه تجاوز کونه.

تعدیل : صحیح کونه، درستونه، څه څیز د بل برابرونه.

تعذیب : خوروونه، ربړونه، عذاب ورکونه، کړونه، په عذابونه.

تعرض : حمله، یرغل، برید، تیرے، تجاوز، ورختنه.

تعرف : پیژندګلو، تعارف، معرفي، بلدنیا، بلدیدنه.

تعریف : صفت، مدح، ستائنه، خوبي، شناخت، پیژندګلي، د یو څیز جامعه او مانعه معني.

تعزیت : غم خواري، خواخوږي، د مړي د پسمانده ګانو سره د همدردی اظهار.

تعزیر : رټنه، غندنه، ملامتونه، تاوان. ګوښمالي، هغه سزا چې په قرآن شریف کښې ئ ذکر نه وي او د قاضي په خوښه ورکولے شي. دبکه، درکه.

تعزیه : غم رازي، تعزیت،

تعصب : مرسته، طرفداري، ننګه، هوډه، په څهٔ ټینګیدنه، کرکه، کینه، بغض

تعطل : اټالیدنه، معطلیدنه، ماتل کیدنه، وزګاریدنه، بیکاري.

تعطیل : رخصت، چوټي، چُټي، وزګارتیا، بیکاري

تعظیم : لوے والے، ستر والے، ادب، عزت، دارمدار. خاطر، درنښت، احترام.

تعفن : وړم، بوی، سخا بوی.

تعقل : هوښیارتیا پیدا کونه، عقل لرنه، غور کونه، عقلیت پسندي.

تعقیب : چا پسې تلنه، څارنه. د نمانځهٔ نه پس د

وظیفې دپاره ناسته، هغه دعاګانې چې د نمانځهٔ نه پس وئیلے شي. ختلونه.

تعقید : غوټه ورکونه، په شعرونو کښې توري داسې په ثقالت مخکښې وروستو کونه چې د یو ځاے تورے بل ځاے ته ورسي او مطلب ئ واضح نه وي.

تعلق : ترون، تړاؤ، پیوستون، اړه، تعلقه، سریکار، واسطه، خپلولي. رشته، مناسبت، مینه، میلان، رغبت.

تعلم : زده کونه، د علم لوستنه.

تعلي : لوئي، لافې، ډوزې، بډائي، د شاعرۍ په اصطلاح کښې هغه وینا چې شاعر پکښې فخریه خپل لوړے والے وائي.

تعلیق : یو متن سره د یو عالم سړي نوټ.

تعلیم : زدکړه، علم حاصلونه، لیکنه لوستنه

تعمیر : ودانونه، ابادونه، ودانې، ابادي، کور، خونه.

تعمیل : عمل کونه، کړهٔ کونه، حکم منلنه، فرمان برداري.

تعوذ : اعوذ باالله وینه، له شیطانه د الله پاک پناه غوښتنه.

تعویذ : هغه دعاګانې چې یو کاغذ کښې لیکلے کیږي او بیا په غاړه کیږي یا په مټ پورې تړلے شي. پنا ورکونه، تاویذ.

تعهد : ژبه، لوظ، وعده، قول، په غاړه اخستنه،

تعین : تاکنه، مقررونه، تاکلے کیدنه، غوره کیدنه، منتخب کیدنه، مخصوص کیدنه، د تصوف په اصطلاح کښې په موجوداتو کښې فرق کونه.

تعینات : تقرري، تاکنې، انتخابیدونې، غوره کیدونې.

تغاري : خاورین لوښے،

تالې، مجمه.

تغافل : غفلت، بې خبرې، بې پروائي.

تغذيه : خوراک ورکوه، غذا ورکونه.

تغزل : غزل وئيه، عشقيه مضامين د اثر او تاثير سره نظم کونه، غزليت، د غزل خصوصيات.

تغليط : غلطولو، يو خيز باندې د غلط حکم لګونه.

تغليظ : د مائع څيزونو ټينګونه.

تغمه : دعمه، د چابک يا لينتې د ګوزار نښه،

تغير : تبديل، تغيير، بدلون

تغيّر : تاغير، بدلون، اوښتنه، بدليدنه.

تف : تو لعنت، د لعنت او ملامت د اظهار کلمه، توکانې.

تفاخر : فخر کونه، بډائي، ويار.

تفاسير : د تفسير جمع، تشريحات، وضاحتونه، اصطلاحاً د قرآن شريف شرحې.

تفاصيل : د تفصيل جمع، بيلونه، ټکړې ټکړې کونه، پوره بيانونه، تشريح بيانونه، فهرستونه، کيفيات.

تفاوت : فرق، توپير، وت، فاصله، لرې والې، جدائي، امتياز.

تفاهم : درک کونه، د يو بل په مقصد پوهيدنه.

تفتيش : تفشيش، پلټنه، لټونه، شننه، کتنه، څيړنه، تلاش، ټپوس، پوښتنه، سراغ.

تفحص : ټپوس، پوښتنه، شننه، لټون.

تفرقه : بيلتون، جدائي، بې اتفاقي، درز، د دوۀ څيزونو په منځ کښې بيلوالې.

تفريح : سيل، ساتيري، خوشحالي، دمه،

تفريط : کمې، لږوالې، لږتيا، بې پروائي، غفلت، د مال ضائع کونه.

تفريق : بيلونه، بيلتون، فرق، وت، تفاوت،
تفسير : وګورئ تفاسير.
تفصيل: وګورئ تفاصيل. وضاحت، تشريح کونه،
تفضيل : لوړ ګڼنه، يو څيز د بل نه بڼه ګڼنه، فضيلت ورکونه، لوئ والے.
تفقه : په علم فقه پوهيدنه، عقلمند کيدنه،
تفکر : فکر کونه، سوچ کونه، سوچ، انديښنه، خيال، د فکرونو ترمنځ د رابطو بنياد، د کلمو په وسيله د ذهني عمل اظهار.
تفنن : خوشحالي، خندا، د مشغلي په طور.
تفوق : برتري او لوړ والے غوښتنه، لوړيدنه، فوقيت مونلنه، زياتوالے.
تفويض : سپارنه، کار يا څه څيز د چا تر غاړې کونه.
تفهم : پوهيدنه.
تفهيم : پوهونه، فهمونه.

تقابل : مقابله، مخامخ کيدنه، ودريدنه، برابر کيدنه.
تقارير : د تقرير جمع. بيانونه، ويناګاني، ذکرونه، بحثونه، مباحثې.
تقاضا : طلب، غوښتنه، حاجت، ضرورت، خواهش.
تقبيح : غندنه، بد ونيټه، قبح بيانونه، خرابي بيانونه،
تقدس : پاکيدنه، له عيبه پاکيدنه، پاکوالے، پاکي، پرهيزګاري، سپيڅلوالے،
تقدم : وړاندي والے، مخکښې توب.
تقدير : اندازه، ميچ کونه، بيته، برخه، نصيب، قسمت.
تقديس : سپيڅلتيا، پاکي، پاکيزګي،
تقديم : وړاندې کونه، فوقيت.
تقرب : نزديکت، نژدې والے، خپلولي.
تقرر : مقرريدنه، ټاکلے کيدنه، ټاکنه، مقررونه، لګونه، مقررتيا.

تقريب : نزدیکت، نژدي والے، سبب، وجه، ذریعه، موقع، د څه رسم یا وادهٔ بنادی په موقع غونډه.

تقرير : وګورئ تقاریر.

تقريظ : ستاینه، مدح کونه، څرګندونه، نظریه، رای، تبصره، د چا په لیک، مضمون یا په کتاب خپل نظر او رای بنکاره کونه.

تقسيم : ویش، ویشنه، وېل، برخه، صف بندي.

تقصير : قصور، خطا، ګناه، کمے

تقطيع : ټکړي ټکړي کونه، د علم عروض په اصطلاح کښې د شعر اجزا په داسې طریقه په وزن برابرونه چې د متحرک په مقابله کښې متحرک او د ساکن په مقابله کښې ساکن حرف راشي

تقليد : نقل، پیروي، بې سوچه په چا پسې تلنه.

تقوا : پرهیزګاري، له الله نه ویریدنه او له ګناهونو ځان ساتنه تقوي.

تقوىٰ : وګورئ تقوا

تقويت : قوت ورکونه، قوي کونه، طاقت، قوت، زور، مدد، مرسته، ملاتړ، تسلي، ډاډ.

تقويم : جنتري، کلیزه، بیه کونه، بیه ایښونه، قیمت معلومونه، سمونه، کوږوالے ایستنه، د کال ویشنه په میاشتو، هفتو او ورځو.

تقي : پرهیزګار، تقوي دار

تک : بیخي، بالکل، ټول، سکوټه، دا تورے اکثر د څو رنګونو سره استعمالیږي، لکه ټک تور، ټک سور وغیره.

تک : فضول خبره، څوکه. د تورې یا خنجر څوکه.

تکبر : کبر، غرور، لوئي، ځان لوړ ګڼنه.

تکبير : الله اکبر وئیلنه، الله پاک په لویی سره یادونه.

تکذيب : دروغ ګڼنه، په بل باندې د دروغو ټرنه، د

دروغو الزام لګونه.

تکرار : بیا بیا وینا، بحث، جګړه، د علم بدیع په اصطلاح کښې قافیه، مصمون یا مصرعه بیا بیا راوستنه.

تکریم : نمانځنه، درنونه، عزت ورکونه، ادب کونه، خاطر، تواضع.

تکړه : مضبوط، پهلوان، تورزن، چست، څورب، بهادر، نر، قابل، ذهین، لائق.

تکفیر : پتونه، کفاره ورکونه، کافرونه، کافر ګڼنه، کفر ته منسوبونه.

تکفین : مړي ته کفن ورکونه، په کفن کونه، مړي ته کفن ور اغوستنه.

تکل : اراده، کوشش، تلاش، لټون، د سفر نیت، د سفر اراده، یو ادبي صنف.

تکلم : ګړیدنه، ګنیدنه، خبرې کونه، کلام کونه، وینا، خبرې اترې، غږیدنه.

تکلیف : کړاو، زیار، خواري، جنجال، مصیبت، غم، رنځ، بیماري، ناجوړتیا، ناروغتیا.

تکمیل : پوره کونه، سر ته رسونه، ختمونه، مکملونه، پای ته رسونه، کمال ته رسونه.

تکون : مثلث، درې ګوټیز، درې پریزه.

تکوین : پیدا کونه، پنځونه، د وجود ورکونه.

تکیه : فقیر خانه، د ملنګانو، چرسیانو او بنګیانو د ناستې خای، باور، یقین، ډاډ، اعتماد، اسره، بالښت، مُتکه، اډه، ډډه.

تکی : غوږ نیونه، د چا خبره په زور او تکلیف اوریدنه، څک کونه. جوړه، جفت.

تګ : تلهٔ، تلنه، حرکت، یون.

تګ راتګ : آمد و رفت، تلهٔ راتلهٔ، تلے راغلے، غم ښادي، تعلق، رشته.

تگ و دؤ : مینه ترړه، هڅه، چلا چلا، تگ و پو، کوشش.

تل : ژور والے، تلے، تله، بیخ، داوبو یا تیلو یا نلې کوم مائع څیز ریښتلے، اړح، خوا، تلے، د کور انګن ضائع. توئ، عبث.

تل : همیش، مدام، همیشه.

تلاش : غوښتنه، لټونه، هڅه، خواهش، طلب، بیړه، تلوار، تادي، توندي.

تلاطم : غورځه، باډاسکه، موج، جوش، جنګ جدل،

تلافي : صله، عوض، بدله.

تلاوت : د قرآن مجید لوستنه.

تلبیس : پټونه، د جامې اغوستنه، چل، دوکه، ټکي، فریب

تلتک : تولتک، برستن، نالی، نیالی، شیرک، کنځړ، کند، کودے.

تلخ : اشار، تریخ، د شیرین متضاد.

تلخیص : خلاصه کونه، لنډونه، خلاصه، لنډیر

تلف : برباد، له منځه تللے، ضائع، ورک، مړ، هلاک

تلفظ : خبرې کونه، بیان کونه، لفظ ادا کونه : ویا طرز، د یو توري په درسته طریقه د ادا کولو طرز

تلقین : پند کوسه' وعظ کونه، نصیحت کونه.

تلل : جوکل، تول کول، وزن کول، په تله یا پیمانه جوکل.

تلل : له یو حایه نل حے نه حرکت کول، مړ کیدل، مړیدل.

تلمذ : شاګردي.

تلمیح : په شعر کښې یوې تاریخي واقعې نه اشاره کونه

تلمیذ : زده کړونکے، شاګرد

تلوار : بیړه، حلتي، تادي، شتاب، جلدي.

تلوسه : لیوالتیا، هڅه. د بې قراری شوق، ډیر ریبات شوق، خواهش، آرزو

تله . ترازو، د تللو آله، ترکړی، اسمانی برجونو کښې د یو برج نوم، د شمسي اوومه میاشت.

تلیدل : سرۀ کیدل، په غوړو یا تیلو کښې سرۀ کیدل. توئیدل، چپه کیدل

تلی : د بوتو دپاره جوړه شوې دوپچه. دوچه، د عمو یا اوربشو ډیلری.

تلے : تل، انګن، میدان، ډاګ، صحن. د پښې لاندینی حصه، د پیزار لاندینی حصه، د زمکې توکړه، د لاس د پنجې دننه برخه، ورغوے، ګپه، چرسلی، په ورغوي کښې د دارو مقدار، تل، بیخ، ریخ،

تم : اټال، ایسار، ولار، تکیه وهلے. بس، تمام. تر، تبر کے

تماچه : توپانچه، تومانچه، تمانچه، یوه وړه وسله، د تبر او ستې ترمنځه لرکے.

تمازت : ګرمي، تاؤ تودوبنه.

تماشا : تماشه، نندارہ سیل، نظاره، د خندا او ټوقو څیز.

تماشه : وګورئ تماشا.

تماکو : د چیلم، سګریټ او نسوارو د جوړولو دپاره پکاریدونکے یه بوټے.

تمام : پوره. مکمل، بشپړ. غونډ، ټول، ګرد، ختم، خلاص، کامل. سر ته رسیدلے، تمامي

تمایل : علاقه ښکاره کونه، یو شي یا یو لوري ته مائل کیدنه.

تمباکو : وګورئ تماکو.

تمبل : دف، طبل، داریال، داریا، دریه

تمبو : خیمه، کیږدی. د مرغو نیولو لومه،

تمبه : د دروازې یو ور، د

لرکي ستن.

تمثال : مثال، تشبیه، نظیر، مشابهت، د مثال په طور قصه بیانونه، ډرامه.

تمجید : بزرګي بیانونه، درونه، ثنا ستاینه، قدر کونه، لوئ ګڼنه.

تمدن : یو ځای د وسیدلو طریقه، په ښار کښې وسیدنه، د معاشرت طریقه، یو علم چې پکښې د معاشرت اداب او طریقې ښودلے شي.

تمرین : مشق، تکرار، بیا بیا وئینه.

تمسخر : مسخره کونه، ټوقه کونه، ملنډه کونه، ملنډې، پیشاړي، پچموزي.

تمسک : پنځه لګونه، ګرفت، د سند په طور منه، هغه لوظ نامه چې پورورې ئ د سند په توګه لیکي چې پکښې د روپو د واپس کولو طریقه او میعاد لیک وي.

تمغه : په مقابله یا جنګ کښې د ښه کار کردګي په مظاهره یادګاري نښه چې د انعام په طور ورکولے شي.

تملیک : د ملکیت حق ورکونه، تملیک نامه، څوک د څه څیز مالک یا خاوند کونه.

تمنا : امید، غوښتنه، خواهش، آرزو، شوق.

تمهید : ویړونه، خپرونه، غوړونه، سریزه، شروع، پیل، عنوان، دیباچه، مقدمه.

تمیز : بیلونه، جدا کونه، پیژندګلو، فرق، پوهه، عقل، شعور، ادب، طریقه، قاعده، جاج

تن : بدن، وجود، خان، صورت، جسم، جوړه، جثه، کاټي، کانټي، کس، بنده، نفر، سړے

تناب : طناب، تناؤ، رسی، هغه د وسپنې تار چې کپړې پرې نمر ته اچولے شي.

تنازعه : بحث، شور،

کـرس، تـنـازعـه، جـنـگ، جگړه، فساد، خبري اړونه.

تـناسخ : شـکـل بدلیدنه، د هـنـدوانـو د عـقیدې مطابق له مـرګه پس په بل شکل کښې دوباره راپیدا کیدنه.

تناسل : نـسـل زیاتونه، پیدا کونه، اولاد پیدا کونه.

تناظر : یو بل ته کتنه، یو بل سـره مـخـامـخ کیدنه، تقابلي نظر.

تنافر : تـنفر، کرکه، نفرت، د شاعری په اصطلاح کښې د یو حـرف داسې پـه تکرار راتګ چـې د کـلام خـونـد خـراب کړي.

تـنـاقص : نـقص، ورو ورو کمیدنه، زیانونه، نقصانونه.

تـنـاقض : تـضاد، اختلاف، مخالفت، سره مخالف کیدنه.

تـنـاؤ : تـنـاب، رسی، وړد پـرې، بدریشه، کیږ، د زمکې تـلـې، د کشتـی د رابـنـکلو د وسپنې تار.

تـناول : خـورنـه، خوراک خښاک کونه.

تـنبیه : ملامته، ملامتیا، رټنه، خبـردارې، ویښـونه، پوهونه، نصیحت.

تـنـخـرے : یو خوش شکله او خوش اوازه مرغی.

تـنخواه : د میـاشـتې عوضانه چې سرکاري ملازم یا نوکر ته ورکولے شي.

تـنـد : توند، کړندې، چابک، چـټـک، تیـز، چـسـت، غصـه ناک.

تـنـدار : تـنـدارہ، چـاچـې، تیندارہ، تندیار، د ترۀ بښـه.

تـنـدر : تـنـا، تنهـا، تـالنده، اسـمـانـي بـجـلـي، د نمر یـا سپوږمی رڼا کمیدنه.

تـنـدرست : صـحـت منـد، روغ جوړ، تکړه، روغ رمټ.

تـنـدغـرے : تـنـدې وهلے، تبرے.

تـنـدور : وګـورئ تنور.

تـنـده : تـبرے والے، د اوبو

خواهش، خشکي، سوکړه.

تندي : تادي، تلوار، جلتي، جلدي، بېړه، تيز والے.

تندے : وچولے، تنده، وچويلے. د هر حيوان تازه زيږيدلے بچے.

تنزل : ښکته والے، غورځيدنه، راليدنه.

تنسته : هغه تارونه چې د کپړې په وړدوالي کښې استعمال شوي وي، د جولاګي جاله.

تنسيخ : منسوخونه، باطلونه، رد کونه.

تنظيم : په نظم کښې راوستل، سمون، برابرتيا، برابرونه، بندوبست، انتظام، په ترتيب ايښونه، ډله، غونډه، پارټي.

تنفس : ساه راښکنه، ساه اخستنه، سيليدنه، ساه لنډے.

تنقيد : لټون، جاچ، د څهٔ کلام ښهٔ والے يا بدوالے په کوته کونه.

تنقيص : کمونه، لږونه، ناقصونه.

تنکے : کڅه، نرم، نازک، نوے ټوکيدلے، نوے پيدا شوے.

تنګ : کم بر او سور لرونکے، د ارت متضاد، تربت، پريشانه، په تکليف کښې، غريب، خوار، اړ، محتاج، تنګے، د غرونو په منځ کښې لار، تانګ، وړوکے منګے.

تنګدست : تنګ لاسے، عاجز، خوار، غريب.

تنګسي : تنګ دستي، تنګسه، تنګسيا.

تنګول : تکليف ورکول، په عذابول، ځوروول، پريشانه کول.

تنګي : تنګسيا، نيستي، غريبي، خواري، مصيبت، سپکوالے، لاچاري.

تنور : ترون، تندور، په کور کښې يا د نانبائي د روټو

پخولو ځایے،

تنوع : قسم قسم، رنګ رنګ.

تنومند : قوي، زورور، غټ کټ، تندرست.

تنویر : رڼا، رڼائي، رڼا کونه، روښانه کونه.

تنوین : په یو لفظ باندې د دوۍ زیرونو، د دوۍ زبرونو یا د دوۍ پیشونو په لګولو سره د نون اواز پیدا کونه، د دوۍ زیرونو، د دوۍ زبرونو یا د دوۍ پیشونو علامت.

تنه : قد، قامت، وجود، تن، بدن، سټه، د وني هغه برخه چې له ویخه تر څانګې پورې وي.

تنها : یواځې، ځان له، بیل، ګوښے.

تناکه : پولی، پرومبې.

تنی : بټن، تکمه، تسمه، ګروي.

تواب : توبه قبلونکے، الله تعالیٰ.

تواتر : برابر، پرله پسې، یو مخیز.

توارد : په یو وخت او یو ځاے راتلنه، د دوۍ مختلفو شاعرانو د شعرونو په معنو کښې یو شان والے.

تواریخ : د تاریخ جمع، د تیرو وختونو د حالاتو کتاب.

تواره : سائبان چې د دکانونو مخکښې د سیوري دپاره لګولے شي.

تواضع : عاجزي. کمیني، خاطر، مدار، نیاز، نذر، دعوت، میلمستیا، د تکبر ضد.

توالد : د اولاد پیدا کیدنه.

توام : غبرګ، جوړه، غبرګوني، دوه ماشومان چې په یو وار د مور نه پیدا شي. یو ځاے، پرله پسې، پیوست.

توان : وس، طاقت، زغم.

توانا : مضبوط، طاقتور، زورور، زبردست،

توانګر : شتمن، دولتمند،

زورور، د نیستمن متضاد، مالدار، بختور.

توپ : د اسم یا صفت په اخر کښې د کیفیت یا حالت د څرګندولو دپاره استعمالیږي. لکه سړیتوب.

توپره : کڅوړه، هغه لنډه بوجی چې اس یا خر ته پکښې ونډه اچولے شي. هغه غله چې اس ته سحر مابنام ورکولے شي.

توپرے : د غشي څوکه، د کجوري ازغے، وړوکے تبرکے چې په لاس کښې ګرځولے شي.

توبه : له ګناه اوړیدنه، پښیمانې، استغفار، په کړو پښیمانه کیدنه، په بد عمل افسوس، د بیا نۀ کولو وعده.

توبیخ : څوک رټنه، ملامتونه، چاته سپورې ستغې وئینه.

توپ : توپه، غټې غټې ګولۍ ویشتونکے یوه جنګي وسله. پنډوس، د کپړې تان.

توپچي : توپه چلونکے.

توپخانه : توپ، ګڼې توپې، د توپو مجموعه، د توپو رساله.

توپير : امتیاز، فرق، تفاوت، بیلوالے.

توت : یوه ونه او د هغې میوه.

توتنکے : توتنے، څڅنے، توتنکه، توتنے.

توتي موتي : د ماشومانو دپاره له واړې جوړ رنګدار غونډسکي.

توتيا : د رنجو کانے.

توثيق : پوخوالے، پوختيا، مضبوطوالے، استحکام، په خلۀ یا لیک کښې د څۀ خبرې تصدیق.

توجه : پام، غور، رغبت، خیال، لحاظ، مهرباني،

توجيه : وجه بیانونه ِجه بڼنینه، حلیه.

توحيد : یو الله منلنه، په

کوحید یقین لرنه.

تود : گرم، د سور متضاد.

تودښت : تودوالے، تاؤ، حرارت.

تودوښه : گرمي، تود والے.

توده سړه : زکام، ریزش، سارۀ وهنه، د یخنی وهنه، بارونے، والگے، سخته، تکلیف.

تور : د سپین متضاد، د تیرې رنگ، د تیرې رنگ لرونکے، گناهگار، مجرم، بربند، لکه تور سر. تهمت، الزام، ترا، گناه، قصور، ترمه، د زړۀ وسواس.

تورات : د زړې عهد نامې د شریعت کتاب، د موسیٰ علیه السلام کتاب، د اهل کتابو مقدس کتاب.

تورانی : تورانکه، توریانی، توره انا، باجونکه، یو قسم توره مرغی چې وږده لکی لري.

توربخن : لږ شان تور، تور والي ته نژدې، سکان، سکن.

توربریښ : د تورې پرق، خلق، توربیښ، دبکه درکه، دباؤ، غصه، دباب.

تورتم : توره تیارۀ، تکه توره تیارۀ، گړبړ، اړے گړے.

تورزن : توربالے، مړنے، زړۀ ور.

تورسري : بنځه، زنانه، سرتوره، بې کسه.

تورلمے : گورگڼ، گورکتې، تورلمي، هغه څناور چې نوے مړے له قبره راوباسي.

تورن : هغه څوک چې تور پرې لګیدلے وي.

تورواڼه : تورونځي، توري دانې لرونکے یو بوټے چې په دارو او مسالو کښې پکاریږي، کلونجي.

توره : د وسپنې او فولادو نه جوړه د پخوانی زمانې یوه جنګي وسله چې څوکه او اړخونه ئ تیرۀ وي او شکل

ئ عام طور سره د مياشتي په شـان وي. زړۀ ورتيا، مړانه، بهادري.

تـوريالے : بهـادر، مړے، تورزن، د توري مړے.

توري : د اوړي د موسم يوه ښبزي.

توري : شپيلی، سرنا،

تورے : معدي سره نژدي يو نرم او وينـه صفا کونکے انـدام، د دغـه اندام د پرسوب بيماري. حرف، تکے،

تورتورو : د انسان او حيوان د مړی کرښندے هلبوکے،

تورپل : تـراشل، رنده کول، تروښل، مړل، مښل، لګول.

تـوسط : واسطـه، ذريعـه، وسيله.

توسن : سرکش اس.

توسيع : ارتـوالے، فراخي، ارتونه، زياتوالے.

تـوشک : تـورشک، تولائي.

توښه : د لاړي خـرڅ، سفر خـرچـه، خورے، د خوراک سامان.

توصيف : ستـائـنه، تعريف، صفت کونه.

تـوضيح : واضـح کـونـه، بنکاره کونه، شرح کونه.

توغ : جنـډه، بيرغ، نښان، علم،

توفيق : وس، طاقت، همت.

توقع : اميد، انتظار، باور.

توقف : اټاليـدنه، ايساريدنه، صبر، وقفه،

تـوقير : عـزت، احتـرام، تعظيم.

توقيع : څـه څيز باندې نښه ايښونه، شاهي فرمان.

توک : نسل، نوغے، جړۀ، وينـه، خـاندان. دول، توک، رنګ، څيز، د پرچون متضاد.

تـوکاني : د خـلي لاړي، په خـلۀ کښې راجمع کيدونکي څنګ.

توکل : بـاور، يـقين، په الله پاک تکيه، اراده، نيت.

تُوکل : د خلې نه لاړې یا بل څۀ بې خونده یا تریخ څیز غورځول.

توکه : توقه، شتی، د جوارو رڼیدلے وړے.

توکے : جزو، عنصر، قسم، ډول، برخه، حصه، ونډه.

توکه : توکے، قسم، ذریعه، خبره، څیز، قاعده، اصول، طرز.

تول : وزن، تلنه، تلل کول، دروندوالے.

تولتک : برستن، برستنه، شیرک، نالی، نیالی، کنجن، تلتک.

تولد : زیږیدنه، پیدا کیدنه،

توله : کوترے، د دولسو ماشو وزن. یو قسم ښکاري سپے، شپیلی، موازنه، اندولتوب، ډډه، توازن، برابرے، د ګاډي هغه لرګے چې په هغۀ د ګاډي ټوله توله برابر وي.

تولید : زیږونه، پیدا کونه.

تولیه : تولیا، هغه بورداره کپړه چې د مخ لاس او بدن د وچولو دپاره پکارولے شي.

تومن : تمن، تومان، ترم، د اشخار بوتے، تولے، د کروندې تخم، ګرم شودۀ، د شلو روپو یوه سکه،

تومنه : مایه، خمیر، د مستو جوړولو مائع، د مني قطره، بنیاد، جړه، اصل.

تونی : د الماری په شان د لرګي هغه صندوق چې وچتې پښې لري او عموماً د برستنو اینبوو دپاره پکارولے شي.

توهم : اندیښنه، وسواس، ګومان، شک.

توهین : بې عزتي، سپکاوے.

تویول : اړول، عبث کول، مائع څیز په زور غورځول، رڼول، دوړول.

توي : تل شوے، ضائع، فضول، عبث.

ته : د طرف، صلې، جار،

تعلق، ربط او نورو مختلفو معنو د پاره استعمالیدونکے حرف. پوري ورپوري، په ذمه.

تهجد : د نیمې شپې نه پس ته عبادت کول، د شپې مونځ.

تهجي : هجې کونه، د حرفونو مفرد وئیل،

تهدید : ډارونه، ویرونه.

تهذیب : بنهٔ اخلاق، سړیتوب، شائستګي، انسانیت، د یوې معاشري د ژوند تیرولو مروجې لارې چارې، مادي ترقي.

تهلکه : هلاکت، بربادي.

تهلیل : د لا اله الا الله ورد کول، کلمه طیبه بار بار وئیل.

تهمت : تومت، تور، الزام،

تهه : تاهه، تا، برخه، پرده، پرک، رده، طبقه، قت، پوړی، د کپړې سور.

تهي : تش، خالي، چې ډک نه وي.

تهیه : برابرونه، تیارونه.

تیار : د پښتو ژبې یوه لاحقه چې عام طور سره له صفته اسم جوړوي، لکه د زړهٔ ور نه زړهٔ ورتیا. اماده، مستعد، مکمل، روغ، جوړ، چاق، غټ پټ، تازه، څورب، تکړه، خوانی ته رسیدلے، پوخ، بالغ.

تیارول : اماده کول، د څهٔ کار دپاره راضي کول، درستول، سمول، جوړول، پخول، غټول، څربول، سمبالول.

تیارهٔ : تورتیپ، تورتم، تاریکي.

تیاریدل : اماده کیدل، د څهٔ کار دپاره راضي کیدل، پخیدل، جوړیدل، غټیدل، څربیدل، سمبالیدل.

تیټر : د تنخري په شان د خړ یاتور برګ رنګ یو مارغهٔ.

تیر : غشے. شهتیر، ګادر، ویشه، بش، لهږے، لارے، دستک، د یوې په کندهٔ

کښې د کلک والي دپاره لګيدلے لرګے.

تيرک : د وسپنې هغه ميخ چې د ژرندې د پل په منځ کښې وي.

تيرکش : ترکش، تيرکښ.

تيرکښ : هغه سورے چې هوا پکښې لګي، د مورچې سورے، د غشو د اينبودو ځاے.

تيزاوۍ : تيزاوۍ، تيزونه اچونکے، بزدل، ډارن، ويريدونکے،

تيله : زرتار، ګلابتون، د زرتارو لړ، د زرتارو کوړې، د زرتارو کاړې.

تيلے : هغه نرے چنجے چې په سر ئ کوکړ لګيدلي وي او د اور بلولو دپاره پکارولے شي.

تيمار : د بيمار خدمت.

تيمارداري : د بيمار خدمت، د بيمار پوښته، د رنځور تپوس.

تيمم : تيون، هغه عمل چې د نارغې يا د اوبو د نۀ پيدا کيدو په وخت کښې د اوداسۀ په عوض کيږي.

تيندک : ډغره، ټکره، تمبيدنه، دوکه، بلدې.

تيندورے : تيندونے، د پوزې پيزوانک، د پوزې کړيندوکے.

تيون : وګورئ تيمم، عزم کول، قصد کول.

تير : وړاندې، مخکښې، پخوانے، تير شوے، مړ، بغير له شخوند وهلو له حلقه بنکته شوے. دوکه، چل، فريب،

تيرايستل : غلول، دوکه کول، ټګل.

تيروالۀ : تيروتنه، دوکه کيدل، خطا کيدل.

تيروتل : دوکه خوړل، خطا کيدل.

تيرول : زغمل، برداشت کول، خوړل، د نر حيوان په مادې ختل، وخت اړول، تيرۀ کول، بغير له شخونده له

حلقه بنکته کول.

تیریدل : تلل، خواریدل، قربانیدل، خاریدل، د ماده حیوان په وخت تاؤ سړیدل، زغملے کیدل، اوړیدل، بغیر له شخونده له حلقه بنکته کیدل.

تیز : تند، چست، چابک، چاخ، چالاک، هوښیار، پوه، تیرۀ.

تیزاب : یو ترش خوند لرونکے کیمیائي مرکب. یو قسم تیز عرق چې سړے پرې سوځي.

تیزلدي : زندی، تیزندی، هغه پرے چې د چا د پانسي کولو دپاره چا ته ور په غاړه کولے شي.پانسي.

تیزول : جلتول، زر زر روانول، په منډه کول، چارۀ یا چاقو، قینچي وغیره تیرۀ کول.

تیزي : جلتي، حلدي، غصه، تیرۀ والے.

تیزیدل : جلتیدل، زر زر روانیدل، په منډه کیدل، د وسپنې یا بل دهات یا آلې د پلکې په برجو وغیره تیرۀ کیدل.

تیشه : د ګلکاری هغه آله چې خښتې او کانې پرې ماتولے شي. د ترکانی هغه آله چې لرګي پرې توپلے شي، ترښۍ.

تیښته : ځغل، منډه، تاخت.

تیغ : تیرۀ څوکه لرونکې وسله، توره، چارۀ، خنجر وغیره. تیغے، تیغنه، تازه تو کیدلے.

تیغنه : تبخے، تبی، ککورے، تیکورے، د ریکاتي باجې ریکارډ.

تیفه : هغه خښته چې ګلکار یا په بیم کښې په ارخ لګوي. نوغے، تازه تو کیدلے بوتے.

تیل : غور، هغه روغن چې د شرشمو یا نور داسې څیزونو نه حاصلیږي.

تیلي : د شړشمو او کونځلو وغیره نـه تیـل ایستونکے، د کانی چلونکے.

ټے : د بنځو او ماده ځناورو د بـدن هغه غړے چې یې پکښې وي. د سړي پـه سینه ډوه هغه نښې چې یې نه لري.

ټ : (ټې) د پښتو د حروف تهجي پنځم حرف چې د ابجدو له حسابه ۹ شمیر څلور سوه (۴۰۰) یعنې د "ت" هومره دے.

ټاپ : چجکے، خاله، څپر، چت، د تانګې د پاسه د ترپال چت، ټاپه، مهر، نښه، نښانه، حسرت، ارمان، افسوس، خفګان.

ټاپو : وچکی، وړه جزیره، د اوبو په منځ کښې وچه، د خور یا سیند په منځ کښې هغه وچه غونډی چې اوبه ورختلې نه شي، برج، مانی.

ټاپوړه : د جامو وینځلو تخته، شازه، خرخره، کراره، تابوله، ګریکه، انتوک، ډانګوری، ډانګوره، ټاپوړی، هغه لرګے چې د څناورو سوتې پرې راغونډوي.

ټاپوړی : ډانګوره، توکان، د ترخ امسا، هغه امسا چې په پښو معذوره خلق پرې ګرځي.

ټاپه : چاپ شوې حکمنامه، مهر، چاپ، نښه، ټاپ، داغ، تور، تهمت، رټه، د چاپ مشین، په کپړه یا کاغذ د نښې لګولو مشین.

ټاټ : فخر، ویاړ، غرور، لوئي، کبر. د آهنګونو راغونډیدو مرکز، راکونه، له مونځو یا سنو نه جوړ پوزے یا صف، د سنو نه جوړه کپړه، موم جامه، ترپال، ټغر، ګلم، پلاسي.

ټاټکے : ټغارے، چابړے، وړوکے تب، هغه خادري یا د وسپنې غونډ او رغے شان لوښے چې مزدوران پکښې شکې او سیمنټ مستري ته خیژوي او جوړوي.

ټاټوبه : د استوګې ځاے، د وسیدو ځاے.

ټاټوبے : وګورئ ټاټوبه.

ټاټی : ټالی، جوټه، خانګو، د ماشومانو په ژبه،

پانسي.

تاري : برج، اتاري، بالاخانه، سنگر، د ښښتر ښاخ، د څيرې ښاخ.

تاک : تريو، ترش، تاکلے کلو.

تاکل : مقررول، په ښه کول، مريض ته ټکور ورکول.

تاکو : د ځناورو يوه بيماري، داړې مار، شوکمار، ډاکو.

تاکی : جوړ، پيوند، د کارتوس اخر ته لګيدلې د ګنې ټوکړه، د ماشومانو يو مرض چې په مخ ئ دانې راوخيژي، داغونه، چاپونه. هغه دانه چې د وينې نه ډکه وي. ډير مور انسان يا حيوان، ادو بدو، د اوبو بانګی،

تال : پينکه، هغه پړے چې بره اچولے شوے وي او ځانګل پرې کيږي. تاخير، ځنډ، د جولا تار، د پارسنګ ټيکونه، د لرګو دوکان.

تال متول : ډيل، ځنډ، بانه، انه بانه، حيله حواله، هغه غر دغه غر، يو غر بل غر.

تالی : جوته، چکر، پير، په تال د ځنګولو په وخت يو تيله.

تانته : د جوارو بوټے چې وړے نۀ لري، تامته، تانده.

تانجی : د ډيرو اوبو جمع کولو ډپاره د وسپنې، تين، يا د سمينټو وغيره جوړ ځاے، تانکی، ټينکی،

تانکر : پارچوړ، هغه تانتې چې د ځاروو د خوراک نه پاتې شوې وي. کنګر، لکړ، کنګړ، لکړې.

تانګو : ناک، د بټنګ په رنګ يوه ميوه، يو قسم ونه چې لرګے ئ سخت وي. ډانګی، تانګی، ټنګی.

تانګه : تانګه، بګی، په اس يا اسپه راښکلے کيدونکے د سورلی هغه ګاډے چې دوه پايې لري.

تبر : خاندان، قبیله، خیلخانه، کورنی، بنځه، کورودانې، ارتینه، بیګم.

تپ : مانده، کمزورے، خوار، ډنګر، نرے نروچکے، په ستر ګو رونده، بند، بیخي، بالکل، ډیران، تپ، د کیږې ونه، د حکومت د کال ګټه، مالیه، ټیکس وغیره، سرکاري آمدن، سرکاري مال، بدل، قصاص. د کتاب د بندیدو اواز، د لاسونو د جنګیدو اواز، د وهلو اواز، د بره نه د څه څیز د راپریوتو اواز، د ټپولو اواز.

تپال : پیاده ګرځیدل کول، زغل، منډه، چاق تلنه، بې مقصده ګرځیدل، پیغام رسونه، خبر رسونه، د خرو یا قچرو د مزدورۍ دپاره د زغلولو کار.

تپ تپ : فضول، بې معنې، چټې، جزئي، بکواس.

تپ تپ : وګورئ تپا، د روتې د پخولو، د لاسونو جنګولو، د څه څیز د وهلو، د قدمونو، د کوټې د څخیدو اواز.

تپس : یو مُردار خور مارغۀ، لم څټ، تپوس.

تپک : درز، زمکې له راخلاصونه، پتون وهل. د خناورو د څرمنې نه جوړ شوے بنین یا بلاوز.

تپول : شاباشے ورکول، لمسول. تپ ورکول، ګوزار ورکول، وهل، ډب ورکول.

تپه : لنډی، د پښتو د اولسي شاعرۍ یو صنف چې وړومبی مصرعه ئ نهۀ سیلابه او دویمه ئ دیارلس سیلابه وي. دریچه، کړکۍ، چاپ، مهر، نښه، کرامت، رقعه، یاداشت، پتې، د تاش پانې، بیانه.

تپې : زخمي، ژوبل،

تټارے : مس ګر، لوښي جوړونکے.

تټر : سینه، تټخه،

تپنک : نایاب، خالي لاس، تش لاس، نیستي، مصیبت. میره، بیابان. ویره، نادي.

تپو : وړوکے اس، یابو، تیټ شان اس.

تپوبه : خندا، ټوقه، پچموزه، ملنډه.

تپي : د لویو بولو کولو خاے، لیټرین، چونیانی. د قافلي د پاتي کیدو خاے، بولي، ډکي متیازي، غل، هغه پرده چې د لرګو، کهیو او غنو ازغو نه جوړولے شي.

تړ : د کولمو د بادو د زور اواز، د تیز اواز، د چینډخو اواز، ټرا، چا پوري د خندا کولو په وخت ادا کیدونکے اواز.

تړتاوا : بې غمي، خوشحالي، مزي، چرت،

تړن : تړو، تیزن، ویړیدونکے، درن.

تړکول : ژړول، په ژړا کول.

تُسکیدل : ژړیدل، غلي غلي ژړیدل، په ورو ورو ژړیدل، په سلګو سلګو ژړل.

تغ : کونتي، ټونډ مونډ، ګنجلک، راکوړ.

تغر : کمبل، یو قسم فرش، موم جامه، یو قسم وله، د بار وړونکو څاروو په شا اچولے کیدونکے خل چې خرڅورے هم ورته وائي.

تغول : خفه کول، زهیرول، ضرر رسول، څوک په عث خبرو مجبورول، د چرګانو نه د تغ تغ اواز ایستل.

تقاله : نقل، پیښه، ټوقه، ملنډه، ټوکه، وشته، د خندا خبره، دې سره ټوقه د سابقي په ټوکه استعمالیږي.

تک په تک : سملستي، زر، په هغه ساعت، فوراً، لګوتړک.

تکر : تصادم، ډغره، بلدري، ټیندک، ټکره، دیکه، ټیله، دوکه، نقصان.

تکره : تیندک، تکر، دغره، تو کره.

تکسال : هغه خای چې روپی پکښې جوړیږي.

تکنده : تکنه، تکنه، د کرمی نه سره شوې، یشیدلې، په خوانی کښې، په پیغلتوب کښې.

تکنے : مست، خوان، څنے، تریدونکے، پښه نیولے، مات زړے، رنډ، ګاګیرے، متردد، دوه زړے، مظلوم

تکنه : سره تکنده، تکنی.

تکنے : بیرندے، ګرندے، تیز، ترهیدونکے څناور لټ، سست، ناراست.

تکور : بدری، تیندک، تکره، وجود له تود تیکری، کانې یا شکې یا بل څیز سره تپ ور کول، تبنه، تپ، د وجود یو اندام ته کرمي رسونه.

تکول : وهل، دربول، دبول، کوتل، قیمه کول، ورژل، خصي کول، چیچل، د غلي نه دانې نیلول.

تگ وهل : بخی لګول، مندل، ننه ایستل، ختمول، خلاصول، کیښودل،

تکه : کنده، دوغلګے، اندیښنه، وهم، ویره، سمدستي، له سره، بغض، کینه، کرکه، نفرت، دښمني، د انې نیمه، دوه پیسیز، دوې پیسې وال. تنا، د اسمان د ګړځیدو اواز، صاعقه. غرځنی بزه، سرکشه بیزه، هغه بیزه چې د رمې په سر کښې روانه وي.

تکي په تکي : بیدو، حرف په حرف، هو بهو، لفظ به لفظ.

تکي تکي : خال خال، داغ داغ، برګ بروګ، تپلے.

تکیدل : میده کیدل، وهلے کیدل، قیمه کیدل، خصي کیدل، زړه توریدل، کتاریدل.

تکے : حرف، تورے، لفظ، مصرعه، خال، داغ، څاڅکے، مقرر خاے، نقطه، ثبوت، ذره،

غيرت.

تګ : تګي مار، تګي ژن، غل، تګي کونکے، دوکه باز، چلولي، چالاک، چلباز،

تګل : دوکه ورکول، تګي کول، فريب ورکول، چا سره تګي کول.

تګي : د تګ کار او پيشه، چل وتـه، فـريب، دوکـه، غولونه، چم، چمبازي، غلا.

تل : ملګرے، شريک، ګن فصل، ګڼي ونې، محلت، چم، محلـه، قبيلـه، باړی، پټے، د کليوالي زمکي څلورمه برخه، د ګلـو غـنـچـه، نـژدي والـے، نـزديکـت، حـد، پـولـه. مـاتي شکست.

تله : ملګرتيا، پره، ډله، ملاتړ.

تلی : تـالـی، وړوکے جرس، ګينګرے، غږه، د تنګ تنګ اواز کونکے آله، هغه آله چې د خبرداري دپاره يا څوک رابللو دپاره پکارولے شي.

تماتر : کشميرے، سور باتينګر، رومي، سرهٔ بانجان، رومي بانجان.

تمتم : تانکه، بکی، د دوؤ پـايـو ګاډے چې چت پرې نهٔ وي او پـه اس يـا اسپه رابنکے شي.

تن : د وزن پيـمـانـه چې اتـويشـت کـچه منه يا زر کلو ګرامه وي.

تنبل : هـغـه غوايهٔ چې خصي شـوے نـهٔ وي. څورب، چاغ، شـلـنډ، پرسيدلے، ډډ، مرور، سـخـت زړے، بـې رحـمـه، بـدمـعـاش. يـو قسم انګور. کلک، قوي، قارژن، قهر ژن، غصه ناک، خشکي، اواره.

تنبه : وچولے، تندے.

تنګ : دروګـه، دبـدبـه، رعـب، اوازه، پـرق، ځپـړه. کلک، سخت، د ترنګ اواز، د څهٔ ځيز د تنګولو اواز، د ساز اواز.

تنګ تکور : د موسيقي

محفل، سرود، مجلس، ساز و اواز.

تنګره : تـرازه، پره، ډکره، قتله، تکره،

تنګه : روپی، پیسه، د یوې زړې سکې نوم تکه،

تـنګه تټه : د تنګ تکور دپـاره کـلـمـه تـحقیر، تـنګ تـوت، سروبه سورونه، د تنګ تـکـور نـه وړانـدې د موسیقی آلې نیک کول، وارۀ کارونه، معمولي سودا.

تنګه ړټه : ډنګه ډټه، ډیل، ځنډ، تاخیر، نکړه نکړه کول، ایسـارتیـا، توقف، عذر، دلیل، انه بانه، پریشاني.

تنګیدل : ترنګیدل، د ساز د الاتـو نه اواز ایستل، د لوښو یـو تـر بـلـه جـنګیدل، ګړیال غږیدل.

توپ : اړتاؤ، ورت، جست، دانګ، دانـګـه، خیز، ډیرے، امبار، دلی، لویه توپی، د ریلي شوي فصل دلی.

توپک : تفنګ، توپک، یوه آتشینه وسله چې کارتوس پـکښې ایښودے شي او ډزې پرې کولے شي.

توپي تق : هغه سړے چې توپی جوړوي. هینګر. دیوال ګیر.

توپی : خولی، خوله. د غړۀ عـونـډی، د چیـلـم سـر چـې ځښـونکے ځیز پکښې اچولے شـي، یـو قسـم لـوبـه، ډیرے، امبـار، کـوټه، ډیران، پټاکی، پټاقی.

توټکه : ټـونـبـه، کوډه، د مـچـوغـنـي خـلـۀ، پټق، پټاق، کـاسـی، هـغـه عـلاج چې د تـجـربـې په بنا کولے شي. هغه ډالی چې ناوې کره ورلے شي. دستور، رسم،

توټکے : بـورے، چیست پیټ، چن ون.

توټه : تـرازه، برخه، حصه، تـکـره، تـیـکـه، ټوک، څپر، پـمـبـه، څکالے، ټوکے، رخت

کپړه، پینه، پیاله، ګلاس، جام، پیوند، سرنا.

توتی : توتکی، د لرګي کاسه، د اوبو د نلکي هغه ځای چې اوبه پرې ازادولے او بندولے شي. د نلکي سر، څینکورے، توکړه، د رسی وړه توکړه، د پرې وړه برخه.

توتي توتي : ریز مریز، ذرې ذرې، توکړي توکړي.

توقا : یو قسم توپ وهونکے چینجے چې فصل خوري.

توقمار : توقي کونکے، هغه څوک چې د توقو خبرې کوي، خوش طبع، ملنډې کونکے، مسخره باز.

توقه : مسخره، ملنډه، پچموزه، د خندا خبره.

توقه ټقاله : ملنډه، چرلنډه، توقه وشته، کپ شپ.

توک : هغه توکے چې تنک تنک ووبدلے شوے وي. تریو، ستغ، اعتراض، توکنه، مهین، هوار، خیر.

توکا : یو قسم چینجے چې فصل وهي. توقا، غټه چاړه چې غوښه یا ګیا پرې کوتره کولے شي. توکیا، هډکپ، ساتول، کتهیره.

توکر : پنجره، توکړ.

توکری : شکری، څکے، کاره، توکور، توکره.

توکیا : توکا، هډکپ، توکیه، ساتول، کتهیره.

توکیدل : زرغونیدل، د فصل سر وهل، تیغ راوتل، د زړیدو له کبله د کپړې دوړیدل.

توکے : کپړه، رخت، توټه، توکر،

تول : خادر، تول، سورسانے، یو قسم توکر، کپړه . درست، تمام، چربور، کل، کلهم، تمامي، واړه، پوره، تولے، ډله، غونډه، مجلس، محفل، یو ځای،

تولګے : وړوکے تولے، جماعت، ډله، صنف، د سکول جماعت، کلاس.

ټولنه : غونډه، مجلس، اجتماع، مجمع، جرګه، مرکه، معاشره، انجمن، چنده، جمع، خزانه، پیسې غونډونه.

ټولول : یو ځای کول، راغونډول، جمع کول، ګډول، بوژول.

ټولیدل : ګډیدل، غونډیدل، یو ځای کیدل.

ټولې : جماعت، ډله، غونډه،

ټومبل : ننه ویستل، چوکه کول، ښخول، کینودل، سکونډل، ټونګل، راپاروول.

ټونګاره : نوکاره، سکونډاره، چونډی، چونګاره، زیږې، کنځل، ښکنځل.

ټونګه : د ګوتې بند، د پښې تلے، مښوکه، ټونګاره. چیر، بلوسه.

ټونه : ټوټکه، منتر، جادو، کوډه، تعویذ.

ټي بي : ټیوبرکلوزر، نرے رنځ.

ټیپ : د سیمټو لیټی سره د خښتو د دیوال د چوندونو د بندولو کار، په جنس کښې د تیار فصل پیشګي قیمت.

ټیټ : کوز، ښکته، کوږ، چیت پیت، مندرے، ملامته، پر.

ټیټارے : ټیغکے، ټیغے، یوه مرغی چې ډنډونو کښې کښیني او باران غواړي.

ټیټال : چاپلوسي، غوړه مالي، بوټ پاکي، خوشامندي، پستي، مکر، فریب، ټګي، چل، منافقت.

ټیټول : ښکته کول، کوزول، لاندې کول، کږول، رانزدې کول، کمزورے کول، سپکول.

ټیټیدل : کوزیدل، ښکته کیدل، سپیکیدل، کمزورې کیدل، پر کیدل، شرمیدل.

ټیز : د ګیډې نه د بادو د خارجیدو آواز، تیز، تږ،

تنګ، دوریا، ګوز.

تیزاون : تیزن، تیزن، تهرن، تیزمار، تیزو، تهرو، ګوزاون، ویریدونکے، دهرن،

تیزن : وګوری تیزاون.

تیک : تیکه، یو کالے چې زنانه یې مخامخ په تندي اچوي. صحیح، سم، برابر، پوره، درست.

تیکاله : تکله، دودی، مړی، روتی، تیکله، ملاچرګګ، هدهد، ګډي چرګ،

تیکاؤ : دمه، ایسار، قرار، د غصې یا تاؤ نه سړیدل،

تیک تاک : روغ، جوړ، سلامت، صحیح، سم دم، په قاعده، په ترتیب.

تیکرکے : کودړے، کودنے، کودے، تیکړے، د مات خاورین لوښي ټوکړه.

تیکړے : پړونے، خادر، پټو، پتکے، تازر، د جواری خادر، بساط.

تیکه : تیکی، ککشه، هغه خال چې هندوان یې د خپل رسم او رواج له کبله په تندي باندې وهي. ځیره، د تندي یو قسم ګانه، تیک، کهور. ستن، پچکاري.

تیمګر : د تیم کاریګر، د تین کار کونکے.

تینګ : کلک، پوخ، محکم، مضبوط، سخت، د نرم او اوبهٔ ضد، کنجوس، بخیل، شوم، سُر شوے.

تینګار : تاکید، اصرار، تینګ والے، مضبوطي، پائیداري، تینګتیا.

تینګول : کلکول، مضبوطول، محکم کول، چاپې کول، کښیمنټل، مضبوط نیول.

تینګه : بیکار، په زور کار اخستل، ځلور انیز، تنګه، د پخوانی روپی ځلورمه برخه. سپارښتنه، پوخوالے، تینګون.

تینګیدل : مضبوطیدل، محکم کیدل، کلکیدل،

ودريدل، پښه لګول، خټه کيدل،

تيونال : د نشې يو قسم کولی يا کيپسول.

تيونالي : د تيونالو نشه کونکی.

تيپر : شلغم، يو قسم سبزي چې په ژمي کښې کرلے شي.

تيکه : هغه دکانونه چې پکښې د حکومت په اجازت افيم خرڅيږي. په ذمه اخستل، ذمه داري، اجاره.

تيکه دار : د تيکې خښتن، اجاره دار.

تيل : کنه کونه، ديکه، تيله، دغره.

تيله : جوتې، ديکه، دغره، د اوبو د مخې راڅرولو دپاره د کانو يا د لرګو، لښتو ګيډی، د ريل په پټرۍ تلونکی هغه وړوکی شان مشين چې د کرسی په شان جوړ وي دوه دري کسان پکښې کښيناستلے شي او مزدوران ئې په تيله بيائي.

تيليفون : هغه آله چې پرې له لرې لرې د بجلی په ذريعه اواز اوريدے او اورولے شي.

تينکی : تانچی، تانکی، تينک.

تې تې : تړتړے، چارا هغه خوک چې ژبه ئې نښلي.

ث : (ثې) د پښتو حروف تهجي شپږم حرف چې د ابجدو په حساب ئ شمیر پنځهٔ سوه (۵۰۰) دے.

ثابت : لوړ، مکمل، پوره، ټول، محفوظ، روغ، سالم.

ثابت قدم : مستقل مزاج، په لوظ او قول ټینګ،

ثابتول : رغول، مکمل کول، پوره کول، سر ته رسول، ظاهرول، څرګندول، ثبوت ورکول،

ثابته : لوړه، روغه، پوره، ټوله، سالمه، مکمله، محفوظه، د ثابت مؤنث. ثبوت ته رسیدلے، صحیح، درسته.

ثاقب : خلیدونکے، روښانه، رون، ورون، بریښیدونکے،

ثالث : دریم ګړے، ثالثي کونکے، فیصله کونکے، جرګټو، منځي ګړے.

ثالثي : روغه، جوړه، منصفي، تصفیه، د دوڅ کسانو یا ډلو تر منځ د روغې جوړې خبره کول.

ثانوي : دویم، د دویمې درجې.

ثاني : دویم، برابر، په شان، نظیر، مثال، سیال، سارے، دول، په څیر.

ثانیه : سیکنډ، لحظه، لږ وخت،

ثبات : قرار، ټینګوالے، پوخوالے، پائیداري، قیام.

ثبت : لیکنه، داخلونه، تحریر، لیک، مهر، نقش، ریکارډ.

ثبوت : سپینونه، رښتیا کول، په دلیل ثابتونه، رښتونوالے، رښتوني، رښتیني، شهادت، د خبرې تصدیق.

ثروت : شتمني، دولت، مال، توانګري، مور والے، شان و شوکت،

ثروتمند : دولتمند، شتمن، مور، مالدار، توان ګر، مال لرونکے.

ثریا : د اوو ستورو جومپک،

پیرونې، پروین، پیمنې، پریوونې، اووهٔ خویندې، پیرونه.

ثرید : پیندې، د غوښې بنوروا کښې چوري کړې روتی.

ثقافت : کلچر، کلتور، تهذیب او تمدن.

ثقافي : د ثقافت سره متعلق.

ثقالت : دروندوالے، وزن، پیتے، گرانوالے.

ثقل : بوج، بار، پیتے، وزن، دروندوالے.

ثقلین : دوه درانهٔ څیزونه یعنې د دنیا او اخرت، انسان او پیریان.

ثقه : معتبر، اعتباري، اتباري، باوري، درونـد، کره، سپین رویے.

ثقیل : کلک، درونـد، سنگ، گران، وزني، هغه څیز چې په هضمیدو کښې گران وي. هغه ټکے چې فصیح نهٔ وي.

ثلاثي : د درې حرفونو کلمه، د دریو شعرونو کلام.

ثلث : د جیل په اصطلاح کښې د نمبردارانو هغه ټولے یا د دې ټولې فرد چې د لویې دروازې او د جیل د احاطې دننه پیغام ورې راوړي.

ثلثمه برخه، دریمه حصه، د خط یو قسم.

ثمر : میوه، گټه، بدله، فائده

ثمره : حاصل نتیجه.

ثمن : بیعه، بیه، قیمت، اجرت، اتمه برخه، اتمه حصه.

ثمین : قیمتي، گران قیمته.

ثنا : ستائینه، تعریف، حمد، صفت.

ثنویت : دوه والے، د وحدت متضاد،

ثواب : اجر، د نیک کار بدله، عوض، فائده، نیکي.

ثور : غوښکے، غونے، غوایهٔ، د اسمان د دویم برج نوم چې شکل یې د غوئي په شان دے. د شمسي کال یوه میاشت.

ج : (جیم) د پښتو د پټې اووم حرف چې د ابجدو په حساب ئ قیمت درې (۳) دے.

جابر : ظالم، جبر کونکے، تاوان رسونکے، تکړه، زورور،

جاج : اندازه، قیاس، جائزه.

جاجر : چارجر، د تماچې ټوپک او نورو وسلو د کارتوسو اینبودو ځاے، میګزین، میخزین.

جاخه : د ونو بوټو څانګې چې په یو بل کښې ننوتې وي، جاله،

جادو: سحر، منتر، کوډې، ټونه.

جادوګر: منتر کونکے، جادو کونکے، تګ، چالباز، دوکه باز، کوډګر.

جاذب : هغه کاغذ چې سیاهي یا رنګ پرې وچولے شي، خشکه.

جار : پندغالے، شپول، کاړه، د زنانو بیت الخلاء ډنډوره، بنکاره، جهر، د شپیلی پرده،

جارح : غوښونکے، پریکونکے، زخمي کونکے، حمله کونکے، بې جوازه جنګ شروع کونکے.

جارحانه : د جارح په شان، د جارح په رنګ، جارح سره متعلق.

جارحیت : بې جوازه حمله، بې جوازه جنګ، بې جوازه ګواښ.

جارو : جاړو، ریښ، جاروب، بوهاری، باری، کانټه.

جاروانۀ : واپس کیدۀ، د جاروتل نه د ماضي استمراري د واحد غائب صیغه.

جاروتل : منع کیدل، پښیمانه کیدل، بیرته ګرځیدل، د خبرې نه اوړیدل، واپس کیدل.

جاري : شروع، روان،

هميشه بهيدونكے. قرباني، حلاله. چل، چالو،

جاري : عام، بنكاره، مشهور، عام طور سره د لاري د صفت په طور راځي.

جار : جلاب، جاړې بوټي، پيداوار، د باغ حاصلات، دوند، جړ.

جارن : د کپړې هغه ټوټه چې پرې خيزونه څنډلے شي.

جاره : يو ازغن بوټے، جغاغه، د ازغنو بوټو کن شمير.

جاسوس : خبرے، څارو، مخبر، پټ خبر ورکونکے، پټ حال لټونکے،

جاکټ : واسکټ، نيم تنے، جيکټ، جانکټ.

جاګير : دوتر، سيرى، زمکه، دفتر، جائداد، هغه زرعي جائداد چې د بادشاهانو يا د حکومت له خوا د وفاداری په انعام کښې ورکولے شي.

جال : دام، لومه. دستور، مکر، فريب، د ګډو بيزو غلانځو ته اچونکې بوجګى چې د بچو د رودلو نه پرې ساتلے شي.

جالو : خونډے، تار. جومو، جومکې، يو پسول. حاشيه، کناره، هغه کپړه چې جال لري او عام طور سره د زنانو د قميصونو او د کټ څادرونو وغيره سره د زينت دپاره لګولے شي.

جالوان : د جالي مالک، د جالي چلونکے، هغه سړے چې لويو لويو کارونو ته لاس اچوي.

جاله : د مشکونو يا شنازونو جوړه کشتى، په سيند د پورې وتو دپاره د لرګو جوړه کشتى چې لاندې ترې شنازونه ترلي وي، په غوبل کښې په غوايانو پسې لګيدلي د لښتو جاخه، د مارغانو د نښتې او بچو راوړو خاے، منخوله، خاله، منخاله،

نیستي، خواري، غریبي، د ستر کو پرده یا جاخه.

جالي : هغه نری کپړه چې ورونو یا کړ کیو ته لګي، د وسپنې له تارونو جوړه جاله، چاپ ځادر، د ولاړو اوبو شنې جاخې، جینجره کپړه.

جام : د میوې او شیرې نه جوړه مربه، کنډول، کټورے، پیاله، پیمانه، کاسه، ګلاس، د څښلو لوښے، جسے، جرمنے.

جامبړه : بیړه، د بیړې ونه، جاخه، جاړه، هغه جاړه چې خانګې نۍ یو بل کښې ننوتې وي.

جامد : کلک، سخت، ټینګ، هغه کلمه چې اشتقاق تري نۀ کیږي.

جامع : مکمل، پوره، یو ځاے کونکے، جامه، لوے جمات، مجموعه، د الله پاک یو صفاتي نوم.

جامعه : یونیورستي، ټولنه، دارالعلوم، جامه، هغه جمات چې د جمعې مونځونه پکښې کیږي.

جامعیت : پوره والے، مکمل والے،

جامن : یوه ونه او د هغې میوه چې اودي رنګ لري. د ګډیدونکو تنګ قمیص.

جامه : پوشاک، لباس، کالي، کپړه، لته، جوړه.

جامي : نمسري، د زنانۀ د میاشتې خاصه موده، د زنانۀ په خاصه موده کښې حیض جاري کیدل.

جان : ډیر خوږ، ډیر نزدې، د مینې کلمه، زړۀ ته نزدې، ځان.

جانان : محبوب، معشوق، دلبر، جان، جانا، عجیبه.

جانب : طرف، سمت، اړخ، خوا، ډډه، لور، ډله، فریق، سبب وجه،

جانباز : ځان خارونکے، بهادر، توریالے، مجاهد، سر بنندونکے.

جانبازي : سر داؤ کونه، همت او کوشش کونه، بهادري کول.

جانبدار : طرفدار، ملګرے، مددګار، مرستیال.

جانبداري : ملګرتیا، طرفداري، مرسته،

جانبين : د جانب تثنیه، دواړه خوا. دوه جانبه، دواړه اړخه، دواړه طرفه.

جاندار : تکړه، مضبوط، تندرست، صحت مند، ساه لرونکے.

جانشين : قائم مقام، د چا په ځاے ناست.

جان کنے : د جیلخانې هغه ملازم چې په قیدیانو کار کوي. جان نثار. د غرغرې د تختې راښکونکے.

جانګے : نیکر، کچه، کاچه، وړوکے پوشاک چې د لوبو او لامبلو په وخت اچولے شي.

جانماز : د مصلي په رنګ د کپړې یا بل څه جوړ څادر چې مونځ پرې کولے شي، جائے نماز.

جانثار : جانباز، سرتیرے، ځان ځارونکے، ځان قربان کونکے، سر شیندونکے، مرنے، زړور.

جاودان : ترتله، تر عمره، ابدي، لازوال، جاویداني.

جاويد : جاودان، همیشه، دائم،

جاه : عزت، درجه، جلال، شان.

جاهل : جهل لرونکے، بې علمه، ناپوهه،

جاهليت : د جاهل کیدو حالت،

جائے : ځاے، مقام،

جائداد : دوتر، ملکیت، مال حال، دفتر، زمکه، کښت، فصل.

جائز : جواز لرونکے، روا، مناسب، ټیک، صحیح، درست، حلال، د شرعي او

قانون مطابق، اصلي، مستند، د منظوری قابل.

جائزه : اندازه لګول، قیاس اخستل، جاج، پرتال، کتنه، حاضري، شمار، ګنتي، لټون، انعام.

جب : جبه، زیمناک ځای، هغه زمکه چې اوبۀ پکښې ولاړې وي.

جب جوب : لوند خوشت، خوشت پوشت.

جبر : زور، ظلم، زیاتے، بې رحمي، په حساب کښې د کسر اختصار،

جبل : د وسپنې هغه تیرۀ ډنډه چې زمکه پرې کنستے شي.

جبلت : پیدائشي حاصیت.

جبه : هغه زمکه چې اوبۀ پکښې ولاړې وي، جب، ډنډ، بوخته، چقړه، هغه لوښے چې د ګانی تیل پکښې جمع کیږي.

جبهه : ډله، دسته، جماعت، محاذ، د جنګ د میدان مخکښې برخه، سرحد، باډر، تندے، د سپورمی د یو منزل نوم.

جبین : تندے، وچولے، تنډه.

جبي :د ماشومانو تالو پریوتل،

جت : جاټ، پنجابے، نارامه، ناپوهه، جاهل، ان پر.دارۀ، فواره، پواره

جتهکانه : د جټ سره منسوب، د جټانو په طریقه.

جتهکه : خوزیدنه، لړزیدنه، جلکه، جیټکه، دیکه، جوټه،

جُثه : جوثه، شکل، صورت، څیرۀ، بدن.

جج : منصف، انصاف کونکے .د زني کوټے، د زني کوغالے، د زني لاندې غوښه، غړے، ججورۀ.

جحیم : دوزخ، جهنم، جاندم.

جُخت : پیوست، نزدې، سلامت، روغ، سالم، تقریباً.

جد : نیکهٔ، د مور یا د پلار پلار، مورث اعلیٰ.

جدا : بیل، خان له، کوښې، یواځې، یو طرف ته.

جدال : جنګ و جدل، جنګ، دښمني، جګړه.

جدائي : بیلتون، جدا والے، هجران، فراق.

جدت : نوے والے، جدیدیت.

جدل : جنګ جګړه، شور، مخالفت، دشمني،

جدوجهد : هڅه، کوشش، محنت، مشقت، خواري.

جدول : فهرست، لست، حاشیه، د کتاب د پاڼې نه کیر چاپیره رابنکلې کرښې، شیډول،

جدي : د نیکهٔ له خوا، موروثي، لسم اسماني برج چې د ښکروري بڼې په شکل څرګندولے شي. د هجري شمسي کال لسمه میاشت. فعال، تکړه،

جدید : نوے، د موجوده وخت، تازه.

جدیدیت : نوے والے، نوے توب، د جدید کیدو حالت.

جذام : پسم، پسمن توب، یو جلدي مرض.

جذب : رابنکنه، الر، کشش، جوش، په ځان کښې ځایونه، د بیخودی کیفیت چې په بزرګانو خلقو راځي.

جذباتي : جذبې سره متعلق، جوشي، جذبه کښې راتلونکے، هغه څوک چې په ځهٔ خبره پسه جوش کښې راځي.

جذبه : د ذهن هیجان، جوش، د نفسیاتو په اصطلاح کښې د ذهن له هغو دریو خاصیتونو څخه یو چې د حقیقت ادراک پرې کیدے شي نور دوه خاصیتونه ئې په ترتیب سره احساس او علم دي.

جزوبندي : د کتاب جزونه بیلونه او کنډنه.

جزوي : د جزو سره منسوب، نیمګړی، په نیمګړي ډول.

جزیره : ټاپو، هغه وچه چې ګیر چاپیره ئ اوبه وي.

جزیه : د اسلامي شریعت د لاندې هغه مقرره ګلنګ چې ذمیان ئ اسلامي حکومت ته د سر او ناموس د سلامتیا ساتلو دپاره ورکوي.

جسارت : بهادري، زړه ورتیا، دلیري، بې شرمي، بې حیائي، رډتوب، کلک سترګي توب.

جستجو : تلاش، لټون، طلب، لټونه، پلټنه.

جسد : تن، بدن، وجود، جسم، جثه، جوړه، لاش، مړی، کالبوت.

جسم : تن، بدن، وجود، څټه، ګرګه، ځان، د جیومیټری په اصطلاح کښې هغه څیز چې دري اعتداده (طول، عرض او بلندي لري).

جشن : د بنادی موقعه، د عیش مجلس، په خاصو موقعو منعقد کیدونکی د خوشحالی مجلس.

جعل : ټکي، فریب، دوکه، چل ول، جوړښت، بناوټ، دیسي والی، ساخته کاري، د غوښانو یا سوټو ګونګټ.

جعلي : نقلي، دیسي، چې اصلي نه وي.

جغ : خم، زغ، جوغ، د لرګي جوړه هغه آله چې د قلبي په وخت د غویانو په غاړه کښې اچولے شي.

جغرافیه : د جهاګرافي معرب، د زمکي علم، د زمکي صفت یا احوال بیانونه.

جغلوے : خوشدوے، هغه لرګے چې په جغ کښې ورکولے شي او د هغې په وجه د غوني څټ په جغ کښې بند وي

جفا : د وفا متضاد، ظلم، زیاتی، سختی.

جفاکش : خواري کښ، محنت کش، محنتي.

جفاکشي : د جفا کش کیدو حالت، محنت، خواري،

جفت : جوړه، غبرګ، برغ، د طاق متضاد.

جفتي : د نر او ښځې سره یو ځای کیدنه.

جفر : علم جفر، دیو داسې علم نوم چې پکښې د قسمت د حال د معلومولو دعوي کیږي.

جق : جک، بکواس، فضول خبره.

جک : جق، بکواس، فضول خبره، عبث خبره.

جک جور : روغ جوړ، ښې جوړ، روغ رمټ.

جکړ : جاکړ، بادو باران، خول، طوفان، تباهي، بربادي، خرابي.

جک : دبک، لوړ، ډینک، چک، ولاړ، نیغ، جیګ د اوبو لوښے.

جګرخون : خیګر خون، خواري، محنت.

جګرمار : جګرالو، پساتي، فسادي، جګراوو.

جګړه : جنګ، شور، تنازعه، نښه.

جکي جکي : د زاري کلمه، د خواست کلمه، چیکي چیکي.

جل : ویړه، بار، وار، خندق، شپول. یوه ورځه مرغی. جینی، جلی، جینوتی، نجلی، جلکی. جلبل، تبرے، سوے،

جلا : جدا، بیل، ګوښې، یواځې، خان له.

جلاب : جار، جولاب، مسهل، د دستونو راوستو دارو.

جلات : جلاد، ډرې لګونکے، سر پریکونکے، ظالم، بې رحمه.

جلا جلا : بیل بیل، جدا جدا.

جلار : د سیند په غاړه

کنستلے شوے هغه کوهے چې د سینـد اوبـۀ د ارټ یا پمپ پـه ذریعه تري د اوبـۀ خور دپاره استعمالیږي.

جلال : لوئي، بزرګي، شان، دبدبه، د الله پاک صفت.

جلاله : د جاري اوبو چینه.

جلالي : جلال لرونکے، تاؤژن، قهرژن.

جلاوطن : لـه وطنه شړلے شوے، خارج شوے، له وطنه ایستلے شوے.

جلب : هغـه پـرے چې د څاروو غاړې ته اچولے شي. چا سره د رخصتولو په وخت څو قدمه تلل. وچوړے.

جلبل: ستي، لوغړن، سوے،

جلت : جلد، تیز، چالاک، چست، چاق، تند، ګړندے، څرکند، جوت، بنکاره.

جلد : څرمن، پوستکے، کـانـتـه، قایه، کتاب ته اچولے شوي کټه، یو کتاب، د کتاب یـوه حـصـه چې بیله لیکلې یا چاپ شوې وي.

جلـد باز : غیر ضـروري جلدي کونکے، غیر ضروري تـادي کـونکے، غیر ضروري بیړه کونکے.

جـلدبازي : بـې ضـرورته جلتـي کول، غیـر ضـروري تندي کول،

جلد بندي : د کتابونو د جلدونو جوړولو او لګولو کار.

جلد ساز : جلد اچونکے، جلد بند، جلدګر،

جلسـه : نـاسـتـه، غونډه، مـحـفـل، مـجـمـع، اجتمـاع، نشـسـت، مـانځۀ کښې د دوؤ سجدو تر منځه کښیناستل.

جلکي : جینوتې، جلکوتې، وړه جینی، نجلی، جلی.

جـلنـدر : جـالـن، جـالـر، د برقعې ستر ګي.

جلن : د کـوتې د تیر هومره وړد لـرګے چې په ارټ کښې د لټ د پاسه پروت وي.

جلو : واکي، قيزي، ملونه، جلب، مخه، مخ، سورلي.

جلوت : د خلوت متضاد، ډير خلق، هجوم، ګڼ شمير.

جلوس : کښيناستهٔ، تخت نشيني، په ګڼ شمير کښي د خلقو د څهٔ خبري په حق يا مخالفت کښي راوتل او مظاهره کول.

جلوه : تجلي، بريښنا، نظاره، بنکاره کيدنه.

جلي : د خفي ضد، روښانه، څرګند، معلوم، روڼ، ظاهره، صيقل شوے، په غټو تکو ليکلے شوے.

جليا : وريت، سوے، لوغړن.

جليس: ملګرے، دوست، اشنا. اصلي معنيٰ ناست،

جليبي : يوه شيريني چې له وريژو جوړيږي، خلوبی، يو ډول خوارڼهٔ چې په غوړو کښي پخيږي او تاؤ راتاؤ شکل لري.

جلي : نجلي، جيني، جلي، جلکي، جني،

جم : جم جکړ، بادوباران، هغه باران چې سيلی پکښي وي. قبيله، خاندان. چم، ټول، راغونډ، يو ځاے.

جُمات : نمځدک، جومات، مسجد، جميات، د خداے کور، د مسلمانانو د عبادت ځاے.

جمادي : د اسلامي قمري مياشتو پينځمه او شپږمه مياشت چې جمادي الاول او جمادي الثاني ورته وئيلے شي.

جمادي الاخر : وګورئ جمادي الثاني.

جمادي الاول : دريمه خور، د هجري کال پنځمه مياشت.

جماع : کوروالے، د انساني نر او ښځې په جنسي لحاظ يو ځاے کيدل.

جماعت : ټولے، غونډه، ټولنه، مسجد، جمات،

نمځدک، صنف، درجه، کلاس.

جمال : ښائست، ښکلے توب، حسن.

جمال کوټه : یو دست آور تخم، جمال کوټه.

جمامه : جمیا، د شړشمو په شان یو بوټے چې تیل تري ویستے شي، تارمیرا.

جم جکړ : جم جپر، زول او طوفان، سیلی او باران.

جمدانی : نری سپینه کپړه، د زنانوڅ د لوپټو کپړه.

جمدر : جندر، یو قسم خنجر چې دواړه مخه ئ تیرة وي، پیشقوزه. جودر، جاؤدر، یو قسم وابنۀ چې د غنمو د بوټي په رنګ بوټے لري او په غنمو کښې کیږي.

جمع : یو ځای، غونډ، ټول، کل، پند، ټولے، غونډه، د حساب یوه قاعده، میزان، پنګه، سرمایه، ذخیره، نغدي، مطمئن، په تسلي.

جمعرات : د هفتې شپږمه ورځ، زیارت، پنجشنبه، د جمعې نه مخکښې راتلونکې ورځ.

جمعه : ادینه، جومه، د هفتې اوومه ورځ، د زیارت او خالي ترمخه ورځ، د مړي جومه، د مرګ نه پس راتلونکے زیارت، د جمعې په شپه مړي پسې خیرات کول.

جمعیت : غونډه، ټولنه، کنبه، جمع، اتفاق، تسلي، داډ، دلجمعي، نفوس، سر شماري، شتمني، بډائي،

جمل : اوښ. د ابجدو د حساب علم.

جُمله : ټول، کلهم، همه، واړه.فقره، د څو ټکو مجموعه.

جمود : په ځای ودریدل، بې حرکته کیدنه، ساکن کیدل، سائنس کښې د حرکت هغه اصول چې د هغې مطابق یو ساکن څیز بې له قوته متحرک او یو

متحرک څیز بې له قوته ساکن کیدے نه شي.

جمهور : عام خلق، اولس، جمعیت، عوام.

جمهوریت : اولسي حکومت، د خلقو حکومت، دیماکریسي، ري پبلک، عوامي حکومت، هغه حکومت چې خلق خپل نمائنده ګان په خپله مرضی خوښ کړي او بیا هغوي د یو مقرر وخت دپاره حکومت کوي. د خلقو دپاره د خلقو چوڼ کړے شوے حکومت چې د خلقو وي.

جمیع : کل، په جمع، په هیر.

جمیل : پیے مخے، بنکلے، بنائسته.

جن : پیرے، هغه مخلوق چې لیدے نه شي.

جن : جینی، نجلی، جنی، جلی.

جناب : د احترام او عزت کلمه، صاحب، حضرت، بناغلے. درګاه، در، دروازه.

جنابت : پلیتي، ناپاکي، اودس اوړیدل.

جنت : د جن جمع، پیریان.

جناح : وبال، ګناه، جرم. وزر، څانګ، پر، اړخ، پلو، برخه، مټ.

جنازه : د مسلمان مړي ماتمي جلوس، هغه نمونځ چې د مسلمان مړي د بښخولو نه مخکښې کولے شي.

جن و انس : پیریان او انسانان.

جنایت : جرم.

جُنب : ناپاک، په هغه چا چې غسل واجب شوے وي او لمبلي ئ نه وي. اجنبي، میلمه.

جنبش : حرکت، خوځیدنه.

جنبه : ډله، پره، مرسته،

جنت : د اسلامي عقیدې مطابق هغه انعامي باغ چې د دنیا د ښو کارونو په عوض

کښې په نیکانو ته د الله پاک په فضل ورکیدے شي، باغ، بهشت.

جنتري : تقویم، کیلنډر،

جنج : د وادۀ د خلمي هغه جلوس چې د ناوې کور ته ځي او ډولی ترې راوړي.

جنجال : فساد، لانجه، بې ارامي، ناقلاري، پریشاني.

جنجر : سوند، شوند، پوخ شوے اوړک. مړاوے، پژمرده، شیته، جینګړ، تت.

جنجوړیا : چیپړ، کوت کوت، کنځی کنځی.

جنجي : د کبانو نیولو جال. ورا بانے، په جنج تلونکے.

جنډه : بیرغ، توغ، زړه جامه، خوندړي، خونجاړي.

جنس : شان، شکل، غله قرض اخستل، د غلې پور،

جنسا : بجسنه، په خپله، عیناً، کټ مټ، هوبهو، بیدو، بیدونے.

جنس : قسم، اصل، ذات، نوع، نوغے، خیل، شے، څیز، مال، اسباب، شکل، شان، په انسان او حیوان کښې د نارینه او زنانه ویش.

جنګ : جنګریز، جګړه، نښته،

جنګجو : جګړمار، جنګ کونکے، جنګیالے، جنګي،

جنګریز : د جنګ ډګر، د جنګ میدان،

جنګله : د وسپنې بار،

جنګول : په جنګ اخته کول، نښلول، جګړول، دوه څیزونه سره په ډغره ورولستل.

جنګیالے : تورزن، د جنګ ماهر.

جنګیدل : نښتل، په جنګ اخته کیدل، دوه یا ګن څیزونه یو بل سره لګیدل.

جنګی : وړوکے خنګل، ګنې ونې، هغه ځاے چې ګنې ونې پکښې یو بل سره جخټې ولاړې وي. وړینې جرابې، موزې.

جنوب : سویل، سهیل، د نمر پریوتلو ته د مخ کونکي کس لاس ته طرف. ناولے، پلیت، ناپاکه.

جنوتارے : بنخونک، هغه هلک چې د جینکو غوندې خویونه لري.

جنوري : د عیسوي کال وړومبی میاشت چې د دسمبر نه پس او د فروری نه مخکښې وي.

جنون : لیونتوب، قار، غصه، سوخت،

جنین : په کیډه کښې دننه ماشوم، د ماشوم په رحم کښې ابتدائي حالت.

جو : د زمکې او اسمان تر منځه خلا، هوا، تشه، خالي ځای.

جو : کلمه ربط، شاید، کنې، کوندې، جوړ، بس، د تکیه کلام په ډول وئیلے شي.

جواب : ځواب، بدل، عوض، انکار، مثال، ثاني، پیغام.

جوابي : د جواب، هغه چې انکار ورته شوے وي.

جواد : سخي، د الله پاک په نوم ورکړه کونکے،

جوار : نزدیکت، کاونډ، قرب، کاونډتوب.

جُوار : جیوار، یوه غله، جوور، جیوور.

جوارش : په قوام کښې پخه شوې یوه مرکبه دوائي چې ډیر ښه خوند لري او عام طور سره د کیډې د مرضونو دپاره استعمالیږي.

جوارگر : هغه څوک چې جواري کوي.

جواري : جیواري، قمار بازي، شرط، پر.

جوارینه : سکړک، د جوارو روټی.

جوارے : د جوارو روټی، سکړک، د جوارو وډے.

جواز : روا کیدنه، جائز کیدنه، اجازت، رخصت،

اجازت نامه. د کتو یا تیلو کانی.

جوال : لویه بوری، غوندی. ډیر تعداد، ډیر مقدار،

جواهر : ګوهرونه، قیمتي کانۍ، د جوهر جمع.

جوبن : د جینی خوانی، د خوانی نوی راتګ، د جینی د سرې کیدنه، د حیض راتلل.

جوړه : کاروان، قافله، ټولۍ، خل، وار، نوبت، برخه، حصه، بخره.

جوت : جفت، جوړه، جوړی، تیار، زوت، عادت شوی، برابر.

جوَت : بنکاره، څرګند، معلوم، ظاهر.

جوت تاک : جفت او طاق، یو دول جواري چې په موټي کښې غوزان یا نور څیزونه ونیسي مخاطب نه پوښتنه کیږي چې جوت که طاق.

جوتش : نجوم، د ستورو علم، جنتر منتر.

جوت طاق : وګورئ جوت او طاق

جوتکي : جوتي، لغتي، لتي، توپونه.

جوتي : جوت شوی، عادت، اموخته، روږدی، ایل شوی، بلد، عادي، په یوې قلبه یا بار عادت څاروی، د ناڅیک او ناباري متضاد.

جوتي : جفتي، جوړه، غبرګي، برغي.

جوټ : خیټ، کتې، خوان، سړی، د میښې خوان بچی. چرګوتی، چرګوړی.

جُوټ : خفه، تنګ، زهیر، غمژن، تربت، دروغ، عبث، فضول، چټي، ملګری، ساري، سیال،

جُوټه : پاتې خوراک، پس خورده، ګنده شوی، څکلی، ناپاک، پلیت، مردار، د سوچه ضد.

جوتـه : د جوت مؤنث، خوانی ته رسیدونکي کتي.

جوج ماجوج : خوخي ماخوخي، یاجوج و ماجوج، یو قوم چې په قرآن کښې ئې د فسادیانو په حیثیت ذکر راغلے دے.

جود : سخاوت، بخشش، ورکړه.

جودانه : د اوربشي د دانې هومره.

جودر : جاودر، جمدر، یو قسم وابنهٔ چې په غنمو کښې کیږي او بوټے ئې د غنمو د بوټي په رنګ وي.

جور : زور، زیاتے، ظلم. د وریژو دم، هغه وریژې چې د پخولو نه وروسته وړدي شي د وریژو دغه د وړدیدو صفت ته جور وئیلے شي.

جوړ : روغ سلامت، صحت مند، تیار، ساز، شاید، ګوندې، ګنې، برابر، سم، موافق، بند، اندام، د هډو کوپیوند.

جوړ : تالاب، تالاؤ، حوض، جیور، ډنډ، ډنډوکے.

جوړ تازه : لاس ورکول، ستړي مشي کول، ګړه بړه، بړه ګړه، بړ ګړندے.

جوړښت : سازوالے، جوړتیا، روغوالے، تندرستي، سمون، برابرے، موافقت، رغونه، فیصله، روغه، جوړه، صلح، تعمیري کارونه.

جوړول : سازول، رغول، روغول، پخلا کول، سکنل، سکښتل، ورستول.

جوړه : جفت، د قلبي دوه غویان، جامه، پوشاک، لباس، قمیص پرتوک، سوټ،

جوړه : روغه، صلح، راضي نامه، پخلا کونه.

جوړه جاړه : روغه، صلح، روغه جوړه.

جوړیدل : تیاریدل، برابریدل، رغیدل، سمیدل، سازیدل، ابادیدل، بنائسته

کیدل، پخلا کیدل، روغه کیدل، مئینیدل، سنگاریدل، ولاړیدل، راضي کیدل.

جوزا : د ثور او سرطان تر منځ میاشت، د غبرګولي میاشت،

جوس : انګړ، انګن، غولے، صحن، کوڅه، کلي ته نزدې زمکه، درشل.

جوسو : جخت، پیوست، متصل، له سره تیرونه.

جوسه : جثه، جوړه، څیره، بڼه، کړهٔ وړهٔ، جسم، بدن، وجود، تن. هغه الماری چې په دیوال کښې جوړه شوې وي.

جوش : ختېکیدل، یشیدل، خوښ، ولوله، جذبه، ګرمي، تیزي، زور. شهوت، مستي، سوخت، قهر، غصه، لیونتوب، جنون.

جوشانده : سنا، فلوس، یو قسم دارو چې د زکام دپاره استعمالولے شي.

جوش خروش : جذبه، ولوله، مستي، غصه، تودښت.

جوشول : یشول، ایشول، خوښول، خټکول، جوش ورکول،

جوشیدل : خوښیدل، یشیدل، خوټکیدل، جوش او تاؤ خوړل،

جوک : ګانۍ یا بټۍ ته د اور بلولو څانے. وزن، تول، اندازه، یو قسم مرغۍ، څرے، زخه، د ټوپک زخه. د اوښانو د چو کولو څانے،

جوکر : ټوقمار، ټوقي، د ټاش په پانو کښې د جیک پانه، غلام، یولس.

جوکل : پیمل، وزن کول، تلل، تول کول، اندازه کول،

جوکمار : هغه څوک چې په ګانۍ کښې اور بلوي.

جوکه : زور، طاقت، قوت، خواک، ډوګه، کوندې، ډوکه، ژوړه، زوله، یو ډول چینجے چې په اوبو کښې پیدا کیږي.

جوګنه : د جوک او سحر او جادو ماهره، د جوکي ښځه، د جوکي مؤنث.

جوګه : لائق، قابل، مناسب، موزون، وړ.

جوګي : جادوګر، جوک کونکے، کوډګر، جوتشي، د یوګا ماهر. تور یا سور کونتر چې سر ځ سپین وي.

جولا : اوبلونکے، په کلې رخت جوړونکے. پاولے، بافنده، تارکښ، غمے، غنه، جولاګ، عنکبوت.

جولا ګاډے : سائیکل، دوچرخه.

جولاګے : د جولا اسم تصغیر، غمے،

جولان : د اس خغل، د اس منډه، خولنه،

جولانګاه : هغه خای چې د چرته نه اسونه خغلولے شي.

جولائي : د عیسوي کال اووم میاشت چې د اګست نه اکاهو او د جون نه پس راځي.

جوله : څیره، شکل، بنه. وړوکے بیګ، زیړے، یرقان، جل، سپیرکی، فالج، ګوزن، جمامه، تارامیرا.

جولي : خولی، لمن، یوه فوځي کڅوړه، جوله.

جومات : جماعت، جمات، مسجد، جمیات.

جومپک : غومپک، غومپکه، غنجک،

څکل : د څۀ څیز خوند معلومول، په ژبه د یو شي کیفیت معلومول، په ژبه د یو شي خوند معلومول،

څکول : رابنکل، راکښل، کشول، څخول، غوڅول،

پریکول.

څکه : څکنه، د څکلو عمل، د ژبې په ذریعه د څه څیز خوند معلومول، په ګولۍ سرسري لګیدنه، د یوې بیماری نوم.

څکے : څیکے، هغه ټوکری چې په چت یا بهر انګن کښې په پرې کښې خورندولے شي اود خوراک څیزونه پکښې ایښودلے شي. د مندټي مغز، د خرمانی مغز، چج، څپانکے، څپ.

څلور : د دریو او پنځو ترمنځه هندسه.

څلور الیز : پاؤ، چونے، پنځویشت پیسې، د روپی څلورمه برخه.

څلوربول : خناور، کم عقل، احمق.

څلوربولي : خرپوسې، په څلورو پښو.

څلوربولے : چارپای، چارپایه، هغه حیوان چې څلور پښې لري.

څلور کنجه : څلور ګوټه، څلور خوا، ګرده نړۍ، ټوله دنیا.

څلورېزه : رباعي، هغه دوه بیتونه چې د وړومبي بیت دوه مصرعې د دویم بیت له اخري مصرعې سره هم قافیه وي.

څلویښت : دوه شلي، د نهۀ دیرش او یو څلویښت تر منځه عدد.

څلویښتي : چهلم، د مړي په څلویښتمه ورځ خیرات

څله : څیله، چله، سخته یخنې، کنکل، یخ، د پو ما میاشت.

څله : د زړۀ تاؤ، سودا، امید، هیله، خوښه، مینه، اشتیاق، تسلي،

څلیرویشت : څلور د پاسه شل.

څلیښ : شریش، څلیښت، سریښم، څلیښتناکه ماده،

ژاوله، د وني کنډ، چير.

څليښتناک : سليښناک، د څليښتو اثر لرونکی، د څليښ خاصيت لرونکی.

څلی : په قبر لګيدلی تختی، د قبر شناخته، قبر، ښه، د تيرو ډيرے، د کاپو ډيرے، ښکه، نادګار، ميار، قبر، مجسمه، بدن، ورمه په ګوتو کښې اچولکې کړی، ګوتمه، حلقه، ګوته.

څمڅمار : چمچمار، کوچه مار، يو ډول مار خطرناک مار.

څمڅی : څمڅه، د لرګی لوبه قاشوعه چې کتوی پرې لړلے کيږی.

څملول : عرول، اودهٔ کول، شکست ورکول، پرول، راغورځول، معلوبول.

څميار : چمسار، موچی، هغه څوک چې ښې يا څپلی ګنډی يا جوړوی

څنخرے : تنخرے، يو خوش اوازه مارغهٔ.

څنډل : د غرهٔ په سر هواره څوکه، د غرهٔ په سر هوار ميدان. څبول، تپکول، شنول، زمبل، سپورې ستغې ونيل، سپکول، بدې ردې ونيل

څنډول : تک وهل، دوړه ايستل. شورول، څنډ ورکول، شور ورکول،

څنډ وهل : څنډل، څبول، شورول، د څادر يا کمبل وغيره نه دوړه ايستل.

څنډه : تندے، تپه، ډډه، مورکه، ارخ، ژی، جاوجی، څورکه، حاشيه، لمن ليک

څنګ : خوا، طرف، ارخ، ډډه، پلو، احتراز،

څنګ و څټ : پټونه، الم علم کونه. له نظره عايب نه. ډډی نه کونه. بو حوا کونه. خان قدرونه. خان څخونه

څنګ په څنګ : خوا په خوا، غاړه په غاړه، څنګ پر څنګ.

څنګزن : په یو اړخ، په یو طرف، په ډډه.

څنګل : مټه، د مټ د بند نه تر مڼکل پورې لیچه.

څنګه : څه قسم، څه رنګه، څه شان، څه حیل، څنګ،

څنه : د بنځو د سر ویښته چې د غوږ او انګې په مینځ کښې تاؤ راتاؤ شوي وي، څونه، قلم.

څنیور : څیندور، جوزا، یو اسماني برج، عبر ګولے.

څوَ : څاؤ، داؤ، چاته په ترپ کښیناستنه، څوک څارنه، د موقعې په لټون کښې، د څارنې دپاره جوړ شوے خاے، پټونے. څاؤ، د پټې په منځ کښې کنده چې تیپر او ګاخرې وغیره پکښې د یخنی نه پټ ساتلے سي

څو : څه رنګه، څنګه، څومره، څو عدده، تر کومه وخته پورې، څونه،

څوارلس : د دیارلسو او پنځلسو تر منځ عدد، څلور او لس.

څو تر څو : تر کمه، تر څومره پورې، تر څو پورې،

څورلب : عټ، مضبوط، تکړه، چاق، شلنډ، تازه، تاند، هغه څیر چې غوږ زیات لري،

څوره : څومره، څه قدر.

څورمنے : د اوړي او ژمي تر منځه فصل یا موسم، سپرلے، څرمنے.

څوکه : نوکه، د نیزې او توري تیرۀ سر، د چاقو د توري او شل وتے او سرے تیرۀ سر، د مرغی مښوکه، د وني پاس اخری څړوکی

څوکیدار : څوکی کوونکے، چوکیدار، پیره دار، پهره ورکوونکے.

څوکی : وړه کرسی، چوکی، پیړه، نابه، د پولیس هغه ځای چې د تانې نه ورکوتې وي. مورچه، سنګر، مورچل، د برج د پنایی دیوال، یو دول بوتې، د څوکیدار د ودریدو ځای. کلچه، چپاتې.

څومره : د چا نه د څهٔ څیز د مقدار یا ناپ معلومولو په وخت د ذکر کړې شوي مقدار یا ناپ پوښتنه کول،

څهٔ : د تعجب او د پوښتنې د فقري په سر کښې ونیلے کیږي، لږ، بعضې، څنې.

څهره : څیره، بشره، شکل، موشاده، نمونه، مخ، کونه

څهٔ نا څهٔ : لږ ډیر، کم از کم، څهٔ قدري،

څې : د پښتو د حروف تهجی لسم حرف چې صحیح تلفظ یې څیم دے.

څیرل : شلول، بڑه کول، په مخ دوه کول، اړه کول.

څیرول : تلول، غوڅول، پریکول، څیرل، لري سوپري والایستل

څیره : څپکه، د نمر څپکه، وړه کپړه، وړوکے پنے

څیري : دوه ځایه، بڑه، شلیدلے، شکیدلے، برڅیره،

څیریدل : شلیدل، بڑه کیدل، اړه کیدل، پریکیدل.

څیز : شے، مال متاع،

څیزور : څنیور، غرګیز، جوزا، غبرګون، د هجري شمسي کال د دریمې میاشتې نوم.

څیر : مانند، مثل، نظیر، ډول، غوندې، شان، رنګ.

څیره : موشاده، چپړه نسه، شکل، د مخ جوړ، رعوبه، پکړی، طره،

څیړل : تحقیق کول، بحث کول، څیړنه کول، چیړل، سکول، په عذابول.

څيړی : بنوط. يوه عرنيزه ونه

څيلمه : ټول، بيحې، تمام، ځاې.

کرد، اړخ ته، کناره

څيورے : د شپانو د وسيدو

ح : (حي) د پښتو حروف تهجي د پنځمې یوولسم حرف چې د ابجدو په حساب ۸ شمیر اتهٔ (۸) دے.

حاجت : متازي، اړه، احتیاج، ضرورت، امید، ارزو، التجا، اودس ماتے

حاجتمن : حاجتمند، محتاج، ضرورت مند، موتازه، اړیه،

حاجتمندي : بده ورځ، تش لاس، موتازي، محتاجي، احتیاج، ضرورت.

حاجي : هغه سړے چې د حج سعادت ۸ حاصل کړے وي.

حادث : نوے، تازه، د قدیم متضاد، پیدا، پیښ.

حادثه : پیښه، ناکهاني پیښه، سخته او درڼاکه واقعه، غوړیکه،

حاذق : زیرک، هوښیار، پوه، پوه طبیب، سودمن.

حار : حرارت لرونکے، توده، گرم

حارث : زمرے. بزگر، کرونده گر

حارص : حریص، اروا وږے، حرصناک، لالچي، هغه څوک چې صبر پکښې نهٔ وي.

حاره : حرارت لرونکي. گرمه، توده.

حاسب : شمیرگر، حساب کونکے

حاسد : بدنیته، حسد کونکے، هغه څوک چې د چا ښه ورځ نهٔ شي لیدے.

حاسه : حس، د معلومولو قوت، د ادراک قوت.

حاشا : انکار، د انکار کلمه.

حاشیه : غاړه، څنډه، ژی، چوری، جاوجي، مورگه، څورگه، هغه وضاحتونه چې د کتاب د لیکونکي له خوا د کتاب په غاړو په بیله توگه لیکلے کیږي. لمن لیک

حاصل : نتیجه، میوه، آمدن، کتله، بوره، ثمر، خلاصه.

حاصلول : لاس ته راوستل، کتل، اخستل،

حاصلیدل : کتلے کیدل، ترلاسه کیدل، بودیدل.

حاضر : موجود، تیار، تکړه، اماده،

حاضرول : وړاندې کول، راوستل، مخامخ کول، تیارول، چمتو کول

حاضري : موجودتیا، شتهٔ والے.

حاضرین : د حاضر جمع، هغه څوک چې په یوه جمع یا کټه کښې په موقع ناست وي، ناست کسان، ناست خلق.

حاضریدل : تیاریدل، وړاندې کیدل، مخامخ کیدل، حاضر کیدل، موجودیدل، ښکاره کیدل،

حاطه : په چاردیواری کښې دننه زمکه، خاته

حافظ : هغه څوک چې قرآن مجید ورته په یادو یاد وي. په ستر کو معذوره، اپیجې- ساتونکے،

حافظه : یاداشت، د یاد ساتلو قوت، یادښت،

حاکم : واک دار، اختیار لرونکے، حکومت کونکے، آقا، مالک، فرمان روا، بادشاه.

حاکمیت : اقتدار، واک، اختیار.

حال : درک، پته، موجوده وخت، اوسنے وخت، حالت.

حال احوال : تپوس، خبر، حالات، خیر خبر.

حالانکې : اګرچې، درحال، دراصل، اصل کښې.

حالت : حال، کیفیت، وضع.

حالي : اوسنے، موجوده، حاضر.

حامل : باربردار، د څهٔ څیز لرونکے، حمل کونکے، بار وړونکے.

حامله : امیدواره ښځه،

هغه بنځه چې ماشوم نۍ په
کیږه وي، چې حمل نۍ شوے
زی. سلاربه، ډکه، ډډه، ټینګه،
باندې.

حامي : حمایت کونکے،
ملاتړ، ساتندوے، سیلکړے،
د نوح علیه السلام زوي حام
ته منسوب، د حام له نسله،
تور، حبشي، د لرغوني مصر
د بربر د قومونو او نمرختیزې
افریقې ژبې.

حاوي : احاطه کونکے،
چاپیرونکے، قابض، غالب.

حائضه : حیض داره، هغه
بنځه چې جامې نۍ کیږي.

حائل : ستنونکے، په منځ
کښې راتلونکے، د لارې خنډ
جوړیدونکے

حائلیدل : حائل کیدل، په
منځ کښې راتلل

حب : مینه، محبت، عشق،
دوستي، الفت.

حباب : د اوبو غولی،
بوربورکی، د اوبو

غورغورکی، بوکی، د اوبو
په سر د هوا جوړیدونکې
بربوقی، پوکنی.

حبس : بندي کونه، بند،
قید، جیل، زندان، اړیخے.

حبسول : قیدول، بندي
کول، په زندان کښې اچول،

حبسیدل : قیدیدل، بندي
کیدل.

حبشي : حبش ته منسوب،
د حبش باشنده د حبش
وسیدونکے تور، توره.

حبطه : فضول، بې فایدې،
ابته، ناپاک، ضعیف، کمزورے،
خفه، بابیره.

حبیب : محبوب، دوست،
زړۀ ته نږدې، معشوق.

حتم : هرومرو، اړومرو،
خامخا، ضرور.

حتما : خامخا، اړومرو،
ضرور، هرومرو.

حتمي : لازمي، بې شرطه،
ضروري، اخري.

حتیٰ : تر هغه چې، تر څو

پوري چې، تروسه.

حج : د پنځو بنا اسلام نه پنځم رکن او فرض عين .

حجاب : پلو، پرده، نقاب، شرم، حيا،

حجاج : د حاجي جمع. حاجيان.

حجازي : د حجاز سره منسوب، د انبار او حيره د قبيلو يو قسم ليک وۀ چې په عربو کښې د اسلام د راتلو تر وخته مروج وۀ.

حجامت : ږيره خريل، ږيره کلونه، شيو کونه، ږيره.

حجت : برهان، دليل. سند،

حجتي : حجت کونکے، حجت اخستونکے.

حجر : تيږه، کانے، ډبره، کټه.

حُجره : د بارينه ميلمنو د ناستې ځاے، د پښتنو نارينوڅ د ناستې ځاے، اجره، ديره، ډيره، کوټکی.

حجم : د څۀ څيز غټ والے يا جسامت، قوت، قدرت، توان.

حد : پوله، برید، د څۀ څيز اخري ډی، حائل، جزا، ندني مجازات،

حد بندي : حد مقررونه. مقام مقررونه.

حدود : پولې، بريدونه، اسلامي حدود، اسلامي دفعې. د حد جمع.

حديث : نوے، تازه، جديد، خبر، خبره، د رسول کريم صلي الله عليه وسلم اقوال مبارک.

حديقه : باغچه، وړوکے او په ديوالونو کښې کيږ باغ، باغيچه، باغ، بن.

حذر : ځان ساتنه، پرهيز، اجتناب، ډډه کونه، ځان ژغورنه، ويره، ډار، بيره.

حذف : اچونه، غورځونه، لرې کول، يو توري د منځ نه ويستل

حذفول : اچول، غورځول، لرې کول، بې تورې د منځه اپستل

حُر : ساهو، آزاد، خپلواک، د مریې متضاد

حر : تودوالے، تودوخه، حرارت، ګرمي.

حرارت : تودوالے، تودوخه، لږه تبه،

حراست : قبضه، حفاظت، ساتنه، څارنه.

حرام : هغه څه چې په شریعت کښې د هغې کول یا خوړل منع وي، ناروا، د حلال ضد

حرامنه : د حرامي مؤنث، بې تمیزه او حرامه ښځه

حرامول : منع کول، حرام ګرځول، بندول، ناجائز ګڼل.

حرامي : حرامزے، ارامي، ولدالزنا، د زنا پیدا، په غلطه طریقه پیدا شوے، حرام زاده، غل، شیطان، وران کارے، بدمعاش.

حرامیدل : منع کیدل، ناروا کیدل، بندیدل

حرب : جنګ، جګړه، مقدمه

حربه : چل، تدبیر، طریقه، د غرض او مقصد حاصلولو ذریعه، وسله، اسلحه.

حرج : تنګسه، نقصان، زحمت، مشکل، تنګ ځایے.

حرص : لالچ، طمع، هر څیز د حد نه زیات غوښتنه.

حرصناک : ولګوړی حارص، لالچي، حریص،

حرصي : لالچي، حرص کونکے، حریص، حرصناک

حرف : هغه کلمه چې نه اسم وي او نه فعل وی هو چې د نورو کلمو سره یو ځایے شي نو معني پیدا کوي. خو له معني نه لري، مثلاً ا، ب، ج، وغیره.

حرکت : خوځیدنه، رڼیدنه، بنوریدنه، جوړه، د

سکون متضاد.

حرم : د کعبې شریفې دننه برخه، د کعبې خواؤشا، د کور دننه برخه، انګړ، انګن، غولی، منع کړے شوے ځای، کډه، بال بچ، اولاد، عیال.

حرمت : عزت، لحاظ، خیال ساتنه، مقدس ګڼنه، حرامیدنه، ناروا کیدنه

حروف : ټکي، د حرف جمع

حروف تهجي : د یوې ژبې بنیادي حرفونه چې د یو بل سره یو ځای شي نو توري ترې جوړ شي او د دې په بنیاد د تورو هجې کولے شي لکه ا، ب، ج وغیره.

حریص : حرصناک، سرابن، وږستوګے، اروا وږے، لالچي، سولند، سرلوږے، سولندک، بدسولے، سولنده، خیټو، ګیډه ور، سیالي مار.

حریف : رقیب، مخالف، سیالي کونکے

حزب : د قرآن پاک هغه برخه چې په یوه ورځ لوستلے کیږي. ډله، پارټي.

حزبي : د حزب، د پارټي، د ډلې.

حس : ادراک، احساس، بیداري، خمیر، حرکت، ژوند، ساه.

حساب : شمارنه، شمیر، شمار، د شمارې علم، مال، دولت، روپی پیسې، د ژوند اوربشه.

حسابول : ګڼل، شمارل، حساب کول،

حسابیدل : په شمیر کښې راوستل، حساب کیدل، شمیرل.

حساس : نازک مزاجه، زر پوهیدونکے، تیز حس لرونکے، ذهین.

حساسیت : حساس توب، حساس تیا.

حسب : وقار، شرف،

عظمت، خاندانی لوی والے، تبر، حسب نسب، اصل نسل، نوعے، جرړه، شجره، مطابق، برابر، سم

حسب : شمیرنه، ګڼنه، کفایت، بسوالے.

حسد : بغض، کینه، رڅه.

حسرت : ارمان، افسوس، ارمان کونه، افسوس کونه.

حُسن : بنکلا، بنائست، جمال.

حسن : بنکلے، بنائسته، نیک، بنۀ.

حسنه : بنیګړه، بنیګنه.

حسیب : شمیرونکے، ګڼونکے، محاسب، حساب کونکے.

حسیدل : احساس کیدل، حس کیدل، پوهیدل.

حسین : بنکلے، بنائسته، پیمخے.

حشر : ګڼه ګوبه جوړونه، راټولونه، راغونډونه، پاڅونه، پنځ، پنځے، ...

عوغا، د حشر ورځ، قیامت، د جز ورځ.

حشر نشر : حشر، ګڼه ګوڼه، ډیر زیات خلق، شور ماؤ، شور شغب.

حشره : ملخ، چینجے، کیږے، ماشے، میږے، مچ وغیره.

حشم : اهل و عیال، خاندان، نوکر، ملازم.

حشمت : دبدبه، عظمت، شان و شوکت، رعب داب، جاه وجلال.

حصار : قلعه، کوټ، قلا.

حصار : ایسار، محاصره شوے، قلا بند، قلعه بند، بند، کیر، راکیر، معطل.

حصارول : محاصره کول، ایسارول، اټالول، بندول.

حصاریدل : محاصره کیدل، ایساریدل، اټالیدل.

حصول : حاصلونه، لاس ته راوستنه.

حصه : ... ونډه،

حق، ابره،
حصه دار : برخه لرونکی، حصه لرونکی،
حصه داري : انډي والي، حصه لرنه، شراکت داري،
حضرت : د احترام او عزت کلمه.
حضور : موجودګي، حاضري، مخامخ، جناب، حضرت.
حفاظت : احتیاط، ساتنه، په نظر کښې ساتنه، نګراني.
حفاظتي : د ساتنې، د حفاظت، د حراست، امنیتي.
حفظ : حافظې ته سپارل، په یاد کونه، یادونه، ساتنه.
حفظ ماتقدم : د اول نه د ځان ساتنې تدبیر، د یوې پیښې د پیښیدو مخ نیونه، د مخکښې نه حفاظت.
حفیظ : د الله پاک د نومونو نه یو نوم، ساتونکی،
حق : فرض، ذمه داري، انصاف، عدل، دیانت، برخه، حصه، صله، مزدوري، منصب، اختیار، رښتیا، حقیقت، باب، نسبت.
حق : د الله پاک یو صفتي نوم، رښتونی، ور، سچ، جوګه، لائق، صحیح، درست، ټیک، جائز، د باطل ضد.
حقارت : سپکاوی، سپک والی، په سپک نظر کتنه.
حقاني : رښتونی، په حقه، حق ته منسوب، ټیک.
حقانیت : رښتیا والی، حق والی، رښتین توب.
حقائق : حقیقتونه، د حقیقت جمع.
حق حلال : حلال، جائز، په روا، چې هیڅ ناجائز او ناروا پکښې نه وي.، سوچه حلال.
حق حیران : اکه پکه، حق پسې، حیران دریان، اریان دریان.
حق دار : مستحق، حق لرونکی، د حق خاوند، حقمن.

حقداري : حق لرنه

حق ناحق : بې موجبه، وچ په وچه، بې دليله، بې بنې بې بدې، اورمرو، خامخا

حقوق : د حق جمع. حقونه

حقوقي: د حق سره منسوب، د حق.

حقه : قانوني، اصولي، په خاې، د حق مؤنث.

حقير : خوار، ذليل، ربون، وړوکے، بې قيمته، بې قدره.

حقيقت : د څه ځير اصل، رښتيا.

حقيقتاً : په رښتيا، په حقيقت، په حقيقي توګه.

حقيقي : رښتونے، په حقه، د خطا ضد، د حکايت متضاد.

حکايت : قصه، سرګزشت، داستان، بيان،

حکم : دريم ګړے، منځي ګړے، منصف، قاضي، نياوي،

حکم: د حکمت جمع.

حکماً : د حکم په ذريعه، په حکم.

حکمت : پوهه، علم، هوښياري

حکمتي : هوښيار، د حکمت خاوند، تګ، چل ولي.

حکمران : فرمان روا، بادشاه، حکم چلونکے.

حکومت : اقتدار، زور، طاقت،

حکيم : پوه، هوښيار، طبيب، حکمت لرونکے.

حکيمانه : عالمانه، عاقلانه، د حکيم په شان.

حکيمي : طبابت، د يوناني طب په رنا کښې د مريضانو علاج کوله، د حکيم پيشه.

حل : نتيجې ته رسيدنه، اواريدنه، هواريدنه، ويلې کيدنه، ګرانه چاره اسانونه، معلومونه.

حلال : د شرعي مطابق روا، جائز، روا، پاک، د حرام ضد، د خوراک جوګه.

حلال : ذبحه، چې مړی ی غوخه شي.

حلالول : روا کول، جائزول، ذبحه کول.

حلاله : حلالکه، ذبحه، قصابي کونه، ونلی، په شرعي طریقه په چاړه چرو کی وغیره ذبحه شوے خناور،

حلالي : حلالونے. هغه اولاد چې د نر او ښځې د شرعي نکاح له ترلو نه وروستو پیدا شوے وي. د حرامي متضاد. صالح، نیک عمله.

حلالیدل : روا کیدل، جائز کیدل، روا ګڼل، ذبحه کیدل.

حلاوت : خوږ والے، خوږښت، شیرینی.

حلف : قسم خورنه، سوګند، عهدوپیمان، وړه،

حلف نامه : هغه کاغذ چې پرې حلف لیکلے وي.

حلفیه : قسمیه، حلفي، په قسم سره.

حلق : تالو، ستونے، مړی.

حلقه : کړی، الغه، دائره، هاله، چکر، لومه، ګروپ، عونډه،

حلم : تیزک، تیرتیزک.

حلم : رعم، حوصله، همت، بردباري، صبر، نرمي، تحمل.

حلوا : سوجي یا نشاسته چې په غوړو کښې سره کړې شي، یو شیرین خوراک. نرم او پوست کار، اسان کار، چیت پیت شوے.

حلوائي : حلوا یا متبائي جوړونکے، روښوال، الوائي.

حلیف : ملګرے، دوست.

حلیم : زغمونکے، د لوبې سیې خاوند، صبرناک. نرم، خوږ، د الله پاک یو صفتي نوم،

حلیه : څیره، بشره، شکل.

حماست : زړه ورتیا، دلاوري، شجاعت.

حماسي : د زړه ورتوب، د شجاعت، د بهادری، د دلاوری

حماقت : بې عقلی، ساده توب، کم عقلي، ناپوهي

حمام : د لمبلو خاے، هغه خاے چې د لمبلو د پاره پکښې تودي او سړې اوبۀ وي.

حمايت : ننګه، دفاع کونه، ساتنه، د چا په حق کښې خبره کونه، مرسته.

حمايتي : حمایت کونکے، مرستیال، مرسته کونکے،

حمد : ستاینه، صفت، د الله پاک ثنا صفت بیانونه.

حمل : ټلاربوالے، بار، بوج.

حمل : د هجري شمسي کال وړومبی میاشت د ۲۱ مارچ نه تر ۲۰ اپریل پورې، وړے.

حمله : یرغل، چپاؤ، برید، غږ ځنګ، اپه، تعرض.

حميت : غیرت، ننګ، خوانمړي، مړانه

حميد : عوره، ستاینے.

حميم : کړه، تود، دوست

حميل : امیل، امبیل، هار

حنا : نکریږي

حنائي : په نکریرو لړلے، په نکریرو سره، ریږدنګ سور، د نکریرو سره متعلق

حنظل : کاکوږه، مړه غوني، مهلوبي.

حنيف : په حقه عقیده ټینګ ولاړ

حوا : د حضرت آدم علیه السلام بي بي او د ټولې دنیا د انسانانو مور

حوادث : د حادثې جمع، حادثات،

حواس : د حس او ادراک قوت، د حاسه جمع.

حواشي : حاشیې، غاړې، څنډې، د کتاب د صفحې غاړې، د حاشیه جمع.

حوالات : جیل یا تاسه کښې هغه خاے چې ملزمان

د مقدمې د تفتیش په دوران کښې پکښې ساتلے شي، قید،

حوالـه : مهـے، کـب، د هجري شمسي کال دولسمه میاشت، د دلوي او حمل ترمنځه میاشت.

حُوره : د جنت ښائسته مخلوق، ښائسته، ډیره ښکلې،

حوصله : صبر، رغم، همت، ججوره، ججیره، جاغور.

حوض : تالاؤ، تالاب، ډنډ.

حویلی : ښکله، د وسیدو ځاے، انګن، محل، کوټی.

حي : د الله تعالیٰ یو صفتي نوم، ژوندے.

حیا : شرم، پرده، وایه، اډه، ستر، غیرت.

حیات : ژوند، ژواک، د مرګ متضاد.

حیاتي : د ژوند سره تړلے، د حیات سره منسوب.

حیادار : حیاناک، غیرتي، چې په چا کښې حیا، لحاظ او شرم وي.

حیضه : هغه ښځه چې د حیض په حالت کښې وي.

حیله : چل، مکر، فریب.

حیله باز : حیله کونکے، مکار، چلباز، ټګ، فریبي، حیله ګر، حیله ناک.

حیه : ژوندی.

حي : د حرف "ح" تلفظ.

حیثیت : وضع، جهت، اعتبار، ابرو، شان.

حیدر : زمرے، امزرے، منزرے،

حیران : اریان، حریان، هک پک، پریشان، سرګردان، بې وزله، غریب.

حیرانتیا : د حیرانیدو حالت، حیرت، تعجب، حیراني

حیرت : وګورئ حیرانتیا

حیض : د ښځو میاشتنی ناروغي، جامې، د ښځو له رحم سره د وینو جاري

کیدنه.

حیف : بې انصافي، ظلم، ستم، اف، افسوس، ارمان.

حیوان : څاروے، خناور، ډنګر.

حیواني : د حیوان، د حیوان په حقله، نفساني.

حیوانیت : وګورئ حیوان توب.

حے : ژوندے، ژوے، حیات.

خ : (خې) د پښتو ژبې د حروف تهجي دولسم حرف چې د ابجدو په حساب ئ قیمت شپږ سوه (۶۰۰) دے.

خاپ : خپ، خراپ، نښه، چاپ، داغ، تاپه، مهر، علامه، نښانه.

خاپے : خاپ، داغ، نقش،

خاتم : ختمونکے، اخري کونکے

خاتم : مهر، کوتمه، اخري، پای.

خاتم الانبیاء : د ټولو نبیانو د نبوت ختمونکے، محمد صلي الله علیه وسلم.

خاتمه : انجام، اختتام، مرګ، د کتاب هغه عبارت چې کتاب پرې ختمیږي.

خاتون : بي بي، بیګم،

خادم : نوکر، خدمت ګار، ملازم، خدمت کونکے.

خادمي : کربوړے، عاوړه، غارندونے، غرندوے، خادمي، د کربوړي یا سمسري په شان یوه خزنده، شلندکومے، شلوټه.

خادمے : د دیوال په سر د پټي نه ګیر چاپیره د غنو شپول، سرخار

خار : غنه، ازغے، رقیب. ویره، شرمیدنه، پیکه کیدنه.

خارج : ویستلے، ویستے، بهر، وتے، وکښلے، وښکلے، ورچینے، بهر ملک.

خارجول : ویستل، شړل، لرې کول، کټ کول، بهر کول.

خارجیدل : ویستلے کیدل، شړلے کیدل، لرې کیدل.

خارخوړی : وګوړی خارخوتی. ورې ورې کندې، پټ غار، پته کنده، نامعلوم ځای.

خاردار : ازغن، ازغي لرونکے، اغزین، ازغین، ازغینک،

خاربش : خاربنت، خارش، تخور، ګریدنه، پم، کهه،

عادت.

خاربنتي : د خاربن په مرض بیمار، پمي، وران کارے، تک لاسے، بداخلاقه، شریر، بدعمله، علتي، عادي، مفعول، کوني.

خارق العاده : د عادت مخالف کار، حیرانونکے کار، معجزه، کرامت.

خارو : د چرګ د پنجې د پاسه یو غټ ازغے چې چرګ پرې د خان حفاظت کوي.

خاروپوخي : خرپوخي، خاپوړي.

خازن : خزانچي، د خزانې ساتونکے،

خازه : لکړه، خاده، خده، د څیز ډیر کم مقدار، د قبر خزه.

خاشخاش : خشخاش، قاشقاش، خاړخاړ، د کوکنارو دانې،

خاشنۍ : خرشنۍ، خاشنۍ، خرشني، خرسین، لد، د خر لد، د اس خر، قجر وغیره ګندګي، د لوي مرداري.

خاشه : خځله، د څه څیز ډیر کم مقدار، خرسک، خسک، د ماشومانو یوه بیماري، د غوښې توټه، پوټے،

خاص : د عام ضد، مخصوص، خصوصي، تاکلے شوے، اهم، غوره،

خاصه : سان نه لږه نرۍ او ارزان بیه کپړه، ململ، خاسه.

خاصه : خاصیت، عادت، خوئ.

خاصه دار : د پاکستان قبائلي علاقو کښې د بې قاعده عسکري تنظیم فرد یا افراد چې د قبائلي ملکانو په خوښه برتي کیږي.

خاصیت : اثر، تاثیر، عادت، خوئ، خاصه،

خاطر : لحاظ، مخ لحاظ، تواضع، وجه، زړه، ضمیر، یاد، فکر،

خاطره : یاداشت، یاد،

یادگار

خاک : خاوره، زمکه

خاکبوسي: خاوري بنکلونه، قدم بوسي، عزت احترام.

خاکسار : بې کړه، بې غروره، اصل معنيٰ د خاورو په شان.

خاکستردانې : ایریسی. ایرې. ایش ټرې. هغه لوښے چې د سګرټ ایره پکښې اچولے شي.

خاکنا : خاکنائے، د زمکې نری او وړده ټکړه چې د دوړو اوبو په منځ کښې وي.

خاکه : نقشه، تصویر، کچه نقشه، د وریژو میده، د کاڼي میده، د غمي ریزه، بیکاره څیز، د نانبایانو د تختې اوړه، د ادب یو نثري صنف، هغه تکل چې د چا په کردار لیکلے شوے وي.

خاکي : خاوري رنګے، خړ، ایره رنګے، د خړ رنګ والہ، لـه خاورو جوړ، انسان، هغه هاڅکے) چې چرګه ئې بغیر چرک سره لـه جوړه کیدو اچوي.

خال : خاپ، داغ، ټکے، د جـواري پـه دانـه هغه پوټکے لرونکے اړخ چې د تاوان کور کـلے شي د چیچک دپاره لګولے شوي ټیکه.

خال خال : خاپ خاپ، داغ داغ. ټکي ټکي، لږ لږ، کم کم، خني خني

خالص : پـاک، سوچـه، صفا.

خالصه : سوچـه، صفا، پاکه، خاصه،

خالق : پیدا کونکے، د الله پاک له صفتونو نه یو صفت.

خاله : ترور، د مور خور.

خـالي : د هـفتې ورځ، د جـمعې او اتوار تر منځ ورځ، میانه، ذیقعد، د میاشت.

خـالي : تـش، وزګـار، خوشے، ډډ، خلا لرونکے،

خام : اوم، کچه، چې پوخ نه

وي، د پوخ متضاد، ناتجربه کار.

خامتا : خمتا، چپړ، خمتو، خامتو، په کورنو کلهو تیاره شوې کپړه چې د پومبې نه جوړولے شي.

خامخا : اروسرو، خواه مخواه، ضرور، حتمي، حتما.

خاموش : غلے، چپ، چوپ، سنجیده.

خاموشي : چوپیا، چپتیا، چپ والے، سنجیدګي، قراری، غلے والے

خامه : د خام مؤنث، کچه لار، کچه سړک.

خامي : اوموالے، کچه والے، غلطي.

خان : د قبیلې سردار، مشر، عزتمند، د عزت خطاب، مالدار، بختور، سخي.

خانجي : هغه د احترام نوم چې مشرانو یا خانانو ته د عزت په توګه وئیلے شي.

خانجے : هوس، شهوت، د شهوت خاربنت.

خاندان : خیل، کورنی، قبیله، نسل.

خانزاده : د خان خوے، د خانانو له ټبره، د ښهٔ خاندان سره تعلق لرونکے،

خانسامه : باورچي، اشپز، احلے پخلے کونکے.

خانقاه : د راهبانو د وسیدو خاے.

خانم : بي بي، بیګم، میرمن، کډه، بسال بچ، وادهٔ شوې ښځه.

خانه : کور، مینه، حونه، د استوګې خاے، د ټول څیز په یوه برخه، څهٔ حصه، چارخانه، کورکے، په کپړو یا کاغذ جوړه شوې څلور ګوټیزه خلا، جدول.

خانه بدوش : کوچے، کلهواله، کډبه، کلهار،

خانه جنګي : د ملک دننه جنګ، د وطن د مختلفو طبقو ترمنځه جنګ، په یوه

علاقه کښې د وسیلونکو ترمنځه جنګ.

خانه خراب : کورورانے، سپیرهٔ، شریر او شیطان سړے.

خانه داري : کوروالے کونه، د بنځې خاوند خپلو کښې په جنسي ډول یو ځاے کیدنه، د کور انتظام.

خاني : د قبیلې مشري، د کلي مشري، باداري.

خاورکاډے : هغه کنده چې د خاورینو لوښو د جوړولو دپاره ترې خاوره راویستلے شي.

خاوره : خټه، دوړه، زمکه، وطن، سرهٔ، سپک، بې قدره، بې بنې.

خاورین : د خاورو نه جوړ.

خاوری : خوری، پټکړی، پټکری، پټکری، پټکنی. هغه سپینه خاوره چې ماشومان ئې په تختو مړي، متی، متي.

خاوند : خدایے پاک، بادار، مالک، څښتن، میړهٔ،

خاین : خیانت کونکے.

خایه : خوټه، مردانه تخلیقي غدود،

خباثت : کندکي، پلیتي، خبیث توب، شیطاني، بدنیتي،

خبر : اطلاع، پیغام، پته، نښه، هوش، خود، سود، د احوال پوښتنه.

خبر : واقف، اګاه، خبردار. خبره، کلام، د جملې هغه جزو چې مبتدا نهٔ وي.

خبردار : خبر، پوهه، واقف، ویښ، بیدار، د خبرداری غږ.

خبررسان : قاصد، خبر رسونکے، احوال وړونکے، جاسوس، مخبر.

خبرلوڅ : خبرلوڅے، خبر رسونکے، چالاک، ژبه ور، ژغیدونے، ډیرې پخې خبرې کونکے.

خبرول : خبر ورکول، اطلاع ورکول، پیغام رسول.

خبره : ګفت، وینا، قول، لوظ، خبر، واقعه، معامله،

پیښه، حادثه.

خبره اتره : گفتگو، احوال

خبریال : د خبرونو د ایجنسی یا اخبار نماینده.

خبریدل : آگاه کیدل، پوهیدل، واقف کیدل.

خبط : د لیونتوب تر حده رسیدلے. لیونتوب.

خبیث : پلیت، ناپاک، بدمعاش.

خبیر : د الله پاک یو صفتي نوم، آگاه، خبر، پوه، دانا، علیم.

خپرول : خورول، نشر کول، اشاعت ورکول، تار په تار کول، تیت کول، شیندل، منتشر کول.

خپریدل : خوریدل، شائع کیدل، نشر کیدل، تار په تار کیدل، منتشر کیدل.

خپسر : خپل، خان، خپل سر (متروک)

خپسکه : خپسه، خپسکی، کپسی، خپکه، قپسه. ننگښه،

خپسه : وګوری خپسکه.

خپل : خاتي، ذاتي (اکثر زما، زمونږ، ستا، ستاسو، د هغهٔ د هغوي یا د بل اسم نه پس راځي.) خپلوان، رشته دار.

خپلواک : د خپل اختیار خاوند، ازاد، خودمختار، بې قیده.

خپلوان : خپل، د خپل جمع، رشته داران، عزیزان.

خپلول : دوست جوړول، قبضه کول.

خپلولي : خپلوي، قرابت، رشته، خپښي.

خپور : تیت وپرک، ویړ، اوار، غوړیدلے، نشر، شائع.

خت : کرته، قمیص، پیپنی،

ختل : حمله کول، د مادي د تیرولو دپاره د نر په ماده سوریدل، ترقي کول، بهر ته وتل، د درد یا خړیکي پیدا کیدل، د جوړ بې ځایه کیدل، راتولیدل، ښکاره کیدل، وچتیدل

ختم : تمام، سر ته رسیدلے، د قرآن شریف د تمامولو رسم.

ختمول : ختم کول، تمامول، پوره کول، سر ته رسول، مړ کول، بیخ بنیاد ایستل.

ختمه : د مړي په کور کښې د خیرات په توګه په اوومه یا څلویښتمه ورځ کیدونکې روټۍ.

ختمیدل : پوره کیدل، ختم کیدل، سر ته رسیدل، مړ کیدل، بیخ بنیاد ایستلے کیدل.

ختنه : سنت، سونت، سنتونه، د مسلمانانو ماشومانو د سوخی نه زیاتې پسته غوښه پریکونه.

خته : کپړه، جامه، زړې کپړې.

ختی : شمیس، شمیز، زیر پیراهنۍ، هغه ورو کے شان قمیص چې د قمیص د لاندې اغوستے شي.

خټ : د خاورو کمر، چم، د خاورو پاڼه، د خاورو غونډۍ، د مائعاتو خیرے، د ونې مونډ، د تورې وریځې ګټ، خاکې بدن، د خاورو څلے.

خټیه : د خټو کار کونکے، خټکر، ختمار.

خټکے : د خاورو وړوکے خټ، چم، د بنیادم کالبوت.

خټکے : مونډ، د تښتو مونډ چې په پټې کښې د فصل ریلو نه پس پاتې شي.

خټکے : شینکے، خربوزه، یو قسم میوه.

خټماله : ګرماله، ګرماله، ختمونے.

خټه : خاوره، چیکر، تینګ، نسل، قام، سرشت، خوئ، خفه، دلګیر.

خټین : د کباتو د بنکار کولو کارتوس، په درز چاؤدونکې یوه ماده چې عام طور سره د کباتو د بنکار ډپاره استعمالیږي.

ختي : بنه صحت لرونکي ماشومه.

خج : خک، د ژبې په لهجه کښې په سيلاب زور.

خجالت : شرم، شرمندګي، حيا، خجلت، کچه والے.

خجل : نادم، شرمنده، کچه.

خجلت : خجالت، شرمندګي.

خځه : ليوه شوي بوساړه،

خچ : بدسلوکي، بداخلاقي، بدخوئي، نقصان، خلل، شک.

خچپچ : مات ګوډ، بيکاره، توتې توتې، چغې چغې.

خچر : غاټره، قاطر، کچر، قچر،

خچن : خيرن، ګنده، ناولے، سخا، خيچن

خچه : کچنه، کچه، قچه، وړه (ګوټه)

خځوزے : د روتې وړه توکړه، پوټے، ذره، بکسکے، ډير لږ،

خداپرست : د الله تعالیٰ عبادت کونکے، الله منونکے.

خدا نخواسته : خدائے مه کړه.

خداوند : خدائے پاک، مالک، آقا، الله پاک.

خدائي : خدائے والے، خدائے کيدل، صاحبي، مالکي، دنيا، د خدائے ډپاره، مخلوقات.

خدائے تعالیٰ : الله پاک، الله تعالیٰ.

خدائے زده : د تعجب کلمه، خدائے خير، خدائے پوهيږي، خدائے ته پته ده.

خدائے ګو : د قسم کلمه، په خدائے قسم، په الله قسم، په خدائے مي دې قسم وي.

خدشه : ګډوډلے، نوکاره، شوکاره، تاوان، ضرر، نقصان، ويره، فکر، انديښنه،

خدعه : چل، فريب.

خدمت : خدمت، تابعداري، چوپړ، نوکري، مزدوري، کار، کارنامه،

خدمتګار : خدمت کونکے، چوپړ وهونکے، نوکري کونکے، مزدوري کونکے،

خدمتي : خدمتګار، خدمت کونکے،

خدنګ : سپین سپیدار، یوه ونه چې د غشي لرګے ترې جوړیږي. غشے، نیغ ختلے څیز، لوړ څوان، څیزګے،

خدوخال : کړه وړه.

خر : د اس د خاندان یو څناور چې عام طور سره خړ رنګ او وړدهٔ غوږونه لري. بیوقوف، کم عقل، بې عقله، ضدي.

خراب : وران، ویران، تباه، برباد، د اباد ضد، بد.

خرابات : شراب خانه، فضول خرچي، بدعملي، فحاشي.

خراباتي : شرابي، فضول خرچه، بدعمله، وران کارے.

خراب تراب : وران ویجاړ، تباه برباد، در په در.

خرابه : د خراب مؤنث، بدفعله ښځه، کنډر، کنډواله، هغه زمکه چې د کرلو جوګه نه وي.

خراج : مالیه، قلنګ، محصول، باج.

خراد : څرخ، یوه آله چې وسپنه یا لرګے پرې تراشلے یا جوړولے شي. د وسپنې یا د لګري د تراشلو هغه کار چې په خراد کیږي.

خرادي : په خراد کار کونکے.

خراش : خرپ، خاپ، نښه، زخم، ګریدنه.

خراشکے : بلغم، ګړه بی، کرخه، خرپ، خراچکے، ګړولے، توکاني، خروشکے.

خرافات : اپلتي، اوتي بوتي، بکواس، بې هوده خبرې.

خرام : د نازو نخرو حال.

خرامان : په نازوادا کرخیدونکے، په مکیز مکیز

قدم اخستونکے، ورو ورو په قلاره تلونکے.

خربشوئے : خنزیر، سور، سرکوزے. بدخویه.

خربوزه : یوه غونډه شان خوړه میوه، خټکے.

خربون : د خرو خرونکے، خربه.

خربه : خربنے،

خربیشوپے : سوډر، سوور، خنزیر، خربیشو، خربیشے، بدخناور، بدلیوۀ، سپک، د بد خوئ خاوند، شیطان، کمینه، شرارتي.

خرپ : په تیرۀ څیز لکه توره چارۀ وغیره د څۀ څیز د وهلو یا ماتولو آواز. نښه، چاپ، خاپ، دبدبه، کبر، لوني.

خرپار : خرپهار، د خرپ اواز.

خرپل : وهل، تکول، لټول.

خرتیزه : د خر مستي، خرتیزکه، ترپ، توپ، غورځنګ، بې تمیزي،

خرچ : خرڅ، لګښت، تاوان.

خرچه : خرڅه، لګښت، د تلو راتلو کرایه، د خوراک د لګښت پیسې، اخراجات، هغه فالتو توتې چې درزیان ئ په لستونو یا کالرونو کښې لګوي.

خرڅ : خرچ، لګښت،

خرڅوړے : خادر ګوتے، ورو کسے خادر، د بار ګیر خناور د کتې لاندې د اچولو دپاره د توشک په نمونه یو شے.

خرڅول : په بیعه ورکول، لګول، خرڅ کول، زباتول، د احسان په توګه یو شے بار بار یادول.

خرڅي : خرچي، خرڅ کونکے، لګښت کونکے، مصرف.

خرخره : د اس یا نورو

داسې حیواناتو د کرولو آله،
خـرخشي : فتنې، د زړۀ وسواس، د ماشومانو ضد.
خـرخوړی : کـرداب، کرداؤ، غـرندی، خرخورے، دوغله، کنده.
خـردجـال : د دجـال د سورلی خر، خردماغ، بې وقوف، کم عقل.
خـردک : خـردک، بې عـقله، پلنې پلنې پانې لرونکے یو بوټے، غټ آلـه تناسل لرونکے سړے.
خرس : میلو، یږ، هیږ.
خـرطوم : خرټم، خرتم، خلتم.
خرکی : خره کـونکټه، د پشـکال یوه کونکټه، په وښو کښې پیدا کیدونکے یو قسم چینـجے، وړه خره، کم عقله جینې.
خرم : خـوشـحالـه، تـازه، خوښ.
خـرما : خـجـوره، کجوره، قـجوره، یو قسم ونه او د هغې میوه.
خرمالی : یـو قسم ونه او د هغې میوه. خوبانې، مخانی.
خـرمستي : مستـي، بې تـمیـزي، انـډوخر، بې ډبه، او نـامنظمه لوبه یا مستي، فضول خرچي.
خرمهره : خرموره، یو قسم دانه چې د خر په څټ راخیژي او د وخـت تیریـدو سره تري هـډوکے جوړ شي، څنې خلق دغه هډوکے وباسي او د کودو دپاره یې پکاروي.
خروار : د خرۀ بار، د وزن پـه مـختـلـفـو ځـایونو کښې مختلف مقدار.
خروش : د قهـر او غـضب نـعـره، شور، د جوش د توري سـره یو خاے راتلونکے تورے لکه جوش خروش.
خروله : ولـه، یو قسم ونه. الچوغ.
خرید : خریداري، په قیمت

اخستل.

خریدار : په بیعه اخستونکے، په قیمت اخستونکے،

خریداري : په بیعه احستنه، د قیمت په بدل کښې اخستنه.

خریف : د منې موسم، د منې فصل، هغه فصل چې په مني کښې پخیږي.

خریل : خریبل خرئیل، کلول، نوستل.

خریړے : دړونے. دوړنک، خومیه، خړوکی، حریړکے، سماروق، پوخکی. ستوړے، مزکنے، کوخے، مرحیړے، خړړے په پیو کښې د شوملو د داړې په وجه وران شوي پئ چې یو قسم خوراک دے. وران ماسته.

خریمه : د خرې ګرمیدنه، هغه خره چې خر غواړي، د خرې وار راورښه.

خریل : خرول، خرئیل، کلول، کل کول.

خړ : خاورین، خاکي، خاوري رنګه، ملامته، پړ، شرمنده، خجل، په خاورو لړلے،

خړبخن : خړبوژن، خړ رنګے، خاکي رنګ، خړچک، خړ رنګ ته مائل.

خړپړ : په خاورو کښې لوغړیدلے، خاکي رنګ، سپیرهٔ، ساده.

خړتم : خلتم، د هاتې د وجود هغه اندام چې اوبهٔ پرې څښې او حلې ته پرې کیا راتاووي.

خړتمي چرګ : خړتم لرونکے چرګ، پیتے.

خړوب : اوبهٔ شوے، سیراب شوے، پنه.

خړول : خړ رنګ ورکول، شرمول، مغلوبول، په اوبو کښې خاورې اچول.

خړه : خاړه، لهه، سیلاب راوړې خټه، هغه خاوره چې سیلاب د پورته علاقو نه میدانې علاقو ته راوړي،

تیارۀ، مابنام، خرمابنام، دوند، خرسحر، دشمني، مخالفت، بری وریخ، د خر مؤنث.

خرپس : خرپسن، دیو، غټ، لوے، تاپړ، ستر، ګګړ، څورب، ناراسته.

خرې : لوے بول، ډکې متیازې، غل.

خرپدل : خرپر کیدل، سپیرۀ کیدل، خاکي کیدل، ککړیدل، شرمیدل.

خرے : خیټو، خیټور، ګیډه ور، ګیډه غارے، ډیر خوراکه، خیټه، ګیډه، د بنیادم ډکې متیازې، بول،

خزان : د بهار ضد، منے، د اوړي او ژمي منځنے موسم، د ژمي د مخې موسم چې د ونو پانې پکښې رژي، زوال، بې رونقي.

خزانچي : خزانه دار. خازن، خزانه ساتونکے، په خزانه کښې د روپو ذمه وار.

خزانه : خرزانه، هغه ځاے چې پکښې روپۍ، پیسې، سرۀ زر او سپین زر ساتلے شي. روپۍ، مال دولت، بینک،

خزله : خځله، خاشه. یو قسم بوټے چې جامې پرې وینځلے شي.

خزنده : حشره، ماران، لړمانان، چینجي، میږي، وینۀ او داسې ټول چینجي چې سوړو او ګوټوټو وغیره کښې وسیږي.

خزه : خازه، د قبر تیږه، شناخته، د قبر ډبره،

خس : خسے، چحچے، لږ څیز، کم مقدار، ککړ، بې ارزښته څیز، لرګے، بالن، خشاک، قطره، تیکه.

خسا : سخا، خوسا، خراب، وروست، بدبویه، چې چینجي پکښې شوي وي.

خسارہ : تاوان، نقصان، زیان.

خسته : رده، زپلے، بدحال، پریشان، بسمي بسمي، خړین، خفه، زهیر، ژوبل، زحمت

خس خشاک : خل پل، بالن، بالن.

خسر : خسر، سخر، د سړي د بښځې پلار یا د بښځې د خاوند پلار.

خسرګنی : سخرګنی، د سخر کورنی.

خسره : د زمکو وغیره هغه فهرست چې پټواریان ئې د زمیدار د نوم ملکیت د رقبې او د فصل د تفصیل د یاداشت دپاره پکاروي.

خسک : مونګن، کټمل، سرخک، منګوړه. خاشه، د ماشومانو یوه بیماري، کم اصل، بداصل، هغه میوه داري وني چې قلم پکښې لګیدلے وي.

خسمانه : غمخوري، پالنه، غمخواري، ضمانت.

خسوف : د سپوږمی تندر نیول.

خسیس : شوم، کنجوس، بخیل، سخت، سپیرهٔ چې نه په خان خرچ کوي او نه په بل.

خشاک : د سوخولو لرګي، بالن.

خشخاش : قشقاش، قاشقاش، خاش خاش، د کوکنارو یا ډوډۍ د غوټو هر رنګه میده میده تخم،

خشک : وچ، شنډ، کلک، بې اوبو، سپور، بې نمه.

خشکه : وچه زمکه، د تري ضد، خشکي، ساده پیکه یشیدلې وریژې، هغه اوړهٔ چې نانبایان ئې په تخته د پیړو لاندې اچوي، سیاهي چوس.

خشکي : وچه زمکه، وچه میوه، تند خوئ، غصه ناک، سختي، سپورواله، د سر یوه بیماري.

خشم : غصه، قهر، سوخت،

خفګان. ګرمي.
خشوع : عاجزي، انکساري.
خښتک : د پرتوک د منځ توته.
خښته : له خټې د قالب په ذريعه جوړ شوې هغه مستطيل نما سلې چې د مکانانو په جوړولو کښې پکارولے شي.
خصلت : عادت، خوئ، غونے، ذاتي صفت، کردار، تاثير. خاصيت. طبيعت، مزاج.
خصم : دشمن، مرخے، ميرخمن، ميرخن، ميرځ، ميرځے، خاوند، مالک.
خصمانه : څوکي، څوکيداري، نګراني، امن کښې ساتنه، سلامتيا، په نظر کښې ساتل، پالنه.
خصمړے : خاوند مړے، يو کنځل.
خصوص : خاصونه، په فرق کونه، ځانګړې کوله.
خصوصاً : په خاص ډول، په تيره، علي الخصوص، خاصتاً، په تيره تيره.
خصوصي : يواځې، يواځينے، خاص، په خاص ډول، په خاص شکل، په خاص نظم، شخصي، د ځان.
خصوصيت : خاص خوئ، خاص خوئ او صفت، خوبي،
خصومت : دشمني، بدي، عداوت، دښمني.
خصي : ټکيدلے څاروے چې په ماده د ختلو قابل نه وي.
خضاب : وسمه، د سپينو ويښتو د تورولو رنګ، د نکريزو اوړه کړې پانې.
خضر : د يو پيغمبر نوم، رهبر، لار ښودونکے.
خضوع : تواضع، عاجزي، خاکساري، کم نوسي. کمينې.
خط : چيتې، ليکلے کاغذ، ليک، تحرير، کرښه، د څو

حجامت، تازه راتپو کیدلې ږیره.

خطا : جرم، قصور، غلطي، خطاني، تیروتنه، غولیدنه، په نښه نه لګیدنه، نارسا، کم اصل، بدذات

خطاب : تقریر، کلام، جبره

خطاط : خوش نویس، ښه خط لیکونکی.

خطاطي : د خطاط پیشه او کار.

خطاکار : خطا کونکی، تیروتونکی، سهوه کونکی، ګناه ګار.

خطائي : خطا، ګناه، غلطي، تیروتنه، خطا کیدنه، په خطا یو کار کونه، په هیره سره کونه، غلطیدنه.

خطبه : د خطیب خبرې، خطابه.

خطر : خطره، هغه څه چې د تباه کیدو او هلاکت سبب جوړیږي. تاوان، ضرر، زیان، د ځاني یا مالي زیان احساس یا امکان،

خطرناک : د خطر نه ډک، پرخطر، د خطرې، خطري، خطر لرونکی.

خطره : وګورئ خطر.

خط کش : پیمانه، هغه آله چې په کاغذ یا لرګي پرې کرښې رابښکلې شي.

خطه : د زمکې یوه حصه، ملک.

خطیب : خطبه لوستونکی، خطبه ویونکی، واعظ، ویاند.

خطیر : ستر، مهم، غټ.

خفا : پټ، پټ په پټه، په پټه.

خفت : سپکوالی، سپکتیا، سپکه، د ثقل متضاد.

خفتن : ماسخوتن، د ماسخوتن وخت.

خفقان : خپګان، خفګان، د زړهٔ درزیدنه، یو مرض چې د زړهٔ حرکت پکښې تیز شي او زړهٔ زر زر تویونه وهي، ډیر

زيات وهم، دلگيرتيا.
خفگي : ناراضگي، قهر، غصه.
خفه : ملال، غمگين، ناراض، سوخت، بې طبعي، قهريدلے،
خفي : پټ، غلے، ناڅرگند، د جلي متضاد
خفيف : لږ، کم، کم وزنه، تت.
خفيه : پټ، په پرده کښې، په راز کښې.
خلا : تش خاے، تش والے، په هوا کښې خالي خاے، ډډون.
خلافت : د بادشاه له طرفه د جامو بخښش، پوښ، هغه پيسې چې د لوړ د وادۀ په وخت د زوم له طرفه د ناوې ماما ته ورکولے شي د کوڑدې په وخت سه حاضرو حلقو کښې د حيسې يا د هلک د پلار له طرفه د پيسو ويشنه.
خلاص : خشے، پرانستے، ازاد، بې غمه، ختم، تمام، وزګار، انزال.
خلاصه : لنډون، لنډيز، لنډه، تلخيص
خلاصے : خلاصون، ازادي، خپلواکي، خوشے کيدنه، علاج، چاره، چل.
خلاف : مخالفت، ورانے، د موافقت ضد.
خلافت : د پيغمبر جانشينې، نيابت، امارت، امامت، په مسلمانانو کښې د حکومت يو طرز، د خلافت تحريک چې هندوستان او سورو اسلامي ملکونو د خلافت عثمانيه د بحال کيدو دپاره چلولے وۀ. د پير جانشيني، د پير د طرفه خپل مريد ته ورکړې شوې اجازه.
خلاف ورزي : خلاف کوله. اصول ماتونه، قانون ماتونه
خلال : نرے لرګے چې د څۀ خيز په مخ کښې اينولے شي. د څۀ خيز منځ، د ګوتو

تیرونه، د چاراندام په وخت کښې لوندې ګوتې تیرونه، د نارنج پوستکے یا ګاځره چې نرۍ نرۍ پرې شي.

خلائي : ۲۰ انې، فضائي.

خلپل : حس و حساک. خځلې، خاشې پاشې. د کونځلې میده خاورې، ذرې. خلپلې

خلتکی : بوجکی، کځورې، بوځحکی.

خلته : کوټ، قمیص، کرته، کرتې، خرجې، کځورې، کځورې، پاکټ، لفافه، خلیته، سرپوښه توکرۍ، جلته، د مرزو د ساتلو پنجره، ابره، اچار.

خلجان : فکر، اندیښنه.

خلخل : لوړے، ارت بیرت، بې اندازې لوړے، بې جوړه غټ، بې طریقې غټ.

خلط : ګډوډ، ګډوله، ګډ شوے.

خلع : موقوف، له خایه لرې شوے، برطرف، وتل، هغه طلاق ته وائي چې د مال په بدل کښې ورکړے شي.

خلعت : وګورئ خلات.

خلف : خوے، صالح اولاد، خائے نیوکے، ورورستو راتلونکے، جانشین.

خلفاء : د خلیفه جمع، خلیفه ګان، قائم مقام، جانشینان.

خلق : پیدا کونه، پیدائښت، چلک، اولس، مخلوق

خلق : عادت، خوئ، طبیعت، رفتار، سلوک، کړه وړه، ګزاره، ژوند.

خلقت : پیداوښت، خوئ، مزاج، طبیعت.

خلقت : عالم، اولس، مخلوق،

خلقت : مروت، خُلق.

خلقه : خلق، مخلوقات، مخلوق، ګن خلق.

خلقي : فطري، ذاتي، قدرتي، ازلي، پیدائشي.

خلقي : خوش خلقه، خوش

خوبه، د ښو کړو وړو خاوند، خوش اخلاقه.

خلک : وګړي، خلق، خلګ.

خلکه : وړد او ارت بیرت قمیص، هغه قمیص چې ګریوان یې خلاص وي. د پښتانو مشرانو سړو عامې جامې،

خلګ : وګوري خلک، خلق، وګړي، اولس.

خلګی : پیپه، چپه، خلۀ، وړه ښځینه او غونډه مونډه خلۀ.

خلل : نقص، عیب، ضرر، غش، فساد، ورانۍ، اړ، خنډ، خار، په یو کار سره تباهي راوستنه.

خللي : ضرري، نقصاني، زیان رسونکی، مضر، ضرر رسونکی، هغه څوک چې د خلقو په منځ کښې فساد پیدا کوي.

خلوت : ګوښه کیدنه، ګوښه ګیري، خان ته کیدنه، خان ته والی، خان له والی، ګوښه، ګوښه، هغه ځای چې بل څوک پکښې نۀ وي.

خلود : تل تر تله والی، همیشه توب، همیشه والی، جاودایت،

خلوص : اخلاص، پاکي، سادګي، د زړۀ له کومې، خالصیدنه.

خلۀ : شونډې، ژبه، غاښونه تول چې په کوم چوکاټ کښې ګیر وي، پپه، کوکی،

خلۀ ور : د ښې ژبې خاوند، هغه څوک چې ښې او فصیحې خبرې کوي، خبر لوڅ، ویاند خلور،

خلیج : په دریاب یا سمندر کښې د اوبو هغه برخه چې په وچه کښې وړاندې تلے وي، لکه د بنګال خلیج.

خلیفه : قائم مقام، د پیغمبر جانشین، امام، د خلافت مشر، د پیر په ځای ناست.

خلیق : لائق، وړ، سزاوار، د بنهٔ خوئ او خلق خاوند، د بنهٔ خصلت خاوند، د بنو کړو وړو خاوند.

خلیل : د الله تعالیٰ دوست، د حضرت ابرهیم علیه السلام لقب.

خلے : خس، ډکے، چخچے، وچوکے، کک، ډیر وړوکے لرګے.

خم : کوړوالے، پیچ.

خم : لوے خاورین لوښے چې سرکه، اوبهٔ شراب پکښې اچولے شي. او کله کله پکښې رنګریزان جامې یا نور څیزونه هم رنګوي.

خمار : د شرابو د نشې د ماتیدو حالت. د نشې اثر.

خماري : د نشې نه ډک، مستانه، بنائسته، سړي (اکثر د سترګو د صفت په طور راځي.)

خمبه : کودام، زیرمه تون، غټ کندو، د غلې ساتلو او ایښودلو لوے لوښے، ګودري، د کوټې چن، د کوټې وسې.

خمبیر : خمبیره، خمیر، خومبره، خریمه مایه، هغه لوانده اوړه چې د اوړو اخښلو په وخت په اوړو کښې ګډولے شي.

خمتا : خامتا، بیتی، کرباس، خنتو، خنتا، په کډی جوړه شوې غټه کپړه.

خمج : خمجه، د غلې یو قسم، د باجرې روټی.

خمچه : د چرګ پنجه، منګله، کچه ګوته، خمچ، د ګوتو او سپړو وهلے غله.

خمر : هره نشه آوره مائع.

خمس : پینځهٔ، پینځمه برخه.

خمسور : ازاد، جفت، جوړه، ملګرے.

خمسوري : ملګرتیا، ملګرتوب، ازادي.

خمسوز : خام سوز، نیم پخته، کچه، نیم پوخ،

خمسه : پښځه، د پينځو عدد، مخمس، پينځهٔ ګونې،

خمير : د اوړو تومنه، خومبره، خريمه، خميره، خمير مائع، د پتيره اوړو متضاد.

خميس : د زيارت ورځ.

خنازير : د خنزير جمع، د غاړې يا څټ انځيران.

خناق : د مرۍ يو قسم بيماري چې زيات تر ۍ ماشومانو ته د پينځو کالو تر عمره پورې د لګيدو خطره وي. ډيفتيريا. د ستوني مرض، ازغي، د مرۍ دانه.

خنبه : خمبه، ترته، د غلې داني ستر کندو.

خنثى : ايجرا، هيجرا، نرکټ، نر پښځې.

خنجر : يو قسم چارهٔ چې دواړه مخه ۍ تيرهٔ وي.

خنځى : د څاروي د چچو غوښه.

خنځي : په ترخونو او مغانو کښې راختونکې ننګی.

خنزير : سرکوزې، خوک، سوئر، بد ځناور، خنځير.

خندا : د خوشحالۍ، د کپ شپ يا د عامو خبرو کولو په وخت د شونډو غوړيدنه چې کله کله د خلې نه ورسره غږ هم راخيژي، د ژړا متضاد، رخشند، ريشخند، ملنډې، پيشاړه،

خندان : خنداوو، خوشحال، خنده رويه.

خندق : خندکې، خنده، خندې، يو قسم بنکاري سپې چې ګيدړو وغيره پسې غاړونو ته ننوځي.

خنلې : خرې، د چرګ د پښې مونډه، د وني زخه، د وني غوټه، سخت او کلک ازغې، خنلوکې، خريزکې، مشکل، ستونځه، تينګ، تيز، تينګ ګروې.

خنصر : کچې ګوته، وړه ګوته، خچې ګوته، خمچه

کوته.

خنګ : کرنګ، منجمد، کلک، سخت، وچ کلک.

خنې خنې : ریزه ریزه، پوتې پوتې، بسمې بسمې، ریبنې ریبنې، کاري ګیتې، پراته ګول، بوسکري وښکل.

خو : دروغ، غلطي، چل، په لوبو کښې دروغ او چل. په معامله کښې بدعهدي او ژبه ماتونه.

خو : خپه، لګوونې، پرې، درکیران، یږې، شوښتی، یو قسم اور اخستونکې ماده چې د خښې وښو او دونې پوستکي نه جوړولے شي د کښې یو قسم، یو تورے چې د لیکن او مګر په معنیٰ کښې راځي. کله کله د استثنیٰ معنیٰ هم ورکوي. عیب، نقص، شک.

خوا : طرف، لورے، سمت، پلو، اړخ، مخه، پوچې شوې زمکه، د خشاک نه پاکه زمکه، د کرلو دپاره پاکه زمکه، رابطه، اړیکه، علاقه.

خوا : طبع، طبیعت، زړه، خواهش، اشتها، ارزو، هیله، خوښه.

خوا په خوا : څنګ په څنګ، اړخ په اړخ، اوږه په اوږه، سره نزدې.

خواجه : خوجه، صاحب، څښتن، خاوند، مالک، خصي، تکولے شوے (سړے)

خواخاطر : خیال، ګومان، خوب و خیال، زړه، یاداشت.

خوار : تپ، کمزورے، ضعیف، ډنګر، د چاق ضد، ژوبل، زوبل، بې وسه، غریب، مسکین، بې وزله، حقیر.

خوارپرک : ډیر خوار، خوار عاجز، زیات غریب،

خوارج : د مسلمانانو هغه ډله چې د حضرت علي کرم الله وجهه خلاف راولاړه شوې وه.

خوارکے : خوارنجوکے، خوارنجے، خوارنگړے، خوار، غریب، عاجز، مسکین، بې وسه، بې شتو، په بدني لحاظ کمزورے، ضعیف، ناتوانه.

خوارول : له شتو خلاصول، غریبول، مسکینول، خرابول، مفلسول، بټه کول، په بدني لحاظ کمزورے کول.

خوارۀ : پریشان، کلپوړ، ویړ بیړ.

خوارۀ وارۀ : تس نس، نوستي، تتر بتر، تار په تار، تیت و پرک، تیت، پاشان.

خواري : محنت، کار کسب، زحمت، ربړ، تکلیف، مفلسي، ناداري، نیستي، قحط سالي.

خواري کښ : زحمت کښ، محنت کش، زیار ایستونکے، خواري کونکے.

خواریدل : غرییدل، مسکینیدل، مفلسیدل، ډنګر کیدل، ضعیفیدل، بټه کیدل.

خواري زاري : سوال زاري، محنت مشقت، هلې ځلې، کړاو، کوشش، په خواري او کړاوونو، منت فریاد.

خوارۀ : د خوراک څیزونه، د خوړو څیزونه، طعام، اتام، غذا، هغه څۀ چې خوړل کیږي.

خوارۀ : شیریني، د خوږ جمع.

خواست : سوال، غوښتنه، ګدائي، دعا، مناجات، امید، التجا.

خواستګار : غوښتونکے، رویبار، طلبګار، جرګه والا، ریبار.

خواستګر : خواست کونکے، سوالي.

خواشیني : خفګان، غمژني، غمژنوالے، خوابدي، غمګیني.

خوابني : د بنځې مور، د میړۀ مور.

خواص : نزدې او مقرب کسان، خاص خلق، د خاصیت او خاصې جمع.

خوالۀ : د زړۀ راز، همرازي، پټه خبره، د زړۀ راز چاته ونیونه، د زړۀ راز چاته څرګندونه.

خوان : پتنوس، څپونې، کندورې، مجمه

خوانچه : مجمه، دسترخوان، هغه مجمه چې وریژې، قورمه، او نور خوراک پکښې یو ځای پروت وي.

خواوشا : شاوخوا، چارچاپیره، څلور واړه طرفه، کیر چاپیره، ګردچاپیره.

خواه : د نومونو او صفتونو لاحقه چې د توري په اخر کښې د لګولو سره تري معنې راولاړیږي لکه نیمه خواه، بدخواه، خواه، طبعه، طبیعت، زړۀ.

خواه مخواه : خامخا، ضرور، اړومرو، چاروناچار.

خواهشمن : غوښتونکې، هیله من، خواهش مند، ارزومند.

خوب : اودۀ کیدنه، ویدۀ کیدنه، بیدۀ کیدنه، د ریښ والي متضاد، د تیرو شوو یا راروانو واقعاتو په خوب کښې عکس لیدنه، خوب لیدنه، تش خیال، تش تصور،

خوبا : معشوقه، شها، محبوبه، شهی، شهو.

خوبانی : مندته، خرمانی، زردالو، خرمانی.

خوبروئے : بنائسته، بنکلے، پیمخے، اغلے.

خوبي : هغه څوک چې دیر خوب کوي.

خوبي : صفت، بنۀ والے، فائده،

خوپ : ګرد، غبار، لړه، سخته لړه.

خوپنی : کوپنی، پوکنی، پوقنی.

خوتباد : د اکو پارسوب، د

خوتو پرسوب، هغه بيماري چې د بنيادم اګى پکښې پرسيږي.

خوتکول : يشول، جوشول، خوښول، داسې خوښ ورکول چې د خټ خټ اواز ترې وخيژي.

خوتکيدل : يشيدل، ايشيدل، جوشيدل، خوټ خوټ کول، خوټ خوټ کول، جوشونه وهل، خوتيدل، ختکيدل.

خوته : د نارينه آله تناسل، خايه، اګى، د نارينه اګى، خصيه، ډګه.

خوجه : خوجو، نامرد، نامړد، ايجړا، نربنځې، هغه سړې چې په جنسي لحاظ نامرد وي. خښتن، خواجه. خاوند.

خوځنده : خوځندې، حرکت ورکونکې خوځيز، شاريدونکې.

خوځول : حرکت ورکول، شورول.

خوځيدل : بنوريدل، خوزيدل، په حرکت کښې راتلل، حرکت کول، کوچيدل، تلل، بې خايه کيدل.

خود : واک، اختيار، حال، اراده، څکه.

خود : هوش، زغم، حوصله، اکر، پخپله.

خود : شايد، بايد، پخپله،

خودارادیت : په خپله خوښه، خپلواکي، ازادي، د خپل اختيار، خپل سرنوشت ټاکنه.

خودبين : مغرور، کبرژن، خودپسند، په ځان مټين، ځان خوښې، هغه څوک چې ځان پيژني او بل څوک ئ د پامه څۀ نۀ راځي.

خودپرست : کبرژن، مغرور، خودخواه، په ځان مټين، ځان خوښې، هغه څوک چې خپل ځان وته هر څۀ هر څۀ ښکاري.

خودپسند : د خپلې مرضۍ مالک، د خپلې طبعې. ځان خوښې، خود پرست، خودبین.

خود دار : د خپل عزت خیال ساتونکے، غیرتي، نر.

خوداري : څنګ کونه، ډډه کونه، کوښه کیدنه. امتناع، قناعت، صبر. د خودار کیدو حالت.

خودرو : خودرویه، طبعي وابنۀ، هغه بوټے چې پخپله راشین کیږي.

خودسر : سرایله وبرایله، پخپل سر، خودرایه، خودسرے.

خودغرض : خپل چارے، خپل چارو کے، مطلبي، مقصدي، د مطلب خاوند، مغرض، غرضي.

خودکار : هغه مشین چې پخپله کار کوي،

خودکاشت : هغه زمکه چې مالک یې پخپله کري،

خپله زمکه په خپله کرونکے.

خودکشي : ځان وژنه، ځان مړ کونه، ځان له ژوندہ خلاصونه.

خودمختار : خوداختیار، د خپل واک خاوند، ازاد، خپلواک.

خودمختاري : خپلواکي، ازادي، خپل اختیاري،

خودنما : ځان ښودونکے، ځان ښکارونے، ریاکار، کبرژن.

خودنمائي : ځان ښودنه، ځان ښکاره کونه، تظاهر، د خپل ځان ښیښنه.

خودي : کبر، غرور، خودخواهي، خودپرستي، ځانګړتوب، یواځې توب، سد، بیداري، هوش، هوښ، د بیداری حالت، ذات، هستي.

خور : د پلار لور، د مور لور، د ورور مؤنث. د پښتو د څلورو میاشتو نومونه.

خور : اخور، د څاروو او ډنګرو د خوراک او ترلو

ځایے، ګیاه، وابنهٔ.

خور : خورک، پوټ، پټ، څرمن، هغه څرمن چې د جراحت نه وروستو وچه شي پتړے ونیسي او غورځیدو ته نزدې شي.

خور : وران، ویجاړ، ویړ، پرانستے.

خور : د نومونو سره د لاحقې په توګه استعمالیږي لکه غمخور، سودخور.

خورا : بېخي، ډیر زیات، د بېخي زیاتو، لږو، بنو، بدو او نورو صفتونو سره د تاکید په ډول راځي لکه خورا ښه سړے، خورا زور.

خوراک : خواړهٔ، غذا، طعام، د خورلو څیزونه، اتام،

خوراک څښاک: خوړنه څښنه، چای پاني، آب و دانه.

خوراکه: خوراک، خواړهٔ، خوړنه.

خوراکي دانه : توره دانه،

خورجين : اس پسلېو کے، دمبیله، خورجینه، بیړودن.

خورځه : د خور لور.

خورځل : د قینچی په شان یوه آله چې پسونه پرې سکنلے شي.

خورد : چیتاکی، خوړد، د پاڑ څلورمه حصه.

خورده : خوړده، خرده، د زیارت یا بل سپیخلي ځاے خاوره یا مالګه چې خلق ئې ځان سره راوړي او خوري ئې.

خورغود : بې تمیزه، بې اعتباره، چالاک، دوکه باز.

خورک : پټ، پوټکے، پوستکے، خور، د زخم په مخ باندې خورکے یا نرے پوستکے.

خورلنه : خورینکه، کومه جینسی چې وادهٔ شي نو د پلارګنسی او د پلار د کلي والو خورلنه ګڼلے شي. خور بللي.

خورماخور : وران، ګډوډ، خوروور، ویړ، پروت.

خورول : خوک مړول، څه څیز په چا خورل.

خورول : ویړول، تیتول، نشرول، خپرول.

خوروور : ګډوډ، بې ډوله، بې ترتیبه، لاندې باندې، نوستلے شوے، خرلے شوے.

خوریدل : نشر کیدل، ویړیدل، اواریدل، پلنیدل.

خوری : پټکړی، پټکری، پټکنی، زنځ، زمج، زمه، سپین زج.

خور : شیله، سم، لګدو، خوړه، توے، لوبه وله چې د باران په اوبو اباده وي.

خورل : روټی خورل، د خوراک څیزونه په خلۍ کښې د میده کولو نه پس د مری په لاره ګیډې ته تیرول، غصبول، غصب کول، د چا په مال ګیډه اچول، لګیدل، په ګولی یا کانې لګیدل، وهل، سولول.

خوړه : خور، لګدو، ناؤ، شیله، نرمه زمکه.

خوړه : د وادۀ روټی، د ورا روټی، د وادۀ نه دوه ورځې مخکښې هغه خوراک یا جنس چې د زوم له کوره د ناوې کور ته راوړلے شي او بیا د رابللو شوو خلقو دپاره پخیږي. د کوژدن یا کویدنې مراسم.

خوړین : ډیر پوخ، بنۀ یشیدلے. ډیر تنګ، تر پوزې راغلے، چاته ډیر سوختیدل، چا سره ډیره کینه ساتل.

خوړینول : پخول، د اندازې نه زیات پخول، ورستول، پوده کول، خپه کول.

خوړینیدل : پخیدل، ډیر زیات پخیدل، ورستیدل، پوده کیدل، امباری کیدل، خپه کیدل.

خوزول : رقول، شورول، خپورول، څنډول، حرکت ورکول، بیدارول، خوځول.

خوزیدل : رقیدل، بنوریدل،

شوریدل، له یوهٔ خایه بل خاے ته کیدل. زنگیدهٔ.

خوږ : درد، ناروغي، مرض، هغه درد چې د ناروغی له کبله وي. ژوبل، زخمي.

خوږ : د تریخ متضاد، شیرین، خوندور، لذیذ، مزیدار. په زړهٔ پورې، گران.

خوږلت : خوږوالے، خوندوروالے، شیرینی. شیرین زباني، خوږې خبرې کونه.

خوږلن : ایرهٔ خول، تودې ایرې، پوړندے، د سرې اور.

خوږمن : دردمند، درمن، دردیدلے، خوږ شوے، همدرد، خواخوږے

خوږول : شیرینول، خوږهٔ وراچول، په زړهٔ پورې کول، خوندہ ور کول، مزه ناک کول، په سودا کښې لږ شان زیات ور کول، په جواری کښې داؤ غټول، نرخ لږ شان وچتول.

خوږول : زخمي کول، دردول، ژوبلول،

خوږه : شیریني، بوره، پلمیټ،

خوږه وله : ملټ، ملتې، خوږ لرگے، یو بوټے چې په دارو کښې پکاریږي.

خوږیدل : شیرینیدل، خوږ کیدل، خوند ښهٔ کیدل، د نرخ وچتیدل، په جواری کښې داؤ زیاتیدل.

خوږیدل : زخمي کیدل، ژوبلیدل، دردیدل.

خوسی : ښاپیرک، اسمان چکالے، اسمان څکالے، مابنام چکالے، شوپرک.

خوسے : سخے، د غوا بچے،

خوش : ښهٔ په زړهٔ پورې، خوشحاله، هغه لاحقه چې د خنو اسمونو سره ولګولے شي نو صفت تري جوړ شي لکه خوش طبع، خوش اخلاقه.

خوشاتارے : خوشکے، لښر، خشے، خشتارے،

خوشاتير، خوشاتنک، خوشاتے.

خوشاتير : وګورئ خوشاتار.

خوشامدګر : خوشامدګر، خوشامندي کونکے، چاپلوس، چاپروس، دبل صفتونه کونکے، په ژبه ختونکے، چمچه، چمچه ګيري کونکے.

خوشامندګر : وګورئ خوشامدګر.

خوشامندي : چاپلوسي، خوشامدګري، چاپروسي.

خوشبو : بنهٔ بوئ، بنه وړمه.

خوشبودار : بنهٔ بوئ لرونکے، خوشبويه.

خوشبوئي : بنهٔ بوئ کونه، بنه بوئ.

خوش بويه : خوشبوئي لرونکے، چې بنهٔ بوئ تري خيژي.

خوشت : جب جوب، لوند، لوند خوشت.

خوشول : لوندول، لمدول، جب جوبول، بنهٔ لوندول. وهل تپکول.

خوشيدل : لوندېدل، لمدېدل، جب جوب کيدل، وهلے کيدل.

خوشحال : خوشال، خوښ، چې طبيعت ئې جک جوړ وي.

خوشحاله : خوشاله، خوښ، په مزه کښې.

خوشخبري : بنهٔ خبر، زيرے.

خوشخط : ډير بنهٔ او بنائسته ليک، بنهٔ ليکونکے.

خوشخطي : بنائسته او بنکلے ليکنه.

خوشکے : لهر، سوډر، ايله ګرد، خوشے، خشے تشے، بيکاره سړے.

خوشنود : خوشحاله، خوښ، په مزه کښې.

خوشنودي : رضامندي. خوشحالي.

خوشه : غنچه، کچه، گاتلی.

خوشے : چتې، عبث، بې خایه، بې ګټې، ویړیا، مفت، مجاني، خلاص، ازاد، ایله شوے، وزګار، تش، خالي.

خوښ : خوشحاله، خوشاله، غوره، چون شوے، منتخب.

خوښول : خوشحالول، چون کول، راضي کول، انتخابول، غوره کول، چانول.

خوښه : رضا، میل، رغبت، انتخاب، غوره کونه، چان، چون.

خوښیدل : خوشالیدل، خوشالیدل، رضا کیدل، انتخابیدل، غوره کیدل.

خوف : ویره، ډار، بیم، ډر.

خوفناک : ویرونکے، یرونکے، بیرونکے، ډارونکے، ډرونکے.

خول : تاج، د وسپنې توپی چې د جنګ په وخت کښې پکاریږي. د کارتوس پتاخه، استر، پړو، تیکے، غلاف، پوښ، پوش.

خولکی : وړه خلۀ، کوکی، کوچی خلۀ، خولګوتې.

خوله : هغه اوبۀ یا لوندوالے چې د کرمی، بیماری یا شرم له وجې د وجود نه وځي. د اوبو بخارات.

خولی : پګړی، تویی، پرکی.

خولے : سړی، د ستنې برغولے، هغه لوکے چې د ستنې په سر د تیر د ټینګولو په غرض د تیر لاندې ایښودے شي.

خوم : خُم، هغه لوے مټ چې رنګسازان پکښې جامې رنګوي. د اوړو یا کورې چاتی، د شرابو چاتی.

خون : وژنه، قتل، قتل نفس، مړینه، وژله، بې ګناه وژنه، وینه، د قتل په وخت کښې د دیت یوه تاکلې اندازه چې نرخیان د هغې په قرار د قاتل

په ذمه د مقتول دیت تاکي. د ناغې یوه تاکلې اندازه چې د ژوبلې په وخت استعمالیږي.

خوناب : سراوښې، زیږوبې، زوه، زروبه، ژوې، هغه نو چې وینه ورسره یو ځای وي.

خون بها : دیت، هغه مالي بدل چې قاتل ئ د مقتول وارثانو ته ورکوي.

خونخوار : قاتل، خوني، ظالم، د وینې څښونکے،

خوند : لذت، اثر، مزه، ذائقه، ښائست، سینګار، ډول.

خوندناک : خوند لرونکے، مزه ناک، خونده ور.

خوندي : ساتلے شوے، محفوظ، پټ کړے شوے.

خونریزي : وینه ضائع کونه، وینه تویونه، وژنه، قتلونه.

خونړے : خونخوار، خوني، قاتل، وژونکے، وینه تویونکے.

خونکار : خوني، قاتل، خونونه کونکے،

خونه : کور، کاله، مکان، کوټه.

خوني : قاتل، خونخوار، خونړے، ادم کش، وینه تویونکے، انسان وژونکے.

خون خولے : کښس، کنا، چې پوره کښې خبرې کوي،

خوئ : عادت، خصلت.

خوئ بوئ : خوئ خصلت، عادت، تربیت، تربیه،

خوید : خید، د اوربشو شین فصل چې خلق ئ خاروو له ریبي.

خیابان : واټ، د بنار یا بار په منځ کښې لویه او فراخه لار، د ګلونو کیاری.

خیار : انتخاب، واک، اختیار، واک لرونکے، خیال. آپشن، هغه معاملې ته وائي چې د هغې په بنیاد معامله کونکے یو څیز په معین وخت کښې او د تاکلو شرو شرائطو مطابق اخستلے او خرڅولے شي.

خياط : درزي، کنهونکے، د ریشو او داسې نورو څیزونو کنهونکے.

خياطي : د حامو کنډلو کسب، درزي توب.

خيال : فکر، سوچ، تصور، پام، ګومان، وهم،

خيالي : د خيال، فکري، تصوري، ويار کونکے، ډولي، سنګاري، سنګار کونکے.

خيام : تمبو، يا خيمه جوړونکے، درزي.

خيانت : دوکه، بدنيتي، درغلنه، عذر، بې ايماني، امانت نه ساتل.

خيجن : خجن، خيرن.

خيد : وګورئ خويد.

خير : شرمنده، غصه، سوخت، تيار،

خيرج : شرمنده، نادم، خيرخه، خيرجه.

خيرن : ګنده، ناولے، چټل، خفه، تور زړۀ.

خيرنول : ناولے کول، چټلول، ګنده کول.

خيرنيدل : ناولے کيدل، ګنده کيدل، چټيدل.

خيره : چټلتيا، چټلتوب، ناولتوب، ناپاکي، ګندګي، کثافت، چټلي.

خيرے : زنګ، ګند، ميل، ګندګي، سخاوالے.

خيږ : خور، خورک، د زخم پترے، پترکے،

خيک : شناز، لوے مشک چې د هوا نه ډک شي او په سيند کښې پرې لامبلے شي.

خيم : جم شوے، کرنګ شوے، کنګل شوے.

خيميدل : ټينګيدل، کنګل کيدل، ټوندېدل، نسکوريدل، ټونټيدل، خورندېدل.

خي : د الف ب د پښتې د دولسم حرف "خ" تلفظ.

خيټو : خيټور، ګيډه ور، ډير خوراکي.

خير : ښيګړه، نيکي، ښۀ کار، هغه روټی يا پيسې چې

سوالګري ته ورکولے شي، خيرات.

خيرات : صدقه، د الله پاک په نامه څه ورکونه.

خيراندیش: خيرخواه، خير غوښتونکے، خواخوږے، نيک نظره، هغه څوک چې د خلقو په مفاد کښې خير او صلح غواړي.

خيربرکت : برکت، بنيګړه، ترقي.

خيرپهخير : ستړي مشي، جوړ تکړه، عليک سليک، د روغ جوړ پوښتنه.

خيرخواه : خيراندیش، خير غوښتونکے، خواخوږے،

خيرخيرات : خيرات، د الله په نامه څه ورکونه.

خيرخيريت : روغ جوړ حال، خيرسکے،

خيرمار : سوالګر، سوال ګرے، چنګړے، ګدا.

خيريت : سلامتيا، قلاره قلاري، خاطر جمعي.

خيز : ټوپ، دانګ، ګوپ، جوش، غوړيدنه، زړ وده کونه، زړ لوئيدنه، د لاحقې په توګه هم استعمالیږي لکه حاصل خيز.

خيژک : خير، پاتړے، د زخم د پاسه وچ پوټکے، پوټکے، پټ، پوټ.

خيژول : پورته کول، جيګول، لوړول. د چيت خايه لوړ خاے ته لیږدول. قيمت وچتول، اوربښت جګول، بيه کول.

خيش : خويش، خپل خپلوان، رشته دار، حپل.

خيښوالي : خيښي، خپلوي، خپلوالي، رشته داري.

خيښه : هغه بنخه چې د روم د کوره د وادۀ په شپه د وادۀ له کالو سره خي او د وادۀ په ورځ ساوې سره يو خاے راخي.

خيښي : وګورئ خيشي.

خیل : ذات، تپـه، تـوکـم، تبر، خاندان.

خیـلـخانه : تبر، کورنی، خاندان، کورمه.

خیله : ایـلـه، ایله گر، پوچ، بـي معني، کم عقل، چتي، بي مفهومه، توقي، توقمار.

خیمه : تمبو، کیږدی، تامبو.

د : (دال) د پښتو ژبې د حروف تهجي دیارلسم حرف چې د ابجدو په حساب ئ شمیر څلور (۴) دے.

دا : نزدې څیز یا چاته د اشارې په طور وئیلے شي.

د اوبو ژرنده : هغه ژرنده چې په اوبو چلیږي.

داتا : بخښونکے، فیاض، ورکونکے، سخي، الله تعالي.

داج : هغه توره تیارهٔ چې سپورمی پکښې نهٔ وي د ناوي سامان، جهیز.

داجي : وګورئ داداجي.

سپمیدل : بچت کیدل، بچ کیدل، پاتې کیدل، پس انداز کیدل.

سپنخړے : وسپنخړے، د وسپنې هغه بیکاره برخې چې په اور کښې د سړې کولو نه پس تړې پاتې کیږي.

سپنسي : سوتلی، سنډ، د سوتلی تارونه، مزي.

سپنسین : د سوتلی نه جوړ، د سنو نه جوړ، د پومبې نه جوړ.

سپنکے : د اور بخړے، د اور بخرکے.

سپوتکے : پړونے، ټیکرے. هغه ټوکر چې د دیګ په سر اچولے شي.

سپور : بې غوړو، خشک. د سپکې خلې خاوند هغه څوک چې په خلهٔ کښې ئې خوړه خبره نه وي. سور،

سپوړول : خشکول، وچول، بې غوړو کول.

سپوړیدل : خشکیدل، وچیدل، بې غوړو کیدل.

سپوري ستني : وګورئ سپوري.

سپوږمي : میاشت، مه، مهتاب، قمر، اوږمکی.

سپه سالار : سر لښکر. د لښکر مشر، ټول مشر، جرنیل.

سپیازه : هغه بنځه یا ماده خناور چې بچے ضایع کوي.

سپیتوب : د سپي عوندي خوئ کونه، د ستر کو وړے والے، د اروا خوار والے

سپیغول : اسپغول، سپغول. یو مشهور تخم چې په دارو کښې استعمالیږي.

سپین : د تور متضاد، پاک، صفا، صادق.

سپیناوے : وضاحت، شک لرې کونه.

سپین دروبے : سپین روبے، معزز، عزتمند، مخورير، مشر.

سپین زر : سپیس رنګ لرونکے یو قیمتي دهات. چاندي.

سپین ږیرے : بوډا، مشر، چې د ږیرې ویښتۀ ئ سپین شوے وي.

سپین ستر ګے : بې حیا، بې شرمه، کلک ستر ګے.

سپین سرے : بوډا، مشر، زور

سپینول : پوست لرې کول، پوستکے لرې کول، مسیس لوښے پاکول، سپین رنګ ورکول، قلعي ورکول، خبره صفا کول، معامله پاکول.

سپینه : د سپین مؤنث. وازده. روپی، خبره صفا کونه. د پښې د کوندې نه بنکته برخه.

سپینې : د پوندې نه لږه بره د پښې پسته برخه. د پوندې د پاسه پلي. وازدې، وازګې.

سپینیدل : پوست لرې کیدل، پوستکے لرې کیدل، مسیس لوښے پاکیدل. سپین رنګ ورکولے کیدل، قلعي

کیدل، معامله پاکیدل. حبره صفا کیدل

سپیځل : صفا کول، پاکول، بې وتې کول، بې عیبه کول

سپیځلتوب : پاکي. صفائي، پاک توب، پاکوالے، سوچه والے

سپیدار : یو لوړ قدي ونه، چنار، چینار.

سپیدي : سباوون، د سحر رڼایي، د سبا علامه.

سپیرکی : یو قسم بوټے او د هغې دانې چې د ګیډې د درد دپاره تري د ګورنی دوا کار اخستے شي

سپیرهٔ : په خاورو ککړ. خړ، خاکي تاه، وران، خراب. بدمرغه، بدبخته، بدقسمته.

سپیرهٔ توب : سپیرهٔ والے، بدمرغي، بدنصیبي، خړوالے.

سپیڑمه : سپڑمه، د پوزې سوړے.

سپینته : هغه نری پرده چې د زړهٔ نه تاو وي، شپیته، د پس پرده.

سپینه : هغه سپی چې پر سپے غواړي بدفعله، او بدکرداره بنځه.

سپی : د سپي مونث.

سپے : یو قسم غوښه خوړونکے ځناور چې خلق ئې په کورونو کښې د خوکی دپاره هم ساتي.

ست : بلنه، دعوت. د سپینولو نه وتے جوهر چې د ګیډې د نرمولو دوا ګڼلے شي

ستا : د تا، د مخاطب ضمیر

ستار : سیتار، د موسیقی یوه آله.

ستار : پرده پوښ، پرده پوش، پوښونکے، د الله تعالیٰ یو صفتي نوم.

ستاره : هیبت، ویره، سام، درونډوالے، دبدبه، رعب، سهم. قسمت، تقدیر، بخت، طالع، تندے. ستورے.

ستاسو : د مخاطب ضمیر د تاسو، د تاسي.

ستاسي : وګورئ ستاسو.

ستانه : آستانه، کور، د چا پیر بزرګ ډیره.

ستانۀ : ستون شوي، پاتې شوي، خپدلي، معطل شوي.

ستایل : تعریف کول، مدح ونیل، صفت کول، په بنه سترګه کتل.

ستاینه : ستایل، صفت کونه، مدح کونه، تعریف کونه.

ستر : غټ، لوی، مشر، فراخ، پلن، ویر. تنکي، کولک، ټیک، څنی.

سَتر : حجاب، پرده، پرده.

سترغلي : د سترګو ګاټي، د سترګو حلقي، د سترګو چاپیرچل خای.

سترګګ : د سترګو اشاره، د سترګو خبره، سترګه وهنه.

سترګه : چشم، هغه اندام چې د کتلو قوت لري. د بوټي سترګه، تیغه، د سبا سترګه، د نمر سترګه.

سترول : لویول، غټول، کامیابول، وده ورکول.

سُتره : سوتره، پاک، صفا، بې عیبه، سپیخلی.

ستریدل : لویدل، غټیدل، وده کول، ترقي کول.

ستړی : کیډی، دلی، انبار، د فصل پریکړی شوی توپ.

ستړي مشي : هرکلی، په خیر راغلی.

ستړے : ستومانه، پریشانه، ذړي ذړي.

ستغ : زیږ، تریخ، ناهموار، سخت، کلک. یو قسم غوټه چې په بدن کښې لکه د ننکی په شکل پیدا کیږي. د غرۀ سر ته ختلې نیغه لار.

ستغه : بده وینا، سپوره وینا، سخته خبره.

ستمکر : ظلم کونکی، ظالم، زیاتی کونکی

ستن : یو نرے سلاتي چې یو سړی تیرۀ وي او بل کښې ئې نرے سورے وي او د ګندلو دپاره پکارولے شي.

ستنول : ګرخول، تمبول، اتالول، بندول، ایسارول، معطلول، منع کول، ستونول.

ستنیدل : په شا تلل، واپس تلل، بیرته تلل، واپس کیدل.

ستوان : وچ توتان یا نیني چې میده کړے شي خوارۀ پکښې ولړلے شي او بیا خوړے شي.

ستوري : هغه اجرام یا کرې چې په اسمان کښې د شپې په وخت پرقیدونکي ښکاري.

ستورے : وګورئ ستوري بخت، طالع.

ستومان : ستړے، خسته، زپلے، پریشانه.

ستومانول : ستړے کول، زپل، پریشانول، پریشانه کول.

ستومانه : ستړے، پریشانه، زپلے. پښیمانه

ستومانی : د ستړي والي حالت. ستړے والے، د پریشانی حالت.

ستومانیدل : ستړے کیدل، پریشانه کیدل، پښیمانیدل.

ستون : بیرته ګرځیدلے، واپس شوے، معطل، پستنه، واپس.

ستوني ستغ : شا په زمکه، د پرمخ متضاد.

ستونیدل : ستنیدل، واپس کیدل.

ستوړے : حلق، مری، غړی.

ستوه : هغه چارۀ چې دواړه مخه ئې تیرۀ وي، پیشقوزه، پیش کوزه،

ستے : دیو سره استعمال کیدونکي لاحقه چې د یواځي والي معنې ورکوي لکه یوه ستے.

ستي : په اور سوے، په اور سوځیدلے، کباب شوے، لمبه شوے. د هندوانو هغه رسم

چې ښځه پکښې د مړ خاوند سره اور کښې سیخلے شي.

ستې : تباه، برباد، هلاک.

ستک : د لرګي او وسپنې هغه مشتر که اوزار چې میخ وغیره پرې ټک وهلے شي.

ستکورے : نیم سوے لرګے یا روښی. بیخ، ویخ، بنیاد.

ستل : محموعي طور، یک مشت، بیخي، ګرد، په یوه ځله، ستاله، ستله، چنل

ستوپ : د خاورو د ټیلو نغرے.

ستې وټ : تباه برباد، خواروزار، هلاک.

ستوکے : د سر د ویښتو هغه برخه چې پاس په تندي پرته وي.

ستول : تباه کول، بربادول، ورانول، ګډوډول،

سجاد : سجده کونکے، خدائے ته سر ښکته کونکے، ډیرې سجدې کونکے.

سجاده : د مونځ کولو ځائے، جائے نماز، جانماز، مسله.

سجاده نشین : د چا پیر خلیفه یا نائب. هغه سړے چې د پیر په ګدی ناست وي.

سجده : په زمکه تندے لګونه، خدائے ته سر ټیټونه. د مانځه یو رکن.

سجع : قافیه بند شعر. مقفیٰ کلام، قافیه لرونکې خبرې. بلغاک، چغارے.

سجود : سجده کونه، خدائے ته سر ټیټونه، د سجده جمع.

سچ : خالص، اصل، سوچه. بیخي، ټول، ګرد.

سحاب : وریځ، اوریځ، لړه،

سحار : وګورئ سحر.

سحر : سبا، سحار، د ورځې اولنی حصه، د ورځې ابتدا، رڼا.

سحر : جادو، کوډې، منتر،

افسون.

سحربیان : هغه مقرر یا شاعر چې وینا ئ ډیر تاثیر لري.

سخ : بخت، نصیب، طالع. خوشحالي، خوش نصیبي.

سخا : فیاضي، بخښنه، د خدای په نوم بې کچه خیر خیرات ورکونه.

سخا : خسا، کنده، بدبویه، چتل.

سخات : اسقاط، د مړي د جنازې نه پس د هغهٔ نه د پاتې شوو موښخونو او روژو د کفارې ادا کولو په غرض په حاجت مندو نغدې پیسې یا نور څهٔ خیزونه ویشل.

سخاتوب : کنده والے، چتلتیا، خیرن توب. سخاوالے.

سخاوت : وګورئ سخا.

سخت : کلک، مضبوط، ټینګ، محکم. ګران، مشکل،

سختول : کلکول، ټینګول، محکمول، مشکلول، تیزول.

سخته : تکلیف، مشکل، بده ورځ، کړاؤ، کړاک،

سختي : تکلیف، بده ورځ، مشکلات، تنګسه، خواري، کلکوالے، ټینګوالے.

سختیدل : کلکیدل، ټینګیدل، محکمیدل، مشکلیدل، تیزیدل.

سخر : خسر، د ښځې پلار، د خاوند پلار.

سخرګنی : د سخر کور، د سخر خپل، سخرانه، د سخر خپلوان، خسر ګنی.

سخکال : سږکال، روان کال، موجوده کال.

سخن : خبرې اترې، خبره. قول، شعر، نظم، غزل.

سخوندر : خوان غوایهٔ، هغه ځوان سخړے چې په غاښ دوه یا څلور وي.

سخوندرکے : د سخوندر اسم تصغیر.

سخه : کینه، حسد، رخه.

سخي : د خدای په نوم بې

دریغه خیر زکات ورکونکے، سخاوت کونکے، فیاض.

سخے : د غوا بچے، خوسے.

سد : عقل، هوش، خود.

سد : دیوال. د توپک د شپیلی رخی. خند.

سد بد : عقل فکر، هوش وحواس.

سَر : کپری، ککری، کوپری، د سر کاسه. خوکه، د څهٔ څیز پورتنی حصه. خوا، اړخ، طرف، پلو، د تلې یو طرف. مخکښې، مخه، شروع، اول.

سِر : راز، پټ، پناه، د علانیت متضاد.

سُر : چرت، طبیعت، د سندرو د علم موضوع، راګ، اواز.

سراب : دوکه، دهوکه، د سختی ګرمی له کله د شګې هغه خلق چې د اوبو ګومان پرې کیږي.

سراپا : سر نه تر پښو پورې، بیخې، بالکل، سراسر.

سراج : چراغ، دیوه، څراغ.

سراسر : ټول، په جمع، سر تر پایه، د اول نه تر آخره، سراپا.

سراسري : وګورئ سراسر.

سراغ : نښه، پته، درک، نښه پته.

سراغ رسان : پته لګونکے، معلومات کونکے.

سرانجام : کونه، پوره کونه، انجامونه، پای ته رسونه، ختمونه.

سرایت : اثر، تاثیر. د یو څیز په بل څیز کښې دننه تلنه.

سرایه : سرای، دنیا.

سرائ : کور، دیره، دیره، د مسافرو د شپې تیرولو ځای.

سرباز : فوځي، سپاهي، عسکر، سر بندونکے، د ملک او قوم دپاره دشمن

سره جنګ کونکے،
سربازي : د سر قرباني ورکول، سربښندنه، له سره تیریدنه.
سربالا : د سر دپاسه، کامیاب، کامران.
سربانډه : سربانډے، سربانه، هغه پرے چې د کچه څرمني یا میزري نه جوړیږي، هغه رسۍ چې د یوې ترلو دپاره پکارولے شي.
سربراه : مشر، د تنظیم مشر، منتظم، ناظم، د سر سرے، نامي.
سربسته : پټ شوے، تاله شوے، بند شوے، قفل شوے.
سربلند : سرفراز، سرلوړے، شمله جګے، د عزت او آفرین خاوند.
سربلندي : سرلوړي، سرفرازي، عزتمندي.
سربند : هغه بند چې سیند یا خور ته اچولے کیږي، سرورخ، وتے. هغه رومال چې سر پرې ترلے شي.
سربیره : زیاتي، علاوه، دپاسه، پورته، باندي.
سرپرست : ساتندویه، څارونکے، ساتونکے، نګهبان، محافظ، د یوې اداري یا تنظیم مشر.
سرپرستي : نګهباني، حفاظت، ساتنه، مشري.
سرپریکړے : چې سر تري پریکړے شوے وي. چې سر تري قلم کړے شوے وي.
سرپناه : د سر پټولو ځاے، کور، دیره.
سرپوش : سرپوش، برغولے، سربند، یو قسم توپک چې یوولس کارتوس خوري. رائفل، تري ناټ تري توپک، تري ناتري.
سرپه : صرفه، دریغ، مخ اړول، اشتها.
سرپه سر : یو شان، یو برابر، مساوي.
سرتاج : خاوند، میړه. د

مینې تورے.

سر تر پایه : سر نه تر پښو پورې، ټول، سراسري،

سرتمبه : سرکش، ضدي، خیل ناک.

سرتور : چې سر ئې ځرګند وي. سرلوځ، سربرښنے. بې عزته، ذلیل، شرمنده.

سرتوروول : سر بنکاره کول، سر لوڅول، سر بربنډول، بې عزته کول، شرمول، خوارول، ذلیله کول.

سرتوره : د سرتور مؤنث.

سرتوریدل : بې عزته کیدل، سپکیدل، شرمیدل، خواریدل، میړه مړ کیدل، کنډیدل.

سرتور : سر لوڅے، بې عزته.

سرتیر : له سره تیر، د سر پروا نه کونکے،

سرتیزه : تندخویه، هغه څوک چې سر تیزي کوي.

سرتیتي : اطاعت. عجز، انکساري. بدنامی ي عرتي

سرچینه : وکوري سرچشمه.

سرحد : برید، پوله، حد، ویش، د دوڅ ملکونو د علاقې مشترکه حد.

سرحدي : د سرحد سره متعلق.

سرخاب : یو قسم د اوبو مرغی چې ټوله شپه خپلې مادې نه جدا وي، سریخ، سرخاوي.

سرخ باد : د یو مرض نوم چې په وجود سره لمبه راشي.

سرخرو : کامیاب، کامران، فاتح، ګټونکے.

سرخروئي : کامیابي، کامراني، فتح، ګټه.

سرخط : د یو مضمون یا کتاب نوم، سرخي. غټ خبر، خاص خبر، سرنامه، سرلیک.

سرخي : د زنانو د سینګار یو سور رنګ چې په شونډو او رخسارونو ئې لګوي.

سرخیل : د خاندان یا قبیلې سربراه، مشر، سرلښکر.

سردار : مشر، رئیس، اختیارمند. سپه سالار، لښکر مشر.

سرداري : مشري، د لښکر مشري، سپه سالاري.

سرداری : یو قسم تماچه، ۳۸ بور تماچه، سرداری تماچه.

سردره : د دري سر، د دري لوړه برخه.

سردوباره : دوباره د سره شروع کونه، په دویم څل شروع کونه.

سرده : د خربوزي د خاندان یوه میوه چې د یخنی په موسم کښې راځي.

سردي : یخنی، د یخنی موسم، سړۍ، ژمی، د ګرمی متضاد.

سرزد : ظاهریدنه، ښکاره کیدنه، په ډاګه کیدنه.

سرزمین : ولایت، زمکه، وطن، ملک،

سرزنش : ملامتیا، ملامت والی، ترتنه، جزا ورکونه.

سرزوري : هوډه، سرکش، سرتمبکي. نافرماني.

سرسام : یو مرض دے چې د تیزې تبې له کبله پکښې د سړي مازغهٔ کار پریږدي. ګنګس، بې سده، نیم پاګل، بادساره.

سرسایه : د سر صدقه چې د وړوکي اختر په موقع حاجت مندو له ورکولے شي، فطرانه.

سرسبز : شین ګوشین، ښیرازه. اباد او خوشحال.

سرسري : د سر د پاسه، سطحي، د ابو د سر د پاسه، هغه څیز چې زمکه کښې ډیر ښخ نۀ وي. معمولي، لږ.

سرشار : تر خلې خلې ډک، ژی په ژی، مور، مست، خوشحال.

سرشت : پیدائشي خوئ خصلت، عادت، فطرت، مزاج.

سرطان : کوني کبر، پنجه پاؤ، کونیکړپ، چنگابن، یو آبي ځناور چې د چیندخي نه وړوکے او د جولاګي په نمونه وي. د اسمان ځلورم برج، یو موذي مرض چې د کینسر په نامه مشهور دے.

سرعت : تندي، تیزي، تلوار، بیړه، چټکتیا، تادي، جلتي.

سرفراز : کامیاب، کامران، سرلوړے، عزت ګټونکے، فتح کونکے.

سرفرازي : سرلوړي، فخر، عزت.

سرقه : وګورئ سرقت، غلا.

سرکار : حکومت، د ملک واګ او اختیار. اختیار دار، کارفرما.

سرکردګي : مشري، مشرتوب.

سرکرده : مشر، سرغنه، سرغندوی، د سر سړے. حاکم، آمر.

سرکس : په ویر میدان هغه احاطه شوے ځاے چې تماشې نندارې پکښې معاوضتا ښودلے شي.

سرکش : سرکښ، باغي، نهٔ منونکے، نامنونکے، نافرمان.

سرکشي : باغي توب، بغاوت.

سرکلے : د نوي پیدا شوي ماشوم نه په وړومبي ځل د سر کلولو رسم.

سرکوزي : شرمندګي، بې شرمي، بې عزتي، بې غیرتي، دووسي.

سرکوزے : شرمنده، بې شرمه، بې عزته، بې غیرته، دووس. خنزیر، بد لیوهٔ، بد ځناور.

سرکونډی : کانتې، بازیګره، سر بنکته پورته کونه.

سرکه : یوه تروه مائع چې د

انگورو یا کنې وغیره د اوبو نه جوړیږي او د اچار په اچولو کښې پکاریږي.

سرګردان : ناارامه، ناقلاره، زړه ستړے، پریشانه، بدحاله، په بده ورځ، هغه تن چې سر پرې ګرځي.

سرګردانه : پریشانه، لالهانده، خلبلانده، سرګردان.

سرګردانیدل : بې ارامه کیدل، ناقلاره کیدل، پریشانه کیدل.

سرګرم : پیش پیش، په څه کا ر کښې ډیر په شوق برخه اخستونکے.

سرګزشت : واقعه بیانونه، سر دوباره، تیر شوے حال.

سرګشته . حیران و پریشان، اریان دریان، وارخطا، بې خوده، بیهوشه، لیونے، اوتر.

سرګومه : بې هوشه، بدحاله، بې سده، په خان نه پوهیدونکے.

سرلوړي : سربلندي، سرفرازي، افتخار.

سرلوړے : سربلند، سرفراز، کامیاب، کامران، د عزت خاوند، عزت ګټونکے.

سرمایه : پنګه، ذخیره، مال دولت، ډیرې جمع شوې پیسې.

سرمایه دار : مالدار، صاحب حیثیت، د ډیرو پیسو او مال خاوند، دولتمند.

سرمائي : تورېخن، تور رنګ ته نزدې رنګ. پیکه تور رنګ، سرمه ئي.

سرمد : همیشګي، دائمي، تل.

سرمست : هغه څوک چې د څه نشې له کبله ډډې وې او په خان نه پوهیږي.

سرمه : رانجه، کجل، د سترګو تورولو یو قسم تور پوډر.

سُرنا : یو قسم د موسیقی آله چې د بیم په شان اواز کوي،

سُرناک : خونده ور او خوږ.

سرنامه : د خط ابتدائي برخه، مقدمه، عنوان.

سُرنگ : هغه سورے چې په غر یا ډیری کښې د لارو ویستو په غرض کولے شي

سرنوشت : تقدیر، قسمت، قضا، نیټه، ازل، لیک، مقدر، بخت، طالع.

سُرنی : سرنا، شپیلی، توری.

سرو : سروه، یو لوړ قدي ونه چې کالو سر شنه وي.

سروپ : بالکل، بیخي، ګرسره.

سروپا : تر پښو، ټول بدن، سر نه تر پښو.

سرود : د ټنګ ټکور اوار، ساز و اواز، موسیقي.

سُرور : خوشحالي، سوکالي. ښادي، خوښي، راحت.

سرور : لار ښودونکے، مشر، رهنما، رهبر.

سروړق : د کتاب یا رسالې د سر پاڼه.

سروري : رهبري، مشري، رهنمائي، سرپرستي.

سروسامان : لوښي لوڅي، مال حال، د ژوند وسائل.

سروقد : دنګ، لوړ، اوږد وګورئ سروقامت

سروکار : مناسبت، مطابقت، ارتباط، شغل، مشغولیت، مصروفیت، سریکار.

سروه : وګورئ سرو.

سره : یوځاے، یو بل سره، په خپلو کښې، څخه، یو تر بله.

سره : هغه کیمیائي او مصنوعي مواد چې د ښۀ فصل د پیدا کولو دپاره په پتي کښې اچولے شي

سره : سور رنګ لرونکې، د سور مؤنث.

سرۀ : سرۀ زر، یو مشهور قیمتي دهات چې کالي پتري ترې جوړولے شي. د مخ

سرۀ، بنکلے والے، ډیر تاودۀ، بریان.

سرۀ باتینګن : ټماټر، سرۀ بانجن، رومي بانجان.

سري : پټ، مخفي، سر.

سریخ : یو قسم ونه.

سریر : شاهي کډی، شاهي منصب، شاهي تخت، شاهي مسند.

سریزه : تمهید، مقدمه، شروع، دیباچه.

سریندہ : سارنګي، د موسیقی یوه آله.

سریه : هغه جنګ چې حضور صلي الله علیه وسلم پکښې پخپله نۀ وي شامل شوے.

سریش : سریش، شریش، هغه سلیښنا که ماده چې دوه څیزونه پرې خپلو کښې یو خاے کولے شي.

سریښناک : ټبلیدونکے، سلیښناک،

سری : د ستنې دپاسه هغه لرګے چې تیر پرې اینښودے شوے وي.

سړزي : سردي، یخني، د یخنی موسم، سارۀ، د ګرمی متضاد. زکام.

سړک : هغه لویه هواره او پخه لار چې موټرې او لاری وغیره پرې ځي راځي.

سړوکی : د ونې سر.

سړول : یخول، مړ کول.

سړه : د سور مؤنث.

سړه تبه : سړه لړي، یوه تبه چې یخني ورسره ډیره زیاته وي.

سړه سینه : بې غمي، سور زړۀ، لاپرواهي،

سړه لړي : هغه تبه چې مریض پکښې د یخني له کبله ګړ ګوزي وهي. ملیریا.

سړیتوب : انسانیت، بنۀ اخلاق، بنۀ کردار، تهذیب.

سړیخور : د انسان غوښه خوړونکے، آدم خور. حریص، لالچي، ظالم.

سړیدل : یخیدل، په غصه قابو کیدل، مړۀ کیدل.

سړے : نر بنیادم، نر انسان. نوکر، خدمتګار. میړۀ، خاوند.

سزا : جزا، د بدی بدله، بدل، عوض، هداد.

سزاوار : د سزا قابل، د سزا لائق، د سزا جوګه. مستحق.

سزلي : سیزني، سیخني.

سړو : سړو کال، سخکال، روان کال، جاري کال.

سړوکال : سخکال، روان کال، موجوده کال.

سړونے : د دې کال، د موجوده کال، د سخکال سره متعلق.

سړے : پرپوس.

سسپار : د یوې پاڼه، د یوې تیښې. سسپاره، کرکی.

سسپر : کودالی، کشی، تسکوره. سسپور، سسپوره.

سست : ناراسته، کاهل، لټ. د کلک ضد، سست پست.

سستول : ناراسته کول، بیکاره کول، نرمول، اسانول، ارتول، شلمول. کوني کول.

سسته : ډیل. کمزوري. د سست مؤنث.

سستي : ناراستي، کاهلي، کمزوري، لتوالے. مفعولیت، کوني توب، کوني والے.

سستیا : ناراستي، سستي، کاهلي.

سستیدل : ناراسته کیدل، پرانستے کیدل، شلمیدل، کمزورے کیدل، کونے کیدل

سسکوره : کداله، کدالی، سپنکوره، د وسپنې او لرګي هغه آله چې زمکه پرې کنستے شي.

سطح : سطحه، مخ، استر، د څۀ څیز برنی حصه. هغه څۀ چې طول او عرض لري.

سطحي : د سطحې سره متعلق، سرسري. علاقائي.

سطر : لیکه، کیله، کربنه. فقره، د لیک یو کربنه.

سعادت : نیک بختي، نیک مرغي، خوش بختي، اقبال مندي، بنادمني، بناغلتیا.

سعد : نیک، مبارک، بنۀ، پاک، د نجس متضاد.

سعدین : دوه مبارکې سیارې چې د یو نوم زهره او د بلې مشتري دے.

سعي : جدوجهد، کوشش، خواري، محنت. کار، عمل. د حج دوران کښې د صفا او مروه د غرونو ترمنځه د څۀ مقرره اصولو لاندې منډه وهه.

سعید : کنجیر، برخه من، نیک مرغه، خوش قسمته، نیک بخته، د شقي متضاد.

سعیر : دوزخ. دوزخي طبقه.

سفارت : د سفیر عمله چې صلحي صفایي او دوستانه تعلقاتو جوړولو په غرض د یو سلطنت نه بل ته ځي.

سفارش : شفاعت، سعي، سپارښتنه، سپارښت، سفاریش.

سفارشي : سفارش کونکے.

سفاک : خون کونکے، وینه تویونکے، خوني، قاتل، خونړے، بې رحمه.

سفاکي : خونریزي، بې دردي، بې رحمي، د انسانانو د وینو تویولو عمل.

سفر : مسافرت، سیاحت، د یو ځاے نه بل ځاے ته تلنه، یون.

سفرنامه : د سفر باره کښې هغه لیک چې د خپل سفر یا د بل چا سفر د ستر کو لیدلے حال پکښې قلمبند شي. یون لیک.

سفله : کمینه، رذیل.

سفلي : د کمې درجې، ناقص، د اعلیٰ متضاد. ډیر بنکته، ډیر تیټ، د لاندې.

سفوف : میده، رش، پودر.

سفیر : ایلچي، هغه سړے چې د صلحې صفایي او

دوستانه تعلقاتو جوړولو په غرض د خپل ملک له خوا سرکاري طور باندې بل ملک کښې ډيره وي استاځې

سفينه : کشتی، بېړی.

سفيد : سپين، د تور متضاد

سفيدي : سپينوالے، اخير.

سفيده : سپيده، سپيدار، سفيدار.

سقاوه : هغه خاے چې پکښې ډيرې اوبه وي، غسل خانه، د لمبلو خاے، چرچوبی.

سقر : دوزخ، جهنم،

سقف : چت، د کوټې د ابادی برنی حصه.

سقم : عيب، نقص، خرابي.

سقوط : غورځيدنه، غوزاريدنه، انزال کيدنه، خلاصيدنه.

سقيم : ناقص، بيمار، مريض، ناجوړه.

سک : بريښ، د ملا درد، په ملا کښې خړيکه راتلنه، خور، خړيکه. د ژړا سلګی.

سکارۀ : د سکور جمع، د لرګو سوخولو نه پس په اوبو مړې کړې شوې سکروټې چې عام طور سره په انګيټی کښې استعمالولے شي.

سکان : سکاں، سکن، تور بخن.

سکته : وقفه، خنډ، معطلي.

سُکټ : سوکټ، بيخي، مکمل، صفا، لکه سُکټ انکار.

سکروټه : وګورئ سروټکه.

سکړک : سوکړک، د جوارو روټی.

سکړک : خراب، وران، په بد حال.

سکښتل : په قينچی کپړه يا کاغذ پريکول. ګنډل، ګيندہ کول.

سکنجه : ګرفت، پنجه، شکنجه. د کتاب ترلو يا د بل څۀ څير د کلک نيولو دپاره استعماليدونکې آله.

سکن : توربخن خو خوش کله، سکان.

سکنل : په بیاتی پریکول، قطع کول. کنډل، ګیندنه کول.

سکوت : خاموشي، قلاري، چپه چپیا.

سکور : مړه شوي سکروټه، د سکارۀ واحد.

سکول : مکتب، مدرسه، د اول جماعت نه تر لسم جماعته پوري د زده کړې خانے

سکون : ارام، راحت، خوشحالي، نۀ حوځیدنه، د حرکت متضاد.

سکونډاړه : نوکاړه، چونګاړه، چکونډاړه، چونډی.

سکونډل : سکونډاړي لګول، نوکاړي لګول، زورول.

سکه : د دهات نه جوړه یوه سرکاري روپی، پیسه چې د یو مخصوص سرکاري ټبنې په وجه ئ پیژندګلو کیږي.

سکیم : منصوبه، جوال.

سکیندل : ساه لوړیدل، اوږه کیدل، په سکیندو سکیندو ساه اخستل.

سګ : سپے.

سګرټ : د کاغذ نچه چې تماکو نه ډکه وي او خلق ئ د نشې په توګه څښي.

سګنے : د سخکال، د سږ کال، د روان کال.

سګے : د خناور او بنیادم دننه یو اندام، اینه، پښتورګے.

سل : پنځۀ شلي، لس د پاسه نوي.

سل : یو موذي مرض چې پرپوس پکښې زخمي شي او وینه تري بهیږي. دق، نرے رنځ.

سلاجیت : د بعضي غرونو د کانونو نه حاصلیدونکي ماده چې د اعصابو محکمولو دارو کښلے شي. د غرونو خوله.

سلاح : وسله، د جنګ جګړې اوزار.

سلاد : سلات، سلاته، سلته، چکني، چقانے، پودینه، پیاز، ټماټر.

سلاست : روانې. اسانې. نرمې، سادګې، په کلام یا تحریر کښې د ثقیلو الفاظو نه ځان ساتنه.

سلاطین : د سلطان جمع، بادشاهان، شاهي خاندان، سلطانان.

سلام : سلامتي، تعظیم. عیب نه لرونه. د خدایے پاک یو صفتي نوم.

سلامتي : روغتیا، صحت مندي، تندرستي، بې عیبي.

سلاني : هغه ورځے دکے چې پرې ستر ګو کښې رانجه اچولے شي

سلبول : په زور اخستل. محرومول، شوکول.

سلبیدل : محرومیدل، شوکیدل، جدا کیدل.

سلخ : د قمري میاشتې اخرې ورځ.

سلسبیل : د جنت د یوې ولې نوم چې شات او پې پکښې بهیږي.

سلسله : لړی، زنځیر، وړدوالے، قطار، پرله پسې والے، کورنی.

سلطان : باچا، بادشاه، واکمن، اختیارمند، حکم چلونکے.

سلطنت : بادشاهي، حکمراني، حکومت.

سلف : تیر شوي، پخواني خلق، اولنې خلق، د تیرې زمانې مخلوق.

سلکی : ایټکی، نښتې نښتې ژړا.

سلواغه : بوکه، د څرمنې هغه لوښے چې د کوهي نه پرې اوبه راویستے شي د دلوې میاشت

سلوتري : د ډګرو معالج، د څارووو ډاکټر.

سلوک : رویه، کردار، طورطریقه، خوئ خصلت.

سلويٰ : هغه طعام چې خدای پاک به بني اسرائیلو ته د مرزو په شکل کښې په کثرت سره ورکولو.

سلیپر : یو قسم بوټان چې ډیر په اسانه په پښو کښې اچولے شي.

سلیس : اسان، ساده، عام فهم، د کران یا مشکل متضاد.

سلیقه : تمیز، هنر، لیاقت، سنجیدګي.

سلیم : نرم زړے، بنه زړے، هغه څوک چې د زړۀ نه ډیر بنه وي.

سلیټ : هر هغه ماده چې د خاورو شګو نه جوړه شوې وي. هغه توره تختی چې په چاک یا سلیټي پرې لیکل کیږي.

سلیټي : هغه سپین چاک چې په سلیټ وربانديې لیکل کیږي.

سلیښ : سلیښت، سریښ، سریش، ګوند.

سلیښناک : د سلیښو یا سریشو اثر لرونکے،

سلے : د پیتلو یا جستو ګوتمه، بې غمي ګوته.

سم : روغ، جوړ، نیغ، درست، برابر. صحیح.

سُم : غار، سورے، د ستنې سورے، سپم، سروے.

سما : اسمان، چت.

سماج : تهذیب، معاشره.

سماجي : د سماج سره متعلق.

سماع : اوریدنه،

سماعت : اوریدل.

سماوات : د سما جمع، اسمانونه.

سماوار : له زیرو نه جوړ د اوبو هغه لوښے چې بمبه پکښې لګیدلے وي.

سمبال : جوړ، تیار، برابر، سینګار کړے،

سمبالښت : سمبالښت،

تیارے، برابرے، سینگارونه، ډول ډال، حفاظت.

سمبالول : جوړول، تیارول، برابرول، سینگارول

سمبالیدل : جوړیدل، تیاریدل، برابریدل، سینگاریدل.

سمت : طرف، خوا. لوري. لور. پلو، کافي مقدار، پوره اندازه.

سمځ : سمځه، غار، ګاره، په عرهٔ کښې قدرتي غار.

سمدست : سمدستي، سم د لاسه، فوراً، ناګهانه، ناڅاپه، اتفاقاً.

سمدستي : فوراً، د ستر ګو رپ کښې، دستي، رر، ژر، بې له ځنډه.

سمسره : سمسیره، سمساره، سوسماره، شلحورکه.

سمسور : شګفته، غوړیدلے. رسیدلے فصل.

سمع : عور، د اوریدو حس، اوریدنه.

سمعي : د اوریدو، هغه څه چې اوریدے شي.

سمک : مهے، کب، ماهے.

سمندر : لوے دریاب، بحر. اورمبرک، سیتی، د اور چینجے

سموسه : مخروطي شکل لرونکے د میدې نه جوړ یو قسم خوراک چې منځ کښې ئ قیمه، الوکان، پیاز او دنیا وغیره ګیر وي او غوړو کښې تلیدلے وي.

سمول : برابرول، جوړول، تنظیمول، رغول، اصلاح کول، لاري ته ایستل.

سمون : سمے، برابرے، روغ والے، تصحیح، جوړښت، موافقت

سمه : درسته خبره، صحیح خبره، هواره، مسطح، د غر متضاد

سمیع : اوریدونکے. د الله تعالي یو صفتي نوم.

سمیدل : جوړیدل،

سرابرېدل، تنظيمېدل، روغېدل، رغېدل، لاري ته برابرېدل، اصلاح کېدل.

سمے : سمون، برابرے، جوړ، ترون، پيوند، سموالے، کچکر.

سن : عمر، کال، د عمر مقدار.

سنبال : سمبال، جوړ شوے، تيار، برابر، ډول سينګار کړے.

سنبل : يو قسم بوټے او د هغې ګل چې ورڅه راکښونکې خوشبوئي کوي او د نړۍ نړۍ تارونو په شکل ليدے شي. څنې،

سنت : د اسلامي قانون دويم ماخذ. طريقه، روش. د حضرت محمد صلي الله عليه وسلم طور طريقه او عادت و اطوار. سونت، ختنه، هغه طريقه چې د مسلمانانو بچو نه د شرعي احکاماتو مطابق سوخې د سر پسته حصه پرېکولے شي.

سنتري : سرکاري پهره دار، سپاهي، څوکيدار.

سنتول : ختنه کول، په ماشوم والي کښې د ذکر د سر نه اضافي غوښه پرېکول، د چا نه په ټکۍ څه اخستل يا شوکول.

سنجول : تلل، اندازه کول،

سنجيده : مهذبه، د عقل او فکر خاوند.

سند : ثبوت، سرټيفيکيټ، وثوق، اعتبار. هغه تحرير چې تعليم يا څه اهم څيز ثابتوي. تصديق نامه، ليکلے حکم.

سندان : د وسپنې کوړی چې لوهاران ورباندې وسپنه ږدي او بيا ئې په پلک ټکوي.

سندرغاړے : سندربول، سندري ويونکے، د ساز سره اواز ايستونکے، لوبې ويونکے.

سندره : لوبه، ترانه، نغمه.

سنډا : د ميښې نر. مجازاً غټ او څرب سړے.

سنډاسي : هغه ملنګ یا فقیر چې په غرونو او صحراګانو د کیمیا په بوټي پسې ګرځي.

سنزله : تندیږ. یوه وړه چې لکه د مرغۍ میوه ښکي

سنسکرت : صفا پاک، پاکیزه. د هندوانو یوه پخوانۍ ژبه.

سنکیا : زرنیخ، یو زهرژن کانۍ. هر مضر خیز.

سنګ : کانۍ. وزن، بوج.

سنګ تراش : کانۍ تورلو والـه، قیمتي کانۍ نه غمي جوړونکے، د کانو نه خیزونه جوړونکے.

سنګتره : د مالټي په شان یوه اوبه لرونکي میوه،

سنګدل : سخت زړے، ظالم، بې رحمه، د کلک زړه خاوند

سنګر : مورچل، مورچه، کچه قلا، پشته.

سنګریزه : باحري، چاپکر، وارۀ کانۍ،

سنګسار : هغه څوک چې د څۀ سزا په وجه په کانو دې حد لـه وویشتے شي چې مړ شـي. ډبـروژنـه، د کـانو پـه ویشتو مړ کونه.

سنګلاخ : سسکوره، کداله، کدالی، کانیزه رمکه.

سنګیت : د موسیقی علم، د موسیقی پوهه.

سنګین : د ډبدبې او وقار څښتن، درونـد، پـت من. یو قسـم پیـش قـوزه چې پـه تـوپک کښې لګولے شي. د سنګ سره متعلق.

سنه : سن، نیټه، موده، کال، عمر، تاریخ.

سُنې : اهل السنة والجماعة.

سنیاسي : د دنیا نـه کناره کش، حوکي، سادو، فقیر.

سنیچر : د خالي ورځ، د هفتې ورځ یوه ډیره سست رفتـاره او منـحوسـه سیاره زحل.

سوا : زیاتي، پرته، پورته

سوابیره : د بیري د خاندان یوه ونه او د هغې میوه.

سواحل : د ساحل جمع، غاړې، کنارې.

سواد : تورښکن، تورواله، تور رنګ ته مائل.

سوار : سور، سپور، په اس یا بل ځناور سورلي کونکے.

سوارۀ : د سور جمع.

سواري : سورلي، په اس، هاتي، موټر، لاري یا جهاز وغیره سوریدنه.

سوال : پوښتنه، پښتنه، تپوس، پرس، خواست، خیرات غوښتنه، عرض، التجا، درخواست

سوالګر : سوالګړے، سوال کونکے، فقیر، ګداګر، خیرات غوښتونکے

سوالي : سوال کونکے فقیر ګدا، خیرات غوښتونکے سوالګر

سوالیه : پوښتنه، پښتنه، استفهام، تپوس د سوال پوښتلو نښه.

سوان : د وسپنې مینلو یوه فولادي آله، د چارې چاقو یا نور داسې څیزونو تیرۀ کولو آله.

سوانح : د ژوند حالات، د ژوند لیک، د سانحه جمع.

سوائي : زیاتي، سر دپاسه،

سوب : چاره، علاج.

سوب ګیر : چاره ساز، مددګار، کار ویستونکے

سوبه : مراد، مقصد، خواهش، غوښته

سوپړه : کونه، مقعد، سومبی، د لویو بولو اندام.

سوپنه : پواړه، بدرنګه، ناقابله.

سوپی : بیزو، شادو، کشکره، کیشکره.

سوپے : د سوپی مذکر، بیز، د بیرو ګانو یو شادوګے.

سوتره : پاک، صاف، صفا، ښکاره

سوتلی : سنی، ځنی، د

سنو مزے یا ډیر نرے پرے.

سوته : فضله، سوپه، د څاررو فضله.

سوټه : د جوارو هغه توکه چې پخه نه وي. شحوله لرونکے وږے

سوټے : د لرګي عتبه ډبره چقماق، بکره.

سوجي : یو قسم زاړه اوړه چې حلوه ترې پخولے شي.

سوځول : سیزل، سوزول، اور وراچول، اور ورته کول.

سوځیدل : په څه څیز اور لګیدل، په چا اور لګیدل، لمبه کیدل، اور اخستل، سوزیدل.

سوچ : عقل، فکر، پام، پوهه، خیال، تصور.

سوچه : خالص، اصلي، صفا، اصلي. د ریښمو سه جوړه کپړه

سوخت : قهر، غصه، درد، خوږ، سوزیدلے

سوختول : تاو تیرول، غصه کول، په قهر کول.

ذهني عذاب ورکول.

سوخته : سوے، سوزیدلے، کباب شوے هغه سکاره چې د چیلم په سر حانه ګښې ایښوے شي

سوختیدل : تاو تیریدل، تاو خورل، غصه کیدل، په قهر کیدل

سوخره : د سرې غوښې بوټی. د پې هډو کې غوښې بوټی.

سوخی : ډکه، ذکر، غین، د ماشومانو خوړه.

سُود : ګټه، فائده، نفع، د زیان متضاد. هغه اضافي رقم چې قرض خوا ته د قرض وایس کولو سره ورکولے شي.

سود : تسکین. دمه. ارام، داد. شعور، عقل، هوش

سودا : خرید و فروخت، اخستنه خرڅونه غم، فکر، وسوسه

سوداګر : [illegible]

تجارت کوي، تاجر.

سوداګري : د سوداګر کار او پیشه.

سودائي : دیوانه، لیونے، وسواسي، فکرژن.

سود سودا : سودا، خرڅ، سوڼ سپیرکی، د بازار ټکه توکه.

سودمن : فائده من، مفید، ښه.

سوده : هغه څارو چې د پښو نو کونه ئ سولیدلي وي بیخي، بالکل، غونډ، ټول.

سوده : د میزري جوړه توکړی، شکری.

سوده : سود، تسلي، اطمینان، ساده بوله.

سودا : یو کیمیائي مواد چې په شربتونو وغیره کښې استعمالولے شي. دوه مختلف قسمه سپین پودر چې یو د جامو وینځلو او بل د اوړو وغیره د پستولو دپاره پکارولے شي.

سوډر : خنزیر، سرکوڑے، سور. مجازاً لټ غوڑے. بې ادبه سړے.

سوډر : په اوړو کښې استعمالیدونکې سودا.

سور : سور رنګ. په وینو سور.

سور : سوار، په اس، هاتي یا بل د سورلی په څیز سور، سپور.

سُور : تلیدلے، وریت شوے، په غوړو کښې تلیدلے

سور : د ګیدړ نه لږ غټ خړ رنګے څناور چې ناپاکه او مردار وي سرکوڑے، خنزیر، بد څناور.

سورار : دشت، صحرا، بې آب و ګیا بیابان، سخته ګرمي، د ګرمی د موسم ډیره ګرمه میاشت.

سورارا : سپیرهٔ ډاکه، دشته، صحرا، سورار.

سوران : ګرم باد، ګرمه هوا. یو مرض چې د ګرمی له

کښلـه پيدا کيږي او مريض پسکښې ډير زيات تږے کيږي. چغې سورې، هاى کـو کـار، ويـر، ژړا اسګولا.
حرص، لالچ.
سورانه : کوکاره.
سـور بـاتينګن : ټـماټر، رومي
سور بولے : سوربخ، هغه سړے چې رنګ ئ سور وي
سـورپـتکـنے : سـره خـاوری، سـره خـاوره، سره پتکړی،
سورت : د قرآن مجيد د يو سل څوارلسو حصو نه يوه حصه. سورة،
سورسات : د خوراک هغه سامان يا ذخيره چې د حکومت له طرفه د فوج ډپاره په زور اخستلے کيږي.
سورلنډے : شغال، کيدړ
سورلي : هـر هغه څيز چې سورلي پرې کيدے شي
سورول : سپرول، د سورلی پـه څـيـز کښينول، په اس، هاتي، يا بله سورلی کښينول.
سوره : هغـه جينی چې د دوز دشـمس ډلو منځ کښې د روغې راوستو پـه غـرض د ظالـمې ډلې له خوا مظلومې ډلې ته ورکړے شي.
سوره : چغه، نعره، کريکه، کړيکه
سوريته : هـمـه ويـنځه چې د خپل مالک نه ئ اولاد وشي
سُوري : چـغـې، نـاري، کريکي، کړيکي،
سـوريدل : د سـورلی پـه څيز کښيناستل،
سـورے : سـوړه، غـار، سروے، مجازاً کوپي، مفعول.
سور : د تـود يـا کرم متضاد مجارا لټ او ناراسته سړے
سوړه : سـورے، مـقـعـد. د لويو بولو خاے. کونه
سوز : سـوريـدنـه، سـوے درد، تکليف، غم. پريشاني. د غم يا الم سندره

سوزاک : یو قسم ناروغي چې د ورو بولو اندام پکښې زخمي کیږي او بیا د هغې زخم له کبله سوځي.

سوزان : سوزونکی، سوزناک.

سوزش : سوخت، سوز، سوزیدنه، تاؤ، درد، تکلیف.

سوزن : ستن. د تیرې څوکې څیز لکه توره وغیره.

سوزول : په اور کښې لمبه کول، بلول، اور لګول، اور اچول، سیخل

سوزیدل : په اور لمبه کیدل، بلیدل، اور لګیدل، اور اچولے کیدل.

سوسن : اوږد، لوړ قدے، په ونه وچت، زمبک.

سوسني : د سوسن رنګ په شان. تت تور رنګ، بانجاني رنګ.

سوغات : تحفه، ډالی، پیرزوئینه،

سوغړ : لغړ، بربند، لغړ سوغړ، داسې بربنډ چې په وجود ځنجه پاتې نه وي.

سوک : موټے، د لاس د پنجې راغونډیدو حالت. موکه.

سوکا : په ارام. په تسلی، په جمع زړه، په اطمینان.

سوکاله : خوشحاله، هغه څوک چې خوشحال او مطمئن وي. ناراسته، لټ،

سوکالي : خوشحالي، خوښي،

سوک څیږه : جنک جګړه، معمولي جګړه.

سوکړ : چې ږیره نه ډیره رنګې وي. د وچتې او نرۍ وني خاوند.

سوکړه : وچ کالي، خشک سالي. هغه زمکه چې اوبه نه وي. للمه.

سوکه : ورو، په قلار، په قرار، په دمه، په مزه، په ساه.

سوکي : خوانکه، هغه دانه چې د بلوغ په وخت د نوي

خوان په مخ راخیژي.

سوک : پرخه، شبنم، غم، پریشاني، د چا په غم غمرازي کونه، ویر، ماتم.

سوکړمار : لاپو، توقمار، دوزن، دوزې ریښتونګې

سوکړه : دوره، لاپه، لافه، عبث خبره

سوګند : قسم، د حرې تصدیق او ریښتولی دپاره د مذهبي مقدساتو ذکر کونه، لوړه، لو.

سوګندي : قسمي، چې قسم یا سوګند ورکړې شوې وي.

سوګوار : غم زده، غم زپلې، ویر ژړلې،

سول : سوزول، سوځل

سولول : مېږل، مښل، زدویل، زدول، لرې کول، ابسته کول، جلابول، له کاره ایستل

سولېدل : سستې کېدل، مړلې کېدل، ډروند کېدل

سولی : دار، تخته، پانسي، غرغره. تند باد، تیزه هوا.

سولې : لالچي، طامع، هغه ستنګ چې ژرنده پرې تیره کولې شي

سوم : سم، سوړے، د ستنې سوړے

سومبه : هغه آله چې په وسپه کښې پرې سوړے کولې شي

سومبی : کونه، مقعد، دوبره، توبره.

سونډ : سن، سون، کنف، کتان، یو قسم بوټے چې رسی او کړونی ترې جوړولې شي. شنډ، سنډ، جنجر، زنجبیل.

سونول : په پوزه هوا ایستل، د پوزې نه کړینګ غورځول،

سونېدل : په پوزه هوا راښکل او ایستل

سوونه : سلګونه، سلونه د حسې

سوه : سوبه، جرګومې

سوهان : چوسار، سوان، وسپن توږے، سوهن،
سويل : سهيل،
سويلي : ملګري، د جينې د سيل ملګري.
سوے : سوزش، سوخت، د زړهٔ سوے.
سوے : سوزيدلے، ستي شوے، سوخته.
سهار : د سحر بل قرأت.
سهل : زغمل، تيرول، هضم کول.
سهو : غلطي، خطا کونه.
سهوا : په هيره، په غلطي
سهوه : غلطي، تيروتنه، ساوه، خطا، لغزش، هير، غلط
سهيل : د يو ستوري نامه. حلد ستورے.
سهيلي : سويلي، د جينې دوسته، ملګري، همخولي
سياح : سيلانے، سياحت کونکے، په سيل تلونکے، سيل کونکے، سيلګر.
سياحت : سيل، د سيلاني کار او عمل.
سيادت : مشري، سرداري، بزرګي، شرف، لوئي.
سيادلي : سر ګرځيدنه، سر چورلندے، زړهٔ زړيدنه، سياه دلي.
سياره : ګرځنده ستورے، متحرک ستورے، اسماني جرم چې د نمر نه ګير چاپيره ګردش کوي.
سياست : په خلقو حکم چلونه، حکومت کونه، تدبير حوږول او وړاندې وروستو فکر کول
سياق : رسم، طرز، طريقه، اسلوب، سليقه، انځور، دود.
سيال : برابر، په هر څهٔ يو شان، سارے، سيارے. مائع، بهيدونکے څيز.
سيالي : برابري، همسري، يو شان والے.
سيانه : هوښيار، عاقل، پوه، چالاک.

سیاه : تور، تور رنگ لرونکے څیز.

سیاهي : هغه تور رنگ لرونکي مائع چې په کاغذ وغیره پرې لیک کیږي، تور کے، روشنائي.

سیب : ریم، نم، لوندوالے، رطوبت.

سیپاره : د قرآن شریف د دیرشو برخو نه یوه برخه.

سیپی : صدف، سیپ. کاشک، قاشوغه.

سیخ : نیغ، سیدها، سم، د وسپني نرے تار.

سیخچه : یو قسم برمه چې دیوالونه پرې سوري کولے شي.

سیخ کباب : سیخکے، سیخکي، هغه کباب چې په سیخ کښې ورکولے او بیا په اور پخولے شي.

سیخل : په کښیمنډلو باندې ډکول

سیرت : کردار، عمل، خصلت، خوئ، مذهب.

سیری : هغه زمکه چې جومات له د مدد دپاره ورکولے شي.

سیزني : د کپړې نه جوړه شوې نرۍ پتنې چې ماشومان پرې په اورني کښې تړلے شي.

سیسی : یو حر رنگې حلاله مرغي

سیکه : د وسپنې یو قسم چې ډیر دروند وي.

سیلی : تیزه هوا، تیز باد، طوفان. تباهي.

سیم : فلزي مزے. جست. ستوم، د ستنې سیم.

سیماب : پاره.

سیمه : طرف، لورے، خوا، ارخ، علاقه، منطقه.

سین : سیند، دریاب.

سیند : سین، دریاب، رود.

سینگار : د خان سمالے، سرخې سفیدي، جوړښت، ډول، سمالښت، ارائش، خان

جوړونه.

سینګارول : سرخي سفيدي کول، ارائش کول، خان جوړول، ښائسته کول.

سینګاریدل : سرخي سفيدي کيدل، ډولي کيدل، جوړيدل، ارائش کيدل.

سینګاون : د کشتی وروستی برخه کښې هغه لويه چپه چې د کشتی د رخ بدلولو دپاره استعمالولے شي.

سینه : ټټر، د بدن برې مخامخ حصه، د غاړې او کيدې منځنی حصه. تے. پئ.

سیو : سيب، سيب، مڼه.

سیاه : باچا، مشر، پيشوا. د سيدانو يا ساداتو له کورنی نه يو نارينه. اهل بيت.

سیر : خلور پاوه، شپارس چيټاکی، د وزن يو کاڼے.

سیراب : په اوبو مور، خړوب، ډک.

سیکړه : سيکړه، سل، صد، سل دانې د شمير يوه اندازه او د هغې نامه.

سیکن : مور، ډک، د ډير خوراک کولو په وجه د زړۀ خرابوالے.

سیل : تماشه، چکر، نندارہ، نظاره، د مرغو وغيره ټولے.

سیلاب : په درياب کښې د اوبو زياتوالے، نيز.

سیلانے : سياح، سيل کونکے، سيلگر.

سیلمه : مخامخ، اوپره، خاندان، محلتي، ګاونډي، تمام.

سیله : مرسته، پره، طرفداري، حمايت. د وريژو يو قسم.

سین : صلاح، مصلحت، مشوره.

سین : د حرف "س" تلفظ.

سیوائي : اضافي، زياتي، طفيلي.

سیورے : سورے، سايه، پناه.

ش : (شین) د پښتو د حروف تهجي دوه ویشتم حرف چې د ابجدو په حساب ئ شمیر دري سوه (۳۰۰) دے.

شا : دمبال، پشت، د مخ متضاد.

شابا : هله کړه، زر کړه، د جلتي اواز.

شاباس : د آفرین کلمه، د شاباش مخفف.

شاباش : وګورے شاباس. شاباسے.

شا په شا : پټ په پټه، غیر موجودګي کښې، پسې شا، پشې شا، شا سره لګیدلې.

شات : شهد، ګیښ، هغه حوړه ټیګه ماده چې تورې مچۍ ئ په خپل ګیښ کښې جمع کوي.

شاتوت : شهتوت، د توت د ذات یوه ونه او د هغې میوه.

شاتیر : غټ تیر، هغه تیر چې د کوټې په منځ کښې لګیدلے وي.

شاتینګه : د مارغۀ سنګ دانه، د مارغۀ معده چې کاڼي یا بل داسې کلک څیز ورته منتقل کیږي.

شاخ : حصه، څانګه، ښکر، د اوبو نالے. د ترخونو دري ګوټه کپړه.

شاخیل : یو نسل چې په درمن کښې د دانو سپ وهلو کار کوي.

شاد : خوشحال، مراد مند.

شاداب : تروتازه، سیراب.

شادان: خوشحال، خوشحاله.

شادو : بیزو، یو خناور.

شادوله : شادوله، د ګډا یو قسم، اتن.

شاذ : نایاب، قیمتي، کمیاب.

شاربل : شوملې کول. یوه خبره زنګول، خبرې ته ټال ورکول، خبره وږدول، د بجو راویستو په غرض د چرګې په اګو سینه مږل.

شارع : لارښونے، لارښود،

د شریعت راوړونکے. لویه لار، باچائي لار.

شار : د اباد متضاد، غیر اباد. لټ، ناراسته، سست، کاهل.

شاړول : بنجروول، غیر اباد ول، بې حاصله کول، په یو خاے کښې استوګه پریښودل.

شاړه : غیر اباد زمکه، بنجر زمکه، بنجره، میره، سخته، خیګه، شدله.

شاړیدل : غیر اباد یدل، د نۀ کرلو په وجه عټ کیدل، بنجریدل، له استوګې وتل.

شاړے : کلي وال، غرځنے. شدل بدل سست، ناراسته، کاهل

شاعر : شعر ویونکے، شعر لیکونکے،

شاعرانه : د شاعری سره متعلق.

شاعري : د شعر ګویی فن.

شاغوت : ګوتـه، ګوتـه ورکونه، اټه.

شافع : شفاعت کونکے.

شاکر : شکر کونکے، شکر ایستونکے، ښۀ منونکے.

شاکي : شکایت کونکے، شکایتي.

شاګرد : زده کونکے، علم حاصلونکے. مرید، چنے.

شاګردي : د شاګرد کار.

شال : د وړې څادر، اوني څادر.

شالګے : وړوکے شال، د شال اسم تصغیر.

شالیزار : هغه زمکه چې شولې په کښې کرلے شي. شولګره.

شامت : بدنصیبي، بده وزخ، بدمرغي، بدبختي، اسکیرنه، اجل، پوره، مقرره.

شامدام : تل، همیشه، هر وخت.

شامل : یو خاے، په څۀ کار کښې شریک.

شاملات : د شریکي زمکه، هغه زمکه چې د څو کورنو،

کلو یا خلقو شریکه وي.

شاملول : شریکول، داخلول، ننه ایستل، ګډول، یو خاے کول.

شاملیدل : شریکیدل، یو خاے کیدل، ګډیدل، خلط ملط کیدل

شامه : د بویولو قوت، د پنځو حواسو نه یو حس د شامې حس.

شامیانه : لویه خیمه چې د خلورو ستو په ذریعه لکه د چت ودرولے شي. تمبو،

شامي کباب : دکبابو یو قسم.

شان : خیر، لکه، غوندې، لکه څهٔ شان، څهٔ رنګ. لوے والے، سرر کې، د دول یا ډولکي یو قسم.

شاندانه : خوشحاله، متبحه.

شان و شوکت : جاه و جلال، پرق پروق، رعب، دبدبه، قدر عزت، درزدروز

شانه : ږمنځ، ګومنز، مګر. اوږه، ولے، د جولاګانو یو اوزار چې د کډی تارونه پرې اودي.

شاني : شان ته، په شان

شاوخوا : اخوا دیخوا، ګیر چاپیره، مرسته، حمایت، عموما دې معنو کښې افغانستان کښې استعمالیږي.

شاه : باچا، بادشاه، خودمختار، اختیارمند. محافظ، دا لفظ د معشوقې دپاره هم استعمالیږي.

شاه باز : سپین باز. مضراب، هغه ډکے چې رباب پرې غږولے شي.

شاه خلمے : بنائسته خوان، د ملازو هلک، د وادهٔ خلمے،

شاه رګ : شریان، هغه غټ رګ چې د هغهٔ په برکت نورو رګونو ته وینه رسي. د موی رګ، ستر رګ

شاهد : ګواه، ګواهي ورکونکے،

شاهده : معشوقه، محبوبه، شها.
شاهدي : شهادت، گواهي.
شاهکار : بهترين تخليق، غوره ليک يا تصوير وغيره.
شاهنشاه : بادشاه، د بادشاهانو بادشاه،
شاهي : د بادشاه سره متعلق. د بادشاه په شان خوئ بوئ لرونکے. باچائي.
شاهين : يو قسم تور سترګي ښکاري مارغۀ.
شائع : خور شوے، خپور شوے.
شائق : اررومند، خواهش مند، مشتاق.
شايد : بايد، ممکن، ښائي.
شب : شپه.
شباب : خلميتوب، د خوانی زمانه، ځوانی.
شباهت : يکسانيت، يو شان والے، يووالے.
شبپرک : ښاپيرک، کتپيز، چمبيرک، څکالے.
شبخون : د شپې د دشمن په کور حمله کول، داړه، د شپې مرګو. د شپې چپاؤ، يرغل.
شبستان : د شپې د استوګې ځاے، د اودۀ کيدو ځاے..
شبقدر : شوقدر، هغه مبارکه او بزرګه شپه چې پکښې د عامې عقيدې مطابق د مخلوق رزق او برخې ليکلے کيږي.
شبګير : شوګير، شپه رونونه
شبنم : پرخه،
شبه : شيبه، لحظه، لمحه. د باران شيبه شک، ګومان، شکه شبه، احتمال. نقلي جوهر، پوت. په شان، مشابه.
شبهه : شک، وهم، په زړۀ کښې چاته خيرې پيدا کونه.
شبيه : تصوير، نظر.
شپارس : شپږ او لس.
شپږ : هغه شمے چې پنجه کښې ئ شپږ ګوټې وي. شپږ ګوټے.
شپږ : د پښتو او اوو ترمنځ

عدد.

شپنغود : د يو مارغۀ نوم چې د شپې ګرځي.

شپنه : د شپون مؤنث

شپول : حلقه، هاله ويړه، بار، احاطه، د ګډو سرو د ساتنې له ځايه نه تاؤ سوې د غنو کيږ

شپون : د ګډو بزو ساتونکے، ګډيه،

شپونکے : وړوکے شپون، د شپون اسم تصغير.

شپه : د نمر پريوتو نه تر سحره پورې وخت.

شپيته : د لرګي معمولي ټکړه چې په چوڼ کښې د ټينګولو دپاره ورکولے شي. شپيشتے، پانه

شپيشتر : يو قسم ساک، پيشتے، شپيشتے

شپيلکے : وړوکے شپيلے.

شپيلل : د خوراک خير په خلې راښکل، له هډوکي نلے په حلۀ راښکل، د خوراک خيز د ساه په زور خلې ته راښکل.

شپيلی : توری، د توپک يا تماچې نلی.

شپيلے : له خلې وتلے د شپيلی د اواز په رنګ اواز.

شت : شتکه، تيزرفتار، تيزه منډه،

شتاب : تلوار، جلتي، سرعت، بيړه، بې قراري.

شتر : اوښ. وړدې پښې لرونکے لوړ سړے.

شتۀ : دولت، جانداد، مال، موجودګي.

شتۀ من : دولت مند، مالدار، د شتو خاوند.

شتی : د جوارو تنوکه، د تالاؤ د اوبو دپاسه د شين رنګ خک.

شتی : غشے، شيتی، الوتونکے غشے، د آتش باری يو لمبکه.

شجاع : ږړۀ ور، بهادر، دلاور، شجاعت مند،

شجاعت : زړورتيا، تورزني، بهادري.

شجر : ونه، درخته.

شجره : اصلي معنيٰ ونه. نسب نامه، د يو خاندان د نومونو سلسله وار فهرست.

شخار : د مالش دپاره پکاريدونکي دارو، بت، بتي، استخار، اشقار.

شخره : جنجال، نښته، فساد. کنه کونه، عبث.

شخص : کس، تن، نفر، فرد.

شخصي : د يو فرد لاندې نظام حکومت، ذاتي،

شخصيت: سړيتوب، وقار، عزت.

شخوند : د خوراک څيز په غابنونو ميده کونه.

شد : هغه علامت چې د هغې په وجه يو حرف دوه خله ادا کيږي، لکه تردد، مکرر.

شدبد : عقل، هوش، فکر، پوهه.

شدت : سختي، تيزي، تندي.

شديارە : هغه زمکه چې د کرلو دپاره تياره شوې وي. شديارې، سادين شوې.

شديد : سخت، مضبوط، مشکل.

شدل : ناراسته، کاهل. بې ډبه، نارامه، ناوينځلې، خړخړتوکې. بې دانو وړې شار، شار شپار. د نرم او مهين متضاد. ناتراشلې، خيګ، کلک، ستغ.

شر : شرارت، جنګ، جګړه.

شراب : بوزه، بدال، نشه، مے، يو نشيز شربت، د انګورو نه ايستلے شوې اوبهٔ چې د نشې دپاره استعماليږي.

شرابي : شراب څښونکے، د شرابو عادي. د شرابو خوند يا رنګ لرونکے.

شرارت : بدي، شيطانے،

شر، ورانے، پیلات، فتنه.

شرارتي : شرارت کونکے، پیلاتي.

شرافت : اصالت عزت بښه سړیتوب، شائسته، بښه اخلاق.

شراکت : شریک کیدنه، ګډون، یو والے

شراکتي : په کاروبار کښې شریک. شریکوال، برخه خور، حصه دار، ملګرے، اندیوال.

شربت : خوږي اوبه. رشوت، بدي.

شرح : بیان، ښوونه، معني، تفسیر.

شرر : بخرکے، سپنکے، شراره، سپرعی.

شرشائي : د پخوانی زمانې د وزن پیمانه. لږ څیز.

شرط : باري، قول او اقرار، وعده. د یو کار په مقابله کښې د بل کار کولو وعده قاعده، دستور.

شرع : شرعه. هغه نیغه لار چې الله تعالي پرې د تلو حکم ورکړے دے. اسلامي قانون، ربنتونې لار

شرعي : د شریعت په حقله، د شرعي سره متعلق.

شرغشے : یو قسم بوټے چې خوروور او تیرۀ تیرۀ غشي لري. د شکون غشے، شلغشے.

شرف : عظمت، لوئي، لوے والے، بزرګي، خوبي، ښیګړه، عزت.

شرق : نمرخاتۀ، مشرق.

شرک : د الله تعالیٰ سره شریک منل، شریکونه.

شرکت : شراکت، ملګرتیا، په څۀ کار کښې برخه خوري، ګډون.

شرم : الزام، تهمت. خون بها، سپکاوے، ناموس

شرمسار : شرمنده، پښیمان، نادم، خر، پیکه، شرمیدلے.

شرمبش : لیوۀ، کرک.

شرمگاه : د تشو متیازو خای.

شرمناک : شرمیدونکے، حیادار، حیاناک.

شرمنده : پښیمان، ملامته، شرمیدلے، خیرجه، پیکه، خړ.

شرمول : شرمنده کول. خفه کول، غول.

شرمیدل : نادمه کیدل، شرمنده کیدل، ندامیدل.

شرنک : د پسانزیب یا د توپک د ګولی اواز

شرنګا : وګورئ شرنګهار.

شرنګول : د پانزیبو وغیره نه اواز ایستل، د تورو یا نورو داسې څیزونو د جنګیدو اواز چې د وسپنې یا د دې په شان څیز نه جوړ وي.

شرنګهار : د ګونګروګانو اواز، د جرس اواز، شرنګا، شرنګا.

شرنګیدل : شرنګیدل، د جرس یا پانزیبو اواز راوتل.

شروع : آغاز، ابتدا، اول.

شري : ورانکارے، چې هر وخت جنګ ته تیار وي. شرپسند.

شریان : هغه رګ چې له زړۀ نه د بدن نورو حصو ته وینه رسوي.

شریر : شرارت کونکے، شر خوښونکے.

شریعت : شرع، د قرآن او سنت اسلامي دستور او قانون.

شریف : شرافت لرونکے، ایماندار، نیک، ساهو.

شریفه : بلی. سرمائے، سربی، چتی، یوه میوه چې دنه سره وي. د شریف مؤنث.

شریک : په څه کار کښې ملګرے، کرونده ګر، حصه دار. برخه خور چې زمکه څوک خوري. ګډ، یو خای. شریکوال، اندیوال.

شریکه : په ګډه، په څوکسي. د شراکت. چې د څو کسانو پکښې برخه وي. د ویشل شوي متضاد.

شړے : یو قسم ناروغي، د ماشومانو هغه مرض چې په ټول وجود ئ ټری ټری سرې دانې راوخیژي. خسره.

شړ : شار، شاړه، غیر اباد، بنجر بې حاصله، بې فائدې، بې ټوبنې، یو قسم نل چې منځ ئ ډک وي.

شړپ : د اوبو ټوپولو اواز، شړپا، شړپار.

شړپول : اوبو ته حرکت ورکول.

شړپهار : شړار، د شړپ شړپ مسلسل اواز.

شړپیدل : د اوبو د حرکت اواز وتل، په اوبو کښې چپې راتلل

شړت : مړاوے، سست.

شړشم : یو قسم تخم چې تیل ټرې وخې او پانې ئ د ساګ په طور پخولے شي

شړق : د خـــهٔ خیـــز د راغورخیدو یا د ماتیدو اواز. په چابک یا کوړه د وهلو اواز، د کوزار اواز، شړک، د باران چړق، ناګهاني آفت.

شړق شیبه : تیز باران.

شړل : له کوړه یا له خانه لرې کول، اخوا کول، رټل.

شړنګول : شړنګول، د څهٔ خیز نه د شړنګ اواز وښکل.

شړنګیدل : شړنګیدل، د شړنګ شړنګ اواز ایستلے کیدل.

شړپور : شړی په سرونکے، ساده.

شړی : دوړی یا بزو د ویښتو نه جوړ شوے څادر، کمبل.

شست : پـــه کوتـــه کښې لګیدلې آئینه.

شش و پنج : حیراني

شعار : عادت، طور، طریقه، چال، لاره.

شعاع : د سمر څړیکه.

شعبان : د قمري کال اتمه میاشت، د شوقدر میاشت،

شعبده : دوکه بازي، جادو،

تماشه، مکر، چال، فن.

شعبه : شاخ، حصه تو کړه، محکمه، څانګه.

شعر : هغه موزون کلام چې په اراده وویلے شي او قافیه لري. بیت.

شعله : شغله، د اور لمبه.

شعور : عقل، پوهه، فهم، تمیز، سوچ.

شغال : کیدړ، چغال

شغالي : بې عزتي، بې غیرتي.

شغرب : مشرق، شرق، نمرخاتهٔ، ختیځ، لرې ځایے

شغف : محبت، شوق، اشتیاق.

شغل : مصروفیت، کار.

شفا : رغیدنه، روغیدنه، صحت، تندرستي.

شفاخانه : د علاج ځایے، هسپتال، روغتون.

شفاعت : سفارش، د ګناهونو د معافی سفارش چې د رسول کریم صلي الله علیه وسلم سره مخصوص دے.

شفاف : ډیر زیات سپین، ډیر صفا، روښ، خلیدونکے، هغه څیز چې رنا تري پوري راپوري وخي.

شفتالو : یوه ونه او د هغې میوه، شلتالو.

شفتل : شوتل، یو قسم وابنهٔ چې څارورو ته ور کولے شي.

شفق : د سحر او مابنام په وخت کښې په افق ښکاره کیدونکې سرخي.

شفقت : مینه، محبت، مهرباني، رحم.

شفه : شفعه، د اسلامي قانون مطابق هغه حق چې د کور یا زمکې په خرڅولو د ګاونډ یا شرکت په وجه حاصلیږي.

شفیع : شفاعت کونکے،

شفیق : مهربانه، شفقت کونکے، همدرد، رحمدل،

شقي : بدبخت، بد نصیب، د سعید متضاد.

شک : ګومان، شبه.

شکان : شکون، یو ځناور

چې په بدن ئ تيرۀ تيرۀ عشي وي

شکايت : ګيله، شکوه،

شکر : د خۀ نيکي په بدل کښې د خپل محسن د احسان يادونه. شکريه، مهرباني.

شکر : چيني، خوارۀ،

شکرانه : شکر ګزاري. منښته ور کونه، نذرانه، خيرات، د يو کار مزدوري.

شکرګوزار : نيکي منونکے، احسان منونکے، احسان من.

شکرلب : د خوږو شوندو خاوند، محبوب، معشوق

شکره : د ګوړې چوره، ميده ګوړه، تري، خړ رنګې چيسې، يو ځيرونکے مارغۀ، اشکره.

شکريه : شکر، تشکر، مهرباني، د چا د مهربانۍ او احسان شکر ادا کونه.

شکری : له ميزري جوړه توکری.

شکړے : له ميزري جوړ شکور.

شکست : ماتے، تښتيدنه، ميدان پريښودنه، بيلات.

شکسته : شليدلے، مات، کمزورے.

شکل : مخ، صورت، څهره. وندر، پلواکه، غړوندے.

شکلی : شمله. د دستار څوندے.

شکم : ګيډه، خيته، نس، تار.

شکمن : ګومان کونکے، ګومانې، شکي، شک کونکے.

شکن : ماتونکے، تباه کونکے، په مرکباتو کښې د لاحقې په توګه استعماليږي لکه بت شکن، دندان شکن.

شکنجه : سکنجه، پانه، لومه، پنجره.

شکور : د روتو کيښودو شکرے.

شکول : شوکول، شلول، څيرې کول، بڑه کول،

لوخول، د چا نه مال، کالي وغيره اخستل، راجدا کول، بيلول.

شکون : يو خناور چې په بدن ئ تيرۀ تيرۀ غشي وي او د خطري په وخت تري کار اخلي، خارپشت، خارپښت.

شکوه : گيله، گله، شکايت

شکوه : رعب، دبدبه، شان، دبدب، پرتم.

شکي : گومان کونکے، شک کونکے.

شکيه : د شک، شک څرگندونکے، د گومان.

شکيدل : شليدل، شوکيدل، پريکړے کيدل، څيرې کيدل، تار تار کيدل.

شکاف : چود، چاود، درز.

شکفته : غوړيدلے.

شکلن : شکن، د شکو جوړ، شکه لرونکے، شکلوړې

شکن : وگورئ شکلن

شکوفه : د گل کلی، د گل غوټی.

شگون : فال، پيش خبري، نيک فال، پال.

شگه : د کاني انتهائي وړو وړو ذرو مجموعه. ريگ، ډبه.

شل : د نولسو او يو ويشتو تر منځ عدد.

شل : هغه انسان چې لاسونه پښې ئ بيکاره وي، گوزني. بنجر، لـلمه، چې زرغونه نۀ کوي.

شل : نيره، برچي، هغه توره شان چې سر ئ تيرۀ او غونډ وتلے وي. خنجر، شلگے. مغروره.

شلانتيه : سمسره، د کربوړې په شکل يو خناور چې تيل ئ د مالش په دارو کښې پکارولے شي.

شلانده : خادمي، خدامه، سمسره، سلانده، شلانتيه. چيندخ.

شلتالو : شفتالو، يوه ونه او د هغې ميوه

شلتي : هغه اوربشې چې لا

د پوستکي نه راوتي نه وي نا سپينې کړې اوربشې.

شلغم : ديسې توپک، بناوتې څيز، ديسې، بقلي څيز.

شلغې : چلغې، يو بوټے چې د غوا د ژبې په شان وږدې وږدې پاڼې نيسي خاروي ئ هم خوري او ساګ ترې هم پخولے شي. ګاؤ زبان.

شلغم : تيپر، بنګړي، منګړيټے، يو قسم سبزي.

شل ګوده : په لاس پښو معذور

شلګے : بلم، د شل نه وړه وسله چې تيره او برې خو که ئ وي وړوکے تير چې ملګان ئ خان سره ګرځوي

شلم : د نولسم او يوويشتم ترمنځ عددي صفت

شلنډ : غټ، ناره، څرپ، غټ پټ، تيار،

شلول : بزه کول، څيرې کول

شلوم : د کچو د ويلې کولو نه پاتې خيرے.

شله : د خاروى د يو خاص قسم وازدې يا د ګډ د لم نه ايستلے شوي غوړي

شليدل : د څه ناروغى په وجه د لاس يا پښې ناکاره کيدل، شل کيدل. پرې کيدل، کټ کيدل، څيرې کيدل.

شلے : هغه څوک چې پښې يا لاس ئ بيکاره وي.

شمار : شمير، ګڼتي، تعداد، ګڼنه. نوکري.

شمارل : شميرل، حسابول، ګڼل

شمال : د قطب طرف، د قبلې په طرف د مخ لرونکي د بنې لاس طرف

شمال : برے باد، برى هوا

شمائل : حدوحال، شکل و صورت، رعونه عادتونه، خصلتونه

شمس : نمر، آفتاب، نور

شمسي : شمس سره منسوب. لمريز، نمريز.
شمشاد : يو ونه چې ډيره وچته وي.
شمشتي : شکرتانے، شخنتي، د اوبو يو خناور.
شمشير : توره، تيغ
شمع : د موم باتي، شمه، شم.
شمکلے : د پتکي يا خادر څوکو ته شوے خوندے. هغه تيکرے چې د ژرندې د پل نه پرې د اوړو دوړه راپاکولے شي. آسپاپاک، پاتې شوے څيز، پاتې شوني.
شمکور : هغه څوک چې د شپې ئ نظر نۀ لګي.
شمکے : يو تريخ بوټے چې په دارو کښې پکارولے شي.
شمله : د پتکي جغه، طره، کټوه، شکلي، شلکے، د پتکي هغه برخه چې وچته ولاړه وي.
شموخه : هغه کياه چې په شولو او مکيو کښې عام طور سره کيږي، شمخه، شماخه.
شمول : شموليت، شاملينه، شريکينه، شرکت.
شمولیت : وګورئ شمول.
شميم : خوشبوداره هوا.
شمير : شماره، تعداد، حساب، حسابه.
شميرل : شمير کول، شمارل، تعداد لګول، حساب کول، ګڼل.
شناخت : پيژندګلو، تعارف.
شناخته : بناڅه، هغه تخته چې د قبر په سر لګيدلې وي او د مړي نوم او تاريخ وفات پرې ليکلے وي.
شناز : د لامبو دپاره پکارېدونکے مشک چې د هوا نه ډک وي.
شناس : يوه لاحقه چې د پيژندګلو معنيٰ ورکوي.
شناسا : پيژندونکے، بلد.
شنده : فضول خبره

مسخره. زیات خرچ، اسراف کانه، ظلم، حبر، زور.

شنو : بې حاصله، بې فائدې، بې اولاده، میوه نه لرونکې ونه، بې نتیجې

شنډیدل : بې حاصله کیدل، بې فائدې کیدل، بې اولاده کیدل، له اولاده پاتې کیدل، د ونې میوه نه نیول.

شنقار : شنقر، یو بنکاري مارغه، باز.

شنل : لټول، پلټل، تلاشي کول. تار تار کول، شنول، شیندل، کینل، کینودل

شنوبې : شوملې، شرومبې، تروې.

شنه : د شین مؤنث.

شنه ګوشنه : تکه شنه

شنه زرغنه : د بودې تال.

شنول : بوټ خوزول، څنډل، اس هینول.

شنیدل : خوزیدل، د اس خوړیدل.

شواخون : تکلیف، مصیبت، خیګر خون.

شواروز : شپه او ورځ، شب او روز. د اوبهٔ خور یوه پیمانه چې په وقفه وقفه کښې ځلیرښت کښتو دپاره د زمکې د اوبهٔ کولو دپاره مقرر شوې وي.

شواشو : شپه په شپه، بغیر له ایسارتیا، متواتر.

شوال : د وارهٔ اختر میاشت، د هجري قمري کال په رمضان پسې میاشت.

شوبله : هغه لښتے چې د زیمسا کې زمکې د وچولو دپاره ایستے شوے وي. د اوبو وله هغه اوبهٔ چې په سیند کښې چرې چرې او لښتي لښتي بهیږي

شوپړ : بې ډوله، شارشبر، جاهل، ناسنته.

شوتل : شفتل، یو قسم ګیاه چې د خارو د خوراک دپاره کرلے شي.

شوتے : هغه یوه لیښت

لرګے چې د نهۀ نینګارو په لوبه کښې پکاروله شي. هغه یوه لیشت لرګے چې د شوتي ډنډی په لوبه کښې استعمالیږي.

شوتي ډنډی : د ماشومانو هلکانو یوه لوبه.

شوخ : بیباک، شریر. بې حیا، کلک ستر ګے، د رنګ د صفت په طور ئ معني کښې شدت پیدا کوي.

شوخول : په عذابول، چیرل، خرابول.

شوخي : شرارت، سرتیزي، بې ادبي، چالاکي، د رنګ سره د استعمال په معنو کښې د هغه رنګ شدت.

شودۀ : پئ، د ځناورو له غلانځو نه وتونکي سپینه مائع چې د دغو ځناورو بچي پرې پرورش مومي. د ځنو بوټو نه وتونکے رس.

شوده : کم عقل، بې وقوف، ساده لوحه، بدمعاش.

شور : په زوره اواز، زوږ، جنګ جګړه، خبرې اړونه.

شورپکړ : شورشار، توربیخ، شورشغرب، هئ سوران، ګړبړ، شورغوغا، شورماشور، اله ګوله، شورزوږ، غال مغال، درز غوبل.

شورغوغا : وګورئ شور پکړ.

شورو : د چارشنبې ورځ، ابتدا، شروع، اغاز.

شورول : حرکت ورکول، ګرځول، خوځول، ګډول، په نخا کول.

شوریٰ : جرګه، غونډه.

شوړه : د لوښو د پاکولو دپاره د وښو یا کپړې بوړ، د تنکي خلې د لوښې د بندولو دپاره پکاریدونکے د وښو یا کپړې بوجه.

شوک شوک : پاره پاره، ټکړه ټکړه، بڑه بڑه.

شوشه : د دروغو خبره،

شوق : ارزو، تمنا، هڅه، اشتیاق، شغل، مشغولیت،

اشتها، نفساني خواهش.

شوقلر : شب قلر د شعبان د میاشتي پنځلسمه شپه. د روژې نه مخکښې میاشت، د هجري قمري کال اتمه میاشت.

شوقمن : شوقي، شوقين، شوق لرونکے، خواهشمند،

شوقين : شوق لرونکے، شوقي.

شوکاره : نوکاره، سکوندارہ، ټونګاره، ټونګه.

شوکمار : هغه څوک چې لاري وهي، لوټمار، په زور د چا نه څه اخستونکے.

شوکول : له وې، بوتې یا بل داسې څیز نه میوه، ګل یا پاڼې راټوړل، جدا کول، لاره وهل، شکول.

شوکه : لار وهنه، تروړنه، جدا کونه.

شوکيدل : په لاره کښې لوټ کیدل، تروړلے کیدل، پریکیدل، جدا کیدل.

شوګير : شپه په وینه تیرونه، شوګیره.

شوګيره : وګورئ شوګیر.

شولک : بشره، شولخ، خور، پوټ، پوټکے، شولک، څرمن.

شولګره : د شولو کرلو زمکه، هغه زمکه چې شولې پکښې کرلے شي. شالیزاره.

شولي : د وریژو فصل، هغه وریژې چې سپینې کړے شوې نه وي.

شوم : کنجوس، بخیل، د سخي متضاد.

شوم شغال : بخیل، کنجوس.

شومل : څښل، ګوټ کول

شوملە : تروه، شومړه، شومړې، تروې، شوملې.

شوملي : شړومبې، تروې،

شومە : په مړي پسې د وړومبی شپې خیرات. ارګانه، نفقه، خوړه. د نیمې شپې خاموشي،

شومه دم : نیمه شپه، خاموشه شپه.

شونتی : د نښترو د لرګي توټه چې د رنا دپاره پکارولے شي.

شونډ : سونډ، جنجن، یو قسم کورنۍ دارو. خرتم، سونډ.

شونډان : عام طور سره غټو غټو شونډو ته وئیلے شي.

شونډه : د خلې بهر پاسنی او لاندینی حصه.

شونے : ممکن، کیدونکے.

شوه : یو قسم سخته او کله ونه چې لرګے ئ عام طور سره په فرنیچر کښې پکارولے شي.

شها : دلبر، معشوقه، محبوبه.

شهاب : یوه زر فنا کیدونکې شعله چې د شپې په فضا کښې بنکاري، مات ستورے.

شهادت : د الله په لاره کښې قربانیدنه، ګواهي.

شهباز : یو بنکاري مارغۀ، باز. د رباب مخصوص د لرګي یا پلاستک پترے چې رباب پرې غږولے شي.

شهتوت : شاتوت، د توت یو قسم چې میوه ئ وړده او د توت په نسبت زیاته خوږه وي.

شهتیر : شاتیر، غټ تیر.

شهد : شات، کښین، ګیښنۀ.

شهرت : مشهوریدنه، نوم کیدنه، څرګندیدنه، بنکاره کیدنه، پیژندنه، سوانح.

شهریار : د بنار فرمان روا، ټولواک، بادشاه.

شهزادګی : د بادشاه لور، د شاه لور.

شهزاده : د بادشاه خوے.

شهکار : وګوری شاهکار.

شهلا : محبوبا، بنائسته ستر ګي لرونکي.

کمائي : ګټه، آمدن.

کمبار : کمپار، کولال، د لوښو جوړولو کار کونکے.

کم بخت : بدنصیبه، کم نصیبه، بدقسمته.

کمبل : وړین خادر، کمبله،

کمبلی : وړه کمبل

کمبوت : نیمګړتیا، کمے، حاجت، ضرورت. رغیدنه، کمبود.

کمپوډر : د ډاکټر معاون،

کمتر : نسبتاً کم،

کمتره : کونتره، فاخته، کوړکوړی. پوځکی. په یوې کښې د موټی دپاسه هغه لرګے چې زمیدار پرې لاس ایښے وي.

کم ترین : له ټولو کم.

کمخواب : یو قیمتي کپړه.

کمر : د سینه وچته غاړه، غونډۍ، لوړځاے.

کمره : کوټه، د ملاستي ځاے.

کمزور : ناتوان، تپ تیپ، کم طاقته.

کمزورے : د کم زور خاوند، ډنګر، کم قوته، کم طاقته، ناتوان، خوار، تپ.

کم عقل : بې وقوف، جاهل، ناپوهه، نادان.

کم علمه : کم علم لرونکے، د کم علم خاوند

کمک : کومک، امداد، مدد.

کم کم : لږ لږ.

کمکوتے : ورکوتے. وړوکے

کم کوز : یو نیم، ډیر کم، خال خال، شاذونادر، کله کله، چې موندل یې ګران وي.

کمکے : وړوکے، ورکوتے، کشر، د کم عمر.

کمند : د بره ختلو دپاره پکاریدونکے پړے،

کموده : د اعلي قسم بری وریژې

کمول : لږول، له څه څیره څه مقدار لرې کول

کمیاب : کم موندونکے، ناویات.

کمینه : کموبه، کمیه، د کمې درجې، کمیں

کمیدل : لږیدل، محتصر کیدل، حتمیدو ته نږدې کیدل.

کمے : د ریاتي متضاد، لږوالے، کموحت، نیمګړتیا، حاجت، ضرورت

کُن : یوه لاحقه چې له توري وروستو راځي لکه فیصله کن، کونکے.

کناتور : غټ کناتي لرونکے، سست، کاهل، بیکاره.

کناتے : د وجود یو اندام، د پښتون اخري حصه.

کنال : د زمکې د میچ یوه خاصه پیمانه چې د شلو مرلو برابر وی، د حریب څلورمه حصه

کنایه : اشاره، علامه، کربنه، نښه، پیلامه، رمور

کنټون : کډبون، د بنځې د خاوند له مرګه پس خاوند نه کونه.

کنج : ګوټ، خلوت خانه، ګوښه

کنجر : بې شرم، دم، بې

حیا، کمینه.

کنجکه : خرموره، خر مهره، ګوجې.

کنجلک : ګنجلکه، تاؤ راتاؤ، مړاوے شوے.

کنجوس : بخیل، شوم، ترینګلے.

کنجي : چابي، پلي، کیلي، کلید د جرندي برخیره ګولو آله، پیچ.

کنځل : کنځا، بنکنځل، سپک ونیل، زیړې.

کنځله : یو قسم تور او سپین رنګ لرونکے تخم چې تیل تري ویستے شي د خوراک دپاره هم دغه تخم استعمالیږي. کنځلي.

کند : کنده، ډوغله، خندق. درز، خرقه، د ملنګانو فقیرانو قمیص ډوله پوشاک، ګدړی، بهوړی، د ملنګانو شړی.

کنداغ : د توپک دسته، د توپک هغه لاسکے چې د لرګي نه جوړ وي.

کندلو : د غلې سمبالولو کوټکی، خمبه.

کندے : د ډیرو کورونو محلت، خیل.

کنډ : چیړ، ژاولے، کنډورے، سیلے، چینې، د نښتر یا بلې غوړې شان ونې سیلے. تومنه، د لنګې میښې، غوا چیلی وغیره د وړومبو درېو ورځو پی.

کنډاس : بې غاښو، کړشپ.

کنډال : تش. کنډول، کنډولے، دمات شوې منګې یا کټوی وغیره هغه برخه چې څهٔ څیز پکښې کیښودے شي.

کنډاؤ : درز، نامکمل، نیمګړے، کنډوهٔ. د دوهٔ غرونو منځ کښې وران ویجاړ ځاے.

کنډر : ورانه ابادي، د غلا دپاره شوے غار. مینه.

کنډک : د کنډو بزو رمه،

کنډک : کټوه، کټو، د روټي ټوک، سوکړک،
کنډ کپر : کندې کوندې، لوړه ژوره، وران ویجاړ
کنډولے : وړوکے کنډول، پیالی، د خاورو جوړه پیالی، کنډولکے. بې لستونو قمیص چې زنانه ئې اغوندي.
کنډه : تلـه، د زرګرانو د نازک تول تله. دره.
کنکاوک : ګوډی، باډیوه، پتنګ، کانکوک،
کنکر : وړوکے کانے، د کانې ټوکړې.
کنګال : وینځلے شوے، صفا شوے. خالي، تش، مفلس، غریب.
کنګره : د خټې مخروطي منډو چې د کوټې یا برج د پاسه جوړ وي. بام، د منارې غاړه. د ښار د حفاظت مناره. کنګل، مانې.
کنګل : مورہ، یخ. کنګر. د اوبو د سر د پاسه د ډیرې یخنې لـه وجې جوړ شوے پتړے.
کنګو : زعفران.
کنوبے : ریشتلے، ریشتل، هغه مواد چې د لوښي په ویخ کښې اخـر تـه پـاتې شي، زینـخـاوے، زیم، لیرې اوبـهٔ، معمولي اوبهٔ،
کنه : دا لفظ د ماقبل جملې د تـصـدیق او تاکید په غرض وئیلے شي ځان له څهٔ معنیٰ نهٔ ورکوي لکه وئ ګوره کنه.
کنـه : ویـخ، بیـخ، جـړ، د انسان او حیوان د لـویو بولو خاے.
کنـه سوے : لـه لانـدې معمولي سوخیدلے.
کنې کبر : سرطان، تیرماه، یوه آبي حشره.
کنیت : هغه نوم چې خوې یا لور په نسبت پلار ته وئیلے شي، لکه ابو القاسم.
کنیز : وینځه.
کنے : کـونے. د ګډو بزو یا

نورو خاروو یو وړوکے چینجے چې وړپورې نښتے وي او وینه تري څښي.

کناوه : د لرګي پیزار.

کنه : هغه بنځه چې څهٔ نهٔ اوري.

کنیدل : له اوریدو پاتې کیدل، د سماعت قوت ختمیدل.

کوازه : د لرګو جوړه اډانه چې کلکار پرې ولاړ وي او دیوال جوړوي.

کواکب : د کوکب جمع، ستوري.

کوبی : برېوړکی، حباب، برېوکی. پوکنی، پونکه، پوکانی.

کوپ : غټه پیاله. توپ، دانګه، ترپله، دانګ. کوهان، کو، کوپان

کوپړی : ککړی، کپړی

کوپی : نوتل، کوپړی، ښیښه. هغه تیمي لوښے چې پکښې حاجیان د زمزم اوبه راوړي.

کوپی : د کان پټی سره یو ځاے د اسپې په ستر ګو لګیدلې د څرمنې پټی چې یو خوا بل خوا نهٔ شي کتلے.

کوتار : مشغول، ګرفتار، مبتلا. ګوتار، اخته، مصروف، بندیوان.

کوتاه : لنډ، کم، وړوکے. مختصر.

کوتاهي : کمے، کموالے، لنډوالے.

کوتره : ذرې ذرې، توتې توتې، ګیا چې وړه وړه کړے شي.

کوتړے : د سپې وړوکے بچے، وړوکے سپے، کوکړے،

کوتک : غټه ډنډه، څوبارے، لوړ، ډانګ.

کوتل : حلالول، ذبحه کول. پریکول، د څناورو نه په لاسونو څرمن ایستل، توپه توپه کول، چور چور کول.

کوتنه : یوه آبي غټه مینوکه

لرونکې مرغابی چې وازده ئ
ډیره قیمتي وي.

کوته سائي : د سا تنګیدنه، ساه لنډې، دمه، په سینه کښې د ساه ډیر په خواری تلنه راتلنه.

کوتي لال : یو تریخ بوټے چې غونډې پاڼې او سرې سرې دانې کوي.

کوټی : وړه کنده، وړوکے ډوغل.

کوټے : قټے، د زې قټے

کوټ : حصار، قلعه، کړ.

کوټ : یو مشهور لباس چې خلق ئ په ژمي کښې اچوي.

کوټ: نیمچه زیر، یو دهات چې د زیړو په شان وي او په سرو کښې ګډولے شي.

کوټ بنګار : کوټ او زیر، چې سرۀ نۀ وي، جس، زیر، پیتل وغیره.

کوټکی : وړه کوټه، د کوټي اسم تصغیر.

کوټل : وهل، ټکول، نړول، چور چور کول، قیمه کول، غمول، رټل، کوټره کول.

کوټنی : د چرګو کوټه، چرګ خانه. لوګو وهلے کوټه.

کوټوال : د قلا محافظ. د کلي څوکیدار، نائب.

کوټه : د وسیلو کمره. چې وخت پرې تیر وي. بیکاره، د کره متضاد.

کوټر : د جنت د یو حوض نوم.

کوچ : سفر، یون، تګ، تلۀ. کُچ، هغه غورِ چې د ماستو شاربلو سره پیدا کیږي.

کوچمال : د روانیدو وخت، په سفر د تلو وخت.

کوچنلے : د خناور بچے، د کیدړ، لیوۀ وغیره بچے.

کوچنلے : کوچانے، د خرۀ وړوکے بچے.

کوچوان : ټانګه وغیره چلونکے.

لګونه، جوړ لګونه.

کوښښ : وګړئ کوشش

کوښه : د ښخو پیژار. پنه.

کوغالے : کنده، ډوغل، ورغالے. جونګړه، کوډله د غوړو لوټه، هغه مات شوے لوښے چې سپو ته پکښې خلق اوبه ږدي.

کوفته : رڅمي شوے قیمه شوے. یو قسم پخلے.

کوکاره : چغه، کریکه، کریکه، فریاد،

کوکب : ستوري، ستاره.

کوکنار : افیم، ډوډه، پوست.

کوکو : خوږ، ښائسته، کوکی. ګل.

کوکه : چغه، نعره، سوره، کریکه.

کوکی : خلۀ، بوسه. پپی، پپه. د ماشومانو ډپاره د مینې توري.

کول : د یو عمر خلق. د یو خاندان خلق. نسل. ټولے، خاندان.

کول : یو کار پوره کول، له اغازه تر انجامه رسول. غول، جماع کول.

کولال : کلال، هغه څوک چې د خاورو نه لوښي جوړوي.

کولپی : کلپی، کاشیں، خمیره دان، خمیره دان، د اخښلو شوڅ اوړو لوښے.

کولمه : د ګیډې دننه یو عضو.

کولنډ : کولنډے، هغه لرګے چې ځناورو ته په دې غرض اچولے شي چې منډه نۀ وهي، ډنډی، د سپي د غاړې لرګے.

کولنګی : اصلی چرګ، جنګي چرګ.

کوم : ضمیر موصوله، استفهامي ضمیر.

کومک : امداد، حمایت، کمک، مرسته، ملاتړ،

کومے : ستونے، د تالو اخري حصه، د نغري منځ چې

سکارهٔ پکښې جمع وي.

کوناتے : د کونې یو خوا بل خوا برخه.

کونتر : مختلف قسمونه لرونکے یو مارغهٔ، چې په کورونو کښې ساتلے شي.

کونتره : د کونتر مؤنث

کونج : کنج، کوټ، طرف

کونجکه : خر مهره، ادیله، لږ مقدار، کوچے.

کونجي : کنجي، چابي

کونځی : کمځی، کوځی.

کونله : کنده، هغه بنځه چې خاوند یې مړ شوے وي.

کونلهٔ : د چمیاری یو اوزار چې د ګندلو دپاره پکاریږي. حلقه، الغه، د کباړو نیولو یوه آله.

کونلی : د کیکر ونه لرګینه کاسه، کډول. د علي پیمانه کولو آله، د لاس یو پسول، د کوناټي د پاسه هډوکے،

کونه : سوپره، مقعد، دبر، لاندې ویښ. د هر څیز لاندې حصه.

کونه سوے : هغه پخکړے چې لاندې حصه یې سوے وي، نیم سوځیدلے،

کونې : کنښې، کوټ، ورکوټکے. ډونګالي، داګي. کاندو

کونے : یو قسم حشره چې په خاروو پورې نښلي او وینه تویې څښي.

کون : چې په غوږو څه اوریدے نه شي. د سماعت نه محرومه.

کوه : غر، غرهٔ.

کوهے : کوئے، چاه، څاه، ژوره کنده. قبر، هغه ژوره کنده چې د اوبو راویستو دپاره جوړه شوې وي.

کویژده : کویدن، کویژدن، کوژدن

کهٔ : غیر یقیني، د شک

کهکشان : اسمان لاره. له

ستورو جوړه شوي اسمان لاره.

کهنه : زور، د زړې زمانې، پخوانۍ، تجربه کار.

کهه : خارښ، خاربښت، خارش.

کهی : هغه د پلنې خلې لرونکې سسکوره چې خټه پرې جوړولے شي.

کیاري : کیاره، د زمکې یوه حصه چې پکښې سبزي کرلے شي.

کیچړی : نرمې پخې شوې وریژې.

کیخے : وړوکے سپین رنګے چینجے چې د بنیادمو د لویو بولو په خاے کښې پیدا کیږي، کیخے، کیخه.

کیړاړ : هندو. تنګ، دوکه باز.

کیړے : کیړه، کړے، یوه حشره.

کیښے : یو قسم چینجے چې عام طور سره د خوږو څیزونو خوړلو په وجه د بنیادمو کونه کښې پیدا کیږي. کیخ، کیخے.

کیکر : یوه خارداره ونه.

کیل : خط. اره. نقشه، لکیره. د قلبې کربنه، د پال د څوکې کربنه، کیله.

کین : کینه، عداوت، دشمني.

کینه : بغض، حسد، زړهٔ ته اچول

کین : کس، کڅ، د بنې مقابل.

کیپ : نسوار، نشه، بې خودي، مستي، کیف.

کیج : کیڑ، قیچ، کلک، سخت.

کیدل : تر سره رسیدل. ختمیدل. زیږیدل، خپلولي لرل، رشته لرل.

کیر : د پښتې نه تاؤ راتاؤ د تانګرو یا ارهرو، جنجرو احاطه، ټار، د غنو یا د لبنتو ګیر چاپیره دیوال.

کیږدل : کیښودل، ایښودل.
کیږدی : کیږدی، خیمه، تمبو.
کیښودل : ایښودل. ایښول.
کیفیت : حالت، رنګ ډنګ، رونق، مزه، نشه، شرحه، تفصیل، رپورټ.
کیک : د میدې اګو او خوږو نه جوړ یو قسم خوندور خوراک.
کیلو : د ساپ کولو وزن، کلو.
کیله : یوه میوه او د هغې ونه.
کیمره : د عکسونو اخستو آله.
کیمه : قیمه، کوفته، تکیدلې غوښه.
کیمه : د خرمنې جوړ لوښے چې د ګانی نه پرې تیل راخستے شي او نورو لوښو کښې اچولے شي.
کیمیا : د کیمستری علم، د خاورو نه سرۀ زر جوړونه. نایاب.
کیمیاوي : کیمیا سره متعلق.
کیوتل : کیږیدل، مصرف کیدل.
کئے : کهے، یو قسم وابنۀ کیے
کی : قی، دوړو په ژبه لوے بول یا غسل، ډکې متیازې.

ک : (کاف) د پښتو د حروف تهجي درې دیرشم حرف، د ابجدو په حساب د "ک" برابر یعني شل(۲۰) قیمت لري.

کاتری : کاتړی، د فصل یا دوښو ریبلو آله، لور،

کاتړے : د ستر کې ککی یا تور. د ستر کو تور.

کاځره : کاجره، کاجاره، زردک، یو قسم سبزي.

کاډر : د وسپې تیر یا بش.

کاډي والـه : کاډے چلونکے، کاډیوان.

کاډیر : د غنمو، جوارو وغیره د کښودو اوړو پخه کړے شوې روټی، کاډیره، کاډیل، کاډیله.

کاډے : د سورلو یا سامان د وړو راوړو بکسی مثلاً ریل، بس، چکړه، ریړه، ټانګه وغیره.

کار : هغه لاحقه چې د اسم سره یو ځای شي نو د اسم نه فاعل حوړوي لکه خدمت نه خدمتګار، ګناه نه ګناه ګار.

کار : کښود، وران، ویجاړ، رنګ بنګ.

کارپوزه : کړکوزه، کاړکوزه، له یخنی ړچیدنه.

کارکوتي : ګنجي ګنجي ویښتۀ، کالکوتي، ګلګوتي،

کاړه : د کښو بیزو د پنډولو ځای، شپول.

کاک : چاپت کونکے.

کاکے، لاکي، لیپاري، کاهک.

کاکړ : سخت، کلک.

کاکیر : بې پروا، هواګیر، وارخطا،

کاکے : په فصلونو کښې د انسان په شکل جوړ کړے شوے شے چې مارغان پرې ویروله شي. افچه، بدلک، ګودا ګے.

کال : یو قسم غله، غوښت، کاکنج، ږدن. شغال، ګیدړ، سورلنډے.

کـالل : بـرداشت کـول، زغـمـل، ساتل، محفوظ کول، خیال ساتـل. سـر تـه رسول، خلاصول، پوره کول.

کام : قـدم، له یو قدم نه تر بله قدمه فاصله، گامه.

کان : موزون، مناسب، لائق. لاحـقـه چې د واحـد سره یو ځای شي نو جمع جوړوي لکه میلو نه میلو کان، الو نه الو کان.

کـالـده : راتلـونکے وخـت، راتلونکي زمانه، مستقبل، کالده.

کـانـهو : کـونـه ور کونکے، کونه ور کړے، کوني.

کانډیل : د شړشمو ساک، غـنـدلـي، هـغـه پیاز چې تحم دپـاره تـري پـاتې ونه شو کولے شي

کـانـکوړه : تـرتـرې خبره، تترې، هـغـه خبره چې په نښتې ژبه وکړے شي.

کانګوړے : تړتړے، تترے، هـغه څوک چې د څهٔ مرض یا ویـرې لـه وجـې نښتې خبرې کوي.

گـانـه : لـوبـه، سندره، په ترنم کښې د مـوسـیـقی سره ونیلے کیدونکي شعرونه.

گانه : د رقم په عوض کښې څـهٔ څیـز یـا زمـکـه چـا سره ایښـونه یا له چا ایښونه. گروه. کالے،

گالی : لـه کـنـو نه د شربت ویستو یا له شړشمو وغیره نه د تیـلـو ویستو مشین. هغه ځای چـرتـه چې د کـنـو نـه ګوړه جوړولے شي.

گـاونډ : سـره نـزدې نزدې کورونه، محلت، چم.

گاونډي : په یو گاونډ کښې سـره وسـیـدونـکي، نزدې سره وسیدونکي.

گاه : ځـاے، مکان. د بادشاه تـخـت، پـلاز، گـدی، وخت، محال، کتالی، کله.

گاهک : گاک، خریدار،

گاه گاهے : کـله کله، کله نا کله.

کبر : آتش پرست، د اور عبادت کونکے، کافر، بت پرست.

کبینه : مچی، بورا، کاربینی، مچ، غربینی، کبین، شات، انگبین.

کپ : توقه، کپ شپ، توقه تقاله، افوا، بې بنیاده خبره، غټه نوړی، لویه نمړی.

کپه : غټه نوړی. دومره لوند خاوره چې په لاس کښې راتلے شي. لوټه، چم، وړوکے کمر، توقه، کپ،

کپی : خوش طبیعته، مزاح کونکے، توقي، ظریف.

کټاوه : اړداوه، کنده، بتاوه، بوتاوه، د ځاروو حوراکه چې بوس او بل څه دانې اوړه دل یا کل ورته کنډ کړے شي.

کټکه : هنر، کرتب، چل، مهارت، دوکه، فریب، داؤ.

کټمنلے : کوتې ورکونه، شاغوتونه ورکونه، عیب لټونه، اعتراض، شبه، اړنګ، الزام،

کټمه : کوتمه، څلے، یو کالے چې په کوته کولے شي. هغه خول چې د کوتې سر ته د جامو کنډلو په وخت اچولے کیږي.

کټه : کوته، د لاس هغه کوته یا برخه چې بنیادم پرې د کار کسب جوګه دے. د پښې د سر هغه برخه چې بنیادم ته په قدم اخستو کښې، په توپ وهلو کښې اسانې پیدا کوي. کوتمه، د اچولو یو کالے.

کټه : غټه کانتې، کانتی، غټ او پیر کاغذ چې د څو برغه یو ځاے کولو نه پس مختلفو کارونو دپاره پکارولے شي.

کټ : غټ کانے، کرکنده، کوسه، سنګره. کوره توره وړیځ.

کټ : هغه ځاے چې په پلنوالي او اوږدوالي پکښې دوه دیوالونه خپلو کښې یو

خـاے کیږي. د وادۀ نـه ورځ بـیـمـه محکښې د جینی د پلار کـره د نـاسـتـې خاے . د پتې د دوڼ پولو د یو خاے کیدو خاے چې عموما په یوم وغیره اړولے شي.

کتپات : کتـه، نفع، منافع، کتنه، د بائلات متضاد.

کتپ پیر : د لاري کوږوالے یا کبرلیچ، تاؤ کوږ لیچ، کتپ پیرے،

کتپل : فـائـده مـوندل، فائده وچتول، بدل اخستل.

کتپلویه : کتـپونکے، کتـه کونکے،

کتپور : هـغـه څیز چې منافع پکښې وي. کتـه کونکے، کتـه ور.

کتـه : سـود، نفع، مزدوري، حاصل. کاږے، تیږه.

کـتـیـز : کـوتـونـه لرونکے، کتیین، کتیزے.

کجره : د لاسونو یو کالے چې زنانه ئې اچوي.

کـځاري : کـڼاري، نسوار،

کـځموزے : هـغـه څوک چې ډیرې خبرې نۀ کوي او د زړۀ راز چـا ته نۀ بـنکاره کوي، غلے .

کـځ : سپینونه، چونه کونه.

کـځے : کـس مـتـے، کـس لاسے، هـغه څوک چې زیات کار په کس لاس کوي.

کـدا : سـائل، سوال کونکے، ملنګ، فقیر، خواست کونکے، غوښتونکے، درویش، گداګر.

کـداز : سـوزے، سـوے، سول، ویلې کیدنه.

کـداګر : وګورئ کدا.

کـده : کـدیـلـی، کـدی، د حکومت یا پیرانو مسند.

کـدیلی : زړې او شلیـدلې جامې. زړې او خیرنې جامې،

کدی : مـجـلـس. تخـت، مسند. بدعمله بـنځه، د کپړې یا بل نرم څیز موړه چې د سنډا یا غـونـي وغیره څټ کښې د ریږې رابنکلو په وخت اچولے

شي.

ګډ : د ګډې نر، پسۀ، وړے.

ګډ : ګودۀ، په لاس یا پښه باندې بیکاره، شل، په لاس یا پښه کړم.

ګډا : نڅا، ناچ، رقص.

ګډا نڅا : ګډا، ګډیدنه، د ګډیدلو جشن، رقص و سرود، د خوشحالی موقع، بنادي.

ګډښه : د ګډبه مونث،

ګډبه : شپون، شپونکے، ګډې بزې ساتونکے او څرونکے.

ګډ ګاډیر : ګاډیره، ارګجه، انجرښنجر، خلط ملط، د بل څیز سره ګډ کړے شوے.

ګډوډ : بې ترتیبه، بې طریقې، خوروور، تتربتر، یو څاے، سره ګډ، شریک، وران، خراب، ارګجه، بې طبعې، پریشان، ناساز.

ګډوډے : غوبل، غل غوبل، شور شغرب.

ګډول : نڅول، په چا رقص کول، رقصول، څوک په خپل حکم چلول. یو څاے کول، خلط ملط کول، مشهورول، خورول، تاوول، چورلول، زیاتول، شاملول، شریکول، په څۀ معامله کښې د څان سره څوک یو څاے کول.

ګډول : ګودول، شلول، په لاس یا پښه څوک کړمول، بیکاره کول. محتاجول، حاجتمند کول.

ګډون : اختلاط، ملاوټ، ګډوډونه، سره یو څاے کونه. شراکت، شمولیت.

ګډه : د ګډ مونث، په وجود وړی لرونکے یو وړوکے څاروے چې پۀ هم ورکوي او وړی تې هم حاصلولے شي او غوښه یې هم خوړے شي.

ګډه : خوره، مشهوره، عامه. یو څاے، خلط ملط، ګډ ګاډیره، څاروو ته یو څاے کړے شوے بوس او اوړۀ یا

بوس پتری او شنه کیا.

گډه وډه : خلط ملط، یو څیز بل څیر سره داسې طریقه کډ شوے چې بیلول ئ ګران وي. بې ترتیبه، وارخطا،

ګډیدل : ټخا کول، رقص کول. شریکیدل. ګډوډ کیدل.

ګډیدل : ګډیدل، شلیدل، په لاس یا پښه کړمیدل. حاجتمند کیدل، محتاجه کیدل

ګذشته : پاتې شوے، سابقه، اوړیدلے. وروستو پاتې.

ګراری : غابنونه لرونکې ګاډینې چې مشینونو ګرځولو کښې پکار راځي.

ګرام : د وسیدو ځای، کلے، موضع، سیمه، ټاټوبے، ګرامه.

ګرام : په اعشاري نظام کښې د وزن یوه اکائي، د کلو ګرام زرمه برخه

ګرامر : د ژبې دستور، د ژبې قواعد و ضوابط، د صرف و نحو علم.

ګران : محترم، عزتمند، بزرګ، قدرمند، ښاغلے،

ګران : مشکل، د اسان متضاد. حوړ، خوښ، قیمتي، سخت، تکلیف ده، دروند، نایاب.

ګرانول : نرخ خیژول، قیمت زیاتول، خوښول، سختول، مشکلول، نایابول.

ګراني : ګرانښت، ګرانوالے، مهنګائي، قیمت زیاتیدنه،

ګرانیدل : قیمت زیاتیدل، نرخ زیاتیدل، بیه زیاتیدل، خوښیدل، سختیدل، مشکلیدل، نایابیدل.

ګربادہ : د پیریانو ډولی، دیوباد، د باد چورلنده. بربورکی.

ګربیټ : سوکرک، سکرک، د جوارو روټی.

ګرت : د دوؤ ګوتو تر منځه فاصله.

ګرځنده : ګرځیدونکے،

گرخانه، گرځن، تاویدونکے، چورلیدونکے، سیلانے.

گرځول : حرکت ورکول، چکر ورکول، ځوک له لاسه نیول او روانول، په چا سیل کول، حقدار ثابتول، بل طرف تـه اړول، بې رخې اختیارول، التې کول، باقی کول.

گرځیدل : روانیدل، حرکت کـول، سیـل کـول، حـقـدار ثـابتیـدل، لـه ژبې اوړیدل، دلـه پریښودل، بل طرف ته اوړیدل، دسر چورلیدل.

گرد : تـمـام، تـول، گرد، چارچاپیره، گیرچاپیره.

گرد : گـرد، خاوري، دوړه، غبار، خیرے.

گرد : پهلوان، دلاور، بهادر.

گرد : غونډے، گول، گرد.

گرداب : داوبـو چـکـر، چورلـنـدے، گـردابـ، غـلـی، غـولـی، چـتـو، لنگری. زخم، بانیجغ. یو قسم تال.

گردان : صیغې د تـرتـیـب مطابق سر دوباره کونه.

گـردان : گـرځیـدونـکـے، تـاویـدونکے، اړولے، گرځولے شوے.

گردباد : سیلی، طوفان، هغه سیـلـی یـا هوا چې گرد د ځان سره الوځوي.

گردسره : تـول، له سیلمې، بالکل، بیخي.

گردش : دور، چـکـر، سیل کونه، گرځیدنه، تبدیلي،

گردن : څټ، مری، ورمیږ. د کـوزې یـا صـراحی وغیـره غړی.

گردنی : د کارتوسو پټی،

گرده : بلـوډے، پښتورگے. حوصله، همت، جرأت.

گرده : خـام چـرس، کچـه چرس، خاکه.

گرز : گرس، دولس درجنه، دولس درخنه.

گـرز : امـسـا، لـوړ، ډانگ، ډانگوری، کوتک.

گـرسره : بیـخـي لـه سـره،

قطعاً، بالکل.

ګرسنه : وږے، نهر.

ګرفت : نیولے شوے، نیونه، قبضه، اعتراض، اختیار، وس.

ګرفتار : قیدي، نیولے شوے، ګیر شوے، قابو شوے، بندي، انبتے، بنکیل،

ګرفتاري : نیونه، ګیریدنه، نښتنه، په حراست کښې راتلنه، قیدیدنه

ګرک : خاربن، پم، کهه، خاربنت.

ګرک : یو خطرناک ځناور، لیوه، شرمیش.

ګرګابی : یو قسم پیزار، موزې.

ګرګادے : هغه غونډے څیز چې رغړولے یا تاوولے شي. ګیر ګادے، ګرد ګادے.

ګرګټ : د اوښ د پښې هډوکے. رنګ بدلونکې د ګرږوړي په شان یوه حشره.

ګرګره : د بیرې هومره توري دانې کونکي یوه ونه او د هغې میوه.

ګرګه : د ونې ویخ، د ونې هغه برخه چې په زمکه کښې دننه وي. غټ بش، تیر، شهتیر. غټ کټ سرے، مضبوط سرے.

ګرم : تود، حرارت مورکونکے تیز، چست، چټک عاشق، منین جذباتي، غصه ناک، قهریدلے

ګرم : غم، رنځ، پسخاک، پسحساک، نول، دماغي پریشاني، یو مرض چې د غم له وجې پیدا کیږي.

ګرم : ملامته، پر، قصوروار.

ګرماله : ګلماله، ختماله، د اخیر یا لیو کولو آله، پتانده.

ګرمټ : هغه آله چې یو سر ئ درولو وي او فرش، سړک یا زمکه وغیره پرې د کښیمنډلو په غرض ټکولے شي، درمټ، ګیرمټ

ګرمکه : هغه نرۍ دانه چې د ګرمۍ په وخه په بدن

راخیژي.

کرمول : ملامته کول، پر کول، قصوروار کول، قصور ثابتول،

کرمول : تودول، حرارت ورکول، تیزول، شوق ورکول، غصه کول قهرول.

کرمه : هغه میوه چې زر پخیږي. زر رارسیدونکي یا پخیدونکي میوه. د خربوزې یو قسم.

کرمي : تاؤ، تپ، تودوالے، تودوخي. د اوړي موسم. غصه، قهر، غضب، سوزاک، د تشو متیازو سوے، آتشک.

کرمیدل : ملامته کیدل، پر کیدل، قصوروار کیدل.

کرمیدل : تودیدل، حرارت موندل، شوق موندل، تیزیدل، غصه کیدل، قهریدل.

کرو : پوه، پوهه، استاذ، تجربه کار، پیر، ماهر، هوښیار، چالاک، د علم نابغه استاذ.

کرو : ګانه، کفالت، قید، تړ، تړون، ناغه، عهد و پیمان، قول، لوظ.

کرول : نوکاري کول، په نوکرنو راتوډل، پوستکے لرې کول، توډل، حاصلول.

کروه : د اوړې او خټ تر منځه ځاے. د قمیص کالر، ګریوے.

کروه : دین، مذهب. قوم، ټولے، ډله

کره : په حاورو کښې د محفوظ کړے شوو ګنو ټوپ یا ډیرے.

کِره : د ګز شپارسمه حصه.

کریان : فریادي، ژړغونے، ژړیدونکے،

کریس : وازکه، چربي، وازده، غوړوالے. یو قسم سلیښنا که ماده چې د موټرو لارو په پایو کښې د غوړ والي قائم ساتلو دپاره استعمالیږي.

کریه : ژړا، انګولا، ویر. چغې، فریاد.

کریبان : کریوان، د قمیص غاړه.

کریدل : کهه کیدل، خارښتیدل. رژیدل، کنجي کیدل، کربنې کربنې کیدل، زخمي کیدل، خورک د وجود نه لرې کیدل، پوستکے لرې کیدل، حاصلیدل، بودیدل.

کریز : تښتنه، فرار، ښلیدنه، پرهیز، اجتناب، په قصیده کښې له تمهیده پس اصل مقصد ته راګرځیدنه.

کریزان : تښتیدونکے، ویریدلے، ترهیدلے، کریزپا

کریوان : د قمیص هغه برخه چې په سینه پرته وي او تنې پرې لګولے شوې وي کریبان.

کړ : قلعه، قلا، حصار د لاحقې په طور د ظرفیت معنیٰ ورکوي، د وسیدو ځاے، لکه امان کړ، علي کړ، خوشحال کړ وغیره.

کړب : تیرې او تندې خبرې. د دوۍ خیرونو په چپلو کښې د جنګیدو اواز، د وریا بل څیز په زوره د بندولو اواز. د منړ کانو نیولو پنجره. غټه سوړه، چاودے ځاے.

کړپ : د کیدې د کړپیدو اواز، قړ قړ. بدنظمي، خلل، بدانتظامي، ګډوډے، ورانے،

کړبوزه : رچ، کړ ګوزه، رپ رپے.

کړځ کړوځ : کړز کړوز، کړ کوړ، عرعور، په باران کښې د اسماني بجلی اواز. د تندر اواز، ګړهار.

کړد : دوړه، کرد، غبار، هوا سره الوتونکې خاوري خځلې،

کړدان : کردان، سردوباره زوتول. کرخیدونکے،

کړداړ : چله، سیلاب، څپه، هغه سیلاب چې چارچاپیره مخې وهي. غولی، کرداب، چورلندے.

کړدسره : بالکل، بیخي، له سیلمي. له سره، چورلت، چور.

کړدی : غونډه، د دائري په شکل تاؤ شوې، ګیرچاپیره، تاؤ راتاؤ؛ حلقه.

کړزا : د ډزو مسلسل اواز. ګړزار.

کړکړو : تورتوړو، ستونې، حلقوم، غړې، غروې، د مړی سورې، حلق.

کړکوټي : ګلګوټي، ګالګوټي، ګارګوټي، هغه ویښتۀ چې تاؤ راتاؤ وي.

کړکور : د اسمان ګړاړې، تندر، د بریښن او ګړاړي اوازونه، تنا، د اسماني بجلی اواز.

کړندی : چرمښکی، هغه کربوړې چې په کورونو کښې ژوند کوي.

کړندے : تیز رفتار، چست و چالاک، تکړه، چابک.

کړنګ : لویه کنده، د دریاب په غاړه لوړے کمر، ډیر لوړ دیوال، ګړنګه.

کړنګ : ګړینګ، د پوزې غلیظه ماده، قن، خن، خړمت، کړمیزه.

کړول : په خبرو راوستل، د چا نه خبرې ایستل.

کړونج : د لړ ګوجور ګړے شوے د مښکو د ایښودو ځای، ګړماچے، ګړمچے.

کړه : ګوړه، د ګنو له شربته جوړیدونکې خوړه ماده چې په چایو یا شربت وغیره کښې استعمالولے شي

کړیال : لویه کړی چې دیوال ته خوړېدولے شي.

کړیدل : حبرې کول، ګړه سره کول، ګړوړیدل، کړیدل، ګړز ګړوز کول.

کړی : د وخت ښودلو آله، ګنټه، ساعت، د وخت حصه.

کړی : حلقه، شپول، هاله، ګړدی.

کړے : د څنو اسمونو په اخره کښې راتلو سره د فاعلیت معنیٰ پیدا کوي لکه دریم ګړے، ژرنده ګړے وغیره.

گړے : منکے

گز : دري فټه، د ناپ يوه اندازه، هغه سيخ چې د توپک په شپيلی کښې نښتې توقه پرې راويستے شي.

گزار : گوزار، غورار، دب، درب، وار، خل، کرت،

گزارش : عرض، بيان، درخواست.

گزاره : گوزاره، گزران، وخت اړونه، ورځې شپې تيرونه، گزر اوقات، ساعت تيرے، زعم، صبر

گزران : وخت اړونه، وخت تيرونه، يو خاے وسيدنه، ساعت تيرے، گوزاره، ريست، وخت تيرے

گزک : پارسوب، د زخم اوبهٔ پتونه، پرسيدلے، نوژن.

گزک : هغه خيز چې د اقيمو يا شرابو خښلو نه پس د خلې خوند بدلولو دپاره خورے شي. يو قسم متهائي، خواږهٔ.

گزلک : چاړهٔ، چړوکی، کړلکه.

گزيده : خورلے شوے، تک ورکړے شوے، مارخورلے.

گزير : مدد، چاره، علاج. صبر، تحمل.

گس : چپ، کين، د بښې ضد. د انساني زړهٔ خواته اړخ.

گستاخ : بې ادبه، بې شرمه، کلک ستر گے، سپور ژبے، وچ ستر گے، بې حيا.

گستاخانه : د گستاخی.

گستاخي : بې ادبي، سرکشي، بې شرمي، بې حيائي،

گسے : په کس لاس باندې کار کولکے.

گشت : چکر، دور. پيره، څوکی. سيل، گرځيدنه.

گشتی : شلته، متيزه.

گفت : خبره، لفظ، وينا. ازار، بنيره،

گفتار : خبرې، وينا، گفتگو، خبرې اترې. په مرکباتو کښې

د ویونکي معنی ورکوي لکه خوش گفتار وغیره

گفتگو : خبرې اترې، وینا، بیان، گفتار.

گکره : یو مخصوص قسم ارت او لوړ قمیص.

گکړ : گوگړ، گندهک، یو کیمیائي څیز، بارود.

گل : غټه غټه ږلی، ژلی.

گل : سپرډي شوي غوټی، معشوق، په وجود د داغیدلو نښه، د ډیوې د باتی سوریدلے سر.

گل : د سترګو بیماري چې د سترګو ککی سپینه شي او نظر تري ختم شي.

گلاب : یو مشهور بوټے سره ښائسته ګلونه لري، دې ګل ته د ګلونو بادشاه هم وئیلے شي.

گلابتون : د سرو زرو تار، زرین تار.

گلابي : ګلاب رنګے، د ګلاب په شان رنګ لرونکے.

ښائسته، حسین.

گلاس : د اوبو څښلو سلوري یا د شیشې یا سټیل اوږد لوښے، ګیلاس.

گلاله : کولالی، کوتالی. پخه شوې سره بیره.

گلالے : د ګل په شان، ښائسته، بنکلے. حسین، ګلفام، ګلرخ.

گل توت : هغه د غټو پانو توت چې د کاغذ په جوړیدو کښې استعمالیږي.

گلټ : زیړ رنګ لرونکے یو دهات، ګیلټ.

گل جړی : ګل خړی، نښه، خړے، کهار.

گلچین : ګلونه شوکونکے، مالي، باغوان.

گلدار : د ساده متضاد، ګلونه لرونکے، هغه چې ګلونه پرې جوړ شوي وي.

گلدان : هغه لوښے چې ګلونه پکښې ایښودے شي، د ګلونو د ګلدستې ایښودو

لوښے.

گلدسته : د گلونو گیډی، د قسماقسم راشو کولو شوو گلونو غڅک.

گلدانگ : د سپو یو قسم چې د حنک دپاره ساتلے شي

گلرخ : د گل په شان مخ لرونکے، گلفام، بنائسته، گلرو، حسین، پیے مخے، معشوق.

گلرنگ : د گل په شان رنگ لرونکے، بنائسته، بنکلے، حسین

گلزار : د گلونو ځاے، باغ، گلشن، هغه ځاے چې گلونه پکښې ولاړ وی، گلستان

گلستان : وګورئ گلزار

گل شکره : د قمرې کال دویمه مياست صفر. د صفر مياشت

گلعذار : د گل په شان، د گل گلی، ډیر بنائسته، لالے.

گلفام : د گل په شان رنگ لرونکے، محبوب.

گل قند : یو قسم دارو چې د گلاب له پاپو نه جوړولے شي.

گلکار : معمار، د مکانونو جوړولو ماهر

گلگون : گل رنگ، د گل په شان، د گل په ځیر.

گل لاله : یو صحرائي گل چې سور رنگ لري او په منځ کښې ئې تور داغ وي.

گِل مالہ : گرمالہ، د لیو پلستر یا اخیر وغیره هوارولو اوزار، گرمالہ، گیرمالہ، ختمالہ.

گلنار : سور رنگ لرونکے، د انار د گل مخفف.

گلوبند : هغه د عارې نرمه پټې شان چې له یحنی پرې غاړه، ځټ او غوږونه بچ ساتلے شي یو کالے چې په عارې کښې اچولے شي.

گلوکوز : یو قسم خوږه دارو چې په وجود کښې د توان برقرار ساتلو په غرض په

اوبو کښې اچولے او څښلے شي.

گلوله : گیتی، وړوکے غونډارے. گلگله، پکوړه.

گله : رمه، کنډک، پاده، میا. گوله، گره، نمړی، مړی، نوالـه، علـه، صندوقچه یا صـندوق چې دکاندار پکښې پیسې ږدي.

گلیخار : یو قسم سره دوائي چې د ستر گو او خلې پخیدو دپاره پکارولے شي، شیشي رنگ.

گلي : د زیاتو تروو او ترشو څیزونو خوړلو له کبله په مری کښې زیاتي غوښه پیدا کیدنه. یو مرض چې په مری کښې غوتې پیدا شي.

گم : سریښ، سلیښ، گوند، اوری، د غاښونو دپاسه غوښه.

گمارل : گومارل، مقررول، په ذمه کول، پاسلول، سپارل. حواله کول، انگیدل، ننگیدل، دد کـارل، دومـارل، پـارول، نیغول، پاڅول.

گماشته : هغـه سړے چې ورتـه څه کار حواله کړے شوے وي، کـارنـده، ایجنټ. وجـه، سوب، سبب.

گمان : گومـان، خیـال، انـدازه، قیـاس، اټکل، شک، شبه، وهم، وسواس.

گماني : خیـالـي، اټکلي، شکي، احتمالي، وهمي،

گمبت : گـنبـد، منـاره، غونډے، عمارت، گنبت،

گمراه : لاره هیر کړے، بې لارې شـوے، ښوئیـدلے، بې دینه، اوړیدلے، گرځیدلے.

گمنام : غیـر معروف، غیر مشهـور، هغـه څوک چې څوک یې نـه پیژني، ورک نومے، پوشیده، ناپیژند گلو.

گمنامي : نامعلومتیا، نامعلوم تـوب، پـوشیـدگـي، غیـر معروفیت، نه پیژندنه.

گناه : جـرم، خـطـا، غلطي، غـلـط کـار کـونـه، قـصـور، خـطـائـي، وبـال، گنا، د ثواب

ضد. د مذهبي احکامو خلاف کار کونه

گناهکار : ګناه کونکے، قصور وار د اسلام د قانون نه خلاف کار کونکے خطاکار

گنبد : وګورئ ګمبت

گنتي : اعداد و شمار. شمیره، حساب لګونه.

گنتۍ : شپیتۀ منټه، شپیتو منټو وخت. ګړی.

گنج : خزانه، دفینه، ګنجینه، مخزن، ذخیره، ګودام، بازار، مارکیټ. د فقیرانو کاسه، کچکول.

گنج : د سر ویښتۀ نۀ کیدنه، ګنجیتوب. یو مرض چې د سر ویښتۀ پکښې دوړیږي.

گنجائش : خالیدنه، خالے. فائده، بچت، مقصد، حوصله، واره

گنجلک : اندول پندول، ارت عورت، انحنا بنحنا. ګنجلک، انګوچه، تاؤ راتاؤ، ګونجي

گنجي : ګونجي، انجل بنجل، ګنځي،

گنجی : ګونجی، د تارونو یا سوتلو غونډارے.

گنجے : هغه سړے چې په سر باندې ئې ویښتۀ نۀ وي یک د حوارو هغه وړے چې د ښمار یو څو دانې پکښې وي.

گند : ناپاکي، غلاظت، بدبوني، بې ترتیبي، ګندګي.

گندانه : یو قسم ساک چې د اوربشو او د اوړي په شان پیدا لري. د پخلي نه علاوه د مستو چغنی او نور قسمه څیزونو سره هم خوړلے شي. ګندنه. ګنده هوړه.

گندبلا : ناولتیا، ګند. معمولي او بیکاره څیز.

گندک : د معدیاتو یو قسم، ګوګړ، ګدهک، کیمیائي نامه سلفر

گنده : ناولے، پلیت بد کردار، شریر، بد فطرت.

گنده خر : هغه خشاک

لرګي وغيره چې سيلاب ئې د خان سره راوړي، ګنګه خړي، ګنګه خړ.

ګنډ : ګينده، بخې، تک هغه ټوټه چې د ګريوانه لاندې ګنډلے شي د ميچنې يا ژرندې د پلونو نه ګير چاپيره د حاوري جوړه کړے شوې غاړه. پامورې

ګنډل : په ستر او تار سره يو خاے کول، سره يو کول. بخې تيرول، تک وهل.

ګنډه : غوټه، پنډوکے، ګنډلی. د پرتوغابن اچولو خاے، بډه، کوډې، جادومنتر، تعويذونه،

ګنډير : يو تريخ بوټے چې مختلف رنګونه لري ګنډير، ګنډيرے.

ګنډيری : د ژولو په غرض د سپين کړې ګنې ټوټه، ګنيری،

ګنګ : وارخطا، اوتر، پريشان،

ګنګخړي : په سيلابي اوبو کښې راالاهو شوي وارۀ وارۀ لرګي. ګنده خړ.

ګنګس : وارخطا، ګډوډ، پريشان، سرګردانه، بې خوده، بيهوشه، بې سوله.

ګنګو : زعفران، راپران، زيړ رنګے

ګنګوړے : د انګورو عنچک،

ګنګوسه : اواره، شوره، شهره، پس پسے، ګوپ ګوپ، بنګالو، افواه، د دروغو خبر خوريدنه. ګنګوسے.

ګنوار : باندېخے، باندېچے، د کلي او باندې وسيدونکے.

ګنهر : د يو ساک نامه، سره چلوائي، عموماً غټو جوارو کښې کيږي.

ګنهګار : ګناه ګار، هغه چې ګناه ئې کړے وي. مجرم، خطاکار،

ګني : د ګنے جمع، لاحقه چې د بعضې اسمونو سره په

راتلو رشته ظاهروي لکه تربګنۍ،

ګنۍ : ګنه، نو، بیا، نو بیا، په نورو ټکو کښې، ګنه، ګواندې، ګوندې، ګندې.

ګنې : د مچو یا ډمرو ګیین. لاحقه چې د بعضو اسمونو سره په راتلو حالدان یا رشته څرګندوي لکه پلار ګی، سخر ګنی وغیره

ګن : ډیر زیات، په شمیر زیات، د رنګې ضد.

ګنارے : د ګن ګن اوار، د ګنیدو اواز، د پټو او ورو ورو خبرو اواز.

ګن رنګے : فصل رنګے کونه، له فصل نه ګن بوټي ویستنه، او کۀ رنګے وي نو پکښې نور بوټي لګونه.

ګنډپ : جیب تراش، جیبونه وهونکے، جیبونه پرې کونکے،

ګنډل : قیاس کول، پوهیدل. خیال کول، ګومان کول، شمیرل، شمارل، منل، قبلول، تسلیمول.

ګنډول : ډیرول، زیاتول، ګورول، ګړول، خبرې ایستل، په خبرو راوستل.

ګنډه : شماره، د اخبار یا رسالې نمبر، جلد.

ګنډه : ګنډوالے، ډیر والے،

ګنډه ګونډه : ډیروالے، ګډه، د حلقو ریاتوالے، کثرت، اژدهام، هجوم

ګنډیدل : ډیریدل، زیاتیدل، خبرې کول، ګړیدل.

ګو : د ګواه مخفف چې د قسم دپاره ونیلے شي لکه خدائے ګو، خدائے ګواه دے.

ګو : ورانګه، وینا، خبره.

ګواټه : د څپیاکو ډیرے، د څپیاکو یو مصنوعي ډیرے چې په ترتیب سره کیښودے شي او بیا د څټې لیو ورکړے شي چې د باران نه بچ وي. ګوواټه.

ګوار : د حیواناتو ګله. ګواړه، رمه، ګوهار

گوار : بدرنگ، بدشکل، شارشپار، کنده، پوچ، خراب، ناکاره، پووار، پوهار

گواره : د خاروو رمه، گوار، گوهار.

گوارې : لوے څادر، له بوجو جوړ کړے څادر، خل.

گوابش : د جنګ نه جدا کونه. ثالثي. منصفي. د دوؤ تنو جوړه راوستنه، رورونه، درکه، خوف ورکونه، هڅه، جګړې ته راولاړيدنه،

گواه : شاهد، ګواهي کونکے. ثبوت ورکونکے، شيد.

گواهي : شهادت، ثبوت ورکونه، شاهدي، شيدي.

گوپي : يوه سبزي چې سپين غټ ګل لري او ګل ئې پخولے شي.

گوته په خلۀ : حيران، حق دق، هک پک، حق حيران، اريان دريان.

گوټ : د مائع څيز هغه مقدار چې خلۀ پرې د ګيږي غړپ، جرعه.

گوټل : څښل، غړپ کول، په گوټ گوټ څښل.

گوته : يادونه، يادداشت، حفظ کونه، بغير له پوهې يادونه.

گوتي : يو خاص قسم دارو چې ماشوم له د پيدا کيدو سره ورکولے شي.

گوجر : د غوا ميښو ساتلو او پيو خرڅولو کاروبار کونکے.

گوجے : د يو سمندري لعاب دار چينجي خول يا پوستکے. سيپي، کودړ، کنجکه، خرمهره. خول، پوستکے.

گوځموځے : غلے غنځے، هغه څوک چې ډيرې خبرې نۀ کوي، هغه څوک چې د زړۀ راز چا ته نۀ بنکاره کوي.

گودام : ذخيره، ډپو، ډيپو، د څۀ څيز ذخيره کولو ځاے.

گودر : په سيند د پورې وتو ځاے يا لار د سيد هغه ځاے

چې زنانه تري اوبه راوړي. لاره، رو.

گودر : زور او بوډا خاروے، زور، بیکاره.

گودرې : د ملنګانو زور او لوے پیوندي څادر، کند.

گوډ : د فصل صفائي، فصل ته په کودالـه یا رمبي زمکه نرمونه او وابنهٔ وغیره ایستنه.

گوډ : هغه چې په کودالـه یا رمبي نرم کړے شوے وي. صفا کړے شوے.

گوډاګے : د ګوډی مدکر، جثه. هغه سړے چې د بل په اشارو کار کوي.

گوډمار : ګوډ کونکے، هغه سړے چې ګوډ کوي.

گوډول : ښـ ته په کودالـه یا رمبي زمکـه نرمول او غیر ضروري بوټي ویستل، فصل صفا کول.

گوډه : پـــه ادب ســره کښینـاستنه، متوجه کیدنه، ګونټه،

گودیدل : پـه پښـه یا پښو معذوره کیدل. فصل ته زمکه نرمیدل او وابنـهٔ وغیره تري ویستلے کیـدل، فصل صفا کیدل.

گودے : د خارورو د ګودیدو یو مرض. هغه چینجے چې د جوارو بوټي کښې پیدا کیږي او بـوټـے وچـوي د بـورې میښې وغیره د مړ بچي څرمن چې د بوسو نـه ډکه کړے شوې وي. د څرمنې نه حوړ هغـه څیـز چې دانې، چرس، غورې یـا نـور داسې څیزونـه پکښې خوندي کولے شي.

گور : قبر، مزار، د برزخ د ژوند تیرولو ځای.

گور : د رنګـي ضـد، ګن، ډک او خـورووړ، ډیر او سره نزدې نزدې.

گورخر : د خر پـه شان یو خـنګلي څناور چې غوښه یې حلاله وي،

گورستان : قبرستان، مقبره

اډيره، هديره.

کور کښ : قبر کښتونکے، قبر کند، قبر کن.

کور کابے : يو قسم لوے او ژور بوټ.

کورم : د خاروو کلـه، رمه، کواره، لويه ډله،

کورمکی : يو قسم وړوکے قد لرونکې چرګه، پيشتکی چرګه،

کورنو : د صوبې حاکم، د صوبې اختيار مند.

کورنوي : د کورنو عهده، د کورنو کار.

کورے : خدائے خبر، ګومان مې نه شي. د شک او بې يقينی کلمه.

کور : هغه وړه سوړه يا غار چې د اوبو د جريان نه په پټي يا وله کښې پيدا شوے وي.

کورو : ډير خوږ، په کانی کښې د ګنو د شربت نه د کورې جوړولو ماهر، چې د کانی په کلهم کار پوهه وي.

کوړه جوړونکے.

کوزار : کـزار، غـوزار، درب، ډب، وار.

کوزن : د بـدن د رچيـدو مرض، کوزن، ربه ربے، فالج،

کوسـاله : د غوا بچے، سخے.

کوسړه : سـختـه څپـړه، مضبوطه څپړه، ګوزار.

کوش : غـوږ، غوږونـه، اوريدنه.

کوشـمال : غوږ تاوونه. سـزا، وهنـه، ګوشمالي، ګوښمالي، ګوښمال.

کوشنه : د شنه تابع مهمل وکوړ شنه ګوشنه.

کوشواره : د حساب کتاب، خلاصه، ميزان. ټوټل.

کوشه : ګوښه، ګوټ، کُټ، کنـج، قـنـج، کـناره، خلوت، يواځې، د يواځې ناستې ځاے.

کوګ : هغه څۀ چې منځ ئ تـش وي. ډډ، ګوګن، لسبه، برښک، پون.

کوکل : سینه، د زړهٔ صندوق، کوکر، د زړهٔ خانه.

کوکل : په منځ کښې تشول، تراشل، ډډول.

کوکو : د خطرې چغه یا غږ، ټلی، الارم، د اور کاډې چغه.

کول : حیران، پریشان، هک پک.

کول : په خنو لوبو کښې د لوبو د میدان هغه حصه چرته چې په یوه معینه طریقه رسیدلو باندې هغه خاے سره متعلق فریق بائیلات وکړي.

کوله : نوړی، نمړی، قپ، کپه، روزي، رزق.

کوله : کړده درنه سکه، کلوله، د توپې کوله.

کوله بارود : کولی او بارود، وسله، میخزین.

کولیدل : حیرانیدل، پریشانه کیدل، حل کیدل، ویلې کیدل، ګلیدل، خاریدل، قربانیدل، ځونلے کیدل، ګډیدیدل، پیچیده کیدل، فتنه راوچتیدل.

کولی : وړوکے غونډے خیز، کلوله، په یو خاص مقدار کښې ګلوله کړے شوې دارو د کارتوس هغه له سیکې جوړه حصه چې څهٔ شے پرې ویشتے شي. مړدکے،

کون : دا د عدد په اخر کښې راځي چې د نسبتي عدد او مساوات معنيٰ پیدا کوي لکه لس کون، سل کون.

کونټ : د تار ګونجی چې د کاغذ یا ګتې د نچې نه تاؤ کړے شوې وي.

کونټه : د پښې رابرغولو په صورت کښې د رنګانهٔ ستر که، د راغبرګې کړې پښې سر، ګونډه.

کونجی : د تارونو کولی، خرخی یا اتیرن چې تارونه پرې خیژي،

کوند : یو قسم سلیښ ناکه ماده چې له ونو حاصلولے شي. سریش، سریښ.

ګونډیمال : ګنډے، ګونډے دوباره غوبل کونه.

ګونګ : له قوت ګویایی محرومه، هغه چې خبرې نه شي کولے، ګونګے، ګونګا، ګونګو.

ګونګټ : یو تور رنګ لرونکې الوتونکې حشره چې تعلق ئ د ګندګی سره وي. تک تور او چالاک لښے سړے.

ګونګتی : یو سور رنګ لرونکې وړه حشره چې د سبزو پاڼې خوري.

ګونګرو : جرس، ګنګرو.

ګونګړي : د جوارو چنو وغیره یشولے شوې دانې، چولې.

ګونګورے : د انګورو غنچک، غوشه، خوشه.

ګونګه روژه : مکمل خاموشي، ارادتاً خاموشي، بیخې خبرې نه کونه.

ګونګی : د ګونګي مؤنث.

ګونګے : یو قسم مارغۀ چې عام طور سره سپیرۀ ګنلے شي. بوم، اُلو.

ګونی : بوری، بوجی، ګوندے، غوندے.

ګونیا : د ګلکارانو د لرګي یوه پیمانه چې د دیوال کوړوالے او سموالے پرې معلومولے شي. هغه څیز چې پرې د بل څیز اصلاح کولے شي. د ګوتې هغه حصه چې غمے پکښې کیښودے شي.

ګونے : د سپرې په شان یو چینجے چې په غله دانه کښې پیدا کیږي او غلې ته نقصان رسوي.

ګوه : هغه درز یا چاود چې په لرګي کښې د څیرلو دپاره وکړے شي. په لرګي کښې د پانې ورکولو چاود.

ګوهر : مرغلره، مروارید، قیمتي کانے، جوهر. اصل، نسل، ماده، ذات.

ګوهري : د قیمتي کانو، د

ملغلرو ، جوهري، د ګوهر په شان.

ګويا : وينا کونکے، خبرې کونکے، بنهٔ تقرير کونکے

ګويا : غوندې، لکه، هوبهو. مانند، جوړې، بالفرض

ګويائي : خبرې، د وينا طاقت، د خبرو کولو قوت

ګوئے : غنډسکه، پلپوس، هر يو غونډے څيز.

ګهواړه : خانګو، زانګو،

ګهيځ : د سحر وخت، سحر سبا.

ګهے ګهے : کله کله، کله نا کله، ګهې ګهې.

ګي : لاحقه چې د بعضې صفتونو په اخر کښې په راتلو اسم جوړوي لکه زنده نه زندګي وغيره.

ګيا : د څارورو خوراکه، وابنهٔ، ګياه.

ګيپ : سمدستي، په ناخبرې کښې، ګيپ شيپ، اچانک.

ګيتي : دنيا، جهان، عالم.

ګيتے : له پوندې نه بره دواړه طرف ته د پښې راوتلي هډوکي، وړوکے څيز، هغه وړه غونډۍ لوښه چې د چيلم په توپې کښې اينبوے شي. د شطرنج مهره، ګوټ، ګيټے.

ګيتے : وړوکے غونډوے کانے، ګيټه،

ګيج : کنکس، بيهوشه.

ګيچي : د هډوکي مغز، چغړے، چزغي، پوشه.

ګيدړ : د سپي په شکل يو څنګلي څناور، شغال، بزدل، ډرن.

ګيدړ سهنګي : يوه کلکه غوټه چې د ګيدړ له تندې نه ويستے شي د کومې په حقله چې دا مشهوره ده چې دا د چا سره وي نو هر خواهش ئې پوره کيږي.

ګيدړ وادهٔ : په نمر کښې د باران وريدو حالت.

ګير : نيونکے، ګيرونکے،

لاحقه لکه تونبه گیر، ارمان گیر.

گیلاس : د الو بالو د ذات یو قسم خوږه میوه. د پرونس د خاندان یوه ونه. ارغنجال.

گیلپ : د سرو سپینو او زیړو په شان یو دهات چې د وسپنې کورنی ته زیات نزدې وي.

گیله : شکوه، شکایت، گله،

گیله من : هغه چې گیله ئ وي، گیله لرونکی. گیله مند،

گیندله : هغه ټکونه چې په ستن او تار کپړې وغیره له ورکړے شي.

گینگړے : وړوکے گونگړو،

گیډل : د بون تار تیریدل، بونلے کیدل، گنډلے کیدل.

گیډل : بون یا تار تیرول، بونل، گنډل،

گیټ : دروازه، ور، پاتک، لاره، د دوۍ غږونو په منځ کښې تنګه لاره.

گیډے : کم عقل، احمق، بې وقوف، هغه چې د خپلې ښځې د ناکاره کارونو نه د خبریدو باوجود ستر گې پټوي، بړوا، دله، دووس، نامرد، هیجړا، خصي. بزدل، ډرن.

گیډي خر : ډیر غټ کم عقل، احمق، بې وقوف.

گیډو : ډیر خوراک گونکے، خیټو، گیډه ور، گیډو، ډیر خوراکه.

گیډه : خیټه، نس، حمل، امید، امیند.

گیډی : د فصل، وښو، خشاک، وغیره یو خاص مقدار چې په وندني ترلے شوے وي.

گیر : نښتے، گرفتار، نیولے شوے، اړ، اخته، مبتلا، اوړیدلے.

گیر پیر : اخوا دیخوا، دوکه، دهوکه، چل، فریب

گیرچاپیر : چارچاپیر، هر طرف ته، گرد چاپیر، گیر

چاپیره.

کیرول : نښلول، نیول، قابو کول، بندول، ګرفتارول، اخته کول، اړکول.

کیره : احاطه، دائره، کربنی، حلقه، ولقه.

کیریدل : ګرفتاریدل، نیولے کیدل، ایسارپدل، بندیدل، ترلے کیدل.

کیس : د ټوس او مائع نه علاوه د مادي هغه قسم چې نه ی معین حد وي او نه حجم حو بیا هم هر قسم مکان ډکولے شي د مادي دریم حالت، د سوریدو په کار راتلونکي بخارات.

کیسو : لوے لوے ویښتۀ، کمښی.

کیل : لاره، سړک، د ریږې، ټانګې وغیره د پلونو جوړه کړې لار.

کیلن : د مائع دپاره پکاریدونکے یو په ناپ لوښے چې تقریبا د دوه سوه او لسو چټاکو برابر وي.

کینټه : شپیتۀ منټه، ګړی.

کې : د غونډي ستن. هغه غټه ستن چې بوری یا غوندې وغیره پرې ګډلے شي. یوه لاحقه چې بعضې اسمونو سره په راتلو اسم تصغیر جوړوي لکه کوټکی، لوټکی.

ګے : یوه لاحقه چې د بعضې اسمونو سره په راتلو اسم تصغیر جوړوي لکه غر نه غرګے، تبر نه تبرګے وغیره.

ل : (لام) د پښتو د حروف تهجي د پنځمې خلور دیرشم حرف. په ابجدو کښې دیرش (۳۰) عدده دي.

لا : اوسه پوري، تر دې وخته، کله، کله پوري، لیا. دویم، زیات، پرې د پاسه.

لاپزن : لاپې کونکے، لافزن، لاپو، دوزمار، لپرو،

لاپه : خان ستائینه، خان ښودنه، دوزه، پوته، باډه، لافه.

لاتو : یوه وړه لکې لرونکې مرغی.

لاتین : د رنا یوه آله چې باتي ته ئې له هوا د بچ کیدو په غرض شیشه لګولے شوې وي.

لاثاني : بې مثله، بې نظیره، یکتا، چې سیال ئې نه وي.

لاجواب : لاخواب، خاموش، غلے، چپ، مغلوب، عاجز، چې خواب ور نه کړے شي. دروغژن، بې مثله، لاثاني چې جواب ئې نه وي.

لاچار : ناچار، لاځار مجبور، بیوسه، محتاج.

لاچي : یو قسم خوشبو دار بوټے او د هغه دانې.

لاحقه : هغه کلمه چې د بل لفظ سره وروستو لګي او په معنيٰ اثر پرې باسي. لفظ پسې لګیدونکې کلمه.

لادباد : طاقت، قوت، زور، توان.

لار : لاره، لیار، لیاره. د تګ خاے، هغه خاے په کوم چې تګ راتګ کولے شي. سړک، رو. قاعده، طریقه، رسم، اصول، اسلوب، د سر د ویښتو په منځ کښې کرښه

لارښود : لار ښودونکے، رهنما، لار سمونکے.

لارغه : ډیل، خند، تاخیر وړاندې تیر شوے.

لاروے : لارو، لارے. په لار تلونکے، ناآشنا، راهروے، پردے،

لاره : وګورئ لار.

لاره چاره : روګدر، حل، تجویز، هوارے، بندوبست، غور، تعلق، راشه درشه، روزګار ساتنه، مړے ژوندے.

لاری : په تیلو چلیدونکے لوے ګاډے، چکړه، بس، ټرک.

لار : سلسله، قطار، د غاړې کالے، امیل.

لارۍ : د خلې اوبۀ، لعاب، توکانې.

لارے : هغه لرګے چې په کوټه اچولے شي. لهړے، ډاکه،

لازم : ورورستو لګیدلے، نښتے. فرض، ضروري، په ګرامر کښې هغه مصدر چې صرف فاعل لري.

لازمي : ضروري، واجب، فرض، خامخا، بالضرور

لازوال : هغه چې زوال نۀ لري. همیشه پاتې کیدونکے.

لاس : په انساني بدن کښې له اوږې نه د منګلې تر ګوتو پورې حصه چې انسان پرې کار کوي. د مټ، منګل او ځنګل شریک نوم. دست، بازو، طاقت، قوت. استعداد، لیاقت، قابلیت. د نیم ګز مقدار، وار، خل.

لاسکے : د څۀ څیز د نیولو ځاے، موټے، لاستے، دسته، چومبے، چمبے.

لاس لیک : دستاویز. اقرارنامه، دستخط.

لاسه نیوه : بیعت، مریدي، د چا مریدي اختیارونه، لاس نیوے، فاتحه، د مړي دعا.

لاش : مړ وجود، مړ شوے بدن، نعش، میت، مړے، مرده، لاښ.

لاشعور : پټ عقل، عقل مخفي.

لاشۀ : لیاشه، لیاشۀ، لشن، لشکه، لاشه، لیشه، لشه. د مچی، ډمبرې یا لړم وغیره هغه تیرۀ ازغے چې دشمن له پرې تک ورکوي. د غنمو

اوربشو وغیره د وړې نرې ازغې. د کب په وجود کښې نرې تیرۀ هډوکې. بدخوئ، بدعادت.

لاعلاج : لادوا، هغه چې څۀ حل ئې نۀ وي. لاینحل.

لاعلم : هغه چې علم ورته نۀ وي. نۀ پوهیدونکې، ناخبر.

لاعلمي : ناواقفیت، بې خبري، ناپوهي.

لاغر : کمزورې، تپ، نرې نروچکې.

لافاني : هغه چې نۀ فنا کیږي.

لاک : له چینجو پیدا کیدونکې یو قسم سلیښنا کې ماده چې عموماً د بنګړو جوړولو او مهرونو لګولو په کار راوستے شي.

لاکړه کاکړه: د ماشومانو یو مرض چې په وجود پکښې سرې سرې دانې راوخیژي.

لال : یو قسم قیمتي کانے، لعل. سور رنګې.

لال : پرتوغابش. هغه څوک چې خبرې نۀ شي کولے، ګونګ، ګونګے. تړتړے، چارا.

لالا : پلار، مشر وړور یا اوښي ته د خطاب کلمه. صاحب، معزز، جناب، بناغلے، د هندوانو خطاب. بنیا، ساهوکار، خوږ، ګران، عزیز، سخر، خسر.

لالچ : حرص، طمع، لیوالتوب، رشوت.

لاله : یو سور رنګ ګل چې په منځ کښې ئې تور داغ وي.

لام : د فوځ یا پلټنې مجموعه. د جنګ په نیت د فوځ غونډه، د جنګ تیاري.

لامها : لامبل، غسل کونه، په وجود اوبۀ تیرونه.

لامبل : لمبل، غسل کول، په ټول وجود اوبۀ تیرول.

لامبو : په ژورو اوبو کښې د ګرځیدو یا تیریدو فن.

لامبوزن : لامبو وهونکے.

هغه څوک چې لامبو نۍ زده وي.

لامس : ګوتې ورورونکے، مس کونکے، په ګوتو ورورلو معلومونکے.

لانجه : مسئله، پیښه، جنجال، مصیبت، شخړه، ربړه، جګړه، پیچیده خبره، تاؤ راتاؤ خبره.

لاندینے : هغه چې لاندې وي، ښکتنے.

لاندې : کوز، ښکته، زیر.

لاندے باندے : ښکته والے پورته والے. تعلق، راشه درشه، واسطه، شخړه، ربړه، تنازعه، کمے زیاتے.

لاوارث : هغه څوک چې وارث نه لري.

لاون : زیړې شوملې. انګولے، ترکاري، کړي، سالن، سالن، پخکړے.

لاهم : تر اوسه، لا پورې، نور پرې د پاسه.

لاهو : اوبو ډوب کړے عرق، اوبو وړے، ضائع، توی.

لائبریري : کتب خانه، دارالمطالعه.

لائسنس : اجازت نامه.

لائق : مناسب، موزون، قابل، جائز، درست، سم، صحیح، اهل، جوګه.

لایه : تش، خالي، وزګار، هسې، لیه، خوشے، ایله.

لب : شونډه، ژی، غاړه، ډډه، طرف، اړخ، ساحل، د دریاب غاړه، حاشیه، نلی.

لباس : جامې، کپړې، پوشاک، شکل، وضع، ډوله

لباسي : ریاکار، ټکړن، دوکه باز،

لبریز : ډک، تر خلې خلې ډک،

لبلبو : د تیږو د قسم یو بوټے چې چینې ترې ویستے شي، چقندر.

لپه : د څه څیز د ناپ کولو یا راچولو دپاره راغونډ کړے ... دپاره غبرګ چونګه.

د دوارو غبرګو چونګو مقدار.

لتار : چغني شوے، پامال، تس نس، اخته، نښتے، ککړ، تباه، برباد، وران ویجاړ.

لت پت : لت پت، لتولے، چاپ کړے شوے، په هر اړخ کتلے، ګلوړ، دانه دانه، لیت پیت، لړلے، ککړ، خراب، په بد حال.

لته : زړې جامې، زوړ لباس، کینډرې.

لټ : د ارټ یا د ګانې یوه پرزه چې څرخ پرې چورلي. محور، د مارغانو یا ګیډړانو نیولو پرکه، دام.

لټ پټ : اړولے شوے رااړولے شوے. اړخ په اړخ کتلے شوے، لټولے شوے، لت پت.

لټر پټر : الا بلا، بلا بتر، یو څهٔ بل څهٔ. مختلف څیزونه.

لټکه : د مار یو قسم، دوه سري، لنډی.

لټول : معلومول، کتل، لټون کول، د راپیدا کولو کوشش کول، تلاش کول.

لټون : تلاش، ډډون، معلومونه، کتنه، لټه، راپیدا کونه.

لټه : د لټ مؤنث، ناراسته، سسته، نارامه.

لټیدل : ناراستیدل، سستیدل، رابیداریدل، راپاڅیدل.

لچر : کمینه، رذیل، لوچه، کم اصل، بې شرم، بې حیا، لوچه، لچک، لنډور، سپین ستر ګے.

لچک : پوست والے، نرمي، د څهٔ څیز په نزاکت سره حرکت کونه، د اجسامو د غځیدو، کږیدو، راغونډیدو او بیرته خپل حالت ته د تلو قوت. کږوالے، خم، کوږ والے.

لحاظ : نظر، مخ، خاطر، شرم، حیا، مروت، سرپتوب، خیال، پام، پرهیز، احتیاط،

توجه، غیرت.

لحاف : لـه مالوچو ډکه برستن، نالی، نیالی.

لحد : قبر، مزار، ګور، د قبر په منځ کښې هغه ژوره کنده چې مړے پکښې اینبودے شي.

لحظه : د وخت معمولي حصه، ساعت، ګړی، شیبه، دم.

لختے : لښتے، پتو ته د اوبو د تلو لار، وړه نری وله.

لد : لـه پرو نه جوړ څادر، چې د څاروی بار یا څټه پکښې ترلے شي، ترنګن، کورے، ګرلسه، باز.

لذات : د لـذت جـمـع، خوندونه، مزې، ذائقې

لذائذ : د لـذت جـمـع، خوندونه، مزې، ذائقې.

لذت : خوند، مزه، ذائقه.

لذیذ : خونـده ور، مزیدار، خوش خوند.

لر : ښکـته، لاندې، کوز، ټیـټ. ارزان، کـم قیمتـه، سپک، د ادنې درجې، لاندې، پاتې. مغلوب، ماتې خوړلے، شکست خورده.

لـرزان : لـرزان، رچ، ریږدیدنه، رپ ریږ، لړښپ، لرزه، لرزش.

لـرغـون : وړانـدې، مخکښې، وړومبے.

لـرغونے : وړانـدینے، مـخـکښینے، زوړ، وړومبنے. پخوانے.

لرګے : د ونـو یا بوټو کلکه حصه چې د سوځولو او تعمیر د کـارونو دپاره استعمالیږي. چوب.

لرل : سـره کیـدل، په قبضه کښې کیـدل، سـاتـل، شتـه کیدل، سره موجود کیدل.

لروکے : د لـور اسم تصغیر وړوکے لور.

لرې : جـدا، بیـرتـه، په ډیره فاصـله، بعید. اخوا، ډډې ته، ورک، پناه.

لړے : د خارو معده.

لړے سوپړے : د خاروي معده او د ګیډې دننه نور مختلف قسمه اندامونه لړے، کولمې، پړپوس وغیره. لتر پتر. فضول او بیکاره خیزونه.

لړ : هغه تار چې ګریوان پرې راټول وي. هار، امیل، لار، ول، ګونحه، سلسله، قطار.

لړزیدل : رپیدل، رچیدل، لرزیدل، ریږدیدل، وار حطا کیدل، ویریدل.

لړل : ګډول، ګډوډ کول، اړول رااړول، ګنده کول، په خټو یا بل څیز ناولے کول، شور پور کول، ککړول، په څهٔ سازش کښې شریکول.

لړمون : لړمین. د ګیډې دننه حصه. لړمابن، باطن، دننه، زړهٔ، روح.

لړمه : یو قسم سره دانه چې په وجود راخیژي.

لړه : خړه، ګوره وریځ، دوند، ګرد.

لړه : سلسله، قطار، لړ، لړی.

لړه : غرخیدلے، غرخولے شوے، پریوتے.

لړی : سلسله، قطار، لړ. امیل، هار، ضمن، باره، حقله.

لږ : پوتے، کم، معمولي، قلیل

لس : د نهۀ او یوولس تر منځ عدد. عشره.

لسان : ژبه، وینا، بیان.

لسانیات : د ژبې د تاریخ علم، د ژبې د ابتدا ارتقا او د تشکیل د قانون علم.

لستوڼے : د قمیص، کوټ وغیره هغه حصه چې لاس پکښې پټ وي. د قمیص له لاس نه چاپیره حصه، آستین،

لسکون : د لسو روپو نوټ.

لسي : نرم شودهٔ یا شوملي چې اوبهٔ پکښې ګډې کړے شوي وي.

لشکر : لښکر، فوځ سپاه،

کن خلق، ډیر خلق، د ډیرو خلقو ډله.

لشمکه : ورانه او چالاکه، نخره بازه، لک لکی، لشمکی، شوخه.

لښتی : د غوړولو یو کالے، والی.

لښتے : فصل یا پتو ته د اوبو د وروستو لار، لختے، وړه نرۍ وله.

لښکري : د لښکر سره نسبت لرونکے.

لطافت : پوست والے، نرمي، نزاکت، ښائست.

لطائف : د لطیفه جمع.

لطف : عنایت، پیرزو، مهربانی. ښه والے، خوبي، پوست والے، نرمي، مزه، خوند، لذت

لطفاً : په مهربانی، از راه کرم، په مهربانی سره.

لطیف : نرم، نازک، پوست، صفا، روښ، پاک، پاکیزه، خوندناک، مزیدار.

لطیفه : ښځۀ څیز. د خندا خبره، دلچسپه خبره، شگوفه، نا اشنا، عجیبه.

لعاب : لاړۍ، تو کانۍ، په خلۀ کښې دننه موجوده نمي.

لعنت : ملامت کونه، رټنه، غندنه، بد وئینه.

لعنتي : هغه چې لعنت پرې ووئیلے شي. رټلے شوے، مردود، لعین.

لغات : د لغت جمع. الفاظ، ژبې، هغه کتاب چې پکښې د یوې ژبې الفاظ او د هغو معني لیکلے شوي وي. فرهنگ، ډکشنري.

لغت : ژبه، لفظ، هغه کتاب چې پکښې الفاظ او د هغو معنې درج وي. فرهنگ، ډکشنري.

لغته : لته، لکته، ډته، په پښه کوزار کونه، لګد.

لغړ : بربنډ، لوڅ. بې حیا، بې شرم. شاهین، لنډ وزرے.

لغزش : پښې خوئیدنه،

پـريوتو ته نزدي کيدنه، خطا، غلطي، ګمراهي.

لغو : پـوچ، بـې فـائدې، بې هوده.

لغوي : لـغت سره منسوب، لفظي، د لغت، د ژبې.

لغويات : فضول خبرې، بې هوده عمل او حرکتونه.

لفافه : پاسنے پوټ، خول، د کـاغذ غلاف چې خط پکښې ښـندولے شي. ظاهري سامان، د خـان بنودنې سامان. د مړي لـه وجـوده راتـاوونـکې سپينه کپړه.

لـفظ : کـلـمـه، لـه خـلـې راوتونکې خبره. ټکے، تورے.

لفظاً : په لفظ سره، د لفظ په اعتبار سره.

لفظي : د لفظ سره منسوب. اصلي، حقيقي، نعوتي.

لفنگ : لـوچـه، بدعمله، لـوفـر، بـدمعاش، هغه څوک چې جيب ئ خالي وي.

لقا : ديـدن، مـلاقات، ليدنه. مخ، څهره، شکل.

لقب : د څهٔ خاص صفت په وجه ايښودلے شوے نوم.

لقمه : نـورۍ، نمړۍ، نواله، قپ، کپه.

لک : نيـغ، وچـت، ولاړ. سل زره، لاک، هغه داغ چې د سوزيدو په وجه په بدن پاتې شي. وراني خبرې، بکواس، د سپـي غـپـارے، بې وقوف، کم عـقـل. بـې هنره، زړې جامې، زوړ لباس.

لک پتي : د لـکـونو روپو خاوند.

لکچر : سبق، درس. وعظ، تقرير، زباني تقرير.

لکچرار : درس ورکونکے، مـدرس، سبق بنـودونـکے، واعظ، تقرير کونکے.

لکـړه : نـرى وچـه ونـه، چـوکـه، لنډى لښته، د جنډې وړده ډنډه.

لکشوه : هـوسى، نرکشه، لکه بنويه.

لکلمے : د کناټو د منځ هډوکے، هغه هډوکے چې د مقعد دپاسه ختم شوے وي. لکموے.

لکنت : تږتږې توب، په ټینټې ژبه خبرې کونه،

لکه : غوندې، په شان.

لکیدل : وچتیدل، نیغیدل، ودریدل، ولاړیدل، نصب کیدل،

لکی : د خناورو د ډونګې دپاسه د بدن نه تیرے هغه وروستی حصه چې عام طور سره پرې خناور له خانه مجان شړي. د مارغانو وروستی وړدې ښې. وروستی حصه. انجام، پیچلک

لګام : واګې. لغام. عنان،

لګاؤ : ګورار، صرب، ګیل

لګته : لته، لغته.

لګه : د سیلاب لاره، خور، د سیلابي اوبو لاره.

لګښت : خرڅ، لګښت، مصرف، لګد.

لګن : تعلق، نسبت. شوق، مینه، عشق، محبت. ساعت، ګړۍ، وخت، وادهٔ، د وادهٔ نیټه ایښودنه د وادهٔ تاریخ او وخت مقررونه. د نمر د حمل په برج کښې د تلو ساعت. د اوړو اخښلو لوښے، ښانک.

لګول : نښلول، سره یو ځاے کول، سمول، ترتیب سره ایښودل، خرڅ کول، صرف کول، بلول، لمبه کول، مقررول، لګیا کول، اخته کول، حاملول، بلاربول، نصب کول، ورپورې کول، منسوب کول، ترل، په داؤ ایښودل، نال کول، کرل، ورپسې کول.

لګیا : اخته، اړم، مصروف، مشغول.

لګیدل : خپلو کښې سره جنګیدل بلیدل، نښتل، ګولی خورل، ګوزار خورل، زخم خورل، صرف کیدل، مقرریدل، فاعل کیدل،

ارامیدل، اثر انداز کیدل، موافقت پیدا کیدل، نصب کیدل، سمیدل، پسې کیدل، منسوب کیدل، ترلے کیدل، په داؤ ایښودلے کیدل، نال کیدل، کرلے کیدل، زرغونیدل، شین کیدل.

لل : هغه څوک چې خبرې نه شي کولے، ګونګ، ګونګے.

للمه : بارانې زمکه، هغه زمکه چې د باران په اوبو سیرابیږي. للمي.

للمي : د للمې فصل، بارانې فصل، هغه څوک چې کوزاره ئ د للمې په زمکه وي.

للو : یوه کلمه چې مور ئ بچي ته د ودۀ کولو په غرض وائي.

للوپتو : خوشامنده، چاپلوسي. په مشکله کوزاره کونه.

للون : فصل ریبنه، فصل لؤ کونه. له فصل نه وابنۀ ویستنه، فصل رنګے کونه، صفا کونه. کوشش.

لم : د ګډ وروستی حصه، د ګډ پلنه لکی.

لمبا : غسل، ځان پاکونه، لامبا، په بدن اوبۀ تیرونه.

لمبر : نمبر، درجه، منصب، مرتبه، عهده، وار، نوبت، پیره. شمار، شمیره، تعداد.

لمبول : غسل ورکول، پاکول، د بل په بدن اوبۀ تیرول.

لمبه : د اور شغله، غرغنډه. تاؤ، ګرمي. یو قسم مرض چې پکښې د وجود د تاؤ په وجه په بدن سرې سرې دانې راخیژي.

لمځے : د وړی تغر، قالین، بستره.

لمحه : لحظه، ساعت، لږ وخت.

لمدول : تر کول، لوندول، خوشتول.

لمده بل : لنده بل نگلے، انبرولے، سالن، ترکاري، رطوبت، لوندوالے.

لمړی : د خوراک خلې ته اچونکے مقدار. نمړی، نواله، کپه، لقمه.

لمس : کوتې وروړنه، څۀ څیز سره لاس لګونه.

لمسول : د بل خلاف راپارول، د بل خلاف بدی ته اماده کول، تحریک ورکول، لمسون کول.

لمغړي : منت زاري، فریاد، ژړا فریاد، واویلا، چغې سورې.

لملیټ : تاخیر، ایسارتیا، ځنډ.

لمن : د قمیص لاندینی خورنده حصه جولی، خولی. د څۀ څیز غاړه یا ژی.

لنډ : د وړد متضاد، کوتاه، مختصر، نزدې، قریب.

لنډهار : د تنګ زړۀ خاوند، تنګ زړے، زر غصه کیدونکے، د خودغرضی دوستي کونکے، خپل مطلب دپاره دوستي کونکے

لنډور : لویه لنده لرونکے. لنده ور.

لنډیز : خلاصه، اختصار.

لنډۍ : یو قسم مار، دوه سري، لتکه، کورمار.

لنډۍ : د پښتو د اولسي شاعرۍ یو صنف چې وړومبی مصرعه ئ لنده وي. تپه.

لنډے : کم قد لرونکے، پیشتکے. بونډے، لکی پریکړے.

لنګ : هغه کپړه چې د پرتوک په خاے له وجود نه تاوهلے شي، لنګوټ.

لنګر : د قافلې د ودریدو خاے. د وسپنې زنځیر یا رسی چې د کشتی د ودرولو په غرض په څۀ مضبوط څیز پورې ترلے شي. هغه خاے چرته چې ملنګانو او فقیرانو

له خیرات ورکولے شي. هغه روټی چې په فقیرانو او مسکینانو خوړولے شي. د لوبو خلقو باورچي خانه، د خیمې لویه رسی، د پهلوانانو لنګوټ، د ملا لاندینی حصه، کناټي، ډونګه. وزن، بوج،

مک : هغه سورے چې په کوټه کښې د لوګي وتلو ډپاره جوړ کړے شوے وي. موری، روشن دان، دو کانچه. لويه پيالی

مکر : د هندي شمسي کال د يوې مياشتې نامه چې د کتک نه پس او له يو نه مخکښې راځي

مگر : خو، لیکن، لاکن

مگرمچ : یو آبي ځناور

مکه : د چایو څښلو لویه پیالی

مل : انډیوال، ملګرے، اشنا، مرسته کوونکے

مُلا : ښه لیکونکے، عالم، فاضل، د جماعت امام، واعظ، زاهد، ناصح

ملا : د کناټو او څټ په منځ کښې د وجود حصه چې د ملا تیر پکښې عریدلے وی

مُلا بانګ : د سحر د بانګ وخت، بانګ مال

ملا بند : هغه شے چې د ورباندې تړلے شي ملاسی کمربند

ملاتړ : مصوطیا، ورسره حلق، مرسته، حمایتي، امداد کونکے، یار، دوست، کمربند

ملاچرګک : یو قسم مارغهٔ، هدهد

ملاح : مابګرے، ـحد کښتي چلونکے

ملاحت : مالګین توب، نمکیني

ملاحظه : ملازه، معائنه، کتنه، مشاهده، غور، توجه، مروت، ریا، شرم.

ملازم : خادم، نوکر

ملازه : ملاحظه، پاسداري، رعایت، مخ مروت، شرم.

ملاقات : یو بل سره لیدهٔ کاته، پیژندګلي، واقفیت، جیل ته د قیدی لیدو له تلل

ملال : خفګان، خفه، غمژن

ملالي : ښائسته ښځه، محبوبه، یاره

ملا ماتے : یو قسم ټوپک چې په ملا ماتیږي دوه ملیر حریدار هم هغه ټوپک چې د کوډ په وخت ماتولې شي

ملامت : ګرم، شرمنده، پیکه، کچه شوے

ملائکه : فرشته، فرښته

ملائم : پوست، نازک، نرم

و نازک، بردبار

ملبوس : د اغوستلو جامې، په جامو کښې نغښتے

ملبه : د رنګ شوې دیوال وغیره حاورې کتې او بلا بتر چې سره ګډوډ شي

ملت : دین، مذهب، قوم

ملتوي : خنډیدلے، خنډولے، التوا کښې پاتې شوے.

مُلتې : د غاړې دپاره یو مفرد حکیمي دارو چې خوند ئ خوږ وي، حوږه ولې، ملهتي.

ملحد : الحاد کونکے، بې دینه، کافر.

ملحق : لګیدلے، منسلک، یو خاے

ملحوظ : لحاظ ساتلے شوے، لحاظ کړے شوے خیال کښې ساتلے

ملخ : نهوقا، یو قسم حشره چې په فصلونو کښې پیدا کیږي. ملخے

ملخوزه : یو قسم ساک چې پرځولے سي او د پې ئ د ستر کو دارو کښې پکار یږي

ملزم : چې پرې الزام لګیدلے وي، تورن

ملزوم : لازم شوے، چې له یو بل نه جدا کیدے نه شي

ملعون : لعنتي، مردود، رټلے شوے.

ملغوبه : هغه څیزونه چې سره ګډ شوي وي د مات ګوډ څیرونو امیار. ګند

ملک : ملائکه، فرشته، فرښته

ملک : د کلي سمردار د کلي مشر

ملک : باچا، سلطان

ملک : حاسداد، مال اسباب

ملک : وطن، سلطنت، راج

ملکوت : د فرښتو جهان، عالم ارواح.

ملکه : خاصیت د باچا ښځه

ملکري : لاس امداد، مرسته، ملاتړ، ډاډګیرنه، ملګرتیا

ملګرے : انډیوال، دوست، اشنا، رفیق.

ململ : یو قسم سپینه د سپنسو نه جوړه کپړه.

ملنډه : ټوقه، مسخره، مذاق.

ملنګ : مذهبي ګدا، درویش، قلندر، بې پروا، مست فقیر. سوالګر، سوال کونکے، د کوره وتلے، دنیا پریښودونکے، بیهوشه، مفلس.

ملوټے : هیجړا، بې غیرته، نربنځے، ملے، ملوټارے.

ملوث : راګیر، ککړ، ګنده، ناپاک، پلیت، لړلے،

ملوک : معشوق، محبوب، بنکلے، ښائسته، پاک سوچه. ملکان، بادشاهان.

ملونه : قیزي، واګي، لګام، جلب، جلو.

ملهتي : ملټ، خوږه ولي.

ملهم : مرهم، پټی، پهه.

ملیا : مل، یو ځاے، واصل.

ملیریا : سړه لرې تبه، موسمي تبه.

ملیشیا : ملیشا، نیم باقاعده فوځ، یو قسم کپړه چې رنګ ئ سلیټي وي.

مم : د ماشومانو په ژبه میوه، خوږ څیز، یا د مور تے.

ممات : مرګ کیدنه، وفات، مرګ.

ممالک : د ملک جمع، ملکونه.

ممانعت : بندیز، بندش، منع کونه.

ممانه : یوه ونه او د هغې میوه.

ممتاز : امتیاز لرونکے، معزز، اعلیٰ، افضل.

مُمِد : مدد کونکے.

ممریز : مهمیز، د سوارۀ پوندې سره لګیدلے یو میخکے چې اس له پرې پونده

ورکوي.

ممکن : د کیدو قابل، کیدونکے

مملاني : مومیائي، ممائي، یو قسم دارو چې د ماتو هډو کو د رغولو دپاره استعمالولے شي.

مملکت : حکومت، بادشاهت.

ممنوع : منع شوے، ناجائز، د قانون خلاف.

ممنون : منت بار، احسان مند، شکر گزار.

ممنه : دائي، رضاعي مور.

من : خاطر، اراده، زړهٔ. تکل، مقصد. د مند مخفف چې د مالک معنې ورکوي لکه شته من

من : یو وزن چې مختلف مملکتونو کښې مختلف درونده والے لري، افغانستان کښې من اته پونډه (څلور سیره) او پاکستان کښې اتیا پونډه (څلویښت سیره) وي.

منا : جونکړه چې په خنګل یا پټو کښې جوړه شوې وي.

مناجات : دعا، التجا، عرض، هغه نظم چې د خدائے تعریف او خپله عاجزي پکښې بیان شوے وي.

مناره : منار، لوړ ځائے، وچت مقام.

مناسب : موزون.

مناسبت : موزونیت، د موزون کیدو حالت.

مناصب : د منصب جمع، رتبې، عهدې.

مناظره : بحث مباحثه، تکرار، هغه علم چې پکښې د بحث قواعد بیان وي.

منافع : د منفعت جمع، گټې، فائدې.

منافق : هغه څوک چې په زړهٔ ټینه وي او په خلهٔ بله په اسلام کښې ظاهره مسلمان او په باطن کښې کافر.

منافقت : د منافق عمل، د منافق حالت.

منا قشه : بحث مباحثه.

تکرار، جگړه.

منال : دولت، حائداد.

منبر : په جماعت کښې هغه خاے چې امام پرې کښيني او مسئلې کوي.

منبع : د اوبو راوتو ځاے، چيـــه، د اوبو خزانـه، د وتو ځاے

منت : احســـان، نيکي، سلوک، شکريه، عاجزي، زاري، خوشامد.

منتخب : چون شوے، غوره.

منتر : جـادو، د ويـد څـه حصه، ټونه، سحر، دم.

منتشر : اخـوا ديـخوا، متفرق، تتر بتر، تيت پرک.

منتظر : انتظار کونکے، په انتظار

منتظم : انتظام کونکے

منتقل : انتقال کونکے، د يو ځاے نه بل ځاے ته تلونکے.

منجاور : د خانقاه يا زيارت خادم، منجور، مجاور.

منجره : کـلی، غوټی، شگوفه.

منجورا : راغونـډ شوے، بيکاره، هيجړا، نامرد.

منجيله : د منگي د لاندې د وښو جوړه يوه غونډه غونډې کړی چې حيـکی ئ د اوبو راوړلو ډپاره په سر ږدي.

منځ : مينـځ، ميان، وسط، مرکز.

منځکړے : دريم ګړے، منصف، ثالث.

منځمے : مـنځنے، وسطي، مرکزي.

منځنے : وګورئ منځمے.

منـځومالـه : منځ کښې، درميـان کښې، بې طـرفـه، اعتدال.

منحرف : بـاغـي، واپـس ګرځيدونکے، ستنيدونکے.

منحصر : مشروط، موقوف، مطابق، متعلق.

منحوس : سپيرهٔ، بدبخت، بدنصيب، مکروه، خراب.

مند : یوه لاحقه چې د مالک معنې ورکوي لکه دولت مند.

منداړو : وکورئ منډانو.

منډانو : کنده بوټے، یو بوټے چې په عنمو او شفتلو کښې کیږي د ماستو شارلو دپاره د لرګي جوړه یوه آله

منډر : د هډوانو د عبادت ځای،

مُنډری : د غوږونو یو کالے.

منډڑ : یو مضبوط غټ لرګے چې نور لرګي پرې دپاسه ږدي او جاله پرې جوړوي.

منډوب : هغه څوک چې د څۀ کار دپاره نماننده ولیږلے شي.

منډیل : پټکے، لونګی، دستار.

منډاؤ : دالان، سرپډه، دهلیز

منډل : په رور دسه کول.

داخلول، ننه باسل، چاپې کول.

منډو : دالان، څپر، هغه کوټګی چې اخلے پخلے پکښې کولے شي.

منډه : دژ، تیز تک.

منډهی : د تجارت ځای، منډی.

منډې ټرې : دو رادژ، منډې راماډې، تک راتک، کوشش، سعي، بې فائدې کوشش.

منزل : هغه ځای چې ورته انسان رسیدل غواړي، مقصد.

منزه : پاک، له عیبونو نه پاک، صفا.

منړک : مړک، موړک، د مړې مذکر.

منړکورے : مڼکورے، د منړک یا مړې بچے،

منسوب : نسبت لرونکے، متعلق. چنغول.

منسوخ : رد شوے، نسخ شوے، ختم شوے.

منشا : د پیدا کیدو ځای

وجه، سبب، اراده، مطلب، مقصد.

منشور : شاهي حکم، پروانه، د چا سیاسي جماعت اعلان، فرمان، اعلان، هغه شکل چې سرونه ئې یو شان یو هومره او یو بل سره متوازي او نږدې ضلعې لرونکے وي او اړخونه ئې متوازي الاضلاع وي.

منشي : مرزا، میرزا، بابو، کلرک، سکتر،

منشیات : نشه کونکي څیزونه، له نشې په عربی طریقه جوړ شوے لفظ.

منښته : نذر، منلے څیز، نذرانه، نیاز.

منصب : عهده، مرتبه، رتبه.

منصبدار : منصب لرونکے.

منصف : د دیواني عدالت یو جج، انصاف کونکے، عادل، د انصاف خاوند.

منصوب : ودریدلے، نیع، قائم. هغه تورے چې پرې زبر وي.

منطق : هغه علم چې په قطعي دلیلونو حق حق او ناحقه ناحقه ثابتوي. دنیا. فصاحت.

منطقه : د ملاتړلو کټړه، هغه فرضي خط چې د زمکې په چاپیره لکه د پټکي راتاؤ دے. علاقه.

منظر : د نظر ځاے، نظاره، د سیل ځاے، مخ، شکل، د نظر حد، کړکی، سورے، لوړ مکان.

منظم : په تار ګنډلے، موزون کلام، هغه څیز چې په انتظام سره وي.

منظور : منلے شوے، لیدلے شوے، خوښ کړے شوے، قبول شوے.

منظوم : منسلک، ترلے، نظم کړے، په اشعارو کښې وئیلے.

منع : چې اجازت ئې نه وي.

چې قدغن پرې لګیدلے وي.
منعقد : مقرر شوے، قائم شوے.
منفي : ایستلے شوے، تفریق کړے شوے.
منقار : مښوکه.
منقسم : ویشلے، ویشلے شوے.
منقوط : نقطې لرونکے.
منقول : نقل شوے، ذکر شوے، له یو خاے نه بل خاے ته وړلے شوے.
منکت : د من په حساب، د من په حساب نرخ.
منکتي : مزدور، دهقان چې د منکت په حساب مزدوري ورکولے شي.
منکرنکیر : دوه فرښتې چې په قبر کښې د مړه نه سوال جواب کوي، انکیر منکیر.
منګ : په کمره یا کوټه کښې د لوګي وتو موری، د کمرې ارته حصه چې اسمان تري ښکاري.
منګ : قد، عمر، قامت، غوندې، مانند، مشابهت، یو شان والے، موده.
منګۍ : ګومنز، ږمنځ، هغه آله چې سر پرې ږمنځولے شي.
منګر : د یوې هندې میاشتې نوم چې د پوسه میاشتې مخکښې او د کتک نه پس وي.
منګړے : د مار یو قسم.
مُنګن : کتمل، منګر، مونګر، مونګس.
منګور : د سپي بچے (کوتړے) چې ستر ګې یې لا نه وي غړولے. مار، منګړے.
منګیر : بوخت، لګیا.
منګے : ګړے، د تېکرې یا مسینو غونډو مونډو غړي لرونکے لوښے چې عموماً پکښې اوبه ساتلے شي.
منل : ایمان راوړل، منظورول، قبلول، اقرار کول،

احسان مند کیدل، تسلیمول

مـن مـنیا : خپلـه رای حوړونه، خپله مرضي کوونه.

مـننـه : تشـکـر، شکـریـه، مهرباني، منل.

منوال : دستور، طریقه.

منور : نورانـي، روښـانـه، پرقیدونکے.

مـني : هغـه سپیني لارژني اوبـهٔ چې د انـزال پـه وخت خـارجیـږي. نـطـفـه، مـایـه، مردي.

مـنیـر : تـابـان، روښ، رښـا ورکونکے

منه : سیب، سیو، یوه میوه.

مُو : ویښتـهٔ، زلفي. روعن، غـوړي، دِل، ویـلـي شـوي وازده.

موانـع : غـاړه، مورکه، نغرو ته مخامخ یا په څنګ دیوال.

مـواجـب : مـزدوري، تنخواګاني، مشاهري، هغه رقم چې د حـکومت له حوا قبائلي مشرانو ته ورکولے شي.

مواد : د مـاده جـمع. پیپ، ګـنـدګـي اسباب، سـامـان، دلائل، وجوهات.

مواس : مـوچـی، چغـلي کـونـکـے، خبـرغـل، غمـاز، شیـطـان، رفتار، تک، مزل، پناه.

مواصلات : د نقل و حمل ذرائع.

مـوافـق : یـو شـان، بـرابـر، مناسب، په شان، مطابق.

مـوالـع : د مـوقـع جـمـع، موقعي، ځایونه.

موت : مرګ، قضا، اجل.

موتي : ملغلره، مرغلره.

موټ : د روغ تـابـع مهمل لکـه روغ موټ. یو دال چې بـوتـے ئ د ګیـاه د پـاره استعمالیږي.

موټر : یـوه میشـني سورلی چې په پټرولو چلیږي، مشین چلونکي آله.

موتی : دیـوي لاسکـے، لاسکے، ډینډت، ډبلی،

موتے : د چارې يا خنجر دسته، قبضه، لاسکے د لاس د پنځې وارو کوتو د راغونډيدو حالت.

موج : چپه، څپه، جوش، ولوله، خيال وهم، شوق، مستي، سرور.

موجد : ايجاد کونکے، نوے څيز راايستونکے.

موجود : حاضر، په وجود کښې، هست، شته.

موچنه : څپلی، پيزار، د څپلو يو قسم

موخه : د تير اندازی يوه مخصوصه لوبه هدف، کچه هغه څه چې د عتې وښتو دبرې بنسې لاندې لکولے شي

موده : زمانه، وخت، نيټه، ديرو وخت.

مود : طبيعت، چرت، طبع

موډي : تکليف رسونکے، ضروري، نقصاني

مور : د پلار ښځه، مادر

موران : ديو کالي نوم، د مهر جمع

مورله : هيجړا، ايجړا، جينې خلے، جينې خولے، لختې

مورث : وراثت پريښودونکے.

مورچه : مورچل، سنګره، څوکی، خندق، د پناه ځاے چې د جنګ په وخت جوړولے شي.

مورخ : تاريخ ليکونکے. تاريخ نګار.

مورد : د واردېدو ځاے، حيثه، سراى.

مورکی : د مور اسم تصغير، مور ته د مينې د خطاب کلمه

مورګه : عاره، خنده، ژى، حاشيه، د سرحد ليکه.

مورولي : د پلار يکه، حدي، پشت په پشت.

موره : کنکل، يخ، چکه شوے، مايه، تينګ

موری : د کندو هغه سورے چې دانې پرې راوباسي. په

دیوال کښې سورے، نالہ، لښتے، د پول خلۂ.

مور : پـــہ کیـــدہ ډک، مطمئن، دولت مند، مالدار.

مورہ : په بدن باندې د وهلو ټکولو نښـــه او پرسوب. د اوبو د مخ نیوي پـــه غرض جوړہ کړے شوې وچته ډپه. نـــس خوړے. د ګیډې درد، ار، مـــرور، پیـــچ، مـنجیلـــه بالښت، د دیوال سرمائے، له ډورمو جوړہ کرسی.

موزون : هغه شعر چې وزن لـــري. خوښ، مقبول، لائق، مناسب، درست.

موزہ : جـرابـــه، چکمـــه، د څرمنې جرابه.

موسم : د کال څلورو برخو کښـــې یـوه بـرخـــه. فـصـل، وخت.

موسیقار : د موسیقی استاذ، د موسیقی ماهر.

موسیقي : د راګ علم، د سرود علم.

موسیدل : مسـکیـدل، خندیدل.

موشاده : مخ، شکل، څیره، بشـــره، مشـــاده، مجازاً خراب شکل.

موصلي : د مصـلي مفغن، شـاخیـل، خـاکروب. مونځ ګزار.

موصوف : ستائیلے،

موصول : وصـول کړے شوے.

موضع : علاقه، کلے، باندہ.

موضوع : مضمون، بامعنیٰ لفظ، اصل شے.

موقع : د جیل دیوال سره یو مقام چې د جیل ملازم پرې د ځوکـی دپاره ولاړ وي. داؤ، چل، وخت، محل.

موقعه : داؤ، چل،

موقف : پوزیشن، د ودریدو ځای.

موقوف : ودرولے، ملتوي، برخاست شوے. وقف شوے،

مول : حقیقت، اصل، بنیاد.

تاوان، مال، جائداد.

مولف : تالیف کونکے، جمع کونکے، مختلفو کتابونو نه کتاب لیکونکے.

مولود : هغه مجلس یا غونډه چې حضور پاک صلي الله علیه وسلم د پیدائش په باره کښې یکښې تقریرونه کیږي. زیږیدلے، پیدا شوے ماشوم، د پیدا کیدو ورځ.

مولوي : مولانا، دیني عالم، اخون.

مولی : یوه مشهوره سبزي چې کچه او پخه دواړو حالتونو کښې خوړے شي. مولے : د لنګری مولے چې لنګری یا چتو کښې پرې څه ټکوي.

موم : هغه نرمه او غوړه ماده چې د شاتو له کښینه وځي.

موم جامه : هغه مومي کپړه چې اوبه پرې اثر نه کوي.

مومن : د الله تعالیٰ یو صفتي نوم. ایمان راوړونکے، مسلمان،

مونج : یو قسم بوټے چې رسی ترې جوړولے شي منج.

مونځ : نمونځ، د خدای پاک عبادت.

موندل : حاصلول، ګټل، میندل، پیدا کول.

مونډ : اصل، بنیاد. جړه، بیخ، ویخ، مونډی.

مونږ : جمع متکلم. حالت فاعلي.

مونس : ملګرے، دوست، یار.

موهوم : وهمي، خیالي، فرضي، قیاسي.

موید : مدد کونکے، قوت ورکونکے. تائید کونکے.

مویز : کشمش، انګور، میوه، وسکي، منقه.

مویشي : څاروي، غوا، میښې، خرونه وغیره.

مهاجر : هجرت کونکے، خپل وطن پریښودونکے.

مُهار : د اوښ په پوزه کښې

اچولے شوے پیزوان.

مهال : موقع، محل، وخت، گران.

مهاوت : هاتي وان، فیلبان، د هاتیانو ساتونکے.

مهتاب : سپوږمی. قمر،

مهتر : مشر، سردار. د ټولو لوے. حاکروب ساخیں.

مهتمم : انتظام کونکے، سرپراه، منتظم.

مهجور : فراق وهلے، چې هجران پرې راغلے وي. جدا شوے.

مهدي : له هدایت موندو نه پس هدایت ورکونکے.

مهذب : تهذیب یافته، متمدن.

مَهر : هغه مال یا رقم چې یو مسلمان خپلې ښځې له د نکاح په وخت د ورکولو اقرار وکړي، کابین

مِهر : وفا، مینه، محبت

مُهر : ټاپه، ستیمپ

مهرباني : نسه، د محبت سلوک، احسان.

مهلت : وخت ورکونه، وخت، وقفه.

مهلک : هلاکتونکے، مړ کونکے.

مهم : لوے کار، درونډ کار، مشکل کار، جنګ، حګړه،

مهمان : میلمه، المه.

مهمل : بیکاره، پریښودے، کم عقل، فضول، بیهوده، بې معنې، بې مطلبه، سست، کمزورے، هغه تورے چې معنیٰ نه وي، بې معنې لفظ.

مهیا : تیار، اماده، حاضر.

مهیب : خوفناک، هیبتناک.

مهینه : د موسم په اغاز کښې کرلے کیدونکے فصل، د پسینه ضد.

مهینه : ماهانه، مواجب، وظیفه، هواره، نرمه، میاشت.

مهې : د دالو یوقسم.

مهے : کب، ماهے

مې : د انګریزي کال پنځمه میاشت.

میاشت : هلال، نوي سپوږمی. د سپوږمۍ میعاد، د کال له دولسو برخو نه یوه برخه.

میان : مشر سړي د ختو خاندانونو د افرادو لقب، جناب.

میان : ملا، دوران، بام، تیکې، وسط، منځ

میاندې : د مور جمع میندې.

میانه : د ذي القعده میاشت. د هجري قمري کال یوولسمه میاشت،

میت : جنازه.

میټر : د ځینې شیزونو د میچ کولو آله لکه د رکشې، بجلۍ یا ګیس میټر.

میثاق : قول، اقرار، وعده، معاهده، پیمان

میر : پیشوا، هادی، د سیدانو اعزازی لقب سردار، امیر، سالار، مشر، رهبر

میرات : بې حوسدې اولاده، چې څوک ترې پاتې نهٔ شي.

میراته : د چا د مرګ نه پس پاتې شوې مال دولت، جائداد، ترکه، میراث

میراته : د پښتو د سرا یوه طریقه چې یو کلي په بل کلي یا خاندان حمله وکړی او ټول مارینه ئې ووژني.

میراث : وراثت، ورثه، ترکه

میراته : هغه مال اسباب چې د مړي نه حپلو وارثانو ته پاتې شي.

میرځمن : میرځې، دشمن، دښمن.

میرځمني : دشمني، عداوت، تربګني

میره : حلقه، دائره.

میري : سرداري، مشري، حاکمي

میزان : تله، جمع، مجموعه د سپي اووم برج د شمسي کال اوومه

میاشت.

میزړے : یو بوټے چې د پانو نه ئې پوزي مصلي او بون جوړولے شي.

میسر : هغه څۀ چې په اسانه وموندے شي اسانول، حاصل، دستیاب، اسان کړے شوے.

میعاد : مقرر وخت، د وعدې وخت.

میعادي تبه : لویه تبه، محرقه.

میل : هغه کانے چې د پارسنګ دپاره لګولے شوے وي. د ۱۷۶۰ ګزو فاصله،

میلاد : د پیدا کیدو ځاے، د پیدائش وخت، پیدائش.

مینځ : منځ، وسط، درمیان.

مینځکړے : منځي ګړے، دریم ګړے، ثالث.

مینځه ګوته : د لاس د وزیرې ګوتې او مسواکې ګوتې تر منځ ګوته.

مینه : خوښي، محبت، عشق، دوستي، حوږ والے،

مئینیدل : عاشق کیدل، شیدا کیدل، مئین کیدل.

میو : د پیشو اواز.

مې : ما، لکه ورته مې ووې وغیره.

میچ : حریف، مقابل، جواب، همسر. مقابله، د لوبې مقابله. معیار، ناپ، کچ، پیمانه، اندازه.

میچن : میچنه، د دانو اوړولو دستي مشین، د لاندې باندې کانو تر منځه د دانو اوړولو یوه پخوانی آله.

میچول : اندازه کول، پیمانه کول، میچ کول، ناپ کول.

میخ : د وسپنې جوړ کیل، کونتی، جغلد،

میخانه : میکده، شراب خانه، چرته چې شراب خښلے شي.

میخزین : میګزین، د اسلحې کیښودو ځاے.

میخکے : د پوزې یو کالے. یو قسم پسول چې زنانه ئې په پوزه کښې اچوي.

میخوار : شراب خور، شرابي،

میدان : ډاګه، خالے، ډاک، سمه، ډګر.

میرګي : مرګي یوه دماغي بیماري چې سړے پکښې بیهوشه کیږي او له خلې نه ئې خګونه خې.

میرمن : بیګم، بي بي، د کور مالکه. وادۀ کړې ښځه.

میرنے : ناسکه،

میړه : دشته، بیابان، لویه ډاکه، لوے میدان. ناسکه مور، غیر حقیقي مور،

میړانه : مړانه، بهادري، تورہ، نرتوب.

میړنے : مړانه کونکے، دلاور، بهادر، تورزن.

میړوښه : وادۀ شوې ښځه،

میړۀ : خاوند، مالک، څښتن، آقا، مارخ.

میز : د لرګي هواره تخته چې په پښو ولاړه وي او د لیکلو خوراک وغیره دپاره استعمالیږي.

میزر : پرونے، نقاب، اورنے، لوپټه، څادر.

میږتون : د میږو کور، د میږو سوړه. هغه ښانک چې اوبۀ پکښې واچولے شي او منځ کښې ئې د لوښې ایښودلو خالے جوړ وي په دې لوښې کښې پروت څیر له میږو نج ساتلے شي.

میږمه : هغه کاڼه چې وار ئې راوړے وي.

میږے : یوه وړه حشره چې په سوړو کښې وسیږي او مختلف قسمونه لري.

میشت : مقیم، اباد، ساکن، وسیدونکے.

میښین : د میښې سره منسوب

میکش : شرابخور، شرابي

میل : رغبت، توجه،

خواهش، بښکته، رعايت، خاطر.

ميلان : رغبت، خواهش.

ميلمانۀ : د ميلمه جمع.

ميلمستيا : ضيافت، مهماني، مهمان نوازي کونه، دعوت.

ميلو : يږ، يو تور رنګ خنګلي خناور

ميله : کنيه کوبه، ازدهام. سيل او تماشي دپاره د خلقو راجمع کيدنه، نمائش.

ميمنه : د بني طرف، د بني طرف فوځ.

ميمون : نيک، خوش نصيب

مينچه : له اوږو څخه د چينجي په شان خوارۀ چې پکښې خوارۀ او پئ اچولے شي.

مينه : د وسيدو ځاے، کور، مکان، ميله، استوګه، سيمه، وطن.

ميوه : د وني له حاصلاتو څخه چې خوړلے شي. ثمر، نتيجه

مي : د دالو يو قسم. شني مي

مے : مې. لحاظ. برکت، شب. شراب، باده.

مے ناب : خالص او سوچه شراب.

ن : (نون) د پښتو شپږ دیرشم حرف. د ابجدو په حساب ئ شمیر پنځوس (۵۰) دے.

نا : د نفي علامت لکه ناجوړ، نا امید، نابلد، وغیره.

نا اشنا : نابلد، نا واقف. عجیبه، حیرانونکے.

نا امید : چې امید ئ نه وي. مایوس.

نا اهل : نالائق، ناقابل، چې اهل نه وي.

ناباري : هغه څاروے چې د بار وړلو عادت نه وی

نابالغ : چې بالغ نه وي.

نابلد : نا اشنا، نا واقف

نابود : بې فائدې، عبث. بیکاره.

نابینا : هغه څوک چې نظر ئ نه لګي، ړوند

ناپاک : پلیت، چې پاک نه وي.

ناپوه : چې پوهیږي نه، جاهل، ماشوم، نابالغ.

ناپیژندګلو : نا اشنا، هغه چې پیژندلے نه شي.

ناتار : ریاتے، ظلم، جبر. په ماستو کښې لسه ماڼې کړے شوې روټی نه جوړ خوراک. یرغل، چپاؤ.

ناترسه : ترس نه کونکے، بې رحمه.

ناتکی : یواخې، بې جوړې، طاق د جفت او تکی متضاد.

ناتوان : هغه څوک چې توان نه لري، کمزورے.

ناجان : ناجانبه، بې خبره، ناواقف، ناخبره

ناجائز : چې جائز نه وي، نامناسب.

ناجوړ : چې جوړ نه وي، ناساز، بیمار.

ناجوړتیا : بیماري، ناروغي.

ناجي : نجات موندونکے، خلاصے موندونکے.

ناچ : نڅا، ګډا، رقص، ډانس،

ناچار : عاجز، معذور.

مجبور، بیوسه، محتاج، خوار، غریب، ناچاره.

ناچاري : لاچاري، عاجزي، معذوري، مجبوري، بیوسي، غربت.

ناچاق : ناجوړه، بیمار، بې خونده، بدمزه، کمزورے، مانده، تپ.

ناڅاپه : سمدستي، ناګهانه، ناڅاپي.

ناحق : د حق خلاف. بې مناسبه، نامناسب.

ناخدا : کشتی چلونکے، مانکے

ناخونه : د انګورو په خیلی کښې ورے تار. د ستر ګو یوه بیماري.

نادار : غریب، عاجز، نیستمند، لاچار.

نادان : ناپوه، کم عقل، ساده.

نادر : نایاب، کمیاب، ښه، غوره، عجیبه.

نادم : شرمنده، ستومان، پښیمان.

نادیده : نا لیدلے، وړ ستر ګے، اروا وړے، چې څه ئ په ستر ګو نه وي لیدلے.

ناراض : خفه، مرور، ډډ، نارضا.

نارضا : چې رضا نه وي، ناراض.

نارنج : د سنګتري د خاندان یو بوټے او د هغې میوه.

نارو : یو قسم خطرناکه بیماري چې عام طور سره د ناولو اوبو څښلو نه پیدا کیږي.

ناروا : چې روا نه وي، ناجائز.

ناروغتیا : بیماري، ناجوړتیا، ناسازي.

ناره : نعره، غږ، چغه، اواز.

نارینه : نر، سړے، مرد، بهادر، تکړه، تورزن.

ناري : چغې سورې، نعرې، غږونه.

ناړام : ضدي، سرکش،

اړیمار، نارامه.

نارل : د خرۀ هینګیدل، د خرۀ بررېدل، نرل.

نارې : غټه رسۍ. غټ او اوږد پرے.

ناز : نخره، غمزه. مینه محبت.

نازبین : په ناز لوے شوے، د ناز کولو بلد، نیازبین، ناز پرور.

نازغوره : یو قسم خطرناکه دانه چې بنده تري مري. خوراکي ننګی بې ترسه، ظالمه.

نازک : کچه، باریک، کمزورے، لطیف پوست، نرم، ګران، مشکل، تیر، تند، خطرناک.

نازل : راکوریدونکے، بنکته راتلونکے، راکور شوے، له بره نه بنکته رالېږلے شوے، وارد شوے.

نازلین : نیازبین، نازبیں، ناز کونکے، بنکلے، بنائسته، محبوب، معشوق.

ناساز : ناجوړ، بیمار، رنځور، ناموافق، مخالف، ناموزون

ناسازګار : هغه چې راس نه وي. غیر موافق، مخالف، ناموزون.

ناسازه : ناکړده، زیاتے، ناروا. د ناساز مؤنث. ورانے، مخالفت، ناسازي.

ناست : په ګودو یا د جسم په وروستی حصه د ارام دپاره ځاے نیونکے. په زمکه یا ونه د پنجو په سر ځاے نیونکے. دست بردار، د چا مقابله پریښودونکے، محتاج، حاجتمند. د زمکې څخه ځاے دیوال وغیره له خپله حده په زمکه کښې سوتے، بنخ شوے.

ناسته : ناستے، د کښیناستو حالت، تعلق، نشست، جلسه. ناسته پاسته، اودس ماتے، رفع حاجت.

ناسته پاسته : وګوري ناست پاست ناسته پاسته، تعلق، ناسته ولاړه، د ناستې طریقه.

ناسکه : د سکه یا حقیقي ضد د دویمې مور نا دویم پلار اولاد. د دویمې ښځې یا دویم خاوند اولاد،

ناسوت : عام اجسام یا جسمونه، دنیا، څرګند، عبادت، شریعت.

ناسور : نه جوړیدونکے زخم.

ناسونت : هغه څوک چې د سنت مطابق تري خوته نه وي پریکړے شوے، شوپا، جاهل، شوپړ

ناشپاتي : د ناک او ناکو د قسم یوه ونه او د هغې میوه

ناشته : د سحر خوراک، د ورځې وړومے خوراک

ناشر : کتابونه چاپ کونکے او خرڅونکے، خوروونکے، د اشاعت کار کونکے.

ناشکره : شکر نه کونکے، ناسپاس،

ناشوليته : فضول خبره، بیکاره خبره، ناشوړته، بې تهذیبه خبره، ناشولته بې تهذیبه، شاړ شپړ، جاهل،

ناشونے : نه کیدونکے، ناممکن، ناکړدونے.

ناشيشته : نشاسته، د غنمو د مغز نه جوړ کړے شوي ست، ناششته.

ناشے : یو قسم ترخه دوړه چې په سپیړمو راښکلے شي.

ناښاد : هغه چې خوشحال نه وي. غمزده، نامراد، غم زپلے، خفه، ناخوښ.

ناصح : نصیحت کونکے، صلاح کار، واعظ.

ناظر : محافظ، نظر کونکے، کتونکے، نګهبان، د دفتر محافظ، منیجر. ایجرا، هیجرا، خواجه سرا.

ناظره : د لیدو قوت. قرآن شریف لوستنه.

ناظم : نظم کونکے، د کار مشر. سیکرټري، ګورنر.
ناعلاج : چې علاج ئې نه کېږي نه رغېدونکے، ناشونے، ناممکن
ناغه : هغه حرمانه چې د قصور یا ملامتیا کولو په وجه له چا وصولولے شي د باندې ماتولو په حرم کښې وصولونکې جرمانه هغه تخم چې زرغون نه شي او په زمکه کښې دننه پاتې شي. د ستر کو سره ږدې رګونه چې د غصې یا ډیرې ژړا په وجه څرګندیږي چوتې، تعطیل نامناسب، غلط، ناموزون.
نافذ : د کیدې نوم، نوم، منځ، مرکز.
نافذ : جاري کیدونکے، صادریدونکے.
نافع : نفع ورکونکے، ګټه ور، فائده من
نافله : هغه عبادت چې واجب نه وي بلکې د ثواب

دپاره وکړے شي، نفل
نافه : د مشکو تیلی، هغه خوشبویه وینه چې د یو قسم هوسی د نامه سره حجتې نیلی کښې جمع شوې وي
ناقرار : قرار نه لرونکے، بې قراره، ناقلاره.
ناقص : نیمګړے، نامکمل، نقص لرونکے، عیب لرونکے، عیب دار ناخالص، جوټه
ناقل : نقل کونکے، روایت بیانونکے، راوي.
ناقلار : وګورئ ناقرار.
ناقوس : هغه ګوګو یا بیګل چې هندوان ئې د خپل عبادت په وخت غږوي.
ناک : د ناشپاتي د قسم یوه ونه او د هغې میوه ټاټکو. ناکه.
ناک : هغه لاحقه چې د اسم سره په لګیدو صفتي معنې پیدا کوي لکه دردناک غم نه عماک وغیره.

ناکاره : کار نه کونکے، وران، خراب، بدکار، بد اخلاق.

ناکام : ناکامیاب، مقصد نه حاصلونکے، مجبوري، بیوسي. خامخا کیدونکے کار، ناکریر کار، حواري، محبت.

ناکامي : مقصد نه حاصلیدنه. ناکامیابي، بیوسي، مجبوري

ناکړدې : ناکردې، ناکرده، زیاتے، ظلم، شندې،

ناکه : د ولې یا نهر د اوبو حدا کیدو ځاے. د نهر یا ولې نه د جدا کیدونکې لبنتي خلۀ، ناقه.

ناکمانه : ناګاه، په بې خبرې کښې، ناڅاپه، ناګومانه.

ناګوار : ناخوښ، له طبعي چپ، د طبیعت خلاف، مکروه، نۀ هضمیدونکے خوراک،

ناګهانه : ناڅاپه، ناګاه، په بې خیالي سره.

نال : کرنه، بوټے ښخونه. کرلے شوے، ښخ کړے شوے، نهال.

نال : د جواري هغه پیسې چې د پسر مالک ئ لسه جوار کړو وصولوي.

نالائق : نۀ پوهیدونکے، ناقابل، جاهل، کمینه، ردیل.

نالت : سرکوزے، خریر، سور، یو مردار ځناور، بد ځناور.

نالول : کرل، بوټے ښخول. د اس یا نل ځناور په بوکونو نالوسه ټک وهل، نعلول، زخمي کول، ژوبلول.

ناله : د غړۀ نه د رابهیدونکو اوبو لار، لبنتے.

نالی : د باران یا ګنده اوبو د ویستو دپاره جوړه کړے شوې لار، وینسی. د لبنتي په شکل کنستے شوې کنده نیالی، برستن، نهالی،

نام : نوم، نامه. د څۀ څیز، بیادم، ځناور، ځاے وغیره د

پیژندګلو دپاره استعمال کیدونکے لفظ یا الفاظ. اسم. شهرت، عزت، ذات.

نامتو : په ښه والي مشهور، نامدار، نامور،

نامحرم : پردے (سرے) چې رسانه له تري پرده کول واجب وي.

نامدار : نامور، نامتو، په ښه والي مشهور. نامي.

نامرد : مردانه قوت نه لرونکے ابجرا، هیجرا، بې غیرته، بې حیا

نامزد : موسوم، منسوب، ترلے. تاکلے، مقرر.

نامزدګي : منسوبوله، ترنه، موسوموله، تاکنه، مقررونه

نامعقول : د عقل سره اختلاف لرونکے، د عقل سره سمون نه خوړونکے.

نامعلوم : د معلوم ضد، هغه چې درک ې نه لګي، ورک،

نامکمل : هغه چې سر ته نه وي رسیدلے، نیمګړے

نامناسب : چې مناسب نه وي، نامعوزون، بې ځایه، سمون نه خوړونکے.

ناموس : عزت، اسرو، ننګ، غیرت، شرم، پت،

نام ونګ : ننګ ناموس، غیرت، شرم و حیا، عزت.

نامه : لوم، چیټی، خط، کتاب، رجسټر.

نامه نګار : خط نویس. د اخبار نمائنده.

نان : ډوډی، روټی، تیکاله

نانبائي : روټی پخوونکے، د روټو د تارۀ کار کوونکے، نان پز، نانوائي،

نان نفقه : روزي، رزق، انساني خوراکه. د کور خرچه، د بال بچ خرچه، د کور ماته کوډه.

ناؤ : د غرۀ په مخ کښې لښتے، ناله، وټ، تنګے.

ناوخته : له مقرره وخت نه وروسته کیدنه.

ناوزګار : د وزګار ضد، په

څهٔ کار کښې بوخت، مشغول، مصروف، اخته.

ناوک : غشے، تیر، خدنگ.

ناولے : گنده، خیرن، ناپاک. بدشکله، بدرنگ، بدعمله، بدکرداره.

ناوه : د کوتې د چت نه د اوسو غورخیدو دپاره جوړه کړے شوې نالی چې عام طور سره د ټیم یا لرګي نه جوړه وي. پرنساله د بهر یا زورې کندې دپاسه تیر کړے شوے لښتے.

ناویات : گران، حور، عزیز. په نازونو لوے شوے، نیازبین. نایاب، کمیاب.

ناوې : ودیدونکې جینې، عروس. تازه وادهٔ شوې ښځه.

نائب : د چا کار د هغهٔ په غیر موجودګی کښې سر ته رسونکے. مددګار، قائم مقام

نائک : نیک، خان، مالک.

نائم : ودهٔ کیدونکے، خوب کونکے.

نائي : د خلقو حجامتونه او ویښتهٔ جوړونکے. حجام.

نائینه : د نائي مؤنث.

نبات : بوټے، وابنهٔ، ترکاري، سبزي، یو قسم خواږهٔ، مصري، قند.

نباتات : د نبات جمع، وابنهٔ، سبزی.

نبض : د مړوند هغه رګ د کوم له حرکته چې د انسان د صحت او مرض د حال پته لګولے شي.

نبوت : د الله تعالي احکام رسونه، پیغمبري، رسالت، د نبي جوړیدو حالت.

نبي : د الله تعالیٰ پیغام رسونکے، پیغمبر چې پخپله صاحب شریعت نهٔ وي. د خدای پاک استاځے.

نپټ : بیکاره، فضول، بې فائدې. نامناسب، ناموزون

سمون نه خوړونکے
نت : ټکی، د پوري یو کالے.
نتائج : د نتیجه جمع. نتیجې.
نتکی : وړوکے نت یا نته.
نته : د پوزې یو پښول، نت. د اوښ په سپیرمو کښې اچولے شوے هغه وړوکے لرګے چې مهار وړپورې تړلے وي
نتیجه : حاصل، ماحصل، انجام، خاتمه، میوه، ثمره، مطلب، غرض،
نټه : له څه کار نه انکار کونه، نه منل.
نثار : قربان، فدا، خوار عاشق، مئین،
نثار : نثر لیکونکے، نثرنګار.
نثر : هغه عبارت یا لیک چې مظوم نه وي. ګډوډ، خوروور، دانه وانه.
نجابت : شرافت، بزرګي، اصالت.
نجات : خلاصے، بخشش مونډنه.
نجاست : پلیتي، ناپاکي، ګندګي،
نجس : ناپاک، پلیت، ګنده،
نجم : ستورے، ستاره.
نجوم : د نجم جمع، ستوري، ستاري، د ستورو د ګردش د حالاتو معلومونه.
نجومي : د ستورو علم لرونکے د علم نجوم ماهر
نجیب : شریف، اصیل، بزرګ
نچوړ : له څه څیره ویستلے شوي اوبه، عرق خلاصه، لب لباب، انجام، نتیجه،
نچه : نل، نے، نیچه.
نځول : نچول، ګډول، په چا ګډا یا رقص ګول
نځیدل : ګډیدل، ګډا ګول، رقص ګول، نځا ګول، نځل، نچیدل.
نحس : سپیره، بدبخت،

منحوس، بدمرغه، نامبارک، سمون نۀ خوړونکے، ناسازگار، ناموافق.

نحو : طریقه، چل، لار. د کلام د ترتیب د اصولو علم.

نحوست : سپیرۀ توب، بدبختي، بدمرغي.

نخاس : د څاروو یا غلامانو بازار. منډهی.

نخره : ناز، ادا، غمزه. ټوقه، مسخره.

نخري پیښي : ټوقي، مسخري، ټوقي ټقالي.

نخل : د کجوري ونه، کجوره.

نخلستان : د کجورو د ونو بن. د کجورو باغ.

نخوت : غرور، لوئي، تکبر، خودبیني.

ندا : غږ، اواز، صدا.

نداف : د مالوچو وهلو یا وریشلو کار کونکے، ډینډتي، ډانډسي، نداپ، نندف.

ندامت : پښیمانتیا، شرمندګي، پښیماني.

ندائیه : هغه جمله چې پکښې د ندا یعني چا ته د اواز یا غږ حرف وي.

ندرت : کمیابي، کمے. بنۀ والے، غوره توب. عجیبه توب، نا اشنا توب.

ندرور : د خاوند خور.

ندیم : سره کښیناستونکے، ملګرے، مصاحب.

ندی : وړوکے سیند، سیندګے، خور، لویه وله.

نذر : ډالی، پیشکش، تحفه، هدیه

نذیر : ویرونکے، د اخرت ویره په زړۀ کښې اچونکے. د حضور صلي الله علیه وسلم لقب.

نر : د ماده ضد، تکړه، تورزن.

نرخ : بیه، قیمت، شرح،

نرخنامه : د نرخونو فهرست، بیه نامه.

نرسري : د بوټو او ګلونو د

سوزغلي د کرپي او د هغو د پالني خاي، ذخيره.

نرسوې : يو قسم عرنيز انار.

نربښک : د نر او ښځې دواړو صفتونه لرونکے، ښځونک، ايجرا، هيجرا، ملوتهے.

نرګس : يو قسم ګل چې د انسان د سترګې په شکل وي.

نرګه : عام مرک، وبا.

نرم : د کلک ضد، پوست د ټينګ ضد، ابړی، خوږين، د سخت ضد، اسان، نازک، سست، متحمل، بردبار.

نرناحق : چټي په چټي، هيڅ بې هيڅه.

نروب : د ټينګ ضد، نرم، ابژن، رقيق، اوبۀ، مائع، نلوب.

نروکے : ډير نرے، نرے نروچکے، مانده، کمزورے

نرے : باريک، نازک. مانده، ټپ، کمزورے، خوار.

نرول : ورانول، عورحول، له بيخه ويستل

نريدل : ورانيدل، عورخيدل، له بيخه وتل

نړی : دنيا، جهان، عالم

نزار : کمزورے، ضعيف، مانده.

نزاع : فساد، جنګ، جګړه.

نزاکت : نازکوالے،

نزد : نزدې، جخت، ترخوا، قريب، خيال، راى.

نزديکت : جختوالے، نزدې والے، قربت، تعلق.

نزله : يو قسم زکام، د رطوبت په سترګو، وينټو يا دماغو پريوتو او اثر انداز کيدو مرض.

نزول : نارليدنه، له بره نه ښکته راتلنه راکوريدنه، واريدنه.

نژاد : نسل، نسب، خاندان، ذات، څټه.

نيور : د خوي بيخه.

نس : گیډه، خیټه.

نسب : اصل، خاندان، نژاد، خټه، ذات.

نسبت : تړون، ربط، تعلق، مطابقت، برابرې، کوژدن. سبب، بابت، پاره.

نسبتاً : په نسبت، په مقابله، په مطابقت.

نسب نامه : د خاندان شجره، د نسب سلسله.

نسبي : نسب لرونکے، اصل لرونکے. د نسب سره منسوب.

نسخه : کتاب، رساله. هغه کاغذ چې حکیم یا ډاکټر پرې تجویز کړي دارو لیکي. د دارو پرچه. چل، ترکیب، طریقه.

نسق : دستور، ترتیب، انتظام، بندوبست.

نسک : یو قسم دال، مسور، مشنګ.

نسکور : پرمخې، اپوټه، الوړے، اړولے، واژګون.

نسکير : نزدې، جخت، قریب. رشته دار، خپلوان.

نسل : اولاد، بال بچ، خاندان، کورنۍ.

نسل کشي : نسل ریاتونه، داسې حرکتونه افزائش، د نسل زیاتولو کار.

نسوار : د تماکو او ایرو نه یا یو خاص کیمیکلز نه جوړ کړے شوے مرکب چې د نشې په طور په خلۀ کښې اینبودے شي.

نسواري : نسوار خرڅونکے، نسوار استعمالونکے، د نسوارو په شان رنګ لرونکے.

نسيا : قرض، پور، نسیه.

نسيان : هیره، فراموشي، تیروتنه، یو مرض چې پکښې له انسانه تیر شوي واقعات هیر شي.

نسيم : د سحر پسته او خوشګواره هوا. د سحر د وخت نرم او لطیف باد.

نشاة ثانيه : دوباره ژوندے

کیدنه، په دویم خل راپیدا کیدنه. د مقبول تهذیب او تمدن دوباره راژوندي کیدنه او ترقي موندنه.

نشاسته : وګوری ناشیشته.

نشاط : ښادي، خوشحالي. خوند، مزه

نشان : ښکان، نښه، علامت، اثار، حنده، بیرغ، علم، یادګار، درک، پته، نقش قدم، د بادشاه فرمان.

نشانه : هغه علامت چې په توپک تماچه یا عشي د ویشتو دپاره مقرر کړے شي نښه، هدف، نخښه، نخشه.

نشاني : یادګار، نشان، نښه، نښاني.

نشائي : په نشه عادت شوے، نشه آور ځیزونه استعمالونکے، نشه آور، نشه راوستونکے.

نشت : نامو جود، حقیر، پک.

نشر : خور، شائع شوے اشاعت.

نشریات : د ریډیو په ذریعه د اواز د خورولو سلسله.

نشوونما : راختنه او لوئیدنه، راتوکیدنه او غټیدنه، پرورش موندنه.

نشه : سرور، مستي، د تریاک، افیم وغیره په استعمال سره پیدا کیدونکے کیفیت. بیهوشي، مست، مسرور، بیهوشه، غرور، کبر، لوني.

نشه آور : نشه راوستونکي ځیزونه.

نشیب و فراز : لوړه ژوره، لوړوالے او ژور والے، پستي او بلندي.

نشیمن : د وسیدو ځاے، کور، د ارام ځاے، خالـه، جاله.

نښانه : نښه، نښان، نخښه.

نښتر : نشتر، د صنوبر وته

نښتل : چمر کیدل، سره یو کیدل، لیویدل، ګډیدل،

رااپسارېدل، شروع کېدل، لاس پورې کېدل، جګړه کول، لاس لګول، جنګ کول.

نښلول : سره یو ځای کول، سره چمبر کول، سره لیوول، ګیرول، رااپسارول، شروع کول، لاس پورې کول، جنګول، په جګړه کول.

نښه : نشانه، نښانه، هدف، نخښه، په توپک تماچه یا لیندفړاندې د ویشتو په غرض مقرر کړے شوے علامت.

نص : سامان قط په قط اینبودنه. د څه خبرې معلومات یا سپیناوے کونه. صفا، صریح او واضحه (حکم کلام، حدیث آیت)

نصاب : سرمایه، پنګه، هغه مال چې زکوة ورکول پرې واجب وي. د مدرسې یا تعلیم دپاره مقرر کړے شوي کتابونه. کورس. کتنه، اندازه، تول. جړه، بیخ، بنیاد.

نصارا : د عیسیٰ علیه السلام پیروکار، مسیحي، عیسائي، نصاري، نصرائي.

نصائح : د نصیحت جمع. نیکې مشورې، نصیحتونه، پندونه.

نصب : ودریدلے، لک، لګیدلے، قائم. زور، زبر.

نصب العین : اصل مطلب، مقصد، اصول، لار.

نصر : مدد، ملګرتیا، یاري، مرسته، فتح، ګټه، ظفر.

نصرت : ګټه، فتح. مدد، ملګرتیا، مرسته.

نصوح : سوچه، خالص. پخه توبه ویستونکے.

نصیب : قسمت، تقدیر، برخه، نصیبه. حصه، حاصل.

نصیحت : نیکه مشوره، پند.

نصیر : امداد کونکے، مرسته کونکے، دوست،

ملکرے.

نطفه : مني، د انسان اوبه چې اولاد تري پيدا کيږي. اولاد.

نطق : د خبرو د وينا قوت، د ګويايي قوت، خبره، وينا، سپاسنامه.

نظاره : ليدنه، نظر اچونه، ساتنه، تماشه، نندارې.

نظام : بندوبست، انتظام. سلسله، ترتيب. د ملعلرو لړی حرړه، بنياد، بيخ ډولي کونه، بنانسته کونه، جوړونه.

نظامت : د ناظم عهده او کار، بندوبست، انتظام.

نظر : د ليدو قوت، بصارت، بينائي. کاتهٔ، کتنه، ليدنه، غور، پام، فکر، نګراني، ساتنه، د چا د ليدو په وجه په څهٔ بنهٔ څيز، انسان يا څناور وغيره بد اثر کيدنه.

نظر باز : هغه څوک چې په کتو ئ په څهٔ بنهٔ انسان، څير يا څناور بد اثر پربوځي بد نظر لروونکے، له نظره کونکے

نظربند : هغه چې په نګرانی کښې وساتلے شي، په يو خاص ځاے کښې پابند کړے شوے

نظربندي : په نګرانی کښې ساتنه، په يو خاص ځاے کښې پابند کونه، له يو مقرره ځاے نه په وتو پابندي لګونه. د جادو عمل،

نظر ثاني : د اصلاح په غرض دوباره کتنه، اصلاح کونه.

نظرمارے : د نظر ماتولو عمل.

نظرياتي : د نظريو يا نظرياتو سره منسوب.

نظريه : هغه مسئله چې پکښې د غوروفکر نه کار واخستے شي، اصول،

نظم : بندوبست، انتظام، نظام موزون کلام، شعر، د شاعری يو مخصوص صنف چې ګڼ قسمونه لري

نظم و نسق : بندوبست، انتظام.

نظير : مثال، نمونه، دلويو عدالتونو فيصله چې د ماتحتو عدالتونو دپاره لار يا دليل وي.

نعت : ستائينه، تعريف، مدح. د حضور صلي الله عليه وسلم په شان کښې د تعريف شعرونه.

نعره : وګورئ ناره.

نعش : تابوت، د مړي صندوق، لاش، مړے.

نعم البدل : بنه بدله، نيکه معاوضه، عوريزه عوض.

نعمت : مال، دولت، خونده ور څيزونه، انعام بخښنه، پيروزئينه، د الله تعالیٰ ورکړه.

نعوذ بالله : مونږ د خدائے پناه غواړو.

نعيم : نعمت، مال، نيکي، لاس رسيدنه، په انعام کښې ورکړے شوے شے. نعمت لرونکے. د نعمت خاوند.

نغاره : ډېوره، دمامه، نوبت، نقاره.

نغاړل : وګورئ نغښتل.

نغد : نقد، د قرض ضد. موجود، لاس په لاس. په موقع حاضر. عام طور باندې د رقم سره استعماليږي.

نغدي : حاضر رقم، موجودي پيسې يا روپۍ.

نغړے : د اور بلولو څاے، د اخلي پخلي څاے. انغړے، اورغالے.

نغښتل : نغاړل، نغشتل، قط په قط راټولول، راغونډول، لنډول، مختصر کول.

نغمه : لوبه، سندره، ترانه.

نغوتے : لمسيدلے، راپاريدلے، اماده کړے شوے.

نفاذ : جاري کيدنه، لاګو کيدنه. د يو څيز له بل څيزه وتنه.

نفاس : هغه وينه چې د ماشوم له پيدا کيدو نه پس تر څلويښتو ورځو پورې له زنانه

نه خي.

نفاست : پاکوالے، صفائي، خوبي، ښه والے.

نفاق : سې اتفاقي. په زړه کښې يو څه او په خله بل څه، عداوت، پټه دشمني.

نفر : کس، سړے، سړه، تن، له دريو نه تر لسو کسانو ډله

نفرت : کرکه، ناخوښي، کراهت.

نفرين : بنيره، بددعا، لعنت، عذبه

نفس : ساه، دم، ساعت، ګړی، لحظه

نفس : ځان، روح، ذات، وجود. حقيقت،

نفسا نفسي : ځان ځاني، د خپل خپل نفس فکر، خپل خپل غم کوله

نفقه : د کور خرچه، د کور ماته ګوډه، د بال بچ خرچه.

نفل : هغه عبادت چې واجب نه وي بلکې د ثواب دپاره کولے شي.

نفوذ : پکښې اثر کوله، دبله اثر کونه،

نفوس : د نفس يعني روح جمع روحونه، ذاتونه. کسان، نفري.

نفي : د اثبات ضد، نه، انکار.

نفير : نفرت کونکے، متنفر، کرکه کونکے. هغه اواز چې د ودۀ بسده له خلې يا سپيرمو حيڑې سره، توری، فرياد، ژړا، واويلا

نفيس : بنۀ، پاک، غوره، قيمتي، د وچتې درجې

نقاب : د زنانو د مخ پټولو پرده، برقه، پرونے.

نقاد : تنقيد کونکے، ناقد، کره او کوټه معلومونکے.

نقاره : وګوری نغاره.

نقاش : ګلکاري کونکے، نقش و نګار کونکے.

نقاط : د نقطې جمع، وګوری نقطه.

نقال : نقل کونکے، پيښې

کونکے،
نقائص : د نقص جمع، عیبونه، خامی.
نقب : هغه سورے چې د علا په غرض د چا په دیوال کښې وکړے شي. کنډر.
نقب زن : کنډر کونکے، غل، غلاګر.
نقد : د قرض ضد، نغد.
نقره : سپین زر، چاندي، هر هغه څیز چې سپین وي.
نقش : صورت، تصویر، ګلکاري، بوټي ګلونه جوړونه. مهر، ټاپه، درک، نام و نشان. تعویذ، ښنه، علامت، خیال. تصور، اثر. تاثیر، جادو، اپره لیک،
نقش و نگار : د بوټو او ګلونو جوړولو کار، ګلکاري
نقشه : نخچه، ښنه، تصویر، خاکه، صورت، شکل، حلیه، خدوخال، نمونه، مثال، سانچه، قالب، حال، کیفیت، طور، طریقه، فهرست.
نقص : کمے، خامي، عیب، بدوالے، نقصان، فرق، خرابوالے.
نقصان : کمے، خامي. نقص، عیب، کوتاهي، تاوان، زیان، خساره، تباهي، بربادي، ضیاع، تکلیف، درد.
نقض : ماتونه، ماتیدنه، ورانے.
نقطه : ټکے، مرکز، صفر.
نقل : له یو ځاے نه بل ته تلنه. تبدیلي، بدلون، له یو کاغذ نه بل ته اړونه. نمونه، نظیر، مثال، لطیفه، حکایت، بیان، روایت، پیښي، د مقدمي کاپي چې له عدالته راویستلے شي.
نقلي : د اصلي ضد، جعلي
نقوش : د نقش جمع،
نقول : د نقل جمع نقلونه.
نقیب : د قوم مشر، سردار. د خلقو د نسبونو او ذاتي حالاتو علم لرونکے. تشهیر

کونکے، خلق خبرونکے، ډنډورچی

نکات : نکتې، باریکی. هغه خبرې چې هر څوک پرې نه پوهیږي

نکاح : د شریعت مطابق د هلک حیسی ترړون، وادۀ، عقد.

نکاس : له کوره د بهر تلو لاره د اوبو د بهر وتو خاے یا لار. له چا د روپو یا پیسو وصولولو لار یا صورت.

نکاسي : د مال و اسباب وتنه، خرچیدنه، لیږنه، برآمد، رواښکي، له بناره بهر تلنه یا وتنه

نکبت : عریسي، مفلسي، بدحالي،

نکته : باریکي، ژور والے، باریکه خبره، ژوره خبره،

نکته چین : نکتې را ایستونکے، باریکی لټونکے

نکره : دیو قسم د ډیرو څیزونو مشترکه نامه لکه میز، کرسی، کتاب وغیره.

نکریزي : یو قسم بوټے او د هغې پانې چې عام طور سره دعه پانې وچې کړے شي او بیا اوړه کړے سي چې زیاته ی د پښتو لاسونو د سره کولو پکار راولي. حنا، نکریزه

نکهت : د ګلونو بوی، خوشبوئي.

نکیرین : هغه دواړه فرښتې چې په قبر کښې د مړي سره سوال جواب کوي.

نگار : تصویر، نقش، بت، محبوب، معشوق، ډول، سنګار، نګریزي.

نگاه : لیدنه، نظر د لیدو قوت، بصارت، بینائی، ستر ګه، پیژندګلو، شناخت، پام توجه، مهربانې، نظاره، نګرانې، امید، یقین، توقع، طمع

نگران : پام کونکے، محافظ، نګهبان.

نگون : نسکور یا سرښکته

کونه پورته خوړند، اپوټه، اویزان، نګونسار، کوز، راکونتي

نګونسار : وګوری نګون

نګه : سوچه، پاک، خالص، صفا

نګهبان : پام لرونکے، حفاظت کونکے. ترګاں، څوکی کونکے، محافظ.

نګین : قیمتي کاږے، غمے، نګ، نګینه.

نل : د ګڼي په شان بندونه لرونکے سوتے چې منځ ئ تش یا دم وي، نچه، نے، نیچه.

نلکه : د وسپني یا پلاستک نه جوړه نلی، د اوبو بمبه.

نله : نلی، د وسپني، لرګي پلاستک وغیره نه جوړ نل نما څیز. د څرمني مشک چې د تیلو د اړولو راړولو دپاره پکارولے شي د پښې لوے هډوکے، شیلی.

نلے : د پښې یا لاس لوے هډوکے. د هډوکي مغز.

نم : لوندوالے، تروالے، رطوبت. حیا، شرم، لحاظ، لوند، تر.

نمالځل : کول، حاص ورځ یا تقریب سر ته رسول، پالل، عزت ورکول، پالنه کول

نمائش : ښودنه، خلقو ته ښکاره کونه، نمود، ظاهرداري، د مصنوعاتو یا نورو خاص څیزونو خلقو ته د ښودلو میله.

نمایان : څرګند، ښکاره، عیان، ظاهر. نامور، یاد.

نمائنده : ترجمان، قائم مقام، نائب.

نمبر : تعداد، درجه، پیړه، وار، نوبت.

نمڑن : لوند، نمي لرونکے، لوند شوے، نوڑن.

نمر : د شمسي نظام د مځ ستورے چې رمکي دپاره د رڼا او تودوالي مستقله ذریعه ده نور، لمر،

نمرپرست : نمر ته سجدې کـوونکـے، د نـمـر عـبـادت کونکے. د يو ګل نامه چې نمر تـه ئې مـخ وي. نـمـر ګل، کافر ګل.

نمرپريوالۀ : د نمر پريوتو طرف، قبله، مغرب.

نـمـرخالـۀ : د نـمـر راختو طرف، مشرق.

نمک : د مـخ مالګه، د مخ دول مالګه، رزق، خوراکه.

نـمـک حرام : حرام رزق خوړونکے. حرام خور، د چا د نيکـي او احسـان هيرونکے، بيوفا.

نمک حلال : حلال رزق خوړونکے، حلال خور، د چا د نيـکـي او احسـان خيـال ساتونکے.

نمک خوار : د چا نمک يـا رزق خـوړونکے. د چا ډوډۍ تـه نـاسـت. مـالکـه خوړونکے.

نمکدان : د مـالګې لوښے، هـغـه لوښے چې مالګه پکښې کيښودے شي.

نمکين : مالګين، چې مالګه پـکښـې وي، تـرسـکـون، سکان، ښکلے، ډولي.

نمود : لـوئيـدنـه، ټوکيدنه، وده کونه.

نـمـود : ښـکـاره کيـدنـه، څرګندېدنه، نمائش، ښودنه

نمودار : څـرګـنـد، ښکاره، ظـاهـر، پـه نـظـر راتلونکے. افسر، سردار، رهبر.

نـمونه : مثـل، نـظير. نقشه، نـقـل، سـانـچه، قالب، نشانه، نښه.

نمونيا : د بيماری په دوران کښې د پرپوس سوروالے او پرسوب.

نـنداپ : نـداف، ډينډۍ، ډانډسې.

نـنداره : تماشه. نمائش.

نـنـدرور : اينـدرزر، د خاوند خور.

نـنـدرورزے : د نـنـدرور

خوے. د خاوند د خور خوے.

ننډره : نیندره، هغه روپی چې په وادۀ کښې خلق د بدل په طور ورکوي.

ننکي : وړه دانـه، ښنځه، ښـځکی. د څرمن دننه نو او زوي پیدا کیدنه.

ننګ و نام : لحاظ، شرم، غیـرت، نـنګ و نـاموس، عزت، عصمت.

ننګیالے : غیـرت مند، ناموس باندې مړ کیدونکے، غیرتي.

ننګے : اننګے، رخسار.

ننے : د نن ورځې، امروزه. تازه، جدید.

ننوائي : ننـوائته، د پښتنو د دستور مطابق د چا کور ته د معافـي غوښتو دپاره تلنه او معافي غوښتنه.

ننوتل : داخلیدل، دننه تلل، دخول.

ننـویستل : دننـه کـول، داخلول، ننه ایستل

ننه باسل : دننـه کول، ننه ایستل، منډل، ورمنډل.

نو : نم، نمي، تر، لوند، پیپ.

نو : بیا، حرف شرط.

نوا : اواز، صدا، ندا، کوک، راګ، نغـمـه. ساز و سامان، روزي، د موسیقی په دولسو مقامونو کښې د یو مقام نوم.

نواب : نـائب، د یوې علاقې حاکم. دیر لوے حاګیردار. د عزت خطاب.

نوآبـاد : نوے اباد کړے شوے.

نوابادي : هغه علاقه، ملک یا جزیره چې یو لوي ملک د ابادولو په بانـه قبضه کړے وي.

نـواح : مـضـافـات، کیر چاپیره علاقه.

نواحي : کیر چاپیره علاقه.

نوادر : د نـادر جمع، عجیبه څیزونه.

نوار : هغـه پـلنه او څـنه فیته چې پـالـنګونه ترې نه بونلے

شي.

نواړه : وړه کشتی چې د سیل دپاره پکارولے شي.

نواز : ساتونکے، عزت ورکونکے.

نواز : د لاحقې په طور د صفت نه پس لګولے کیږي لکه غریب نواز.

نوازش : مهرباني، عنایت، کرم.

نواله : نمړی، نوړی، قپه، د خوراک هغه برخه چې په یو وار خلې ته کولے شي

نوبت : وار، نمبر حالت، نغاره.

نوبهار : نوے بهار، تازه سپرلے.

نوحه : ژړا، فریاد، ماتم کونه، په مړي باندې ژړل.

نوخط : هغه خلمے چې په مخ ئې نوے خط راغلے وي. کچه خلمے.

نور : زیات، د دې نه علاوه.

نور : رڼا، چمک. رونق، کلام پاک،

نوراني : چمکدار، روښ، منور، پرڅیدونکے.

نورلس : د اتلس او شل تر منځه عدد. یو کم شل.

نوروز : د کال وړومبی ورځ، د ایرانیانو قومي جشن.

نوړی : لقمه، نواله، نمړی، لمړی.

نوژن : نمڑن، لونډ، نمي لرونکے.

نوس : نفس، انساني خواهش، هوس.

نوستل : تتر بتر کول، ګډوډ کول، نستل، دانه وانه کول.

نوسي کړوسي : نمسا نمسي، نمسي کړوسي، اولاد، آل اولاد،

نوسے : هغه آله چې وینښتۀ پرې وکاږي.

نوشادر : یو مرکب دے چې د الـه.ونیم او کلورین نه جوړیږي.

نوشت : تحريري، لكهائي، كتابت، وئيل او ليكل.
نوشته : ليكلے شوے.
نوش دارو : تریاق، زهرمهره، شراب.
نوشل : نوش كول، څښل.
نوع : قسم، ډول،
نوعمر : كچه زلمے، هلك، هغه هلك چې نوے زلمے شوے وي.
نوغ : بيخ، بنياد، اصل، حرره. تخم، نوغے، علامت، چاپ، خاپ، ټاپ
نوكاره : سكوندباره، د نوك زخم.
نوكر : ملازم، تنخوادار، خدمتكار، خادم.
نوكري : ملازمت، چاكري، خدمتكاري.
نوكے : هغه سپے چې پوره شل نوكونه ئ وي.
نول : غم، فكر، پريشاني، خفګان، غريبي، انديښنه، سودا.
نول څول : په خوارو زارو، په ډير كړاو.
نولژن : غمژن، دلګير، ملال، خفه.
نوليدل : كړيدل، غمګين كيدل، فكرمند كيدل.
نولے : يو قسم څناور چې د مېږې نه لږ غټ او ماران او مېږې وژني. زيات تر په برصغير پاك وهند كښې پيدا كيږي.
نوم : نام، نامه، اسم. مشهور تيا.
نوم : نماف، د وجود د يو اندام نوم.
نومسلم : چې نوے مسلمان شوے وي.
نومیالے : نامور، نامدار.
نون : د حرف "ن" تلفظ.
نونكى : وړې داني، ننكى.
نووارد : مسافر، اجنبي، نوے سړے.
نويسنده : ليكونكے، كاتب، خط ليكونكے.

نوے : د زور ضد جدید.

نوے نوزے : بیخي نوے، بالکل نوے،

نهٔ : په مثبت فقره کښې د اسم مفعول نه پس په لګیدو باندې د فقري معنې نفي شي.

نه : حرف جار لکه له دې ځایه نه تر دې ځایه پورې.

نهاد : خټه، سرشت، طبیعت، عموماً مرکب لفظونو کښې راځي لکه پیش نهاد، نام نهاد.

نهار : نهر، وړے،

نهار نهور : بالکل وړے، وړے ټوے، نهر نهور.

نهال : تاره لګیدلے بوټے، نال اباد، خوشحال، خوښ، شتمن

نهالول : نالول، کرل، بوټے لګول، ابادول، خوشحالول

نهایت : حد، انجام، اخر، انتها

نهایت : شدت سره، ډیر زیات، بې صبری سره.

نهر : وړے، اوړے، نار.

نهر : نیر، د دریاب شاخ، لویه وله.

نهلول : نالول، لګول، بوټے کرل.

نهنګ : ګړیال، نګے، یو غټ سمندري ځناور.

نهۀ : د اتو او لسو ترمنځ عدد.

نهي : هغه کارونه چې مخالفت ئ شوے وي.

نهي : د نهي ورځ، د چارشنبې نه مخکښې او د ګل نه وروسته ورځ.

نیا : نیا، نانا، ادې،

نیابت : نائبتوب، نائب کیدنه، نائبي.

نیاز : عاجزي، غریبي، حاجت، نار، فخر، نذر، منت، مسبته

نیازبین : په ناز باندې عادت شوے، نازک طبع، نازک مزاج.

نیازمند : خواهش مند،

خاکسار طبع، هغه سړے چې د چا نازونه وړي.

نیازي : عرض کونکے، خواست کونکے.

نیام : د توري تیکے،

نیاؤ : عدل، فیصله، انصاف، حق رسونه.

نیاوے : منصف، عادل، انصاف کونکے، فیصله کونکے، دادرس.

نیت : اراده، مرضي، اصلي مقصد.

نیچ : کم ذات، کمینه، بداصل، نالائق، ادنیٰ.

نیز : دویم، نور، دا لاندې ورکړي شوي.

نیز : سیلاب، لوے سیلاب، توئے.

نیسان : سپرلے، بهار، پسرلے.

نیشت : نیستي، نشتوالے، غریبي، مفلسي.

نیکانه : د نیکۀ کور، نیکۀ کنی.

نیکۀ : د مور پلار یا د پلار پلار. مشر سړي ته د خطاب کلمه.

نیل : اودي رنګ، وسمه، د کوزار نشان. یو مرکب چې جامې پرې رنګولے شي.

نیلاب : د سویلي دریائے سند نامه، اباسین.

نیلام : د بولی په ذریعه قیمت وچتول او خرڅول.

نیلم : د اودي رنګ یو قیمتي کانے. د غمو یو قسم.

نیله : جړه، جړی، بیخ، ریشه. یو څوے، هغه څوے چې بل ورور خور نۀ لري.

نیله توتا : شین غوندې کانے چې حکیمان ئې د زخم رغیدو دپاره استعمالوي.

نیم : نیمائي، نیماهه، نیم بها، منځ، مینځ، یو څیز چې دوه برخې شي د هغې یوه برخه. دوه برابرې حصې کونه.

نیمبو : لیمبو، لیمو،

نیم پاؤ : دوه چیټاکی، د

پاؤ نیمه.

نیم پخته : یو څیز داسې پخیدل چې نیم پوخ وي او نیم کچه وي. چې پوره پوخ نه وي.

نیم ټنې : جاکټ، بنین، یو قسم بنین چې د قمیص لاندې اغوستے شي.

نیمچه : هغه جاندار یا بې جانه څیز چې په اصل کښې ئ د غیر خالصې مادې ګډون شوے وي، کم اصل، رذیل، دوه رګه،

نیمزالے : هغه سړے چې خوانې ئ په شا شوې وي. د پوخ عمر خاوند.

نیمسیرے : د نیم سر درد، هغه درد چې په نیم سر وي. دوه پاوه،

نیمکښو : بیم لرې، نیم پرانستې، هغه څیز چې پوره مضبوطی سره بند نه وی. بیم کښې، نیم بیرته

نیمکولے : هغه خبر چې څه حصه ئ پریکړے شوے وي یا مات کړے شوے وي.

نیمکی : د پښتنو د سندرو یو قسم.

نیمګړے : چې پوره نه وي. ناقص، نیمه خوا، ارمانې،

نیمول : دوه ټکړې کول، برابرول، تقسیمول، په منځ دوه ځایه کول.

نیمه : دوه ټکړې، برابر، په منځ دوه ځایه. نیم.

نیمه : یو قسم وچت او لنډ پرتوګ.

نینه : د غنمو یا جوارو دانه چې ورته شوې وي. ورته شوې دانه.

نیني نیني : پسخیدنه، ډیر لیواله کیدنه.

نیوش : اوریدنه، اوریدونکے.

نیوکه : بیونه، خپلونه، کوژدن، کویدن، قبضه کونه، اخستنه، اجاره کونه،

نیول : ټیسکول، احساتل، کرفتارول، راټینکول، بیسل.

نيب : طرز، طريقه، روش. مسلسل، پرله پسې.

نيرنگ : مکروفريب، تکي، چل، چم، جادو، چالاکي.

نيرو : طاقت، قوت. زور ازمائي.

نيزه : د جنګ يوه وسله. د وسپنې جوړه سومبه هغه لرګے چې په سر کښې ئ سومبه لګيدلې وي.

نيزه باز : چې په نيزه وهلو کښې ماهر وي.

نيست : د هست متضاد. نيشت، نشتوالے،

نيستکار : نيستمن، خوار، غريب، عاجز، فقير، مفلس.

نيستکاري : نيستي، غريبي، مفلسي.

نيستمن : خوار، غريب، مسکين، مفلس.

نيست و نابود : تباه و برباد، تباه شوے، برباد شوے، پوښا.

نيستي : غربت، افلاس، غريبي، خواري، مسکيني، فقيري.

نيش : لښه، ليشه، لاښۀ. ازغے، اغزے، د نيزې څوکه، زهر.

نيشت : نشتوالے، غريبي، مفلسي.

نيشګر : ګنے،

نيغ : لک، ولاړ، راست. چا سره جنګ ته اماده کيدنه، د جنګ حالات پيدا کونه.

نيغکے : د نيغ اسم تصغير. مشروټے، کلک ستر ګے.

نيغول : لکول، ولاړول، برابرول، خم ايستل، سمول، وچتول، پورته کول، هسکول.

نيغه : هسکه، جګه، وچته.

نيغيدل : لکيدل، سيدا کيدل، سميدل، نيغ روانيدل، وچتيدل، پورته کيدل، هسکيدل، ګستاح کيدل.

نيک : ښۀ، تقويٰ دار،

پرهیزگار، پاکدامن، شریف، رحمدل، مهذب.

نیک بخت : د بدبخت ضد. خوش قسمت،

نیکر : جانګے، ختلنګ.

نیکنامي : په بنه نامه یادیدنه، بنه نامه لرنه، په نیکه یادیدنه.

نیک نیتي : نیک نیست لرنه، نیکه اراده لرنه.

نیکو : بنهٔ، نیک سیرت، نیک خصلت.

نیکوکار : نیک کار کونکے، نیک عمله.

نیکوکاري : نیک کارونه کونه، نیک عمل کونه.

نیکي : د بدی ضد. بنیګړه، بنهٔ والے، خوبي.

نیوي : سمندري فوځ

نے : شپیلی، نل، نچه

نے : بوه لاحقه چې د نامې یا صفت وروستو راشي نو د نسبت معنې ورکوي لکه پرونے، اوسنے

ن : (نـون) د پښتو د پـتې اووۀ دیـرشم حرف، دا حرف د پښتو د یو لفظ په سر کښې هـم نۀ راځي. د لفظ په منځ یا اخـر کښې راځـي. اواز ئ د نـون غنه، ړ او نون غنه مرکب اواز وي لکه کون، رنا، ورونه وغیره.

د ابـجد په حساب ئ قیمت د "ن" بـرابـر یعنـي پنځوس (۵۰) دے.

نی : د اسـم تـصغیر علامت دے لـکـه کوتې نه کوتنی، د پـښـه نـه پـښنی، کوزې نـه کوزنی.

و : (واؤ) د پښتو اتمه ديرشم حرف، د ابجدو په حساب د دي شپږ (٦) عددونه مقرر دي.

وا : کشاده، جدا، پرانستے، بيرته.

وابسته : تړلے شوے، متعلق، رشته دار، نوکر، تعلق لرونکے.

واپس : پستنه، بيرته.

واټن : د دوۍ خايونو ترمنځه لرې والے، په سرابر فاصله، مساوي فاصله.

واجب : چې کول ئ لازمي وي. هغه عبادت چې کول ئ ضروري وي او نه کول ئ ګناه وي.

واحد : يو، مفرد، صرف. د خداے تعالي يو صفتي نوم.

وادګنے : د وادۀ خلمے، ودګون، ودیزن، زوم، ودګنے، شاوۀ، شاوله، ودګينے.

واده ګاټه : ګټه نقصان، کمے زياتے.

وادۀ : نکاح کونه.

وار : نمبر، لمبر، ځل، پيره، نوبت. حمله، ګوزار. ځواني، دور. زخم، ديکه، موقع، د ماده څاروي نرڅاروي ته ليوالے کيدنه (دي صورت کښې ورسره راوړل هم استعماليږي وار راوړل)

وار : يوه لاحقه چې د اسم نه پس راځي لکه اميدوار، سزا وار.

وارپار : حواس، ساه صورت، ساه.

وارث : هغه سړے چې د چا ميراث ورته رسي. سرپرست، خاوند، ميړۀ، ميراث خوړونکے مشر.

وارخطا : ويريدلے، تريدلے، ويرې اخستے.

وارد : راتلونکے، موجود، رسيدونکے.

واردات : حالت، پيښه، سانحه، جنګ جګړه،

هنگامه، حادثه.

وارډۀ : پـخ شـوي کـنـډ، د لـنـگـانـۀ نـه پـس د ځاروي د وړومبو څو ورځو پئ،

واړه : فرصت، موقع. خپلې فائدې ته کتنه. پیړه.

واړیزه لبه : هغه تبه چې کله وي او کله نه، ملیریا.

واړه : تـمـام، پـوره، کـل، همه، کلهم.

واړۀ زاړۀ : اولاد، بـچـه پـونک، واړۀ زاړۀ، بـال بـچ، بچ کچ

واز : ویـت، ارت بیـرت، بې شرم.

وازده : واز کـه، چـربـي، د حیواني جسم په غوښه او وینه کښې شامله د غوړوالي برخه چې سپین یا زیړ رنګ لري او چې ویلې شي نو روغن ترې جوړیږي.

واز که : وکورئ وازده.

وازول : ارتول.

وازېدل :ارتېدل، خلاصیدل، بیرته کیدل.

واسطه : تعلق، تړون، ربط، علاقه، ذریعه.

واسع : ارت، خوریدونکے، خـوررور. د الله تـعـالیٰ یـو صفتي نوم.

واسکټ : وازکـټ، سـینه بند، نیم کنے.

واښۀ : ګیاه، سبزه.

واصل : شـاملـیـدونکے، یو خـاے کیـدونـکے، ملاقات کونکے، رسیدونکے.

واضح : صـفـا، روښ، بښۀ په صفایي سره. ظاهر.

واعـظ : وعـظ کـونـکے، نصیحت کونکے، ناصح، پند کونکے.

واف : بـلـبـل، سـنـدرغاړے، خوږ زبان.

وافر : ډیر، ګڼ تعداد کښې، د علم عروض د یو بحر نوم.

واقع : مـوجـود، کیـدونکے، راتلونکے.

واقعه : پیښه.وقوعه.

واقعي : په ریښتیا، بالکل صحیح، سکټ، په حقیقت کښې.

واقف : ښه، اشنا، بلدي، پیژندګلو سړے.

واک :طاقت، توان، اختیار، حق.

واکمن : د اختیار مالک، د واک خاوند، باچا، بادشاه.

واکي : د لاحقې په توګه استعمالیدونکے تورے چې فاعلي معنیٰ پیدا کوي لکه خپل واکي.

واګه : د خرمنې پرے چې د اس یا اسپې د قابو کولو دپاره د اس یا اسپې په خلهٔ کښې د وسپنې ډډې پورې تړلے شوے وي.

وال : د نسبت لاحقه چې د نوم سره راشي نو فاعل تري جوړ کړي. لکه ټانګي وال

والا : په مرکباتو کښې پکاریدونکے تورے لکه ټانګي والا، د ملکیت ښکاره کولو علامت. هسک، د وچتې مرتبې خاوند.

والد : پلار، د مور خاوند، د مور میړهٔ.

والده : مور، د پلار ښځه

والدین : مور پلار.

والسلام : او سلامتیا دې وي په تا. د کلام یا بیان اخر ته استعمالیدونکې دعا.

والله : په الله پاک مې دې قسم وي. بې شکه، ریښتیا.

والله اعلم : الله پاک ښهٔ خبر دے.

والهٔ : وله، د اوبو نهر. د نهر یا سیند نه د اوبهٔ خور په غرض رابیلې کړې شوې چانې چانې اوبهٔ. د صفا او پاکو اوبو ناله.

والي : خاوند، مشر، سردار، مالک، بادشاه، سرپرست.

والی : د زنانو کالے چې غوړونو ته اچولے شي.

واله : غوبل شوې غله چې بوسو سره یو ځاے وي.

واو : د حرف "و" تلفظ.

واوا : د شاباش کلمه داډګیرنه کونه، ډیر ښه. شاباش.

واوا : ښکلے څیز (د ماشومانو په ژبه.)

واوره : د هوائي ښخاراتو منجمد شکل چې له بره راوریږي. په مصنوعي طریقه د اوبو منجمد شکل.

واویلا : ژړا، فریاد، چغې سوري، ماتم، شور فریاد، آه فغان.

واه : د خوشحالي اواز چې د خوشحالي په وخت د خلې نه وځي.

واهمه : د تصور هغه زور چې احساسات پیدا کوي. د تخیل قوت.

واهیات : فضول خبرې، بکواس.

وائي : د ونیل نه امر. د خلقو د خلې خبره، داسې خبره چې په خلقو کښې شهرت بیامومي. شهره، اوازه.

وای وای : فریاد، د فریاد چغې.

وبا : مرګو، خوریدونکې مهلکه بیماري.

وبال : عذاب، مصیبت، آفت، ګناه. بوج، بار.

وبائي : د وبا سره متعلق.

وبله : یو تر بله، خپلو کښې، په یو بل.

وپار : لین دین، کاروبار، ونج، بیپار، رابطه، وفا، تجارتي معامله، تجارتي اعتبار.

وپره : بوږه بوږه، نرمه نرمه. ارکجه. ناجانه، ناواقف.

وت : درز، وړوکے سوري، کنده، رو، لرې والے، پلس والے، فراخي.

وتد : میخ، چوکه. د علم عروض په اصطلاح کښې دري حرفي کلمه.

وتر : د قائم الزاویه مثلث له

وتلو لويه ضلع. د مثلث د يوې زاويې مخامخ ضلع. هغه خط چې د څلورو ضلعو مخالف کوټونه يو خاې کړي. هغه خط چې د دائرې څخه حصه راکيږه کړي او قطر نه وړه وي.

وتر : هغه دري رکعته مونځ چې ماسخوتن مانځه کښې له فرضو او سنتو نه پس کولے شي.

وَتر : وتره، د اوبهٔ خور نه پس د زمکې هغه حالت چې د يوې کولو قابل وي.

وتکے : وړوکے وت، وړوکے سوړے.

وتل : خارجيدل، بهر وتل، ظاهريدل، بهر ته تلل، سديدل، کښيوتل، پروا لرل، علاقه لرل، مينه لرل، رسيدل، ښکاره کيدل

وتنه : پروا، فکر

وتے : سمايان، وچت، رسيدلے

وتک : کټه وته، آمدن، د سودا يا دکانداری د مال و خرڅ کټه. د ورځې آمدنې

وټ کټ : ودکټ، وډکټ، کمے زياتے.

وټے : د نهر يا ولې وچته حصه چې لاندې تر ې د ژرندې ناوه لګيدلې وي.

وثوق : مضبوطيا، اعتماد.

وثيقه : اقرار نامه، دستاويز، سند، وعده.

وجاهت : عزت، رعب، لوئي.

وجد : شوق، جذبه، بې خودي، ډيره خوشحالي.

وجدان : د دريافت او پوهې ذوق سليم چې يو قلبي قوت دے.

وجداني : وجدان او باطني حواسو سره تعلق لرونکے.

وجع : تکليف، درد، درد.

وجود : بدن، تن، جسم، حيات هستي، موجودلے کيدنه.

وجه : څيره، مخ، رخسار. سبب، سوب.

وجيه : ښائسته، ښکلے، د شکل او صورت نه ښۀ.

وچ : خشک، د لوند ضد. شنډ.

وچار : ابره، هغه ابره چې برستن تولانی ته اچولے شي

وچ په وچه : هيڅ نې هيڅه برساحقه، بې ښې بې بدې، چتې پتې.

وچت : سره، پورته، لوړ، وچت

وچتول : سره کول، له يو خاے نه بل خاے ته کول، جګول، لوړول، پاڅول.

وچتيدل : سره کيدل، پاڅيدل، پورته کيدل، ترقي کول، وده کول.

وچکال : سوکړه، هغه کال چې باران نه پکښې نه وي.

وچکالي : سوکړه، د فصل ښۀ نۀ کيدنه. قحط.

وچکے : نرے نروچکے، نرے پيرے، وچ کلک، ريپړه نرے، په بدن کمزورے.

وچوب : په لښتي کښې اوبۀ بنديدنه. د اوبو کمے، اوبۀ کميدنه. وچوبے.

وچور : وچوالے، وچتوب.

وچول : له څۀ څيز نه نم ايستل، بې اوبو کول. خشک کول.

وچولے : ټنډه، تندے.

وچه : للمه، خشکه، د لوندي ضد. د لنګې ضد، د بلاربې ضد.

وچه غاړه : حلق، ستونے، د ساه اخستو نالی.

وچه لمده : ګوړه ګل، غوړه ګل.

وچيدل : د نم بيخې ختميدل، اوبۀ ختميدل، خشکيدل، مانده کيدل.

وچي کانګي : وچې التې، وچې قے. وچ چالونه.

وحداني : د واحد سره متعلق، تنها، ځانله.

وحدانیت : توحید، یو والے، یو کیدنه.
وحدت : د کثرت ضد، اتفاق، یووالے.
وحشت : جنون، سودا، حفکان، لیونتوب، له تنهایی پیدا کیدونکے غم او زړه تنگي.
وحشتناک : ویرونکے،
وحشي : حسکلي، غیر مهذب
وحشیانه : د وحشي سره متعلق
وحید : یو. بې مثال. لاثاني. د الله تعالي یو صفتي نوم
وحي : پیغمبرانو سره د الله پاک کلام. اشاره، الهام.
وخت : زمانه، دور، ساعت،
وختي : د وخته، ډیر مخکښې، سحر، وړومبے
وختینے : وختي، د وړومبي وخت.
وخله : د حیرانتیا او خوشحالی کلمه
وداع : روانکي، د ناوې رخصتي.
ودان : اباد، جوړ شوے، د وران ضد.
ودانول : ابادول، جوړول،
ودائي : ابادي، عمارت، تعمیر.
ودانیدل : جوړیدل، اسادیدل. صاحب اولاد کیدل
ودرول : ولاړول، ایساروں، قائمول، درول
ودریدل : ایساریدل، قائمیدل، دریدل
ودګنے : هغه خلمے چې وادۀ ئې وي. د ناوې مذکر
ودود : غوښتونکے، مهربان، د الله تعالي یو صفتي نوم.
وده : ښیرازي، ترقي، لوئیدنه.
ودیدل : وادۀ کیدل، د ښځې په نکاح کیدل.
وډ : واټ، ویشکے، وټ، د

زمکې لوبه ټکړه

وډ : د ګډ تابع مهمل لکه ګډوډ.

ور : دروازه، تمبه،

ور : يوه لاحقه چې د خپې اسمونو په اخر کښې راتلو سره د فاعل معنې ورکوي لکه کينه ور، بختور وغيره.

ورا : د ښځو ګڼه چې د وادۀ په موقع د ناوې کور ته ځي او بيا د ناوې د ډولې سره راځي.

وراثت : ترکه، ميراث، ورثه، له مړي پاتې شوے مال جائداد. ورثه.

وراره : ورور مړې ښځه، هغه ښځه چې ورور ئې مړ وي.

ورارۀ : د ورور خوے

وراستۀ : د وروست جمع، زوړ، ريمس

وران : سړاند، خراب، ويجاړ، رنګ، اجاړ، خراب شوے، ورانے کونکے، دليل، شرير، شيطان. ورانکارے

ورانکارے : فسادي، شرير، ورانے کونکے.

ورانول : د کار نه ايستل، ختمول، ويجاړول، ويرانول، په بل مخ اړول، تباه کول، برباډول، ويجاړول، خرابول، رنګول،

ورانه : دشمني، دښمني، تربګنې، محالفت، بدي، د وران مؤنث

ورانه ودانه : يېکې ندې، ښه بده، جوړه ناجوړه

وران ويجاړ : وګورئ وران وخار

ورانيدل : له کاره وتل، خرابيدل، دښمنی جوړيدل

ورانے : خرابے، دښمني، پټه، فتنه، نقصان، اړيته، خميته.

ورايه : له لرې، په فاصله، د "له" حرف جار سره استعماليږي.

وربشه : يو قسم غله، اربشه، اوربشه عمر، روزي،

(د روند سره په استعمال)

وربشينه : روټه، د اوربشو خوړه روټۍ، چې د اوربشو د اوړو نه جوړه وي.

وربل : پېكه، كالې، د پيغلې په سندي ويښته، بندكې، اوربل

وربوز : د خنـاور حلـه، د انسان مخ، مخ، شكل، حلة، موشاده

وربه : دربان، ور ساتونكې،

ورپسې : شاته، وروسته

ورپورې : ورسره جوا كښې، په ور دسه، كوزباسې لگيدلې

ورتنگ : ورتلل

ورتول : وريتول، پـه او يحول، سخته گرمي رسول

ورته : وريته، بېنه، هغه دانه چې پولي نه شي. وريته كړې غوښه، تيكه.

ورتـه : بـل تـه، دورو تـه (د غائب صيغه كښې)

ورته : نژدې.

ورته : سكښتې شوې وړې

ورته : حر كند، ښكاره

ورتيدل : پـه زور سوريدل، برقه نې كيدل، په ور سيدل، اديت ور كيدل

ورټ ورټ : پـــه ورټ ورټ ی وژړل د مسلسل ژړا سره استعماليږي

ورته : ميږ ـــ، تر كـ، پاسې سوې مال حانداد

ورځ : د [illegible] [illegible] [illegible]

ورځپانه : [illegible]

ورځنې : [illegible]

ورځنۍ : [illegible]

ورځې : ورا د ښحو حبې چې د واده پـه ورځ د ناوې كور نه ځي

ورچالې : بهـر، ورچـې، ورځې، نه ووره بهر

ورچني : وګورئ ورچاني.

ورخ : هغه ناله چې پتې ته پرې اوبۀ تیریږي. ناکه. اوبو ته ترلے بند، د اوبۀ خور د لښتي سرډب، ارخ، د بدن یوه ډډه، طرف.

ورخاړے : لاړژن. دکلهو بیزو یو مرض. یو ساک چې د سلاد په طور هم خورلے شي.

ورختل : په چا حمله کول، بره ورتلل، ورو چتیدل.

ورخطا : په تیزی ور روان، ور خوشے، ورشتی.

ورد : هغه کار چې روزانه کیږي او ناغه پکښې نه وي، وظیفه

وردانګل : ورتوپ کول، ورجوکل، څۀ ته ټوپک کول، ور غورځیدل،

وردي : د سپاهي سرکاري لباس.

ورزش : وجود ته مسلسل حرکت ورکونه، خواري، مشق،

ورزل : ورزل، ژوبلول.

ورړه : زغانځه، یوه مشهوره حشره چې تور رنګ لري او په ټوپونو ګرځي چرته چې انسان وچیچي هغه ځاے پرسیږي او خارښت کوي، کله کله د طاعون د خوریدو ذریعه هم ګرځي.

ورستنیدل : ور واپس کیدل، بیرته ورتلل، ور ستونیدل.

ورستول : زړول، ناقابل استعمال کول،

ورستیدل : له کاره وتل، زړیدل، فرسوده کیدل، د کار قابل نه پاتې کیدل.

ورسک : د مخ هغه حصه چې ویښتۀ پرې وي. شونډه. د دوۀ عرونو په منځ کښې تنګه لار. روبند، تربوزک، کوم ځاے چې غر او میدان یو ځاے شوے وي. د خرۀ یا د اوښ پوزه. هغه پګړی چې د زنې لاندې ترلے شوے وي او

مخ پرې پټ شوے وي. غاړه، پشتې.

ورشو : د څاروو او خناورو د خړن ځایے، وابنهٔ لرونکے میدان، چراګاه،

ورښت : وریدنه، وور واوره وریدنه، واوره کیدنه.

ورښودل : ښکاره کول، ښودل، ورزده کول، ور ښوول، ورښیل.

ورطه : ګرداب، د هلاکت ځایے.

ورع : پرهیزګاري.

ورغاړے : د اندازې نه کار اخستنه، قیاس، اټکل.

ورغړیدل : ور غورځیدل، ور ګورارېدل، ورپریوتل

ورغومے : د چیلی بچے چیلو کے د شمسي کال لسمه میاشت د اسمان لسم برج

ورق : صفحه، پاڼه

ورڼه : پاڼه، د کتاب صفحه

ورک : چې د اسان له نظره پټ یا پناه وي. نه ښکاریدونکے، نه پیدا کیدونکے، ضائع

ورکړه : خیرات، صدقه، بخښنه،

ورکړه راکړه : معامله. چلوي کونه، رشته کونه، لین دین

ورک لیونے : سخت مئین، شیدا.

ورکوزول : ورښکته کول، لاندې وروستل، ورکوزیدل : ښکته ورتلل، کوز ورتلل، لاندې ورتلل.

ورکول : بخښل، عطا کول. د خپلې قبضې نه د بل قبضې ته سپارل، حواله کول. وهل، جاري کول،

ورکول : ضائع کول، لاپته کول، ختمول، بې درکه کول

ورکه : ورک شوے. ورکه شوې، بې درکه

ورکیدل : ورکېے کیدل.

ورکیدل : ختمیدل، بې

درکه کیدل، لاپته کیدل، ورک کیدل.

ورګلۍ : بې تامله، بې محابا. بې ویرې د هر څه نه ورتیر، بې پروا.

ورګډول : یو خای کول، شاملول.

ورلاندې : ورښکته، ورکوز،

ورلره : هغه لره، هغې لره، ورته.

ورله : امیدواره، چې په کیدهٔ ئ بچے وي، حامله، شیګاره، بلاربه.

ورله : ورلره، هغه له، هغې له.

ورم : د بیماری یا رحم په وجه د بدن پرسیدنه، پرسوب، پارسوب

ورمولے : د ماسومانو یوه بیماری چې د هغې په وجه ئ دستونه کیږي.

ورمیږ : څټ، مړی، عارہ

ورندار : د ورور ښځه

ورندے : ډیر وریدونکے، مسلسل وریدونکے.

ورنه : ورځنې، له دغه، له دغې خبرې،

ورنیکهٔ : د نیکهٔ پلار، د نیکهٔ نیکهٔ، غور نیکهٔ.

ورولے : اورنے، هغه کپړه چې پکښې ماشومان تړلے شي

ورو : په قلار، په ارام، په مزه، د تیز یا زر ضد.

وروځه : د ستر کو نه پاس د ویښتو نرۍ کرښه.

ورود : دننه داخلیدنه، راتلنه، رارسیدنه، تشریف راوړنه.

وروږ : یو داسې کس چې ټل سړي یا ښځې سره د یو مور پلار نه یا د یوې مور نه د پیدا کیدو تعلق لري. په وړومې حالت کښې سکه وروږ بللے شي. څنې وخت د سوم په حای وئیلے شي، برادر، ډیر خوږ دوست،

رشته دار.

وروروليِ : وروروګلوي، پخه دوستي، برادري.

وروړل : چاله اوړل، چاته رسول.

وروست : پخوانے، زوړ، روسست، خوړلے شوے، کچه شوے، خراب شوے.

وروستول : خرابول، زړول، استعمالول، ورستول.

وروستل : زړلـه بوتلل، زړيدل، سړول

وروستينبال : پـه اخر کښې، اخري کښې.

وروستے : شاتنے، اخرنے، اخري

ورول : د باران د څاڅکو په شان تويول، ګوزارول،

ورون : پټون، ساتګه، بله، د سـده په بدن کښې د کاني ، و د ګوډۍ سر مـيـخ ځانے ګی.

وروسے : زړسے، خيرسے ميږي

ورو ورو : پـه قلار قلار، په مزه په مزه.

ورۀ : د ورور معيره حالت.

ورهسته : لرې، يو خوا ته.

ورهنه : کسب، هنر، کار، شغل.

ورهول : خلاصول، ازادول.

ورهيسته : لرې، يو خوا ته. د لرې، ورهسته

وريا : حاشيه ډېر لرې، په فاصله.

وريت : د اور په تاؤ پوخ، پـه انګار پوخ، کباب شوے، سوزيدلے، قهر اخستے، غصه شوے.

وريتول : پـه اور پخول، بيني کول. غصه کول.

وريته : په اور پخ شوې غله، کباب کړې غوښه، په اور پخ شوې تيکـه د وريتو غوښو سلمستيا

وريتيدل : پـه اور پخيدل، بيني کيدل، سوزيدل، غصه

کیدل.

وریځ : په اسمان هغه لړي چې باران تري وریږي.

ورید : د څټ غټ رګ، شاه رګ، شه رګ.

وریژه : یو قسم غله.

ورین : کشاده، ارت، عام طور سره د تندي د صفت په طور استعمالیږي.

ورینداړ : د وروړ بڼه، بابې، ورندار.

ورینګې : نرې نرې باران،

ورینې : خوشحاله، سوکاله.

وریدل : باران کیدل، متواتر څۀ څیز د یره نه لاندې راپریوتل، لکه کاڼي، ګلی او داسې نور.

وریره : د وراړۀ مؤنث، د وروړ لور.

وریشل : نغښتل، سکښتل، وریشول.

وریښم : ریښم، یو قیمتي تار چې د یو قسم حنځي نه حاصلولے شي او کپړه تري جوړیږي.

وړ : جوګه، د اعتبار قابل، مناسب، موزون.

وړ : زوروړ، په حقه، بې ګناه، د پر ضد.

وړاندینے : مخکښنے، پخوانے

وړاندې : مخکښې، وړومبے

وړانګه : پلوشه، رڼا.

وړانه : د وړ کیدو حالت، بې ګناهي، ګټه

وړانه پرانه : حق ناحق، ګټه بائیلات، دروغ رښتیا، وړه پره، نفع نقصان.

وړل : یو شے د څهل ځاے نه بل ځاے ته منتقل کول، رسول، وچتول، زغمل، برداشت کول.

وړمه : د وړم مؤنث. د وړځ یا شپې د صفت په طور استعمالیږي.

وړمه وړځ : تیرې ورځې

پسې تيره ورځ.

وړوکے : کمکے، کوچنے، د ستر ضد.

وړوکے اختر : عيد الفطر. د هجري کال لسمه مياشت.

وړول : ميده، کول، ريچې کول،

وړومبنے : وړومبے، مخکښنے، تير شوے.

وړومبے : مخکښينې

وړومبے خور : ربيع الثاني، د هجري کال څلورمه مياشت، د بارہ وفات نه پس اسلامي مياشت.

وړومبے : وړومبنے، اولنے، مخکښنے

وړه : په قد عمر يا وزن کښې کمه ماشومه،

وړه : فتح، د وړ کيدو حالت. د پرې ضد.

وړه پرې : حقه ناحقه، حق ناحق،

وړين : لـه وړی نـه جوړ شوے

وړينه : لـه وړی نـه جوړه شوې، پشمينه.

وړی : د دالو او قيمې نـه جـوړ غونډان چې کټوی کښې اچولے شي.

وړی : د کـپړو يـا اوښانو ويښتهٔ او لـه دغو ويښتو جوړ تارونه، پشم.

وزارت : د وزيـر کـار، د وزير عهده.

وزر : د مرغانو بنه، ويښتهٔ، د مارغانو پرونه مټ، سپک څيز، د کتاب جلد،

وزگار : بې روزگاره، فارغ، کـار نـهٔ لـرونکے، بيکاره، بې کسبه

وزله : بهانه، چاره، سبب، ذريعه، وسيله.

وزن : جـاج، تـول، انـدازه، بـرابـري، تـوازن. پـڑه، د کولالانو پڑه، عـزت، بوج، بار، مـقـدار. په علم عروض کښې د شعر بحر

وزير : د بادشاه يا حکومـت

نائب.

وزیره ګوته : د لاس د منځنۍ ګوتې او کچې ګوتې ترمنځ ګوته.

وژل : قتل کول، مړ کول، خون کول، قتلول،

وژمکی : وږمکه، سپوږمۍ.

وژه : د ښځې پله، پله.

وږد : د لنډ ضد. په قد قامت کښې وچت، یوه خاصه فاصله لرونکې.

وږدول : راښکل، لویول. طوالت ورکول.

وږم : سخا بوی، خراب بوی.

وږمه : یخه هوا، نرے باد. علامه.

وږے : نهر، شوقي، شوقین.

وږے : د غنمو اوربشو جوارو وغیره هغه خوشه چې پکښې دانې وي. د شهدو د مچو د ګبین هغه حصه چې پکښې شهد وي.

وس : طاقت، کوشش، زور، واک، اختیار، څیز.

وساطت : واسطه، ذریعه، وسیله

وسائل : د وسیله جمع.

وسپنځړے : د وسپنې زنګ، د وسپنې خیرے چې عام طور سره د زیړې په مرض کښې پکارولے شي.

وسپنه : په معدني څیزونو کښې له ټولو زیات استعمالیدونکے دهات چې فولاد ترې جوړیږي هغه عنصر چې ټامولیه ئې الف اسي او اټمي شمیر ئې ۲۶ دے

وستکار : هغه خلق چې د کلي په ښه بده کښې خدمت کوي او خپو پیشو کښې مهارت لري استکار.

وسط : منځ، مرکز.

وسطي : منځنے، منځمے، مرکزي

وسعت : ارتوالے، پلنوالے، لویوالے

وسله : اسلحه. د جنگ جګړې اوزار سړبک تماچه، چاړه عرض هر ههه شے چې جنگ جګړه کښې بکاریږی

وسمه : د سر سپینې [illegible] ویښته پرې تورېږي شي حصاب

وسواس : وهم. فکر. وسوسه، ویره. خطره. شک. ګومان، ګمان.

وسوسه : وګورئ وسواس

وسیع : ارت، پلن. فراخ

وسیله : سبب، ذریعه، سبب، اسره، طفیل، ضمانت. رسوخ.

وسیم : ښکلے، ښائسته، ډولے

وشته : ټوقه، مسخره، مزاح

وشتي : ټوقي، ټوقمار وشتي کوبکے

وښکل : استیل، بهر کول، وباسل، وکږل

وښکے : د خلې یو طرف، د حسې قسمه، کوم ځاے چې د ږیرې شویدې بویال سره نګلي وی

وښے : کنګس، کنګس، سګرے ګحره. ناهو. لاس نه د جولو یو کالے

وصال : ملاقات، یو ځاے کیدنه، مر کیدنه، ختمیدنه، د تصوف په اصطلاح کښې په وحدت کښې فنا کیدنه.

وصف : ښـه والے، ستائینه، تعریف، خوبي.

وصیت : نصیحت. د خپل مال جانداد یا تعلقاتو په باره کښې له مرګه مخکښې یا په سفر د تللو په وخت پریښودے شوے هدایت چې عمل پرې د مرګه پس کولے شي.

وضاحت : تشریح کونه. ربه حسره کرنه. تفصیل بیانونه.

وضع : صورت. شکل، حالت.

وضعدار : عاجز، عاجز طبع، په یو حالت خوښ.

وضو : اودس. د مانځنه دپاره په شریعت کښې مقرر اندامونه وینځل

وطن : علاقه، ملک، د پیدائش ځای، قوم. د یو قوم په شریکه د وسیدو ځای او علاقه.

وطي : غو، جماع، کوروالے، اصل معني د پښو لاندې کول.

وظائف : د وظیفې جمع.

وظیفه : د الله پاک ذکر. هغه خوراک چې طالبانو ته ورکولے شي. منصبي فرض. د سکولونو کالجونو وغیره طالب علم ته ورکیدونکے رقم. د یوې اداري له خوا مستحقینو ته ورکیدونکے رقم.

وعده : عهد، قول، اقرار، قرار، لوظ.

وعظ : نصیحت، ناصحانه تقریر، پند.

وعید : د سزا ورکولو وعده.

وغیره : د عربي مرکب ناقص چې پښتو او نورو ژبو کښې د اسم په طور استعمالیږي. او نور، ورسره نور، او له دې نه سیوا

وفا : پت پالنه، د یارانې او دوستۍ وعده پوره کونه، ملګرتیا کونه، سر ته رسونه، د جفا ضد.

وفات : مرګ، مړینه.

وفادار : وفا کونکے، وفا لرونکے.

وفاق : موافقت، اتفاق، اتحاد، یووالے. د څنو صوبو یا ریاستونو مجموعه چې اندروني طور سره خپل واک لري.

وفد : جرګه، یو ټولے چې د مطالبې کولو دپاره چا له لاړ شي.

وفود : د وفد جمع.

وقار : عزت، قدر، متانت،

شان و شوکت.

وقائع : د وقیعه جمع، حادثې، واقعات، خبرونه.

وقایه : د کتاب جلد، کاتنې.

وقت : وخت.

وقعت : عزت، اعتبار، ناور

وقف : سپارلے شوے، سپارلے، خیرات شوے،

وقفه : مهلت، لږ ساعت، دمه کونه

وقوع : واقع کیدنه، صادریدنه

وقوعه : واقعه، حادثه، پیښه، صدمه، هنگامه.

وقوف : پیژندنه، شعور، تجربه، علم، پوهه، د حج په موقع د حاجیانو په عرفات کښې ایساریدنه.

وکاړل : وباسل، ایستل، وښکل، ویستل

وکالت : د وکیل پیشه، د وکیل کار د افغانستان د شورې رکنیت

وکر : اکر، بنه، څیره، رنګ، وضع، جثه.

وکښل : وښکل، وباسل، ایستل، ویستل.

وکیل : اختیارمن، نائب، واکمن، مختار، وکالت کونکے، په عدالت کښې د مدعي. مدعا علیه یا د عدالت له خوا پیش کیدونکے قانوني ماهر د افغانستان د شوري رکن.

وګړے : بنده، انسان، سړے، کس، تن، غړے، خلق، عالم، فرد.

ول : پیچ وتاب، تاؤ، کړلیچ،

ول : اندازه، هوش، میانه روي. خبر، خبره، حکمت، چل، هنر، ارزان، سپک، ګرداب، قسم، ګواهي، تمه. دروازه، ګرمه هوا، ګرم باد. مناسب حال، معامله

ولادت : پیدائش، پیدا کیدنه،

ولاړ : پاڅېدلے، قائم، ايسار، منتظر، د ناست ضد

ولايت : د ولي مرتبه، بزرګي، د ملک صوبه، د صوبې د والي دفتر د برطانوی حکومت مرکز لندن

ولجه : لوټ، تالان، مال غنيمت

ولد : ځوے، زوے

ولس : اولس، خلق، وګړي، عوام

ولسوالي : افغانستان کښې يو انتظامي وحدت لکه ضلع

ولقه : واک، اختيار، ونډه.

ولکه : ولقه، سپارنه قبضه، علاقه، ډله، چکله

ولل : ويښخل، مېښخل، پرېښخل.

ولموړے : اورمولے، ورمولے، د ماشومانو يوه بيماري چې پکښې دست او قے راځي.

ولور : وروړ، د سحرايي له خوا ناوې ته مقرر شوې پيسې.

ولول : کوږوږ کوږوږه، ولونه ولونه، ګنګوټي، پيچ در پيچ.

وله : ونه، وياله، هغه لښتے چې څړ په پکښې د پټو دپاره د سيند څخه اوبه رابيلې کړے شوې وي.

ولوله : جذبه، جوش.

ولي : ملک، سرورک، دوست، د الله تعالی دوست، بزرګ

ولي عهد : د بادشاه ځوے چې د هغه له مرګه پس د تخت خاوند وي.

وليمه : د واده مسنونه روټۍ

ونج : بدل، عوض، لين دين، کاروبار، تجارت، سود ګري، نقص.

وندر : د ځناور د مرۍ بړے، هغه لوے دام چې کبان پرې نيولے شي

وندنے : د شني ګيا، غلې يا وچې پترې جوړ کړے شوے

ستنې چې کېدې پرې تړلې سي.

ونډه ونډه : پارچه پارچه، ټوکړه ټوکړه، حصه حصه، برخه برخه

ونډه : حصه، برخه، سحر د پیو لوشلو دپاره لښکې ته ورکېدونکې خوراک

ونډی : برخه، ټوکړه، حصه، هغه ګله چې په شریکه د حصې شي او غوښه ی حصو یکو کښې تقسیم کړې سي

ونه : درخت، درخته، یو لنډې بوټې چې غټه لرګې لرونکې تنه لري

ووریا : باران

ووری : د غابښونو تر منځه غوښه، اوری

وهاب : ډېر بخښونکې، د الله تعالي یو صفتي نوم.

وهابي : وابي. د شیخ عبدالوهاب د فرقې سره تعلق لرونکې چې خان ته اهل حدیث وائي.

وهل : ټکول، لګول، شکست ورکول، ماتې ورکول، ګوزار ورکول، ډیکه ورکول، خوړلې کېدل

وهم : شک، ګومان، ګمان، خیال.

وهمي : وهم کوونکې، شکي مزاج.

ویاړ : غرور، فخر، تکبر، حونکړه، کودسه، د وسیدو حاې

ویاله : وله، واله

ویت : پلن، [illegible] پراسنې

ویتیدل : ارتیدل، [illegible] وازیدل

ویتي چیتي : فضول خبرې، بکواس، چتیات.

ویجاړ : وران، کنډر، [illegible] ویران.

ویر : ژړا، فریاد، ژړا انګولا، ماتم.

ویرپیټ : ژړا انګولا، های

هاي، ساندې،

ویرول : په ورځ کښې اندیښنه پیدا کول، خطره پیدا کول، ډاروول، بیروول

ویره : ډوډنیدنه، ډار، یره، خوف، ترهه

ویریدل : ډارېدل، په ورځ کښې اندیښنه پیدا کیدل، خطره پیدا کیدل،

ویږ : خور، ارت بیرت، غورېدلے

ویږول : خوږول، غورول، اړول،

ویږیدل : خوږیدل، غوږیدل، وتیدل،

ویسا : باور، یقین، اعتماد، اعتبار

ویساک : بیساک، د هدې کال وروسۍ میاشت چې د اپریل مې سره سمه وي.

ویستل : ایستل، خارجول، بهر کول،

ویش : د درد، افسوس، خوږ، حسرت د اظهار کلمه.

ویشتل : کنزار کول، بنکار کول، په ګولی یا غشي وژل.

ویښ : بیدار، خبردار، د اودهٔ ضد.

ویښول : بیدارول، له خوبه راپاڅول،

ویښیدل : بیداریدل، له خوبه راپاڅیدل.

وینځل : په اوبو اچه کول، پاکول، صفا کول، مینځل، پریمینځل.

وینځه : د کور نوکره بنځه، د مرني مؤنث.

وینه : هغه آکسیجن پیدا کونکي مائع چې د انساناتو، مرغانو او ځناورو په رګونو کښې ګرځي. د اعلي ځناورو داسې مائع په رنګ سره وي.

وینه زوه : د ننکی دننه نو او وینه.

ویښ : جړ، جړړه، بیخ، لاندې، تل مونډ.

ویزار : بې پروا، مړه خوا،

مبرا، زړه موړے.

ویزه : د سرکار له طرفه ملک ته د تلو اجازت نامه.

ویسن : بیس. د چو اوړه

ویش : تقسیم. حصه کونه، ویشنه.

ویشله : د عمو د اوړو ډیره نرمه روټی.

ویښتهٔ : په حیواناتو او حاص طور سره انسانی سر باندې نري د تار په شان ریښې

ویلنے : ویښلے، ایلنے. بو حودرو سوتے چې د ولو په عاړو کیږی او د کیډې د درد دپاره پکار ولے شي حنګلی پودینه

وینا : خبره، بیان، تقریر. شاعری. بد رد وئیل. ستغې سپورې وئیل.

وینهٔ : یو قسم میږي چې اکثر په بنوره زمکه یا دیوال کښې کیږي.

هـ : (هي) د پښتو د حروف تهجي څلويښتم حرف د ابجدو په حساب ئ قيمت پنځه (۵) دے

هـا : اکي، اويه د چرکو تحم کلمه تاسف، افسوس

هاتف : غيبي اواز فرشته

هاتي : خرتم لرونکے يو مشهور غټ خاور

هادي : هدايت کونکے، پيشوا

هار : د غاړې اميل چې قيمتي کاني پکښې لګيدلے وي. د ګلونو ګول لړی چې په غاړه کښې اچولے شي. ازمينښت، ازمانش

هار : يوه لاحقه چې د تورو وروستو ولګي نو حاصل مصدر تري جوړ شي لکه شونګ نه شونګهار.

هـار : ار، اهـار. د سختي ګرمي مياشت د بکرمي کال مياشت چې له جيټ نه پس او د پشکال نه محکښې وي

هاضم : هضم کونکے

هـاضمه : د هضمولو اله. هضمه.

هـاغسي : هغه شان. هغسې.

هاغه : هغه، اعه.

هاکي : يوه مشهوره لوبه. هغه لرګے چې دغه لوبه پرې کولے شي.

هال : تالار، هغه لويه کمره چې غونډې پکښې کيږي

هاله : ګول حلقه، شپول، د سپوږمی کنډول، چورلنده.

هاں : او، هو، هاؤ، د جواب کلمه.

هـاويه : ژوره کنده، غرقه کنده. هغه ښځه چې اولاد ئ مړ شوے وي

هاها : د خوشحالی کلمه په زوره د خندا اواز.

هاهو : شوروشر، ډير شور شور زور، اسمان په سر اخستل، چې چوغ، شور شغب

هائ: د درد و غم په وخت له خلې نه وتونکې کلمه، وئ، وائ، هئ، وش.

هبه: خيرات، سپارسه، صدقه، بخشش، عطا کونه

هپه: چا پسې په جمع ورته، د چا خلاف پورته کېدنه، د حملې په توګه د ګڼو کسانو تلنه، حمله، چپاؤ.

هتک: بې عزتي، د چا په شان کښې ګستاخي کونه، د چا توهين کونه، رسوائي، بې حرمتي.

هتيار: وسله، اسلحه، د جنګ سامان.

هټ: هټى، دوکان. ضد، اړي کونه. بيکاره. کوشش، خواري.

هټى: دوکان، اټى، د هټ اسم تصغير.

هجا: حرف له اعراب نه ظاهرونه، نيرې کونه، هجه. پيزې کونه.

هجر: بېلتون، فراق، هجران، جدائي.

هجران: هجر، بېلتون، فرقت، جدائي

هجري: هجرت سره منسوب هغه کال چې د حضور پاک صلی الله عليه وسلم د مکې نه مدينې ته هجرت کړلو سره سم شروع کېږي

هجړا: اېخړا، هيجړا، بېځوبنګ، نامرد، نرښځے.

هجو: د شاعرۍ په اصطلاح کښې د چا سپکاوے بيانونه، د چا مذمت کونه

هجوم: اشر بشر، ګڼه ګوڼه

هجه: په ټکو وئيله، هخه.

هخه: طمع، اميد، لټون، درک، شوق، هوس، خواهش، اشتياق، تلوسه، آرزو، طلب، خوښه حمله، تلوسه

هدايا: صدقې، تحفې، هديې

هدايت: رهنمي

لاربشودنه،
هدف : ګلخړی، ګلخړی، نښه، نشانه.
هُدهُد : یوه مشهوره مرغی چې په سر ی تاج وي، بدبرک، ملا چرګک، ګودې چرګ.
هدیره : قبرستان، مقبره. ادیره، مړیستون.
هدیه : ډالی، تحفه، نذرانه، سوغات. قیمت، بیعه، بیه
هډ : هډوکے، ادوکے اصالت او شرافت
هډو : بالکل، چرې، هرګز، قطعي، یوه خو
هډوکے : د حیواني جسمونو هغه سخته حصه چې وجود پرې ادانه وي. یو سخت څیز چې په وجود کښې وي.
هډیان : د سختې بیماری په وخت له حلې وتونکې ګډې وډې خبرې، اوتې بوتې.
هر : هر هغه، هر څه، هر څوک، ټول، تمام، یویو، یو، د تعجب ویرې او کرکې په وخت له خلې نه وځي.
هراس : ویره، خوف،ډر، ډار.
هراسان : تریدلے، ناامید، خوفزده، ویریدلے.
هراند : بزدله، ویرندونکے، ډرپوک.
هراڼه : پریشان، سرګردان.
هراول : د فوځ وړومبی جګیدونکې دسته.
هرج : شور شر، درز غوبل، خلل، وقفه، نقصان.
هرجانه : تاوان،
هرجائي : هرچاکے، بیوفا، هردرے.
هرچا : هر یو، ټولو.
هرچرته : هر ځاے.
هرچند : هر څو، هر څومره، څومره چې.
هرخنګه : هر رنګه، هر شان.
هرخو : هر چې، څنګه

چې، هر څل، هر چند.

هر څۀ : تمام، ټول، کل واړه، څۀ چې موجود دي.

هردمے : چې د هر در وي. اواره، هرجائي، هرچاګے.

هر رنګه : هر څنګه، په هر رنګ چې وي، په هره طريقه.

هرزه : چې فضول خبرې کوي، لوفر. فضول، بې هوده.

هر کاره : خر کار. چې به خرونو کاروبار کوي.

هر کاره : مخبر. قاصد فراني پان، وړونکے، باري، بارکښ، باربردار.

هر کلے : خیرمقدم، پخیر راغلے،

هر ګاه : کوم وخت، هر حال کښې، چې څۀ وخت.

هر ګز : هیڅرې هم نه، هیڅ کله هم نه، بالکل نه.

هر ګوره : ضرور، یقیناً، ارومرو، خامخا، البته.

هرومرو : اروهرو، خامخا، ضرور

هره : هره یوه. کلمه ندا، خرې یا خر ته د تلو حکم، د خرو شړلو اوار.

هرهر : یو ډول ټوټے او د هغې تخم چې کچه او پوخ دواړو حالتو کښې خوړلے شي او خشاک ئ سیزلو له پکاریږي.

هریړه : د یوې دوایی نوم، حکیمي دارو. هلیله. اریړه.

هرپی : هرپے. صندوقچه، وړو کے دبلے

هرتال : د صاحب اختیار خلاف د احتجاج په طور د کار بند اجتماعي انکار، د کاروبار مرکزونه احتجاجا بندول، د دوکانونو بندونه، یو زهریله معدني مرکب چې دارو کښې پکارولے شي

هزار : لس سوه ملیل، د موسیقی یوه آله د خناورو د ګیډې یوه حصه. پتروري. پتروجي، د لرې نرۍ حصه، هزارخوانې.

هزاره : سوه ګل. حجوم.

سور گلے.

هزال : ټکواسي، بیهوده گو، توقمار

هزل : ټوقې مسخرې، ټوقې ټقالې، بیهودگي، هزلیات.

هزیمت : ازیمت، میدان پریښودنه، ماتې، شکست، فرار، تیښته.

هسپتال : اسپتال، د علاج ځاے، روغتون.

هست : ژوند، ریست. د نیست متضاد، شته، شتوالے

هستمند : دولتمند، شته من.

هستول : جوړول، ابادول.

هستي : وجود، کائنات، طاقت، مال و متاع، ذات.

هستیدل : ایساریدل، وسیدل.

هسک : پچه، قرعه، آیسک، خسنیے،

هَسک : وچت، لوړ، بره.

هسکول : لویول، وچتول، شاربسل، لړل، حیرانول، سرگرداول، پریشان کول. حسبے اچول، قرعه اندازي کول.

هسکیدل : لوئیدل، وچتیدل، لوړیدل.

هسک : د مرغی جاله.

هسي : بې فائدې، مفت، هم هسې، لکه، شان، په شان، داسي.

هشاش : خوشحاله، تازه، شادان، هشاش بشاش.

هښیار : هوښیار، عقلمند، پوه، دانا، زیرک.

هضم : معده کښې د خوراک په ویه کښې د بدلیدو حالت. حل شوے، خوړلے شوے، غصب شوے.

هضمول : هضم کول، خوړل. خوراک کول، خوراک په خلهٔ چیچلو نه پس خیټې ته تیرول، پردے مال غصب کول، د چا حق خوړل.

هضمیدل : هضم کیدل، د

حسوراک د ویـنې حصـه حوړېدل. حرام مال حوړل

هغسې : همسې، پـه هغه شان، همه رنګ

هغه : غیر موجود سړے یا خبر نا جاے

هغه دغه : تاټ متول، اخوا دېخوا، اې بابې. عذر

هفته : د حالې نه تر جمعې د ورځو شمار. د جمعې نه پس ورځ. حالې. د حالې ورځ.

هک : پریشان

هک اریان : ډیر حیران.

هک بک : هک پک، حیران ګوته په خله

هک پک : حق حیران، ګوته په خله

هګی : اګی، اوبه، ها، انده، کول

هل : د بوی ګولۍ آله، توپ

هلاک : مړ سوے، فنا. قتل سوے

هلاکت : مرګ، تباهي، هلاکې

هلاکول : مړ کول، تباه کیدل

هلاکیدل : مړ کیدل، تباه کیدل

هلال : نوې میاشت. د وړومې شپې نه تر دریو یا دوو شپو پورې د سپوږمی حالت

هلاهل : زهر قاتل، تیر زهر.

هلک : د جینې مذکر. نر، ماشوم، بچے. سپک، کم وزنه، کم وزن لرونکے.

هلکانی : خرابه او بدعمله ښځه، بچه بازه ښځه.

هلکانے : بچه باز، بچه خوش، هلک باز.

هلکوالی : هلکوانه. ماشومتوب، د هلکتوب وخت

هلواک : تلوسه لرونکے، لالچي، بیرندے، حلت، تیز، ګرندے.

هله : چیاز، یرغل، داړه، هپه، تاخت، تاراج، حمله

هلهٔ : بیا، هعه وخت، هالهٔ.

هله څله : اله څله، کوشش، زیار

هله گله : هله گوله، درزدروز، شور شعرب، گنه گونه، شور غوبل.

هله هله : زر کوه، رر کوه، زر شه، شا به کړه.

هم : بیا هم، خکه چې، علاوه، زیات له دې نه، اراده.

همتا : مثل، په شان، برابر.

همځولے : په یو عمر، د برابر عمر.

همخاله : په یو کالهٔ کښې وسیدونکې، انډیوال.

همدرد : په درد کښې شریک، دوست، ملګرے، خیرخواه.

همدم : سیال، برابر، هر برې والا

همراه : دلارې مل، ملګرے، به یوه لاره تلونکې.

همزاد : یو حاے پیدا شوے هعه پیرے چې مانوده سره یو ځاے پیدا کیږي او تر مرګه ورسره ملګرے وی

همزلف : سانډو، د خښینې خاوند.

همساز : همدم، دوست، یار

همسر : په رتبه کښې یو شان، برابر.

همسفر : د سفر ملګرے، چې په سفر کښې سره شریک وي.

هم شکل : په شکل یو شان.

هم شیر : چې د یوې مور پسې ئ رودلي وي، ورور یا خور.

همشیره : د همشیر مؤنث، خور.

هم عمر : د یو عمر. د یوې هومره مودې

هم عصر : د یو دور، د یوې زمانې، د یو عهد

همنوا : په اواز کښې شریک، هم اواز

هما : یو خیالي مارغهٔ چې د

هغه په حقله دا خیال دے چې کۀ د هغه سورے په چا وشي نو هغه باچا کیږي.

همال : مثل، مثال، نظیر.

همایون : نیک بخت، بختور

همت : بهادري، اراده، حوصله

همتناک : همت لرونکے، د همت خاوند.

هم دغسې : هم دغه شان، هم دسې

همسا : کوتبی، عصا، امسا.

هموار : هوار، اوار، د جنګ ضد

همه : ټول، تماد، کل.

هم هغسې : هم هغه شان، په هغه رنګې

همیالی : سخکی، بوسحکی، عنه ښوه

همیش : مدام، تل، تر حه همیشه، عمری به محه تر ښه

همیشه : وګورئ همیش

هنجار : طریقه، اصول، طرز، لاره. بې ډبه چلنه خوښه کونکے، بې لارې، بې اصوله

هنجکے : د سرواسی شرمکۀ رباتي عوسه

هنجه : اسحه، همک بوحکسی داره حې دوبر بوی ډری

هنداره : پسد ره، ششه، سیبنه، د مخ کتو ائینه

هندسه : شکل، عدد

هندکو : د مغربي هندی ګروپ یوه ژبه د هندی ورانه ژبه

هندکے : د هندکو ژبې ویونکے.

هندو : د غیر مسلم ډله د هندوستان وسیدونکے یو کثیر ډله مذهب

هنداونه : یو ډول ونه چې ...

هندوبار . هندوستان د

هندوانو ملک.

هنده : په یوه ساه خبنه، غوښتنه، تکل، اراده.

هندي : د هندوانو ژبه، هند سره تعلق لرونکي.

هنډه : هغه ارمان چې سړے ی د ښکمیل دپاره ډیر ښے ړی د زړهٔ غوښتنه، تکل، اراده، خواهش، مقصد

هنډ هنډ : ټوکړې ټوکړي، سترے، د لاده باده پرېوتے

هُنډی : چیک، هغه کاغذ چې د رقم ادا کولو اړدر پرې لیکلے وي.

هنر : فن، کمال، جوهر، زدکړه، کسب، مهارت.

هنرمن : د هنر خاوند، هنرمند،

هنګام : زمانه، دور، وخت، موقع

هنګامه : شوروغوغا، ګډوډ، فتنه راوچتیدنه، ګډه ګوډه.

هنیدل : د حیرانۍ او داس وغیره اواز کول، د خر مستي کول، په زوره خندل.

هو : د غوا، غوښي د بیدارولو یا شړلو اواز، د خر اواز

هو : هنګامه، یرغل، حمله، ژبه، لوظ، او

هُو : د صوفیانو په اصطلاح کښې الله پاک

هوا : باد، کبر، غرور خواهش، هوښ

هواد : ایواد، هواد، لرې، په فاصله

هوادار : داسې ځاے چې هوا پکښې لګي

هوار : چې کنده کپره پکښې نه وي. برابر هوار، تیر رفتار.

هوارول : سمول، یو شان کول، د کندو کپرو نه اوارول

هواره : سمه، میداني علاقه، روعه، جوړه

هواریدل : سمدل.

:

برابرېدل، يوشان کېدل.
وېرېدل، غوړېدل. حوړه راتلل، روغه کېدل
هواګير : تيز رفتار. سرسري، اوپره، وچت، نره.
هوائي : بې پروا، چې په هوا کښې وي. سرسري،
هوبهو : هم هغه شان، بالکل هغسې، يو رنګ، يو شان.
هوټل : هغه ځای چې خوراک څښاک او د وسيدلو انتظام پکښې وي
هودج : د رسانو ديارہ د هاتي يا اوښ د شا کجاوه. هوده،
هوده : جادو، منتر. کوده، سحر، د مارانو نيولو دم.
هود : د زړۀ حبره نۀ پرېښونه، انکار کونه، په خپله خبره کلک ودريدنه، عزم.
هودي : د هود خاوند، مستقل مزاج، خلاف، مخالف.
هودېالے : د هود څښتن، د ارادې او عزم خاوند د کلکې ارادې مالک
هور : د مارغانو د وسيدو ځای، حاله تير و نند، چالاک. اور.
هوري : هلته، هغه خوا،
هوړه : اوړه،
هوس : لالچ، حرص لوړه، ارمان، تمنا، خواهش. خوشحالي، اراد.
هوستل : هاسنل، هغه ځای چې طالب علمان پکښې د ردکړې په دوران کښې وسري سوردنګ هاوس
هوسناک : عياش. لالچي. حرصناک
هوسيدل : ريږيدل، ارزو کول، خوشحاليدل.
هوسي : اوسي، لکه شويه. نرکشه، يو څنګلي خاور چې رنګ ئې سور بخن ريږ وي ښائسته سترګې لري او په منډه کښې چاخ وي
هوش : فهم، ادراک، عس

هوښ

هوښيار : هښيار، زيرک، دانا، عقلمند، قابل، لايق. وړاندې وروستو خيال کوونکے

هوک : په خيال کښې ورک. لاهو.

هوکړه : وعده، لوظ. پښتو، ژبه، اقرار.

هوکه سوکه : ناقلاري او قلاړے، کله ارام او کله کړاو.

هوکے : د کوژدن په سلسله کښې د جيبي د ليدو وعده اخستنه، کوټ او، اقرار، لوظ.

هول : ويره، فکر. وحشي بلي، مينچو.

هولي : د هندوانو يوه دستوره چې په يو ټاټ پکښې رنګونه اچوي.

هومړه : دغه هومړه. هومړه، دغه قلر.

هو هوا : هواوا، مړي چرچې، سيل صفا، سيل سپاټه، ږړۀ خوشحالوونه، هواخوري.

هويه : اويه، ها، اکې، الله.

هويدا : څرګند، بنکاره، ظاهر،

هيء : افسوس، هاى،

هيء هيء : هاى هاى، د غم او افسوس کلمه.

هيرا : الماس، جوهر، ګوهر. يو قيمتي کانے.

هيرو : د قيصې مرکزي سارسه کردار نادر سړے، تکړه سړے

هيروئن : د هيرو مؤنث، يوه ښه لرونکے سفوف، پوډر، د افيمو نه جوړيدونکي پوډر.

هير : حالت، دور، وخت، نوبت، وار

هيړه : خل، پيړه، چل، وار.

هيسته : وروستو طرف ته، شا ته، دلته، ايسته.

هيله : طمع، توقع، اميد

هيله : سړيه، حيله بهانه

هيله : فقط، صرف، بله

بیله.

هیلی : صحرایی مرغانی، یو قسم مارغه، ایلی

هیبت : دبدبه، وبره، رعب

هیبتناک : هیبت لرونکی، خطرناک، ویرونکی

هیجان : تیزي، رور، غله، جوش، پشیدنه.

هیچا : د هیڅ اوچا مرکب، څهٔ هم نه، څوک هم نه.

هیچرته : چرته هم نه.

هیچري : چري هم نه، په هیڅ قیمت نه، کله هم نه.

هیڅ : بې حقیقته، نه څیر، نشت، لږ

هیڅ بې هیڅه : وچه په موچه، وچ په وچه

هیڅوک : څوک هم نه

هیڅکله : کله هم نه، چري هم نه

هیر : له یاده وتے، له حافظي نه وتے.

هیرزے : هیرژن، هغه څوک چې هیر ئ ډیر وي.

هیرژن : هیریدونکے، هیرونکے

هیرن : هیرزے، غبي، تکوم، هغه څوک چې هیر پرې غلبه وي

هیرول : له خیاله وتل، د یاداشت نه ویستل، له حافظي نه بهر کول.

هیره : کیله مانه، د حافظي کمزوري.

هیریدل : په فکر کښې نهٔ راتلل، له حافظي نه وتل.

هیضه : یو وبائي مرض چې پکښې قے او دست لګي.

هیکل : د بتخانې لوے مکان، صورت، شکل

هیواد : لرې، په فاصله. بعید، د نزدې متضاد. په افغانستان کښې د وطن او ملک په معني استعمالیږی.

هیولا : اصل، د هر څیر ماده، بد، بدشکله، غیر مهذب، شکل.

هیئت : شکل علم نجوم.

ي : (یا) یائ معروف. د
سینتو یو څلویښتم حرف. د
ابجدو په حساب ی قیمت
لس ۱۰ دے
یا . : عطف نوم ے. په دوو یا
زیاتو څیزونو کښې د یو د
مخصوص کولو کلمه
یاب : لاحقه چې د سمې
احرکښې ر شي د موندونکي
معني ورکوي لکه کتاب
یابو : نښتو. اس. حرچوکے
یاجوج : دوه شریر قومونه
چې ذکر ئ په قرآن مجید
کښې راغلے دے، یاجوج
ماجوج، محارا د فتني نه ډک
خلق.
یاد : په حافظه کښې حاصر
د حافظې عمل، دکر، مشهور
یاداشت : حافظه، یاد لرنه.
د یاد لرلو دپاره شوے لیک.
حافظه.
یادگار : حبال، نښه
یادگیرنه : یادول، یاداشت
ورکول،
یار : دوست، اشنا، ملکرے،
یارانه : دوستانه، ملکرتیا،
دوستي، اشنائي.
یارباش : دوستانو سره مینه
کونکے، خوش طبع، مخلص،
صمیمانک
یار باشنه : هغه بنځه چې ډیر
دوستان لري، ډمه، بداخلاقه.
یاري : دوستي، اشنائي،
رفاقت
یاس : مایوسي، نا امیدي.
یاسته : بیاسته، رسی، پرے
یاغستان : هغه علاقه چې د
حکومت د کنټرول نه بهر
وي، غیره علاقه، علاقه غیر.
یاغي : نامنونکے، نافرمان،
قانون ته عاړه نه ایښونکے،
باغي، سرکش
یافت : موندلے شوے.
رسوت کښے، آمدن، کتپه
وتپه
یاقوت : یو قیمتي کانے چې
په مختلفو رنګونو کښې وي.
یال : د خناورو په څټ غټ

غټ وينښته، څټ، عړی، د حناورو څټ

يالے : يوه لاحقه چې د نسبت دپاره د بعضې اسمونو په اخر کښې راځي لکه د جنګ نه جنګيالے، د ننګ نه ننګيالے

ياور : مرستيال، دوست، ملګرے، مددګار

ياوه : عبث، خراب، بکواس، فضول، بيهوده.

يبل : يوه لاحقه چې اکثر پښتو سره راځي لکه پښې يبل، بربنډې پښې.

يبلي : ابلي، لوڅې، بربنډې، اکثر د پښتو سره راځي لکه پښې يبلي

يتامي : د يتيم جمع، يتيمان. بې موره بې پلاره

يتيم : چې پلار ئې مړ وی

يتيم خانه : د يتيمانو د وسيدو ځای چې د يتيمانو پرورش پکښې کولے شی

يج : ګلګ، سخت خر

يخ : د ګرم ضد. ګنګل،

يخ پخ : سړ سمسم، يخ مخ بې حسه، بې حرکته. دم حتلے. ساه وتلے

يخدان : لـه څرمـې جوړ شوے يو مخصوص صندوق

يخنـي : ښـوړوا. د رمـی موسم. ړکاه

يخول : سړول، وژل. سړ ورکول

يخيدل : سړيدل خو هم پوره کيدل

يد : لاس. يديز ئ تثنيه ده

يرغ : خوښـه، مصلحت. پريږ

يرغز : خان له، تنها، بواخې

يرغل : حمله، يرغا، تاخت. ړغاست. تاخې حمله

يرغمل : هغه خوک چې د پښو په غرض ښوولے شی کښې. ضمانتي يرغمال

يرقان : يو مرض چې سړ سرکې او بدن ښکښې ړ

شی ویرے

یرول : ویرول، دارول، ترول.

یره : زور، شدت. چې چرته په یوه خبره زور اچولے شي، ټینګه، خامخا، ډاتورے تکیه کلاه دے کلمه تعجب هم ده شاید چې د یاره مخفف دے

یزدان : د خیر مالک. د پارسیانو د خیر خدای

یژ : تور میلو. بړ.

یسار : بدشاګومے. بدقسمت. کیں لاس یا کس طرف، ډیر زیات والے.

یسیر : هغه ماشوم چې مور یې مړه وي

یشول : جوش ورکول، ګرمول، خوټکول.

یشیدل : جوش خوړل، خوټکیدل.

یعنی : مطلب دا، غرض دا.

یغما : مال غنیمت، د لوټ مال

یقین : اعتبار، اعتماد، باور

یقینا : خامخا، اروموړو، بیشکه، په یقین

یک : یواځې، ځان له، یو،

یک امان : یک امانه. یو شان، برابر، یو هومړه، پوره په پوره، یو اندازه، امانې، برحق، برجغ، سر تر سره.

یکامانه : سر تا سر، له یوې مخې، یک امانه

یکایک : ناګهانه، ناڅاپه. سمدستي، غړه ټپه

یکبارګي : ناګهانه. په یو خل.

یکتا : ننها، ځان له، بې مثال، چې د ځان په رنګ بل نه لري یواځې، بې نظیر، بې مثله.

یکدل : خیرخواه، همراز.

یکرنګ : یو رنګ، یو شان، صادق، د صفا زړه خاوند، مخلص.

یکړ : تنها، یواځې، یو. یګانه.

سو : یو خوا ته، یو طرف ساکن، ودریدلے.
ـ لخت : تمام، سراسر، لستي، فوراً.
ـ مشت : په جمع، په ډه، په یو خل.
ـه : د تاش وړومبی پانه، یو ، ایکه.
ـي یو : اکي یو، بیخي خي ، بالکل یو، نیازین، ت.
ـي یواځي : بالکل ي، بالکل تنها.
ـنګي : قرابت، خپلوي، لے، اتفاق
ـنه : نزدي، خپل، یواځي، ي، بې مثله، بې ساري.
ـر : یرغل، هجوم.
بحر، سمندر، دریاب، . حصه، ارخ،
ـین : قسم، سوګند. ت، ښے لاس.
د نسبت کلمه چې د په احر کښې راځي لکه

د مالګه نه مالګین. خاوره نه خاورین وغیره.
ینه : وینه، د بنیادم، څاروو، مرغو وغیره په رګونو کښې بهیدونکې د سور رنګ ماده. اینه.
یو : یک، د پښتو شمیرې وړومبے تکے.
یوبه : بزګر، دهقان
یوپ : عرق، دوب شوے. عوپه.
یو تربله : خپلو کښې.
یوحا : هغه تور مار چې د عامې عقیدې مطابق د زرو کالو نه پس د خپل شکل بدلولو قوت لري ډیر خور. زیات خوړونکے
یور : د لیور ښخه،
یورش : هلـه، هپـه، بلوه، غلبه، حمله.
یوز : پرانګ، بور، بورګے، پیش.
یوستوے : یو لړ، یو کس، نورے، یواځې، د غبرګ ضد،

جلر : جړه، اصل، ریشه، د ریاضي په اصطلاح کښې د مربع متضاد، یو مربع شے عدد چې بیرته خپل اصل ته وګرځولے شي لکه ۲۵ نه پنځه.

جو : مغلوب، پر، پاتې، ماتې، شکست، الا، تحقیري کلمه، له خړۀ نه د اواز ایستلو دپاره مخصوصه کلمه.

جوابه : له وړی، نائیلون یا نور څۀ نه جوړه د پښو د اغوستو کڅوړه.

جرأت : بهادري، زړۀ ورتیا، شجاعت، میړنتوب، جسارت.

جرائیم : نري وارۀ چینجي چې بې له خوردبینه په نظر نۀ راځي. واحد ئ جرثومه ده.

جراح : سرجن، د زخمونو علاج کونکے. څیرونکے.

جراحت : جراحي، د پرهر، زخم د څیرلو کار، د جراح پیشه، سرجري، د زخمونو د علاج کار، تپ، زخم، پرهر، پرهار.

جرار : رابښکونکے، اصل معنيٰ په وسله او نورو الاتو مسلح او د بې شمیره فوځ لښکر. چالاک، خبر لوڅ، زړۀ ور، تکړه، ګړندے.

جرائم : د جرم جمع، جرمونه.

جرح : بحث، نکته چیني، شهادت باطلول. پرهر، زخم، تپ.

جړه : بیخ، ریشه، بنیاد، بنسټ، اساس.

جرس : ګنټي، ژغړغه، غټ ګینګړے.

جرعه : ګوټ، غړپ.

جرګه : غونډه، مرکه، ټولے، د مشوري مجلس، د څۀ خبرې د حل کولو په غرض راغونډ شوي خلق، مصلحت، مشوره، صلاح.

جرم : د قانون د لاندې قابل سزا حرکت، جنایت، غلطي،

خطا، ګناه.

جرمانه : تاوان، ناغه، مالي سزا،

جرنده : جندره، تاله، کلپ، قفل.

جرنیل : د فوځ لوړ افسر. مشروټ، مغرور. لرې، د ځناورو د معدې یوه حصه

جره : جري، جیشے، سپے بوتے، کوترے بوتے، یو ازعن بوتے چې د سړي جامو او ګلهو بزو پورې نښلي. لونډ، ناوادهٔ کړے، مجرد، څړه، یواځې، ګوښې، تنها.

جریان : یوه بیماري چې پکښې بې لـه خوښې انزال کیږي. روانې، جاري پاتې کیدل، بهیدنه.

جریب : د زمکې د پیمائش پیمانه، څلور کناله، اتیا مرلې، هغه زنځیر چې زمکه پرې ناپ کولے شي. د زمکې د پیمائش یوه آله.

جریده : بناخ، څانګه، بې پانو څانګه، یادګار، مجرد، هغه مجله چې خبرونه هم لري.

جـری : لښتـي لښتـي، چوړی، شیلی شیلی، رختونه رختونه.

جـروبے : ابشار، څروبے، راوه، ګړونګه،

جړی : د ژمي پرلـه پسې بـاران، پـه یو مـخ بـاران. مـارجـړی، زهرموره، زهر مهـره. قـے، کـانګـه، یوه بیماري.

جزا : بدله، عوض، صله.

جزبندي : جزو بندي، څهٔ څیز په صفحه صفحه ګنډل، په یو ځاے کونه.

جزع : بـې صبـري، بې قلاري، ناقلاري.

جزم : غـږوندے، غوږندے، وقف، د تـکـي د ساکن کولو عـلامـت، مـضبوطـه اراده، کلکه اراده، یقین.

جزو : بـرخه، بخره، حصه، ټکړه.

لـري. پسـه، ګلـه، رام، تـر ارادې لاندې.

رغ : ښکاره، څرګند، جوت، صاف، واضح.

رغاونې : شاندار، له پرتمه ډک، ښانسته، ښکلې، ډولي یا منقش.

رغبت : غـوښتنـه، میل میلان، ارزو، هیلـه، علاقه، تـوجـه، خـوښـه، دوستي، خپلولي.

رغړول : کـولـول، تیلول، کـړول، ګړول، لټ په لټ یا لوټ پـه لوټ اړول، خلۀ کـنـګالول، اوبۀ غرغره کول، غـولـول، خـطا ایستل، دروغ ونیل.

رغړیدل : کولیدل، تیلیدل، کړیدل، ګړیدل، لټ په لټ یا لوټ پـه لوټ اوړیدل، خلۀ کنګالیدل، اوبۀ غرغره کیدل، غولیدل.

رغښتل : رغړیدل، کولیدل، تیلیدل، پیچل کیدل، لوټ په لوټ یا لټ په لټ اوښتل، د دیوال چپه کیدل.

رغم : مـخـالفت کونه، ضد کونه.

رغمه : صبر.

رغول : ابـادول، جوړول، سـاروں، سـمول، ګنډل، شفا ورکول، په علاج سره ناروغه جوړول، نقاشي کول، منقش کـول، پـه دشمنی کښې ځان خلاصول او جوړیدل.

رغول : زړۀ صبرول، رابطه شـلـول، اړیکې شلول، رابطه قـطـع کـول، لـه یو بل نه لاس اخستل.

رغیدل : روغـیـدل، شـفـا مـونـدل، جـوړیدل، سازیدل، د ورانـیـدل متضاد، ګنډلے کیدل، پیوندیدل.

رغیدل : رابطه قطع کیدل، اړیکې یـا رابـطـه پریکیدل، دوستـي او خپـلولي ختمیدل، له یو بله لاس اخستل.

رغی : تـورکے، تول شوے

لوګے، سړه رغوونه شوے دود، هغه لوګے چې په دیوال یا چت جمتے وی.

رطب : لږ ژوړ، هغه ډنډ یا لوښے چې دیر لږ ژوړ وی.

رغے : رغونه، جوړښت، اصلاح، جوړه، پاملا کونه.

رف : سورګه، پشته، لرم، هغه تخته چې د کور وړوکے وړوکے سامان پرې ایښودے شی.

رفاقت : ملګرتیا، الډیوالی، یارانه، نږدې اړیکه.

رفاه : ارامي، هوساینه، هوسایي، سوکالي، ښیګړه، پرېمانه، فراوانی، د اقتصادي ډوډۍ موجوده.

رفتار : چلند، چله، روش، ګزاره، سلوک، بوډ، تګ، حرکت، تله، تلک.

رفع : لرې کونه، ایسته کونه، له منځه وړنه، جګونه، لوړوسه، پورته کونه، د بوې کلمې مرفوع کونه، حلفونه.

رفعت : ربې وجت والے، بلندي، لوړي.

رفع دفع : له منځه، ختمونه، برخاستونه.

رفو : پنځوے، ګرمل، ګربل، ګنډلې، ریږ، پنځوک، ترمیم، د قمیص یا پرتوک شلیدلے ځای یا جوړونه، پیوند لګونه.

رفو ګر : رفو کونکے، هغه څوک چې د رفو کسب کوی.

رفیع : لوړ، هسک، جګ، د لوړې مرتبې یا درجې خاوند، شریف.

رفیق : ملګرے، دوست، صل، الډیوال، د یوۀ لګر، یار، محبوب، معشوق.

رقابت : خارنه، څار، نګهباني، حفاظت، سیالي، سونده، مخالفت، په میله کښې شرکت، انتظار.

رقاص : ګډیدونکے، رقص کونکے، ناڅو، لښتی، لڅے.

رقاصه : د رقاص مؤنث.

رقبه : ساحه، مساحت.

کوچے : خانه بدوش، کوچیانے.

کوچے : د خسر ورور کے بچے، کوچانے، کوچنلے.

کوخه : کوچه، د محلي دننه د تلو راتلو تنګه لاره.

کوخه : همت، جدوجهد، کوشش.

کودرے : تیکرے، کودے،

کوده : قوده، د ریبلي شوي فصل یا وابنهٔ هغه مقدار چې په موتي کښې راځي.

کودے : کودرے، کودنے، کودر، کودر کے. تیغنه، تبی، تبخے. د کلال د جوړ کړي خاورین لوښي توته چې بنه پـه پخه کښې پخه شوې وي. د تیکري د لوښي ماته توته. تیکرے، د کړوسي خوے،

کودګر : جادوګر، کودې کونکے.

کودلـه : جونګړه، جومپړی، چوپال، کیږدی، د وښو جونګړه، تمبو، خیمه.

کوده : جادو، ټونه، توټکه، سحر.

کور : د وسیدو ځاے، خانه، مینه. ګور، قبر،

کوَر : انګور،

کور : رڼوند. برابر، مساوي، یو هومره.

کوربنه : د کور مالکه، د کور خاونده.

کوربـه : میزبان، د کور خاوند،

کورت : کروت، قروت، وچ شوي ماستهٔ.

کورخي : کرخي، لوبیا،

کورغنډل : د ازغو ډک یو زهریله بوټے چې په دارو ګانو کښې پکارولے شي.

کورکوړه : ګوګوشتکه، کرکوړی، کوړکوړه.

کـورکے : د کـور اسم تصغیر، ورور کے کور.

کورنی : هغه زنانه چې د جینی کور کښې د خپلـو خپلوانو له کورونو د هغې د

وادهٔ په ورځ راټولې شي. کورمه، خاندان، د قبیلې یو ښاخ.

کورنۍ : خاندانی، خپل، د خپل کالۍ، په کور کښې ساتلے شوے.

کورواله : د خپلې ښځې سره مباشرت کول. د ښځې او خاوند په جنسي توګه یوځاے کیدنه، همبستري.

کوړے : ترنګن، تونګر، له میزري جوړ تمبوزک.

کوړے : زیړ لرګے، زرشک.

کورمه : خاندان، تبر، کول، کورنی، زوزاذ.

کوړه : د څرمنې چابک، پیچلے، سره نغښتے.

کوړي : پسمن، جذامي، دجذام په رنځ اخته.

کوز : ښکته، ژور، لاندې، د بره متضاد.

کوزړی : وړه کوزه.

کوزه : یو خاورین لوښے چې د لاسونو وینځلو یا لمبلو دپاره پکار پیږي.

کوزیدل : لاندې کیدل، لاندې راتلل.

کوژتي : بوزتي، روژه خور، هغه کس چې روژه ئ نۀ وي.

کوژدن : ګویدن، په نکاح کونه، جینی خوښونه.

کوړ : یو ماتونکے ځناور، کوړبل. د نیغ ضد، ټیټ، خمدار.

کوړل : محنت کول، کار کول، زحمت ایستل، خواري کول، کوړیدل. کړل، نظر نه غورځول، هیرول.

کوړوړ : تاؤ راتاؤ، کوړ راکوړ.

کوس : خنزیر، بد ځناور.

کوسا : هغه سړے چې ږیره ئ بیخې نۀ کیږي، کوسه.

کوسړې : څپیړې، د چیترې یا څپلی ګوزارونه.

کوشش : محنت، جدوجهد، خواري، کار.

کوشیر : پیوند، تانکه

چې برغ نه وي.

يو غر بل غر : هغه دغه، انګا بنګا، عبثي بې ځایه خبرې، واهیات، چتیات، اوتې بوتې. انې بانې.

يُوم : بیل، یو قسم بیلچه.

يوم الحساب : د حساب ورځ، د قیامت ورځ چې د هر چا نه به پکښې د عملونو حساب اخستے شي.

يومخيز : د یوې خبرې سرے، د اصولو پابند، کوتاه اندیش.

يومکے : وړوکے یوم. د ملا تبخے.

يوميه : د ورځې مزدورې، روزانه اجرت.

يون : تلل، رحلت، تګ، رفتار، سفر، هغه تګ چې نه تیز وي او نه په مزه.

يونه : د یور جمع، وګورئ یور.

يووالے : اتفاق، اتحاد.

يوه زړے : یواځې، تنها، چې څوک ئې د مدد نه وي.

يوه : ایوې، یوې، د زمکې اړولو آله.

يو يو : یو په یو، فوراً.

يوې : ایوې، هل، ایوه، قلبه.

يه : حرف ندا دے یا، چا ته د اواز کولو کلمه.

يهود : د حضرت موسیٰ علیه السلام امتیان.

يهودي : وګورئ یهود.

ي : یائے مخصوص. د پښتو دوه څلویښتم مخصوص حرف. د پښتو خاص تلفظ لرې لکه سړې اوبه، دې، چې، مرکب صورت کښې به لاندې باندې ټکي لرې،

ى : یائے تانیث د پښتو دې څلویښتم حرف، د تانیث علامت لکه نرى، چیلى وغیره.

ے : د پښتو د پټې څلور څلویښتم حرف هغو تورو کښې استعمالیږي چې مجهول اواز لري لکه سړے، سپے، لښتے، وغیره.